په ساده پښتو ژبه کی دتحفة النصآئح عام فهمه شرحه یعنی

# النهج اللآئح

شـــــــرح

# تحفة النصآئح

( پـــښـــتـــو )

تصنيف:

مولانا سراج احمد سعدؔ / مولانا محمد احمد الحقانیؔ الافغانی

مکتبۀ رحیـــمــــیه ، کاسی روډ ، کوئټه

03222423258 :

**خبردار**: ددې کتاب دکتابت، ژباړې، اوچاپ ټول حقوق
له ناشر سره محفوظ دی.

# دکتاب پېژند پاڼه:


| | | |
|---|---|---|
| ➢ **دکتاب نوم** | :: | النهج اللآئح شرح تحفة النصآئح (پښتو) |
| ➢ **دمصنف نوم** | :: | مولاناسراج احمدسعد\مولانا محمداحمد الحقانی |
| ➢ **کمپوز** | :: | العلم کمپیوټرز، کوئټه. فون: **03218016371** |
| ➢ **ناشر**: | :: | مکتبه رحیمیه، کاسی روډ، کوئټه. |
| | | ابو مزمل آخند زاده ، |
| ➢ **تاریخ طباعت** | :: | ۱۴۲۸\ ذی الحجة = ۲۰۰۷\ دسمبر |
| ➢ **بیه** | :: | ۱۱۰ روپۍ |
| ➢ **دچاپ شمېر** | :: | ۱۰۰۰ زر ټوکه |

# دمصنف عرض

الـــحمد لله رب العٰلمين ، والصلٰوة والسلام علٰی افضل الـــمرسلين ، وعلٰی آله واصحابه اجْمعين.

اما بعد: پس وايي عاجزه بنده سراج احمد (غفرالله له) چی کله کتابِ مسمٰی په (تحفة النصآئح) سره ډېره وخته څخه په درس او تدريس کی شامل وو، او نهايتی جامع دمسآئلو، دنصيحتو او دوعظو وو، ليکن ددې کتاب يوه مکمله شرح [1] په پښتو ژبه کی نه وه ليکل سوی.

---

[1]. که څه هم چی په اوسنی وخت کی دتحفة النصآئح بعضی داسی نسخې هم چاپ سوی دی چی دهغه سره تر بيتو لاندی پښتو ترجمه اوپر هامش باندی يې څه نا څه پښتو حاشيې هم وی، خو دا ښکاره خبره ده چی ددې سره سره بياهم په تحفة النصآئح کی ډېر داسی مغلق ځايونه پاته وه چی دهغه وتوضيح ته په دې نسخوکی هيڅ توجه نه وه سوی، او همدارنگه په دې نسخو کی په خپله دتحفة النصآئح په متن او بيتو کی هم ډېری غلطيانی او فرقونه موجود وه، په دې معنی چی ډېر ځايونه داسی وه چی داصلی فارسی نسخې دتحفة النصآئح او دپښتو ترجمه سوی نسخې په مابينځ کی دبيتو په ترتيب او الفاظو کی ډېر فرق موجود وو، دمثال پر ډول ددې دواړو نسخو په ۲ او ۳ صفحو کی تربسم الله وروسته بيتونه وگوره، په دې دواړو نسخو کی به اول فرق تاسی ته دا ښکاره سی چی لومړنی درې ۳ بيتونه په دواړو نسخو کی يو ډول راغلی دی خو البته په ۴، ۵، او ۲ بيتو کی دترتيب اوتقديم اوتاخير دلحاظه فرق موجود دی، يعنی کم بيت چی په فارسی نسخه کی پرڅلورم ۴ نمبر موجود دی همدغه بيت په پښتو ترجمې والا نسخه کی پنځم ۵ نمبرته اوښتی دی، او داسی نور. خو بايد ووايو چی دا فرق چندانی مضر نه دی.
دوهم غټ فرق کم چی طالب او اُستاد دواړه په دهشت او حيرت کی اچوی دا دی چی په دې دواړو نسخو کی بعضی ځايونه بيتونه هم مختلف وی، مثلاً په يوه نسخه کی يو بيت وی او =

=

په بله نسخه کی بیا هغه بیت وجود هم نلری، لکه په همدې ۲ او ۳ صفحو کی ترنظر کولو وروسته دا ښکاره کیږی چی په فارسی نسخه کی تربسم الله وروسته تر نعته پوری لس ۱۰ بیتونه راغلی دی اوپه پښتو ترجمې والا کی هم لس ۱۰ بیتونه دی، خو البته په فارسی نسخه کی لسم ۱۰ بیت داسی دی:

علاّم وحیٌّ وهم صمد رزّاق هر یك نیك وبد جز او نه دیگر خالقی ویرا یکی بیشك شمر

مگر په پښتو ترجمې والا نسخه کی بیا ددې بیت پر ځای لسم ۱۰ او آخری بیت داراغلی دی:

شایان این نعمت همون ازفضل ولطف خویشتن محبوب خود خواندش یکی از فضل خود خالق بشر

ښکاره خبره ده چی دا دواړه بیتونه یو دبل سره ډیر فرق لری، اوس دا معلومول چی آیا په دې دواړو بیتو کی کم بیت په اصل کی دتحفة النصآئح داصلی عبارت څخه دی اوکم بیت دبل چا څخه ورزیات سویدی ؟ ددې دپاره به موږ دقرآننو او دلآئلو پر بنا باندی دمختلفو وجوهاتو څخه کار اخلو، لومړی دا گورو چی په دې دوو نسخو کی کمه یوه نسخه دچاپ او کتابت په اعتبار سره مخکنۍ او وړاندینۍ ده، نو وینو چی دفارسی نسخی پر اوله صفحه باندی چی کم ځای دتحفة النصآئح نوم غتې او واضح لیکل سویدی، نو ورسره دچاپ سنه (کال) هم دیارلس سوه شپږ پنځوس ۱۳۵۲هجری قمری لیکل سویده، اوبل طرف ته دپښتو ترجمې والا نسخې پر اولی صفحې باندی دچاپ سنه (کال) دیارلس سوه څلور نوی ۱۳۹۴ هجری قمری نوشته ده، واضحه خبره ده چی ددې دواړو سنه وو ترمابینځ اته دیرش ۳۸ کاله فرق دی،په دې اعتبار سره فارسی نسخه مخکنۍ، معتبره او داعتماد وړ ده. اوهم دا ډول بل دلیل دادی چی فارسی نسخه ددار العلوم دیوبند، هندوستان دعلماوو په واسطه تصحیح سوی اوهم هلته په لومړی ځل چاپ سویده، اوحاشیې یې مولانا نقیب احمد صاحب چی داوچ دسواد علاقې اوسیدونکۍ او ددار العلوم دیوبند فاضل دی کړیدی، بل طرف ته دپښتو ترجمې والا نسخه وروسته چاپ سوی اوحاشیې یې هم دوروستنی علماوو دی چی په هغه کی دبعضو حواشیو په پای کی میر، نقیب احمد اوچې، اوکله هم نور نومونه نوشته وی.

موږ په دې ځای کی دتحفة النصآئح ویوې معتمدی شرحی ته رجوع وکړه چی نامداره ده په (شرح محمد گهلوی) سره، خوهلته دآخرنیو دوو بیتو په اړه هیڅ شرح نه ده موجوده چی دا اندازه ورڅخه وکړل سی چی آیا دې شارح رحمه الله علیه دکمی نسخې مطابق خپله شرح لیکلی ده، خو بیا هم مخ ته په وروسته راتلونکو بیتو کی به انشآء الله دامعلومه سی چی.

پرهر حال ددې دپاره چی زموږ دا شرح کامله او ترخپله وسه پوری هر ډول مشکل دتحفة النصآئح حل کړی موږ داطریقه اختیار کړیده چی دشرح دپاره مومتن دپښتو ترجمې والا =

سره ددې چې دې كتاب يوڅه مشكلات درلودل، نو دالله ﷻ په توفيق سره مو يوه مكمله شرحه يعنی دتحفة النصآئح دپوره شپږ څلويښتو ۴۲ بابو پرتوضيح باندی مشتمله، په مختصرو الفاظوكی په غوښتنه او خواهش سره دښاغلی علم دوست ملگری، صاحبِ مكتبه رحيمية كاسی روډ كوئټه، ابو مزمل ملا مطيع الله آخندزاده صاحب، سرته ورسوله خدای پاك دی وكړی چې شآئقين ته دقبليدو قابله سی او كه دبنده څخه كمه غلطی پكښی سوی وی نو دهغه تصحيح وكړی تاسی ته له پاك خدای ﷻ څخه اجرِ عظيم غواړو. فقط

۲۷\۹\۲۰۰۷

۱۴ رمضان المبارك ۱۴۲۸ هـ

سراج احمد، ومحمد احمد عفی الله عنهما

---

= نسخې څخه منتخب كړيدې، په دې وجه چې زموږ ددې شرحی او ددې نسخې ترما بينځ مناسبت زيات دی ځكه چې دا دواړه په پښتو ژبه كی دی، خو ددې سره سره چې كم ځای په فارسی نسخه كی دپښتو نسخې څخه مختلف بيتونه راغلی دی نوهلته موپه حاشيه كی دهغو بيتو شرح اوتوضيح هم وړاندی كړيده. ځكه نو دا ويلای سو چې انشآء الله دا شرح به دتحفة النصآئح ددواړو نسخو دپاره ډيره مفيده، گټوره او واضح كوونكې وی، او اُميد دی چې استادان او طالبان دواړه به ددرس او تدريس په دوران گټه ورڅخه حاصله كړی. وما ذٰلك علی الله بعزيز. والله الموفق وهو المعين. العبد محمد احمد الحقانی الافغانی غفرالله له

بسم الله الرحمن الرحيم

**١. حـمدی بگو یـم بیعدد مر خالق جن وبشر**
ثنا وایمه ډیره خاص پیدا کوونکی لره دپیریانو او انسانو
**کرده مُعلَّق آسمان هم اختران شـمس وقـمر**
چې را ځړولی یې دی هم آسمان او لمر او سپوږمۍ

**٢. عظمی بداده عرش را پرد زپایش طائری**
داسی لویې یې ورکړی ده عرش لره چې والوزی دپښې څخه دهغه مارغه
**چون برق سالی چار صد آنگه رسد پای دگر**
چې په شان دبرق ځی کلونه څلور سوه پس دهغه به ورسیږی وبلې پښې ته

**٣. هم آفریده جنتی کش (١) عرض وطولش آنچنان**
هم یې پیداکړی دی جنت چې غټ والی (پلنوالی) او اوږدوالی یې داسی دی
**هفت طبق ارض وسـما پـیشـش چو قُبه بر سپر**
چې اوه چته دمځکې اودآسما ن په مقابله دده کې داسی دی لکه پتری پرډاله باندی

(١). د (کش) لفظ چې اصل یې: که اش، دی چې معنی ده: چې دهغه. او دا په پښتو ترجمې والا نسخه کې نسته، اوکم چې دلته لیکل سویدی هغه دفارسی نسخې دی، او همدا صحیح دی.

**داول بيت دلغاتو حل**:

حمد: دخداي پاك صفت كول، بيعدد: بې شمېره، چې شمارېې نه كيږي. مر: خالص، خالق: دخداى پاك ﷻ نوم دى، چې معنى يې ده: پيدا كونكى، جن: پيريانان، بشر: انسان، معلق: ترل سوى اوځوړند، اختران: ستورى، شمس: لمر، قمر: سپوږمۍ.

**تشريح اومطلب**:

بې شمېره اوبې حسابه حمد هغه خداى پاك ﷻ لره وايم (په اخلاص سره بى له رياء) چې پيدا كوونكى دى خاص دپيريانانو او انسانانو، او هغه خداى ﷻ لره چې گرځولى (درولى) يې دى آسمان بى له تنبى او ستنى، او همدارنگه ستورى او لمر او سپوږمۍ ځړيدونكى پر اسمان باندى. لكه چې په تفسير حسينى كى دى چه ستورى لكه څراغان را ځړيدونكى دى په اسمان كى او همدا صحيح مذهب دى.
شيخ محمد گهلوى رحمه الله عليه ليكى چې دا احتمال هم په كلام كى سته چې عبارت حمل سى پر تقديم او تاخير باندى، يعنى: لمر او سپوږمۍ او همدارنگه نور ستورى يې معلق او ځړولى دى په آسمان پورى، لكه چې په نافع المسلمين كى يې راوړيدى چې ستورى پرمذهب دجمهورو علماوو ددين داسلام په آسمان پورى ځړيدلى دى په مثال دقنديل چې په بام اوچت پورى دخونى ځړيږى، اوپه نزد دبعضو علماوو دا ستورى مركب دى په همدى آسمان كى لكه غمۍ په انگوشترۍ كى، اودا مذهب دحكماءِ طبعيه وو دى چې ستورى په آسمان كى مركوز او اېښوول سويدى، او دوى وايى چې حركتونه دفلك په اراده سره دى، ليكن صحيح مذهب دادى لكه چې په تفسيرِ حسينى كى يې دتبيان څخه نقل كړيدى چې ستورى په مثال دقناديلو دآسمان څخه په سلاسلو

سره راځېدلی دی او دا سلاسل عبارت دملائکه عَلَيْهِمُ السَّلَامُ څخه، او کله چی قیامت ته نژدی دآسمان ټوله ملآئکه عَلَيْهِمُ السَّلَامُ په اول وار شپیلۍ پُف کیدو سره ختم سی نو همدا ستوری به ددوی دلاسو څخه خطا سی اوپر مځکه به را ولوېږي. تردې ځایه دګهلوی کلام وو.

او امام أبو عبد الله محمد بن أحمد الأنصاري القرطبي په خپل تفسير (الجامع لاحکام القرآن) کی چی مشهوره دی په تفسیرِ قرطبی سره، په پنځلسم **۱۵** جلد کی دسورةِ یٰس ددې آیة کریمه:

<u>لاَ الشَّمْسُ يَنبَغِي لَهَا أَنْ تُدْرِكَ الْقَمَرَ وَلاَ اللَّيْلُ سَابِقُ النَّهَارِ ، وَكُلٌّ فِي فَلَكٍ يَّسْبَحُونَ</u> ، سورة يٰس: آية ٤٠، په تفسیر کی دحضرت حسنِ بصری رَحِمَهُ اللهُ عَلَيْهِ څخه دا الفاظ را نقل کړيدی:

**وقال الـــحسن [البصری]: الشمس والقمر والنجوم في فلك بين السماء والأرض غير ملصقة ؛ ولو كانت ملصقة ما جرت. انتهٰى**

یعنی: حسن بصری رَحِمَهُ اللهُ عَلَيْهِ ویلی دی چی: لمر او سپوږمۍ اونور ستوری په فلك [1] کی دی په مابینځ کی دآسمان او دمځکی، او دا اجسام په آسمان پوری نه دی مبنتی، که چیری مبنتی وای بیابه یې تګ اوګردش نسوای کولای.

همدارنګه دحسنِ بصری رَحِمَهُ اللهُ عَلَيْهِ دا قول علامه ابو الحسن الماوردی (المتوفٰی سنة ۴۵۰ هـ) په خپل تفسیر النکت والعیون، او علامه ثعلبی په خپل تفسیر الکشف والبیان کی راوړی دی.

---

[1]. **فآئده**: دعلمِ هیئت علماوو دفلك او آسمان په مابینځ کی ډیر فرقونه بیان کړیدی چی په هغو کی مشهوره فرق دادی چی فلك هغه مدار ته ویل کیږی کم چی په فضا کی دیوه ستوری یا سیارې دګردش دپاره مخصوص وی، او آسمان هغه عظیم جسم دی چی محیط دی پر دې ټولو ستورو، سیارو او نورو فلکی اجسامو باندی.

**ددوهم بيت لغات:**

عُظمی: په پیښ دعین سره په معنی سره دلویي، لوی والی، او لوړوالی، عرش: هغه عظیم جسم دی چی راګرځیدونکی دی پر آسمانو اوهم پرمځکه، پرد: چی والوزی، الوتل، زپایش: دپښې څخه دهغه، لفظ د: ز ، په فارسی کی داضافت لفظ دی، او: پای، پښې ته وایی. اوکم شین (ش) چی په پای کی دپایش نوشته ددې اصل: آشْ، دی او دا ضمیر دی په معنی سره: دهغه. نو مجموعه معنی سوه: زپایش: دپښې څخه دهغه. طائر: مرغه، اوشیخ محمد ګهلوی رحمة الله علیه لیکلی دی چی کمه یآء چی په پای پوری دلفظ د: طآئر، ملحق سویده ه دپاره دعظمت او دلالت ده پر لوی والی باندی نود: طآئری، دلفظ معنی سوه: یو عظیم او لوی مرغه.

**پوه سه :**

چی لفظ د (چون) په فارسی کی په دوو معناوو سره مستعملیږی، اوله معنی: په مثال سره، دوهمه معنی: کله، یا، کله چی.

اوپه دې دواړو معناګانو کی دمعنی مرادی تعین به دمقام په واسطه او سیاق او سباق په قرآئنو سره کول کیږی. نو دلته لفظ د: چون، په اولی معنی سره دی یعنی: چون ، په مثال سره. برق: بربښنا، نور او ړنا.

سال: کال، کم چی درې سوه شپیته ۳۶۰ یا درې سوه پنځه شپیته ۳۶۵ ورځی او شپی (شبا روز) وی. چار: څلور، ددرو تر عدد لوړ او دپنځو ترعدد کښته چی کمه عدد اومرتبه ده دې ته په پښتو کی: څلور اوپه فارسی او اُردو دواړو کی: چار، وایی. صد: سل، پنځه شل، یا لس لسه. دلته په عبارت کی څه تقدیم او تاخیر هم موجود دی او لفظ د: میرود، هم ورسره مقدر دی نو تقدیر دعبارت داسی دی چی: میرود

چون برق چار صد سال، یعنی چی ځی او روان وی په شان دبرق او برېښنا څلور سوه کاله.
آنګه: په دغه وخت کی، رسد: رسیږی، پای، (۱) پښې، دګر: بلی ته.

**تشریح اومطلب:**

(یعنی حمدا وایم) داسی خدای پاك لره چی دا لوی عرش ته یې کم چی احاطه کوونکی دی پرټولوکآئناتو باندی، دومره غټ والی او بزرګوالی ورکړیدی، چی فرضًا که چیری یوی قوی اوغټ مرغه چی کلك او مستحکم وزرونه یې وی، دیوې پښې څخه ددې عرش وطرف ته دبلی پښې متوجه او روان سی، نوکله چی دا مرغه څلور سوه کاله داسی تیز رفتار وکړی لکه په شان دبرق او برېښنا، نو تردې څلور سوه کاله رفتار وروسته به هغه بلې پښې ته ورسیږی.

**اول**: په دې پوه سه چی امام غزالی رحمة الله علیه لیکلی دی چی: دعرش عظیم څلور ۴ رکنونه دی او دهر رکن دپاره یې درې سوه شپیته ۳۶۰ پښې دی دسره یاقوته څخه اوپه قول دبعضو دزرغونو زمرودو څخه ، او فاصله دهری پښې ددې عرش داتیا ۸۰ کالو دمسافت ده په مسافت سره دوزرو دملآئکو، یعنی ملائکی به په دومره اوږده موده کی فقط دیوې پښې مسافت وکی.

**دوهم**: په دې پوه سه چی علمآء لیکی چی اول تیز رفتار دانسان دسترګو ددید دی ځکه چی په دې سره دی په یوه ثانیه کی دآسمان ستوری وینی او ښکاره خبره ده چی دآسمان ستوری دده څخه په ډیره زیاته فاصله باندی لیری دی، کم چی په بعضو احادیثو کی دپنځو سوو

---

(۱). په پښتو ترجمې والا نسخه کی دا لفظ بې له یاء څخه داسی نوشته دی: پا، دا که څه هم صحیح کیږی مګر اصل لفظ دکتاب لکه په فارسی نسخه کی چی دی سره دیآء دی یعنی: پای

کلونو لار ښوول سویده (کما رواه الترمذی)، تردې وروسته دبرېښنا سرعت ډېر زيات دی، لکه مولانا محمد موسیٰ خان الروحانی البازی رحمة الله عليه چی ليکلی دی چی دبرېښناتگ په يوه ثانيه کی: (۱۸۶۰۰۰) ميله دی (۱).

**دريم**: يوه سه په دی چی مصنف صاحب رحمة الله عليه دحمد دپاره دالله ﷻ په صفتو کی دا عظيم صفت ذکر کی چی په دې سره يې اشاره وکړه دې ته چی دالله ﷻ مخلوقات او کآئنات پر بې شمېره عجآئبو او غرآئبو باندی مشتمل دی چی دهغو څخه څه هغه دی کم چی په دې بيت کی ذکر دی.

**ددريم بيت لغات**:

آفر يده: پيداکونکی، جنتی: دجنت، ياء پکښی داضافت دپاره ده، عرض: پلنوالی، برداروالی. طول: اوږدوالی، آن چنان: داسی دی، هفت: اووه (۷)، طبق: مرتبه، پوړ، منزل، مرحله. ارض: مځکه، سما: آسمان. پيش: په مخکی، ش: ضمير دی، نو پيشش: په مخکی دهغه، چُو: مخفف دی دچون، معنی يې ده: په مثال سره، قُبه: دقاف په پيښ اود بآء په شد (قُبّه) سره ويل کيږی، په اصل کی هغه بنا ته ويل کيږی چی شاخوا او گرداگرده وی لکه گنبده، اويا هرهغه شی چی ددې په مثل سره وی لکه کوپړۍ دسر، دلته مراد ورڅخه پرسپر باندی سربيره هغه کوچنۍ لوړ ځای دی کم چی دسپر په مابينځ کی موجود وی دکم چی شکل داسی دی لکه گنبده، سپر: ډال، سپر، هغه آله چی ددښمن دتوری دوار څخه دحفاظت دپاره په جنگ کی کارول کيږی.

---

(۱). دتفصيل دپاره وگوره: الهيئة الصغرىٰ (پښتو) صفحه ۱۳، ترجمه: دمحمد احمد الحقانی، چاپ: مکتبه حبيبيه ، کاسی روډ ، کوئټه ، او ارگ بازار کندهار افغانستان.

**تشر يح او مطلب:**

او داسی خداي پاك لره حمد وايم چا چی دومره لوی جنت پيداكړی دي چی پلنوالی او اوږدوالی يې دومره زيات دی چی دا اوه مځكی او اووه آسمانونه دهغه په مخكی دومره كوچنی معلوميږی لكه دسپر پر مخ باندی چی كم كوچنۍ پورته ځای وی.

يا دتوضيح دپاره بل مثال علمآء داسی پيش كوی چی دا اووه آسمانونه اومځكی دهغه په مخكی داسی معلوميږی لكه دډرياب پرسر باندی چی يوه كوبۍ څومره معلوميږی. يعنی ښكاره خبره ده چی دا كوبۍ نسبت ودرياب ته دومره كوچنۍ وی چی اندازه يې نه كيږی همدغه ډول دا اوه آسمانونه او مځكی نسبت وجنتو ته دومره كوچنی بلكه تردې لا زيات كوچنی معلوميږی.

ددې دتاييد دپاره هغه حديث شريف كافی دی كم چی ډيرو محدثينو په خپلو كتابو كی رانقل كړيدی چی كله آخری مؤمن ددوږخ څخه را ووزی نو الله ﷻ ته به عرض وكړی چی يا الله ﷻ كله چی ټول مؤمنان وختی لا جنت ته تللی دی نو آيا زما دپاره به اوس په جنت كی كافی ځای وی ؟ الله ﷻ به په جواب كی ورته وفرمايی چی آيا ستا دومره ځای بس دی لكه دا اوه آسمانونه او اووه مځكی لس واره (١)، نودا بنده به عرض وكړی چی يا الله ﷻ ستا ډير لوی ذات دی ته زما سره ټوكی كوی، بيا به الله ﷻ ده ته همدومره پراخه ځای وركړی.

فسبحانه ما اعظم شانه

* * *

(١). اوپه بعضو رواياتو كی دلس واره پر ځای سل او تردې هم زيات راغلی دی.

**١. دنيا وجمله آسمان همچون مدور بيضهٔ**

دنيا او ټول آسمان لکه ګول وول (ګرداګرده) هګۍ

**بر پاؤ بی تکیه ستون دايم بدارد در نظر**

قآئم ولاړ دی بی له تکيه او ستنی هميشه يې لری په حفظ (ساتنه) کې

**٢. دريا ولبها جويها کرده روان روئی زمين**

دريابونه او رودونه او ويالې يې روانی کړی دی پر مخ دمځکی

**اشجار پُر از ميوه ها رويد زمين شهد وشکر**

درختې ډکې له ميوو څخه يې شنې کړيدی، پيدا کړی يې له مځکې شهد اوشکر

**٣. مرده اراضی جملگی ز نده کند از قطرها**

مړی او وچې مځکی ټولې ژوندی کوی له څاڅکو څخه

**از خشک ميدان يکزمان هم لعل بينی هم خضر**

دوچ ميدان (ډاګ) څخه به په يوه ساعت کې هم سره ګلونه ووينې هم شنه ګياه

**دلغاتو حل:**

جمله: ټول، همچو: په مثال سره، مدور: ګول، بيضه: هګۍ، برپاؤ: قآئم، ولاړ، مستحکم، ستون: سَتَنَه، تمبه، دآئم: هميشه، نظر: حفاظت.
دريا: دريابونه، لبها: رودونه، جويها: ويالی، روی: مخ، زمين: مځکه، اشجار: جمع دشجر ده معنی درختې، پُر: ډك، رويد: شنه کوی، شهد: شات، عسل، شکر: بوره، ګنۍ.
مرده: مړ، اراضی: دارض جمع ده معنی مځکه، جملګی: ټوله، قطر: څاڅکی دباران، خشك: وچ، يکزمان: يو ګړی، لعل: سور رنګ، خضر: شين رنګه، تازه.

**تشريح او مطلب:**

۱. داسی خداي پاك ﷻ دی چی ټوله دنیا یی په شان دهګۍ جوړه کړیده، او بی له تکیه او بی له تنبې یې همیشه ساتلی ده، او هم دا دنیا او ما فیها په خپل حفاظت کی لری.

یعنی هغه الله ﷻ چی دنیا یې ګول وول دهګۍ په شکل جوړه کړیده، په دې باره کی دعلمِ فلك دعلماوو اختلاف دی چی آیا دنیا پوره ګول وول ده لکه ګیند اوکه دوه طرفونه یې یوڅه کښېکښل سوی او دوه نور طرفونه یې راوتلی دی لکه دهګۍ شکل، په دې دوو مذهبوکی مختاره مذهب دا دی چی دمځکی نقشه مُدَوَّره مُبَيَّضه ده، یعنی دهګۍ په شکل ګول وول ده، نه داسی پوره ګول وول لکه دګیند. ([1])

۲. دریابونه، رودونه او ویالې یې په مځکه کی روانی کړیدی، او له میوی ښخه ډکی درختی یې په مځکه کی را شنی کړ یدی، او را باسی دمځکی ښخه شهد او شکر.

داهم دالله ﷻ دانعاماتو ښخه دی چی دریابونه رودونه او ویالې یې په مځکه کی پیدا کړیدی او ددې په واسطه دمځکی دمختلفو حصو ښخه نورو حصو ته اوبه رسیږی په کمه کی چی خپلی اوبه نه وی، که نه نو دا دبندګانو تر وس لوړه خبره ده چی دوی دی په زیاته اندازه باندی اوبه دیوه ځای ښخه تر بل لیری ځایه پوری ورسوی، ځکه چی په مځکی ورته قسم قسم خنډونه او مشکلات راځی لکه غرونه ، شلې، غونډۍ او داسی نور، او تردې ټولو اوبه اړول اوبیا یوځای ته رسول ګرانه خبره ده، ولی چی داوبو دتګ دپاره دا ضروری ده چی کمی خواته روانی وی هغه طرف ته کښته وی، او دسړك یاروډ جوړول او پرغرونو باندی اړول

([1]). دزیات تفصیل دپاره وګورۍ: الهیئة الصغرٰی (پښتو).

دانه غواړی چی لوړه ده اوکه کښته، مګر بیا هم موږ وینو چی دیوه عادی سړك په جوړولو کی په میاشتو میاشتو وخت لګیږی، او که چیری هغه سړك یا لار مخ پر غره، شلې، غونډی، یا داسی بل ځای باندی ورسی نوبیا دژر پوره کیدو سوال هم نه پیدا کیږی، بلکه په کلو کلو وخت اخلی، سره ددې چی سړك او لار هم پر ژوره تلی سی اوهم پر لوړه، مګر اوبه کمی چی دانسان، حیوان اونباتاتو ټولو دژوند دپاره ضروری اولازمی دی، په دې کی طبیعت دادی چی دا مخ پر کښته ځی او مخ پر لوړه نه ځی، نوکه ددې دیوه ځای څخه بل ځای ته رَسوَل الله ﷻ دبندګانو تر کار کولو پوری متعلق کړی وای ، نو ډیرو داسی انسانانو، حیوانانو او نباتاتو به خپل ژوند دتندی دلاسه ورکړی وای کومو ته چی به پروخت اوبه نه وای رسیدلی، او کم چی دانسان نوی اختراع سوی آلات دی نو هغه تر یو څه ځایه پوری کولای سی چی اوبه مخ پر لوړه بوزی، خو دومره په زیاته اندازه یې په وسه نه ده چی هر ځای چی ضرورت وی هم هلته یې ورسولای سی. مګر دا دالله ﷻ ډیر لوی فضل او احسان دی چی داوبو درسولو دپاره یې په قدرتی ډول سره دریابونه، رودونه او ویالې جاری کړیدی ، او دهمدی لاری یې ددنیا دیوه ګنج څخه بل ګنج ته داوبو رسولو زمینه برابره کړیده.

او دبیت په آخر کی داسی راغلی دی چی: راباسی دمځکی څخه شهد اوشکر، نو دشکر یعنی شیرینی او بوری دمځکی څخه درا ایستلو وجه خو ښکاره ده چی شکر دګنی دبوټی څخه جوړیږی، او هغه دمځکی څخه را شین کیږی، البته دشهدو درا ایستلو وجه دمځکی څخه غالبًا دا ده چی عسل او شهد کم چی دمچمچیو په واسطه الله ﷻ موږ ته را کوی نو ددې مچمچیو خوراك او چیښاك دهغو موادو څخه دی کم چی

دمځکی څخه راوزی، نو بالآخره بیرته دشاتو اصلی سبب او منبع همدا دمځکی څخه پیدا سوی هغه شیان دی کم چی دمچمچیو خوراك دی.
۳. وچه او مړه مځکه بیا راشنه کړی دباران (دڅاڅکو) څخه ، وچ میدان په یوه دم (یوه گړی کی) سور رنگه او شین وگرځوی په وښو او گلانو سره ، همدغه خدای ﷻ لره حمد دی.
یعنی په یوه وار باران کولو سره چی په اطرافو کی دعالم یې واوروی، ټولی مځکی وروسته تردی چی هغه مړې وی او هیڅ شین گیاه نه وی ورباندی دوباره بیا را ژوندی کړی او قسم قسم نباتات او واښه ورڅخه را وباسی، چی په هغو کی په زرهاوو قسمونه گلان، نباتات او نور وی. لکه چی په پسرلی کی دالله ﷻ ددې عظیم قدرت نمونه هر ځای لیدل کیږی.

**۱. سیار گان چون شمعها کرده بپا از مهر خود**

ستوری یې په مثال دشمعو ثابت او قآئم کړیدی له محبت څخه خپل

**روشن مزّین شد سما از بهر خلقی راهبر**

روښانه او ښایسته سوه آسمانونه په دې، او دپاره دخلقو لار ښوونکی سوه

**۲. چیزیکه باشد در جهان آنچیز گوید ذکر حق**

هر څه شیان چی دی په دې دنیا کی هغه شی وایی ثنا دخدای پاك ﷻ

**تسبیح گوید عالمی نامی بود خواهی حجر**

تسبیح وایی داټوله عالَم (ماسوی دخدای) که نباتات (شنه شیان) دی او که ډبره

**۳. لیکن نمی فهمد کسی تسبیح هر یک در جهان**

مگر نه پوهیږی څوك په تسبیح ددې هر یوه په جهان کی

**الاَّ که رب العالَمین دارد باین هر یک خبر**

مګر رب دمخلوقاتو لری ددي هر يوه په ثنا باندی خبر

**۴. شایان این نعمت همون از فضل ولطف خویشتن**

لایق ددی نعمت هم خدای دی چی دخپلي مهرباني څخه يي توفيق ورکي

**محبوب خود خواندش یکی از فضل خود خالق بشر** ([1])

محبوب خپل وويل دي حامد ته، يو دمهربانۍ څخه خپل دپيدا کونکي دانسان

---

([1]). په فارسی نسخه کی دتحفة النصآئح دهمدې آخری بیت پرځای دا بیت راغلی دی:

**علاَّم وحیٌّ وهم صمد رازّق هر یک نیک وبد**

داسي خدای ﷻ چي ډير پوه دی او ژوندی دی اوهم بي نيازه دی، او رزق ورکوونکي دی وهر يوه بد اوښه ته

**جز او نه دیگر خالقی ویرا یکی بیشک شمر**

ماسوا دهغه څخه نسته بل پيدا کوونکي ، هغه بيشکه يو وګڼه .

**دلغاتو حل:**

علاَّم: دعالِم دلفظ مبالغه ده معنی يې ده ډير پوه. حیٌّ: ژوندی، باقی، صمد: بی نیازه، بې احتیاجه، رزاق: رزق ورکوونکی، روزی ورکوونکی، جز: ماسوا، أو: ضمیر دی یعنی دده څخه، وَيْرا: ده لره.

**تشریح او مطلب:**

یعنی حمد وایم داسی خدای پاك ﷻ لره چی هغه ډير پوه او عالم دی او همیشه ژوندی دی او بې نیازه او بې احتیاجه دی او رزق ورکوونکی دی هر ژوندی لره حتی خپلو نافرمانو بندګانو لره هم، داسی نافرمانه چی شپه او ورځ دده په نا فرمانۍ او دده ﷻ څخه په سرکښۍ کی اخته وی، او دده ﷻ څخه ماسوا نه بل خالق سته اونه بل رزق ورکوونکی، لکه الله ﷻ چی په قرآن کریم کی په سورة الانبیآء کی فرمايي: اِنَّ الَّذِيْنَ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللهِ لَنْ يَّخْلُقُوْا ذُبَابًا وَّلَوِ اجْتَمَعُوْا لَهٗ =

**دلغاتو حل:**

سیارگان: ستوری، شمعها: جمع دشمع ده، شمع: معنی چراغ، نو شمعها: یعنی چراغان، بپا: ثابت، مهر: محبت، مزیّن: ښایسته، ازبهر: دپاره، راهبر: لار ښوونکی.

حق: خدای پاك ﷻ، عالَم: مخلوقات، ماسوا دالله ﷻ څخه بل هرشی په عالَم کی داخل دی، نامی: هغه شی چی وخت په وخت غټیږی، لکه انسان، حیوان او نباتات. حجر: ډبره.

نمی فهمد: نسی فهمولی، هریك: هریو، الاّ: لیکن، مگر.

شایان: لآئق، همون: هم هغه، هم دی، لطَف: مهربانی، خویشتن: خپل، خواند: وایی، خود: خپل.

**تشریح اومطلب:**

۱. داسی خدای پاك ﷻ دی چی ثابت کړی یې دی ستوری لکه څراغان، په محبت خپل سره، یعنی ستوری، لمر، سپوږمۍ، سیارې اونور هغه آسمانی جسمونه کم چی په فضا کی همداسی معلق او ځړیدلی دی چی نه ورلره کمه ستن سته اونه تنبه، نودا ټوله دالله ﷻ په محبت او ارادې سره ولاړ دی، اوبی له دې یې بل هیڅ سبب نسته.

= وَاِنْ يَّسْلُبْهُمُ الذُّبَابُ شَيْئًا لاَّ يَسْتَنْقِذُوْهُ مِنْهُ ، ضَعُفَ الطَّالِبُ وَالْمَطْلُوْبُ.

ترجمه: ای سړیانو بیانیږی یو مثال پس غوږ کښېږدئ دې ته، بیشکه هغه بتان چی بولۍ یې تاسی بې له خدای څخه ، گرسره به پیدا نکړای سی یو مچ هم ، که څه هم چی راجمع سی دوی پیدا کولو دهغه ته، او که وتښتوی ددوی څخه مچ یو شی نو خلاص به نکړی سی دابتان هغه شی دهغه څخه، ضعیف دی طالب (طلب کوونکی) او مطلوب (هغه چی طلب یې کړل سویدی). سورة الانبیآء: آیت ۷۲

او کم چی دعلمِ فلك ماهرین ددې سبب دا بیانوی چی دا جسمونه خپل قوة جاذبه او کشش لری، او دهمدې پر بناء باندی دوی په فضا کی معلَّق بې له ستنی او سببه څخه موجود دی، نو باید ووایو چی دهمدې فن داکثرو علماوو څخه دا خبره هم ثابته ده چی دوی ټوله په دې اقرار کوی چی دکشش او قوّةِ جاذبه نه حقیقت دوی ته معلوم دی اونه ددې په راز پوهیدلی دی.

او آسمان یی گرزولی دی دخلگو لار ښوونکی وهر طرفته، ځکه چی په پخوا او اوسنی وختونو کی دآسمان دستورو څخه ډیر مسافرین دراهنمایی کار اخلی او خپل کور یا بل مقصودی ځای ته دهمدې په واسطه سره ځان رسوی لکه دا چی مشهوره ده.

۳،۲. اوهر شی چی دی دخدای پاك ﷻ ذکر کوونکی دی، او دخدای پاك ﷻ تسبحات وایی، برابره خبره ده که واښه دی اوکه غرونه دی ټول په خپل خپل ډول دالله ﷻ ذکر کوی، لکه الله ﷻ چی په سورةِ بنی اسرآئیل کی فرمایی: وَإِنْ مِنْ شَيْءٍ إِلَّا يُسَبِّحُ بِحَمْدِهِ وَلَكِنْ لَا تَفْقَهُونَ تَسْبِيحَهُمْ ، یعنی نه دی هیڅ یو شی لیکن چی تسبیح وایی په حمد سره دالله ﷻ مگر تاسی دهغو په تسبیح نه پوهیږی.

دهغوی په ذکر هیڅوك نه پوهیږي مگر یو خدای پاك ﷻ په پو هیږی چی رب دمخلوقاتو دی، هغه په دوی کی په هر یوه خبر لری.

۴. لایقت ددی نعمت دمهربانی څخه دخدای پاك ﷻ دی، چی دذکر کولو توفیق یی ورکی دخپل او مهربانۍ څخه، داهم مهربانی دخدای پاك ﷻ ده چی دذکر کولو توفیق یې وهر شی ته ور کړیدی. [1]

---

[1]. په پښتو نسخه کی دتحفة النصآئح یې راوړیدی دمولانا نقیب احمد" دقوله څخه چی هغه لیکی: (بندهٔ احقر نقیب احمد وایی چی لا تر اوسه زه ددې بیت په مطلب اوپه ربط دما قبل =

## ﴿ در نعت حضرت سالت پناه محمّد مصطفٰی ﷺ ﴾

**١. گویم درود در فشان بر روح خاص مرسلان**

وايمه درود ښايسته پر روح دهغه ذات چې غوره دی دپيغمبرانو

**آن نور عرش وآسمان سلطٰان جمله بحر وبر**

هغه ذات دی چې نور دعرش او دآسمان دی بادشاه دی دبحر او وچې

**٢. شاه جهان آن مصطفٰی سلطان جمله انبیاء**

باچا دی دجهان ، هغه پيغبر باچا دټولو پيغمبرانو عَلَيْهِمُ السَّلَامُ دی

**بهر شفاعت همگنان روز جزا بندد کمر**

دپاره دشفاعت دټولو (مؤمنانو) به په ورځ دقيامت وتړی ملا

**٣. لَوْ لَاكَ چتری بر سرش چون چاوشان پیشش رسل**

دلَوْ لَاكَ سايوان يې پرسر دی په مثال دنقيبانو دی په مخکې دده پيغمبران

**تا او نیاید در جنان جمله رسل باشد بدر**

تر څو چې دی را نسی ودروازې ته دجنت ټول رسلان به دباندی وی

**۴. شاهی ندید درجهان از قاف هم تا قیروان**

يو باچا مو ونه ليدی په دنيا کې دمشرقه څخه تر مغربه پوری

**نی در زمین نی در سما چون مصطفٰی باشد دیگر**

نه په مځکه کې نه په اسمان کې په شان دمحمد مصطفي ﷺ بل بادشاه

* * *

= سره نه پوهیږم) . والله اعلم وعلمه اتمّ واحکم

**دلغاتو حل**:

درود: صلوٰة، طلب درحمت دالله ﷻ څخه پر رسول ﷺ باندی، درفشان: ښائسته، اعلی، درود موصوف دی او درفشان دهغه صفت دی، جمله: ټوله، بحر: لنده، اوبه، درياب، بَرْ: وچه مځکه.

شاه: باچا (فارسی لفظ دی)، سلطان: باچا (عربی لفظ دی)، بهر: دپاره، همگنان: ټوله، روز: ورځ، جزا: بدله، روزِ جزا: دبدلې ورځ، يعنی دقيامت ورځ په کمه کی چی به دښو اوبدو اعمالو بدلې دهغو کوونکو ته ورکول کيږی ځکه ورته يومُ الجزآء وايی، بندد: تړی، کمر: ملا.

لَوْ لاَکَ: دا ديوه حديث يا ديوه قول ټوټه ده (دتفصيل دپاره تشريح: ۳ وگوره)، چتری: سايوان، چاوشان: جمع دچاوش ده چاوش هغه چاته ويل کيږی کم چی دباچا په مخکی روان وی، په عربی کی ورته نقيب ويل کيږی، همدا معنی د: نقيب احمد (داحمد ﷺ چاوش) ، دنامه هم ده، نو چاوشان معنی نقيبان، تا: ترڅو، در: دروازه، جنان: جمع دجنت ده يعنی جنتونه، بَدَرْ: په دروازه کی يعنی دباندی تر دروازې.

قاف: ويل کيږی چی دا نوم دی ديوه غره چی پر ټوله دنيا باندی را گرزيدلی دی او کوهِ قاف ورته ويل کيږی (زيات تفصيل يې په تشريح: ۴ کی وگوره)، خو دلته مراد ورڅخه مشرق دی، قيروان: په منتخب اللغات کی ليکلی دی چی قيروان ديوه ښار نوم دی په آخری اطرافو کی دمغربی افريقې، دلته مراد ورڅخه مطلق مغرب دی.

**تشريح او مطلب**:

۱. درود وايم ښايسته (يعنی په ډير اخلاص سره) پر روح دغوره دپيغمبرانو عَلَيْهِمُ السَّلَامُ ، هغه پيغمبر ﷺ چی ذات دده نور او روښنايی ده دپاره دعرش او دآسمان ، او باچا دی دټولو لندو او وچو، يعنی

دتهولي مځکي.

**درسول او نبي تر مينځ فرق:**

بعضي علمآء وايي چي درسول او نبي تر مينځ فرق نسته، ليکن اکثره علمآء يې فرق کوي، او هغه داسي چي نبي هغه شخص ته ويل کيږي کم چي دالله ﷻ دطرفه څخه دبندګانو دلار ښووني دپاره را استول سوی وي، برابره خبره ده که نوي کتاب او نوي شريعت ولري او که يې ونلري بلکه دمخکني نبي شريعت او کتاب چلوي، لکه هارون عليه السلام چي دالله ﷻ دطرفه څخه په بني اسرآئيلو کي دموسیٰ عليه السلام پرځای خليفه سو، هغه دموسیٰ عليه السلام شريعت چلوی او هم يې دده په کتاب تورات باندي عمل کوی، او رسول هغه شخص ته ويل کيږي کم چي دالله ﷻ دطرفه څخه دبندګانو دهدايت دپاره را استول سوی وي او ددې سره سره دځانه سره يو نوي شريعت او کتاب هم ولري، لکه موسیٰ عليه السلام چي دځانه سره يې نوي کتاب تورات درلودی، او لکه زموږ رسول ﷺ چي آخري رسول او پيغمبر دی، او دځانه سره يې آخري آسماني کتاب قرآن او نوي شريعت راوړی دی، علمآء ليکي چي درسولانو شمېر درې سوه ديارلس ٣١٣ تنه دی، او دانبياوو شمير يولك او څلور ويشت زره (١٢۴٠٠٠) تنه دی، تردې څه زيات يا کم. والله اعلم

٢. باچا ددنيا دی او باچا دتهولو پيغمبرانو عليهم السلام دی، دپاره دشفاعت به په ورځ دقيامت ملا وتړي.

په حديث شريف کي راځي چي دقيامت په ورځ چي کله انسانان دډېر انتظار څخه په تنګ سي چي حساب به نه شروع کيږي نو دوی به اول وار وآدم عليه السلام ته ورسي چي ته دالله ﷻ اولنۍ پيغمبر او دتهولو انسانانو پلار يې ته الله ﷻ ته زموږ شفاعت وکړه چي الله ﷻ حساب

شروع كی هغه به ورته ووايي چې ما دجنت دهغه درختي څخه خوراك كړيدی دكمی څخه چې زه الله ﷻ منع كړی وم، ځكه نو زه ستاسی شفاعت نسم كولای، تاسی حضرت نوح عَلَيْهِ السَّلَامُ ته ورسی هغه به ستاسی شفاعت وكړی ، بيا به هغوی وحضرت نوح عليه السلام ته ورسی دشفاعت كولو دپاره، هغه به ورته ووايي چې زه دا شفاعت نسم كولی ځكه چې ما دطوفان په وخت كی دخپل نا فرمانه زوی دمحفوظ پاته كيدو غوښتنه كړی وه دالله ﷻ څخه ، تاسی حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ ته ورسی هغه به دا شفاعت وكړی، بيا به هغوی حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ ته ورسی هغه به هم عذر پيش كړی، او موسٰی عَلَيْهِ السَّلَامُ ته به حواله وركړی، كله چې مؤمنان هغه ته راسی نو هغه به هم عذر پيش كړی او عيسٰی عَلَيْهِ السَّلَامُ ته به حواله وركړی، بيا به دوی هغه ته راسی او هغه به هم عذر پيش كړی او حواله به وركړی ومؤمنانو ته دشفاعت شروع كولو دپاره پر حضرت محمد ﷺ باندی، كله چې مؤمنان ورسول الله ﷺ ته راسی، نو هغه ﷺ به دالله ﷻ په دربار كی دشفاعت كولو اجازه وغواړی، الله ﷻ به دشفاعت كولو اجازه ورته وكړی اوبيابه يې شفاعت قبول كړی.

نو په دې بيت كی همدغه حديث شريف ته اشاره ده ، الله ﷻ دی زموږ گناهگارانو په برخه هم درسول الله ﷺ شفاعت نصيب كړی. آمين

۳. په دې بيت كی يې هغه حديث قدسی (۱) ته اشاره كړيده كم چې علمآء داسی نقل كوی: لَوْ لاَكَ لَمَا خَلَقْتُ ٱلاَفْلاَكَ، يعنی (الله ﷻ ورسول ﷺ ته فرمايي چې) كه ته نه وای نوما به دا آسمانونه نه وای پيدا كړی، په

(۱). حديثِ قدسی هغه حديث شريف ته ويل كيږی چې الله ﷻ يې بې واسطې دملايكی درسول ﷺ په زړه مبارك كی ورواچوی. او داسی احاديث تر عامو احاديثو په رتبه كی لوړ وی.

بل روایت کی دا حدیث شریف داسی نقل سویدی چی: لَوْ لَاكَ لَمَا اَظْهَرْتُ رُبُوْبِيَّتِیْ، یعنی (الله ﷻ ورسول ﷺ ته فرمایی چی) که ته نه وای نوما به خپله خدایی نه وای ښکاره کړی وای. (١)

نوپه دی بیت کی مصنف صاحب رحمة الله علیه وایی: چی دلو لاك سایوان دده ﷺ پرسر باندی دی، یعنی دا اعزاز یوازی ورسول الله ﷺ ته حاصل دی چی الله ﷻ دده ﷺ ته فرمایلی دی چی که ته نه وای نومابه آسمانونه نه وای پیدا کړی.

په دوهمه ټوټه کی دبیت دا بیان دی چی: تر څه وخته پوری چی پیغمبر ﷺ جنت ته نه وی د ننه سوی ټول پیغمبران به دباندی وی.

او درسول الله ﷺ په وجه دده ﷺ وأمّت هم دا اعزاز حاصل سویدی چی تر څو پوری دده ﷺ اُمّت جنت ته نه وی داخل سوی نو دنورو انبیاوو علیهم السلام امتونه به هم نسی داخلیدی او دباندی به وی.

۴. دمشرقه څخه تر مغربه پوری مو داسی باچا نه دی لیدلی، اونه مو پر مځکه اونه پر اسمان لیدلی دی. مراد دمشرق او مغرب څخه ټوله مځکه ده، ځکه چی قانون دادی چی کله دیو شی سر او پای ذکر کړل سی نوما بینځ خپله ورسره مردایږی، لکه یو سړی وایی چی دسهاره څخه تر ماښامه پوری می فلانی کار کوی، ددې دا معنی ده چی دسهار او دماښام په مابینځ کی چی کم وخت دی په هغو کی می هم کوی.

---

(١). ددې حدیث شریف په سند کی بعضو علماوو قولونه کړیدی، مثلا امام المحدثین ملا علی قاری رحمة الله علیه په خپل کتاب المصنوع فی الاحادیث الموضوع صفحه ۱۱۲ کی نوشته کړیدی، او علامه هندی رحمة الله علیه په مجمع البحار صفحه ۵۱۴ کی لیکلی دی چی: لو لاك لما خلقت الافلاك، قال الصنعانی موضوعٌ. پرهر حال که دحدیث دا الفاظ ثابت وی اوکه نه وی خو په دې کی هیڅ شك هیڅ مسلمان نه کوی چی معنی یې بالکل دقرآن اواحادیثو دمسلمو اصولو سره موافقه او مطابقه ده.

**۱. جمله رسل اندر ز مین کردند پیدا معجزه**

ټولو پیغمبرانو عَلَیهِمُ السَّلَامُ پرمخ دمځکې باندې ښکاره اوپیدا کړیده معجزه

**دو نیم شد مه در سما بر وی چو کرده یک نظر**

دوه ځایه سوه سپوږمی په آسمان کې کله چې یې پردې باندې یو نظر وکې

**۲. رایات او ماحی شده جمله رسوم کفر را**

بیرغونه دده ﷺ ورك کوونکې سول ټولو نښانو لره دکفر

**آیات او دیدند چون جمله عرب گشته مقر**

نښانې دده ﷺ چې یې ولیدلې ټول عرب اقرار کوونکې سوه

**دلغاتو حل:**

جمله: ټوله، رُسُل: جمع درسول ده، معجزه: هغه ته وایې چه پرلاس دیوه نبې دعادت څخه خلاف کار وسی، مه: سپوږمی، رایات: بیرغونه، ماحی: خراب کوونکې، رسوم: علامې، نښانې،رواجونه، آیات: علامې، گشت: وګرځیده، مقر: اقرار کونکې.

**تشریح او مطلب:**

څه چه پیغمبران عَلَیهِمُ السَّلَامُ وه هغو یوه معجزه ښکاره کړې وه او دپیغمبر ﷺ معجز ه دا وه چې په یوه وار کتلو سره یې سپوږمۍ دوې ټوټې سوه، او دپیغمبر ﷺ په را ښکاره سره ټوله رواجونه دکفر ختم سول، او علامی دحق والی چه یې ښکاره سوی نو ټولو عربو ایمان په راوړی.

## ﴿ در مدح شيخ العٰلمين قدوة السّالكين ﴾
## ﴿ محمود نصير الدين قدّس سرّهٗ ﴾

**۱. شيخ معظم پير ما محمود آنصاحب قران**

شيخ لوي لار ښوونکی (رهنما) زموږ چي محمود دی صاحب دبخت دی

**چون او نباشد هيچکس هم محتشم هم مشتهر**

په مثال دهغه به نه وی هيڅ سړی په لويی او هم په مشهور والی کی

**۲. عالم بعلمی همچو او هرگز نديده مردمی**

عالم په علم کی په مثال سره دده به هيچا هيڅکله نه وی ليدلی يو سړی

**اندر کرامت مثل او خيزد کجا دور قمر**

په کرامت کی په مثال دده به کله پورته سی په سپوږمۍ کی

**دلغاتو حل:**

مدح: صفت، ستاينه، شيخ: پيشوا ته وايی، قدوة: مقتدا، هغه څوك چي په هغه پسی اقتداء کول کيږی، سالکين: دسالك جمع ده، سالك هغه شخص ته وايی چي ديوه پير سره يې پر يوه طريقه باندی دسلوك بيعت کړی وی، قدس سرُّه العزيز: دا يوه دعا لکه رحمة الله عليه، يا رضی الله عنه او داسی نور، دديې معنی ده: پاك دی ولری الله ﷻ دده گران سِر، معظم: عظيم، لوی، قِران: بخت، محتشم: غيرتمند، ددبدبې خاوند، مشتهر: مشهوره. خيزد: پورته کيدل، کجا: کله، چيری، دور: وخت، زمانه، پړاو، مرحله، قمر: سپوږمۍ.

**تشريح او مطلب:**

۱. زموږ استاد محترم ډیر صاحب دقران او دبخت دی، مشهوره دی په لويې او بزرگی سره، چی دده په مثال دده په وخت کی نه بل څوك داسی دبدبې والا وو او نه شهرت والا.
۲. دده په شان عالم می بل هیڅوك نه دی لیدلی، دی په داسی علم سره عالِم دی چی مثل یې بل چا نه دی لیدلی په کرامت کی یعنی په اوس وخت کی دده مثل په دنیا کی نسته.

**۱. او بود شیخ مقتدا او را جهان شد مقتدی**
دی وو شیخ امام (پیشوا) او دده ټوله دنیا پیروی کوونکی او تابع وه
**گشتند اعمٰی سالکان چون رفت آنصاحب نظر**
وگرزیدل ړانده عارفان، چی ورځخه ولاړی هغه صاحب دکشف

**۲. دارد تمنّا عالمی خاک درش سرمه کند**
لری آرزو خلگ چی خاوری ددروازې دهغه رانجه کی وگرځوی
**خوشوقت آنصاحبدلان گشتند او را پی سپر**
ښه دی وخت دهغو صاحبدلانو چی سوه ده لره پیره کوونکی

**۳. ای شیخ مخدوم جهان ما را بخواهی از خدا**
ای شیخه خدمت کړل سوی دجهان! موږ وغوره دخدایه څخه
**تا رسته گردم از عنا یابم جنت کشک زر**
چی خلاص وگرځو دسختیو څخه او پیدا کو په جنت کی مانۍ دزرو

*　*　*

**دلغاتو حل:**

مقتدا: هغه څوك چې په ده پسې بل څوك اقتدآء او پيروي کوي، لکه امام په لمانځه کې، مقتدي: هغه څوك چې په بل پسې اقتدآء کوي، لکه دامام شاته خلگ چې ورپسې ولاړ وي، اعمٰی: عربي لفظ دی، نه فارسي، په معنی د ړانده، سالکان: عارفان، هغو اشخاصوته ويل کيږي چې په تصوف اوپه طريقت کې حق ته ورسيږي، رفت: ولاړې، نظر: فکر، کشف، الهام.

تمنّا: أميد، خاك: خاوره، سرمه: رانجه، خوشوقت: خوشحاله وخت درلودونکی، نيك بخت، پی سپر: قدم سپر، يعنی چې تابع او پيروي ديو چا وکړي.

مخدوم: هغه څوك چې خلگ دده خد مت کوي، بخواهی: وغواړه، رسته: خلاص، عنا: سختي، خواري، تکليف، ياب: پيدا کول، يابم: چې پيدا کم، کشك: ماهي، زر: سره زر.

**تشريح او مطلب:**

۱. دغه شيخ (زموږ) امام دی، خلگ ددنيا دده تابع دي، يعنی دده په نيکو اعمالو پسې پيروي کوي، او دهغو دپاره مقتدا اوپيشوا دی، او خلگ په ده پسې اقتدآء کوي، هغه کسان چې دده څخه يې سبق اخيستی او ويلی وو، او هغه چې په ده پسې يې اقتدآء کوله، ړانده وگرځيده هغه وخت کله چې دی دهغو څخه ولاړې، يعنی کله چې دې ددې دنيا څخه رخصت سو.

۲. خلگ ټول دا خوښوي چې دده ددروازې خاوره رانجه کړي، په دې بيت کې اشاره ده وجواز ته دتبرّك بآثار الصّالحين ، يا معنی دا چې خلگ ټول دا أميد لري چې دده علم څخه يو څه حصه واخلي او په هغه

باندی عمل وکی، نو نیك بخته دی هغه کسان کم چی دده پیروی کوونکی او دده دنیکو اعمالو تابعت کوونکی دی.

۳. (مصنف صاحب رحمة الله عليه وایی) ای شیخه چی مخدوم یې دټول جهان، یعنی چی ټوله دنیا ستا خدمت کوونکی ده، ما وغواړه دالله جل جلاله څخه، ددې معنی دا ده چی زما په باره شفاعت دالله جل جلاله په دربار کی وکړه چی ماته گناهونه را وبخښی، په دې بیت کی اشاره ده وجواز دتوسل بالانبیآء والصّلحآء، ددې دپاره زما شفاعت وکړه چی زه دغمونو، تکلیفونو، خواریو او دردونو څخه دقیامت خلاص سم، اوپه جنت کی دسرو زرو مانۍ پیدا کړم.

*　*　*

## ﴿ در سبب تصنیف کتاب وتعریف ابو الفتح گوید ﴾

**۱. گوید همي یوسف گدا در وعظ سخنی چند را**

وایی هم دا یوسف عاجزه په نصیحت کي څو خبری

**از بهر خلف خوش لقا بو الفتح نور البصر**

دپاره دخپل زوی نیك دیداره چه نوم یې ابو الفتح دی او نور دسترگو دی

**۲. آن رکن دین کز علم خود معمور دارد رکنها**

هغه ستن ددین چه په علم خپل سره قائمی لری ستنی

**یا رب بگردان آنچنان بپذیر از من اینقدر**

ای ربه وگرځوی دغه رنگه قبول زما څخه دا قدر سوال

**۳. از تو بخواهم بهر او علم وعمل تقوٰی ورَعْ**
ستا څخه غواړم دده دپاره علم او عمل او تقوی
**سالک بگردان آنچنان چون او نباشد کس دگر**
عارف یې وګرځوی دارنګه چه دده په مثل نه وی بل څوك

**۴. از صدق دل خواهم زتو یا رب بگردان آنچنان**
دزړه داخلاصه څخه غواړم ستا څخه یا ربه ویې ګرځوه
**سبقی بگوید بشنوم بینم جهانی پیش در**
دارنګه چه سبقان وایی خلګوته اورم زه او وینم چه ډیرخلګ پردروازه ده وی

**۵. پندی بگویم بعد ازین بشنو بهر بابی زمن**
نصیحت درته وایم وروسته تر دې دعا وایی وره په هرباب کی زما څخه
**دُرّ یست آخر بی بها در گوش کن جان پدر**
مرغلری ګران قیمته وایې وره ای روحه دپلار

**دلغاتو حل:**

همی: په اصل کی همین دی، چی معنی یې ده همدغه، ګدا: فقیر او عاجزه، خلف: بدل، عوض، ځای ناستی، په همدې معنی اولاد ته هم ویل کیږی ځکه چی هغه هم دپلار پرځای ناست وی، او دلته یې هم دا معنی مراده ده، نور: رڼا، روښنایی، بصر: سترګی، نور البصر: یعنی دسترګو روښنایی او رڼا.
رکن: ستن، تنبه، معمور: آباد، ودان، پذیر: قبلول.

وَرَعْ: پرهیزگاری، د وَرَعْ لفظ ترتقوٰی پر زیاته پرهیز گاری باندی دلالت کوی، یعنی لومړی درجه دتقوا ده کله چی تقوا نوره هم زیاته سی بیا ورع ورته ویل کیږی، سالك: عارف.
صدق: اخلاق، رښتیا، دل: زړه، صدقِ دل: یعنی دزړه داخلاصه، بشنو: واوره، بشنوم: اورم، ببین: ووینه، وګوره، بینم: وینم.
پند: نصیحت، وعظ، دُرّ: ملغره، بها: بیه، قیمت، بې بها: بې قیمته، یعنی دومره ګرانه چی قیمت یې نه وی ځرګند، جان: روح، پدر: پلار.

**تشریح او مطلب** :

۱. وایی همدا یوسف فقیر، (سلطان الواعظین مولانا محمد یوسف[٣]) دا ددې کتاب دمصنف رحمة الله علیه نوم دی، په وعظ کی یو ځو خبری، دپاره دخپل خلیفه او جانشین (یعنی زوی)، چی نوم یې ابو الفتح دی، داسی زوی چی هغه نور دی دسترګو.
۲. ای خدایه! همدا زوی می ددین یوه ستن (یعنی ددین یو ښه او عمده عالِم) وګرزوی، چی دخپل علم په سبب سره آبادی یعنی قآئمی لری ستنی، یا ربه همداسی یې وګرزوی او همدا سوال زما ځخه قبول کړی.
۳. ای خدای پاکه! ستا ځخه غواړم دده دپاره علم او عمل اوتقوٰی او پرهیزګاری، داسی عارف او سالك یې وګرځوی، چی دده په مثل سره بل څوك نه وی.
۴. په اخلاص سره سوال کومه ستا ځخه یا ربه چی دی (ابو الفتح) هم داسی لوی عالِم وګرځوی، چی سبقان وایی وطالبانو ته او زه یې اورم، او وینم یې چی یو جهان یعنی ډیر خلګ دده ددروازې په مخکی ولاړ وی (دهمدې سبق حاصلولو او زده کولو دپاره ده ته ډیر خلګ راځی).

**۵**. تر دې وروسته دا نصیحت کومه درته (ای زویه !) او دا واوره زما څخه په هر باب اوپه هره باره کې، دا مرغلرې دی گران قیمته، نو په غوږ کې یې ونیسه او په یاد یې کړه ای دپلار روحه.

**۱. تحفه نصائح نام این کردم زحق دارم رجا**

تحفه نصائح ددې نوم ایږدم له خدای ﷻ څخه دا أمید لرم

**کاندر نظر پاکان شود مقبول چون شیر وشکر**

چه په نظر کې دپاکو به داسې قبوله سې لکه شیدې او بره

**۲. رنجی کشیدم مُدّتی هم دردها چون درد زه**

تکلیف مې کش کې یو څه وخت هم دردونه په مثال ددرد دزیږیدو

**تا من بزادم اینچنین تحفه مُنوّر نامور**

تردې چې پیدا مې کړه دارنگه تحفه نامداره او مشهوره

**۳. یا رب زفضل ولطف خود گردان چنان این تحفه را**

**جمله جهان عاشق شود خوانند هر شام وسحر**

ای ربه په فضل خپل سره یې وگرځوې دغه رنگه دا تحفه

چه ټول خلگ پر عاشق سې او وایې یې هر سهار او ماښام

**دلغاتو حل**:

نصآئح: جمع دنصیحت ده په معنی سره دوعظ او نصیحت او پند. رجا: أمید، پاکان: دپاکو، مقبول: قبول کړل سوی، شیر: شیدې، شکر: بوره.

رنج: تکلیف، سختی، درد، کشیدم: تیر می کی، مُدَّتی: یو څه موده، زِه: یوځه زیږیدل، تا: ددې دپاره، بزادم: وزیږوم، مُنوَّر: روښانه، نامور: نامداره، مشهوره.
چنان: دغه رنګه، شام: ماښام.

<u>تشریح او مطلب</u>:

۱. یعنی ددې کتاب چی مجموعه ده دوصیتو زما وخپل زوی ته، نوم می (تحفة النصائح) ایښی دی، تحفة: یعنی هدیه، ډالۍ، پیش کش، نصآئح: جمع دنصیحت ده په معنی سره دوعظ او تبلیغ. کله چی په دې کتاب کی هم خاص نصیتونه او وعظونه ذکر وه، ځکه نو دانوم ډیر ورسره مناسب دی.

او دالله ﷻ څخه دا اُمید لرم چی زما دا کتاب دپاکانو خلګو یعنی اولیاوو، علماوو او طلباوو په نظر کی داسی مقبوله کی لکه شیدی او بوره، یعنی لکه څنګه چی دا دوه شیان دهرچا خوښ دی او هرسړی په دې خوشحاله کیږی چی ور ورسیږی، دغه ډول دی الله ﷻ دا زما کتاب هم دارنګه وګرځوی.

۲. او مصنف صاحب رحمه الله علیه وایی چی: ما ددې کتاب په جوړولو کی ډیر تکلیف، خواری او دردونه برداشت کړیدی، بیا یې ددې خپلو خواریو او دردونو، کم چی پرده باندی ددې کتاب په جوړولو کی تیر سویدی، مثال داسی پیش کړیدی: داسی خواری لکه دکوچنی مور چی یې داولاد دزیږیدو په وخت کی تیروی، دا ښکاره خبره ده چی دکوچنی پر مور باندی داولاد دزیږیدو په وخت کی ډیر زیات تکلیف وی، دهمدې وجه څخه نبی کریم ﷺ فرمایلی دی: کمه ښځه چی دکوچنی

پیدا کیدو ددرد دوجه څخه وفات سی هغه شهیده ده، یعنی مرتبه یې دشهیدانو ده، دا صرف او صرف ددې دردو او تکلیفو په وجه.
نو مصنف صاحب رحمة الله علیه هم وایي چې ما داسې دردونه پرځان باندی تیرکړیدی ددې کتاب په تصنیف اوتالیف کی، ددې دپاره چې دا کتاب مقبول سی، او یوه خوندوره او مشهوره تحفه ورڅخه جوړه سی، لکه څنګه چې هغه اولاد چې تر دومره تکلیفو وروسته پیدا سی هغه پر مور باندی ډیر ګران وی.
۳. کله چې دکتاب قبلیدل او مشهوره کیدل دالله ﷻ په اختیار کی دی او الله ﷻ چې کله یو شی مشهوره کړی بیا یې هیڅوك نسی ورکولای، او هم الله ﷻ چې کله یو شی نوم ورکی کړی یعنی نوم یې ورورك کړی، بیایې هیڅوك نسی پیدا کولی، ددې وجه څخه اوس مصنف رحمة الله علیه دالله ﷻ څخه دعا غواړی چې: یا الله ﷻ! ته په خپل فضل، مهربانی او کرم سره زما کتاب (دا تحفة النصآئح) داسی مشهوره او مقبوله کړی، چې ټول جهان ددې عاشقان سی او هر سهار او ماښام یې وایی.
کله چې دمصنفینو رحمة الله علیه مقصد دخپلو تصنیفونو څخه ددین خدمت وی او دخپل ځان دپاره أخروی ګټه او سرمایه تر لاسه کول وی، او داپه دې سره کیږی چې کتاب یې مشهور سی او علمآء یې ووایی او طلبآء یې زده کړی، ترڅو چې ده ته ثواب ور ورسیږی، ددې وجه څخه تل مصنفین رحمة الله علیه په خپلو خپلو کتابو کی دالله ﷻ څخه دا خواست په ډیر عجز او زاری سره کوی چې یا الله ! ته زموږ دا خوری په خپل دربار کی قبوله کړی، او دعلماوو او طلباوو توجه او پام زما دکتاب خواته را واړوی، چې دا زما کتاب په دوی کی مشهور او مقبول سی او

دوی یې ووایی او فآئده پر واخلی، تر څو چی دا تصینف زموږ دأخروی اجر او نفع دتر لاسه کیدو سبب سی.

او هرکله چی مصنف صاحب رحمة الله علیه دخپل کتاب دخطبې څخه فارغه سو، اوس ددې وروسته به دکتاب په مقاصدو باندی شروع کوی، کم چی عبارت دی دمواعظو نصیحتونو او پندونو څخه.

## باب اول در بیان توحیدِ باری تعالیٰ

اول باب ثابت دی په بیان کی دالله جل جلاله دیو والی

**۱. گردد چو بالغ کودکی فرضست شناس حق برو**

کله چه وگرځی کوچنی بالغ، نو فرض دی پیژندل دخدای جل جلاله پر ده

**داند یکی بی شک خدا جز او نداند کس دگر**

چې وګنې (وبولی) خدای بی له شکه یو، ماسوٰی دده جل جلاله څخه هیڅوك بل نه پیژنی

**۲. بیچون بدان حضرت خدا مثنی ندارد شبه هم**

**هرگز نزاده کس ازو نی مادر او را نی پدر**

بلا کیفه یی وبوله چه خدای نه مثل لری اونه هم شبه

هیڅ کله نه دی زیږیدلی څوك دده څخه، او نه مور او پلار سته ده لره

**۳. او را طعام وآب وزن هرگز نباشد حاجتی**

ده ته دډودی او داوبو او دښځی هیڅکله حاجت نسته

**خوابی نه او را غفلتی نی سهو را بروی گزر**

خوب نسته ده لره اونه غفلت اونه خطا (هیروالی) پرده تیریږی

**۴. پشتی نخواهد از کسی نی مشورت خواهد از کس**

نه کومك دچا څخه غواړی او نه مشوره غواړی دیو چا څخه

**جمله جهان محتاج او از کس نخواهد او نصر**

ټول جهان دده محتاج دی، او دی دهیڅ چا څخه مدد نه غواړی

**دلغاتو حل:**

گردد: چی وگرځی، بالغ: غټ، هغه نر چی پنځلسو کالو ته یې عُمر رسیدلی وی، یا هغه ښځه چی تر دوولسو کالو پوری یې عمر رسیدلی وی، کودك: کوچنی هلك، شناس: پیژندل.

بیچون: بې مثله، حضرت: ذات، نزاده: نه یې دی زیږولی.

طعام: خوراك، آب: اوبه، زن: ښځه، کور والا، خواب: خوب، بیده کیدل، سهو: خطا، هیره، گذر: تیریدل.

پشتی: مدد غوښتل، کومك، نصرت، مشورت، مشوره، نصر: کومك.

**تمهید :**

کله چی دمؤمن دپاره ترهر څه دمخه دالله ﷻ په وجود او وحدانیت باندی اقرار کول تر هر څه ضروری وه، او بې له دې هیڅ نیك عمل نه قبلیږی ددې وجه څخه مصنف صاحب رحمه الله علیه په اول باب کی همدا لومړی رکن داسلام بیان کی.

**تشریح او مطلب:**

۱ . کله چی کم کوچنی هلك بالغه سی پرده باندی فرض سی دخدای پاك ﷻ پیژندل، داسی پیژندل چی خدای پاك ﷻ یو دی شریك نلری.

دالله ﷻ وحدانيت داسلام لومړنۍ رکن، او دهغه چا دپاره چې په اسلام کې داخليدل غواړي، يا ځان په اسلام کې داخل بولي، لومړنۍ وظيفه ده، دالله ﷻ دوحدانيت دنه اقرار کولو په صورت کې دانسان هر نيك عمل لغو، عبث او بې فآئدې دی.

**مسئله**: دالله ﷻ په وجود اودهغه په وحدانيت اقرار کول دومره ضروري، لازمي، او ښکاره دی چې زموږ دامامِ اعظم ابو حنيفة رَحِمَهُ اللهُ عَلَيْهِ په نزد باندې که يو سړی په غره کې وروزل سی، په دې ډول چې هيڅوك يې نه وی ليدلی، اونه هم کم کتاب يا عالِم ده ته حقه لار ورو ښوولی، لا هم پر ده باندی دا لازم دی چې دی به دالله ﷻ په وجود او بيا دهغه ﷻ په وحدانيت اقرار کوی، ځکه چې انسانی عقل ددې دواړو خبرو (دالله ﷻ موجوديت، او دهغه ﷻ دوحدانيت) دپاره بالکل کافي دی، اويو انسان په لږ فکر کولو سره هم دامحسوسولای سی چې داسی يو ذات سته چې هغه زه او زما پر شاخوا موجود شيان پيدا کړيدی، په دوهمه درجه کی بيا دا فکر کول چې داسی ذات به هم يو ذات وی، دوه يا درې يا تردې زيات نسی کيدی.

۲. بې مثله وبوله هغه ذات، يعنی داسی يې وبوله چې هغه يو داسی ذات دی چې دهغه هيڅ مثل نسته، لکه الله ﷻ چې فرمايی: لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ، يعنی نسته په مثل دهغه هيڅ شی، او رسول الله ﷺ مبارك په يو حديث شريف کی فرمايی چې: دالله ﷻ دذات په باره کی چې دانسان په تصور کی هرڅه ورځی، چې دالله ﷻ ذات به داسی وی، هغه ﷻ ددې څخه مُنَزَّه او پاك دی، يعنی داسی نه دی، ځکه چې الله ﷻ انسانی عقل داسی پيدا کړيدی چې هغه دالله ﷻ په وجود او وحدانيت باندی ډير ژر پوهيږی اوبې له ښوونی ديوچايې فهمولای سی، مگر دالله ﷻ دذات

په باره کی، چی آیا الله ﷻ څنگه او څنگه دی، نو په انسانی عقل کی الله ﷻ دومره طاقت نه دی ایښی چی ددې ادراك او فهم وکړی سی بلکه دا دانسان تر عقل لوړه خبره ده.
ددې وجه څخه مصنف صاحب رحمة الله عليه په دې بیت کی وایی چی: دالله ﷻ ذات بې مثله وبوله، یعنی الله ﷻ هیڅ مثل نلری اونه هم هیڅ یو شریك، او شبه لری. ځکه یې نو ادراك او فهم هم نه کیږی، ولی چی دیو شی ادراك یا دهغه شی په لیدلو سره کیږی، یادهغه شی دمثل په لیدلو سره، لکه مثلاً یوچا چی طیاره نه وی لیدلی، نو یو څوك ورته ووایی چی هغه یو داسی شی ده لکه مرغه په هوا الوزی، مگر دغوښو پر ځای داوسپنی څخه جوړه ده، نودا سړی دطیارې ادراك اوفهم سره دنه لیدلو وکی، او کله چی یې ووینی بیا یې فهم تردې هم زیات سی، نو کله چی دیو شی دادراك او فهم دپاره همدا دوې طریقی دی، یعنی یا په خپله دهغه شی لیدل یا دهغه شی دمثل لیدل، او دا دواړی طریقې په الله ﷻ کی نسته، نو دالله ﷻ دذات ادراك او فهم هم نسی کیدی، ځکه چی نه په خپله ذات دالله ﷻ یو چا لیدلی دی، چی دهغه بیان وکړی، او نه هم دالله ﷻ ذات لره مثل، شبه یا شریك سته چی دهغه په لیدلو سره دالله ﷻ دذات اندازه ولگیږی، نوکله چی دمعلومیدو دا دواړی طریقې دالله ﷻ په ذات کی نسته، ځکه نو دالله ﷻ پر ذات باندی حقیقی علم هیچا ته نه دی حاصل، ددې وجه څخه دانبیآء کرامو عليهم السلام او اولیاوو رحمة الله عليهم څخه دا خبره ثابته ده چی دوی به ویل چی یا الله ﷻ : مَا عَرَفْنَاكَ حَقَّ مَعْرِفَتِكَ، یعنی موږ ته نه یې پیژندلی په داسی پیژندلو سره کم چی ستا حق دی.

نبي كريم ﷺ فرمايي: تَفَكَّرُوْا فِيْ الآءِ اللهِ وَلاَ تَفَكَّرُوْا فِيْ ذَاتِ اللهِ تَعَالٰى، يعنى تاسى دالله ﷻ په ذات كى خبرى او فكر مه كوى، بلكه دالله ﷻ دصفاتو او دهغه ﷻ دمخلوقاتو په باره كى فكر كوى، او الله ﷻ دده په مخلوقاتو سره وپيژنى.

ددې بيت په دوهمه ټوټه كى مصنف صاحب رحمة الله عليه دسورة الاخلاص دآخرنيو آيتو ترجمه او خلاصه پيش كړيده، يعنى الله ﷻ هيڅ كله نه يو څوك زيږولى دى، اونه هم ده ﷻ لره پلار سته اونه مور، يعنى داسى يو څوك چى دى ورڅخه زيږيدلى وى، بلكه الله ﷻ داصولو او فروعو ټولو څخه پاك دى، لكه الله ﷻ چى په قرآن كريم كى په سورة الاخلاص كى فرمايي: لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُوْلَدْ، وَلَمْ يَكُنْ لَّهُ كُفُوًا اَحَدٌ، يعنى نه الله ﷻ يو څوك زيږولى دى اونه دى ﷻ ديو چا څخه زيږيدلى او پيدا سويدى، او نه هم ده لره هيڅوك او هيڅ شى مثل، شريك، مشابه او سيال سته.

۳. په دې بيت كى مصنف رحمة الله عليه دالله ﷻ خاص خاص صفتونه او دمخلوق څخه دالله ﷻ امتيازونه بيانوى، نو وايى: دهغه ﷻ نه خوراك ته ضرورت سته، نه اوبو چيښلو ته اونه هم ښځى يعنى كور والا ته، بلكه دې شيانو ته ضرورت ټول احتياجى صفتونه دى كم چى دالله ﷻ دذات سره منافى دى ځكه نو الله ﷻ ددې ټولو څخه منزّه او پاك دى.
دې شيانو ته ضرورت خو الله ﷻ دخپل يو مخلوق انسان په طبيعت كى ايښى دى، اوهم يې دې انسان ته دا خبردارى وركړيدى چى هغه به ددې شيانو مسخر نه جوړيږى، چى تل دخوراك، چيښاك او خواهشاتو په لټه او طلب پسې وى، او دخپل خالق او مالك داوامرو او نواهيو څخه يې پام اړولى او ځان يې ناخبره او ناگمانه كړى وى، كه نه وى نو بيا

دده دپاره به همدا شيان ددنيا او آخرت دتاوان سبب وگرځي. لکه الله ﷻ چي فرمايي: اِنَّما اَمْوَالُکُمْ وَاَوْلَادُکُمْ فِتْنَةٌ، يعني ستاسي مالونه، په کم کی چي دخوراك او چيښاك شيان ټوله داخل دی، او ستاسي اولادونه، په کم کی چي زوج او زوجه هم داخل دی، ستاسي دپاره امتحان دی.

ددې بيت په دوهمه ټوټه کی مصنف صاحب رحمه الله عليه وايي: نه الله ﷻ لره خوب ته ضرورت سته، اونه هم پر الله ﷻ باندی غفلت، ناخبرتيا، سهو، خطا او هيره را ځی.

۴. او هغه ﷻ نه کومك دچا څخه غواړی، اونه دچا مشورې ته ضرورت لری، او ده ﷻ ته ټوله دنيا بلکه ټوله کآئنات او مخلوقات محتاجه دی، او احتياج يې والله ﷻ ته لږ هم نه دی، بلکه دا شيان په خپل ژوند او بقا کی لا هم الله ﷻ ته محتاجه دی، يعني دهغه ﷻ دغوښتني او ارادې څخه پرته ددوی وجود لا محاله دی، او الله ﷻ دهيچا څخه نصرت او کومك نه غواړی.

**۱. جوهر مرکب جسم هم عرض وتناهی هم مگو**

جوهر، مرکب او عرض او هم تناهی مه وايه

**نامش مخوان جز آنکه آنصاحب شرع کرده خبر**

دده نوم مه اخله ماسوی دهغو څخه دکمو چه صاحب دشرع خبر ورکړيدی

**۲. نی کل بگوئی بعض هم نی رنگ گوئی نی مزه**

مه کل ورته وايه مه بعض، اومالك درنگ او دمزې (خوند) هم مه ورته وايه

**بوی نگوئی شکل هم نی قد وقامت نی صور**

مه بوی لرونکی ورته وایه نه شکل لرونکی هم، اونه خاوند دقد او قامت او نه خاوند دصورت (ورته وایه)

**۳. او را نگوئی درمکان نی عرش گوئی جای او**

دی ﷻ مه وایه په یو ځای کی، او مه عرش وایه دده ځای

**نی پیش وپس نی راست وچپ نی زیر گوئی نی زیر**

نه مخ ته، نه وروسته، نه رسته طرف ته، نه چپه طرف ته، مه لاندی ورته وایه او مه پورته.

**۴. زنده بدان حضرت خدا شنوا وبینا هست هم**

سم ژوندی وپیژنه ذات دخدای ﷻ ، هم اوریدونکی او هم لیدونکی دی

**اشیا شده در خواست او هم نور وظلمت خیر وشر**

شیان پیدا سویدی دده دارادو څخه، هم رڼا، او تاریکی اوهم خیر اوشر

**دلغاتو حل**:

جوهر: دحکمآوو او دعلمِ هیئت دعلماوو په نزد ددې معنٰی داده چی جوهر: هغه کوچنی شی ته ویل کیږی چه تقسیم نه قبلوی، یعنی دومره کوچنی وی چی تقسیمیږی او ماتیږی نه، لکه جزء لا یجتزٰی، او دې ته حکمآء جوهرِ فرد وایی، ددې تفصیل دحکمت په کتابو کی دی، دوهمه معنٰی یی داده چه جوهر: یعنی هغه شی چی ثابت وی په خپله، لیکن بیا یې هم والله ﷻ ته ویل جائز نه دی، مرکب: چی دډیرو اجزاوو څخه جوړ سوی وی هغه ته مرکب وایی، لکه سکنجبین چی داوبو، شاتو او سرکې څخه جوړ سویدی نو دا یو مرکب، جسم هغه مرکب دی چه هغه اوږدوالی، پلن والی او ژَوَرْ وَالی ولری او تقسیم په هر طرف کی ممکن

وی، عرض: دجوهر مقابل لفظ دی، یعنی هغه شی چې خپل ذاتی وجود نلری او دبل شی په ضمن کی موجودیږی، لکه تور والی، سپین والی او داسی نور رنګونه، کم چې په خپله یوازی نه موجودیږی، بلکه په یو بل شی کی موجودیږی، لکه هیڅا هم تور والی یا بل رنګ یوازی نه دی لیدلی بې له دې چې په یوبل شی کی وی، تناهی: ختم کیدل. صاحب: خاوند، شرع: شریعت، نو، صاحبِ شرع: یعنی خاوند دشریعت، چې الله ﷻ او رسول ﷺ دی.

کل: هغه ته وایی چې اجزاء یی ډیر وی، بعض: یوڅه، قد وقامت: یعنی کوچنی والی اوغټ والی دیو شی، صور: صورتونه.
عرش: تر اوو آسمانو لوړ دیو ځای نوم دی چې بې اندازې ډیر غټ دی، پیش: مخ ته، دلته ورڅخه مراد مشرق دی، پس: شاته، دلته ورڅخه مراد مغرب دی، راست: رسته طرف، چپ: چپه طرف، زیر: لاندی، زبر: لوړ.

**تشر یح او مطلب** :

۱. دجوهر ویل والله ﷻ ته همدارنګه ورته دجسم ویل، او هم ویل دعرض او تناهی الله ﷻ ته نسی کیدلای، ځکه چې نومان دخدای پاك ﷻ موقوف دی پر شریعت باندی، یعنی الله ﷻ ته په هغو نومونو باندی ویل کیدی سی کم چې په شریعت کی دالله ﷻ نومونه راغلی دی، او دهغه څخه ماسوا دا نه دی روا چې یوسړی دخپل ځانه څخه یو نوم جوړ کړی اوپر الله ﷻ یې کښېږدی، او دالله ﷻ مشهوره نومونه چې کم په شریعت کی راغلی دی هغه نه نوی ۹۹ نومونه دی کم چې په اسمآء الحسنٰی سره مشهور دی، اونه الله ﷻ ته کل او بعض ویل کیږی، اونه

رنګ لرونکی او بوی لرونکی، اونه شکل لرونکی، اونه هم قد او قامت لرونکی، الله ﷻ ته ویل کیږی، قد او قامت ویل یعنی چی لوی والی یې دومره او کوچنی والی یې دومره دی، او الله ﷻ ته صورت هم نسی ویل کیدای.

۲. او الله ﷻ ته نه هم په یو ځای کی ویل کیږی، یعنی الله ﷻ خو په اعتبار دعلم اوخبریدو او دقدرت هرځای حاضر اوناظر دی، اوپه هر شی خبر دی، خوداسی نه دی حاضر لکه انسان چی یو ځای حاضر وی، یعنی چی داسی ورته وویل سی چی الله ﷻ دلته ناست، یا ولاړ دی (نعوذ بالله من ذٰلك القول\ یعنی پناه غواړو په الله ﷻ سره دداسی وینا څخه)، لکه دانسان په باره کی چی ویل کیږی.
اونه عرش ځای دی دالله ﷻ ، په دې قول کی مصنف صاحب رحمه الله علیه رد وکی پر مجسمه وو، وهابیانو اوسلفیانو باندی کم چی دالله ﷻ په باره کی ډیری ناوړه خبری کوی چی دهغو څخه یوه داده چی دوی وایی: الله ﷻ پر عرش ناست دی (نعوذ بالله)، نو مصنف رحمه الله علیه پر دوی رد وکی او ویی ویل چی الله ﷻ ته په هیڅ ځای کی نه ویل کیږی، او همدا زموږ داهلِ سنت والجماعت دفرقې مذهب دی کمی ته چی رسول الله ﷺ دجنت زیری ورکړیدی.
په دوهمه ټوټه کی دبیت مصنف صاحب رحمه الله علیه وایی: چی الله ﷻ دشپږو طرفو څخه په یوه طرف کی هم نه دی، یعنی نه مخ ته دی، نه شا ته، نه راسته طرف ته، نه چپه طرف ته، نه بالا یعنی لوړ، نه لاندی.

۳. الله ﷻ ژوندی وبوله، او الله ﷻ هم اوری هم وینی، او ټول شیان دده ﷻ په اراده سره پیدا سوی دی. او هم ښه اوبد او خیر اوشر هرڅه دالله ﷻ دطرفه څخه دی.

**۱. موجود کرده عالمی مختار در ایجاد هم**

پیدا کړی یې دی کائنات، او مختاره دی په پیدا کولو کی هم

**عاجز نبوده هچگه وقتی نگشته مضطرر**

عاجزه سوی نه دی هیڅ وخت، او نه هیڅ وخت گرځیدلی دی پرېشانه

**۲. حادث بدان جمله جهان جز حق مدان کس را قدم**

حادث (نوی پیدا سوی) وگڼه ټول مخلوقات، ماسوا دخدای ﷻ څخه هیڅوك مه گڼه قدیم (پخوانی او ازلی)

**جمله صفاتش همچنین بیشک بدان جان پدر**

ټول صفات دده دغه رنگه قدیم وگڼه بیشکه ای روحه دپلار (زویه)

**۳. گویا بدان حضرت خدا اندر ازل بر یک سخن**

گویا (خبری کوونکی) وگڼه ذات دخدای ﷻ په ازل کی په یوه خبره

**آمر بدان ناهی بدان صیغه یکی جمله خبر**

امرکوونکی یې وگڼه،اومنع کوونکی یې وگڼه،لفظ یودی نورټول خبرونه دی

**۴. حرفی ندارد صوت هم اعراب او را نی هجا**

حرف نلری آواز هم نه، اونه زور، زیر اوپیښ، اونه سته هیجا ده لره

**دانی کلامش بیشکی از جنس خاطر هم فکر**

وگڼه دده خبری بی شکه دجنسه څخه دزړه او دفکر

**دلغاتو حل**:

مختار: خاوند داختیار، خپل خوښې، خپلواك، ایجاد: پیدا کول، هیچگه: دا لفظ ددوو تورو څخه جوړ سویدی اول یې: هیچ، دی په معنی سره د: هیڅ، دوهم یې: گاه، دی په معنی سره دوخت کله چی سره مرکب سوه او یو توری ورڅخه جوړ سو نو الف د: گاه، دپاره دتخفیف حذف سو او هیچگه، سو چی معنی یې سوه: هیڅ وخت، مضطرر: هغه څوك چی پرېشان حاله او سرگردانه وی.

حادث: نوی پیدا سوی، قدم: پخوانی، دا مقابل دی دحادث.

گویا: ویونکی، خبری کوونکی، ازل: پخوا زمانه، داسی مخکی چی اول نلری، سخن: خبره، آمر: امر کوونکی، ناهی: نهی کوونکی، منع کوونکی، صیغه: لفظ، جمله: ټوله.

حرف: توری، لفظ، صوت: آواز، اعْراب: زور، زیر او پیښ، هجا: دالف، بآء، تآء حروف او توری، دهری ژبی هغه حروف چی دهغې ژبی الفاظ ورڅخه جوړیږی هغو حروفو ته ددغې ژبی حروفِ هجآء ویل کیږی، لکه الف، بآء، تاء، ثآء، جیم تر یآء پوری حروف دعربی ژبی حروفِ هجآء دی. او لکه: A, B, C, D، تر: Z، پوری دانگریزی ژبی حروفِ هجآء دی. اوداسی نوهره ژبه خپل خپل ځان ته حروفِ هجآء لری چی دهمدغو حروفو څخه دا ژبه جوړیږی، او څوك چی دکمی ژبی زده کول غواړی نو هغه به هم لومړی ددې ژبی حروفِ هجآء زده کوی.

لکه قرآن کریم، حدیث، او نور دینی کتابونه چی کله په عربی ژبه کی دی، نو ددوی دزده کړی دپاره دعربی زده کول ضروری دی، او ددې په زده کړی کی لومړی دعربی ژبی دحروفِ هجآء زده کول ضروری دی، ځکه نو کم شخص چی دینی تعلیم حاصلوی تر ټولو لومړی سیپاره، یا

نوراني قاعده يا اقرأ قاعده وايي ځکه چي په دې کی دعربی ژبی حروفِ هجآء زده کيږی، خاطر: زړه.

**تشريح او مطلب:**

۱. الله ﷻ داسی دی چي پيدا کړی يی ده ټوله دنيا، او دا پيدا کول يې په خپل اختيار سره کړيدی، عاجزه نه دی اونه محتاجه دی وهيچا ته اونه هم په هيڅ وخت کی پريشانی پر راغلی ده اونه هم پر راځی.

۲. نوي پيدا سوی وګنه ټول مخلوق ماسوا دخداي پاك ﷻ څخه بل هيچا لره نسته قديم والی، اولکه څنګه چي ذات دالله ﷻ قديم دی همدارنګه يې ټول صفتونه هم قديم دی.

۳. الله ﷻ په ازل کی خبری کوونکی وو، او دخبرو کولو صفت په ازل کی ورلره ثابت وو اودی، او دا خبری دالله ﷻ په ازل کی يوه خبره يعنی يو کلام وو، په بيت کی چی کم د: بر يك سخن، توری راغلی دی نو معنی يې داده چي الله ﷻ په ازل کی په يوې خبری سره يعنی په يو ډول خبرو سره خبری کوونکی وو، او هغه کلامِ نفسی دی دالله ﷻ، يعنی کله چی په ازل کی هيڅوك هم نه وو موجود نوپه هغه وخت کی هم الله ﷻ متکلم او خبری کوونکی وو او دا تکلم او خبری يې دخپل ځان سره وی، ځکه يې د: يك سخن، يعنی يوې خبری توری وويل، او هم الله ﷻ امر کوونکی او نهی يعنی منع کوونکی وبوله، اودالله ﷻ داټول خبرونه که اوامر دی که نواهی ټول په يوه ډول اوپه يوه طريقه سره دی.

۴. نه حرفونه لری خبری دخداي پاك نه آواز، نه زور نه زير نه پيښ لری، نه حروف او توری لری، او وبوله کلامِ دده بېشکه دجنسه څخه دزړه او هم دفکر.

**۱. دیده شود حضرت خدا از بعد جَنَّت آخرت**

وبه لیدل سی ذات دخدای پاك وروسته تر دخول وجنت ته په آخرت کی

**بینند جمله مومنان هر یک بدیده چشم سر**

وبه یې وینی ټول مومنان هر یو د سر په سترگو سره

**۲. بکند فرامش هر یکی نعمت جنان زحمت جهان**

هیر به کړی هر یو مومن نعمت دجنتونو او زحمت ددنیا

**مدهوش جمله مومنان از تجلّی در نظر**

بېهوښه به سی ټول مومنان له یو وار ښکاره کیدو څخه پر نظر باندی

**۳. رویت نباشد در مکان نی در جهت نی متصل**

لیدل دخدای ﷻ به نه وی په یوځای کی نه به په طرف کی وی نه نژدی

**کیفی ندارد این سخن نی درک نی مثل دگر**

څرنگوالی او ډول نلری دا خبره نه پوهیدل نه بل مثال

**۴. دیدن خدا در خواب هم باشد روا اندر شرع**

لیدل دخدای ﷻ په خواب کی هم دی روا په شرع (شریعت) کی

**محکی ست از جمله سلف صد لک درین دارد اثر**

چه حکایت دی دټولو مخکنیو عالمانو څخه په دی کښی سل لکه ۱۰۰۰۰۰۰۰ (یعنی ډیر) خبرونه راغلي دی

**دلغاتو حل:**

دیده: لیدل، سترگی.

فراموش: هیر، جنان: جنتونه، مدهوش: بېهوښه، تجلی: روښنایی.

رویت: لیدل، کیف: ډول، درك: پوهیده.
دیدن: لیدل، شرع: شریعت، سلف: پخوانی علمآء، اثر: روایت، خبر.

**تشریح او مطلب:**

۱. په آخرت کی به وروسته تر داخلیدو وجنت ته، خدای پاك ﷻ ولیدل سی دسر په سترگو ټولو مومنانو لره.
۲. او داسی لیدل به وی چی هر یو نعمت دجنت او هر زحمت ددنیا به دخلگو پوره هیر سی، او بی هوښه به سی ټول مومنان دیوې تجلی ښکاره کیدو څخه دالله ﷻ دذات.
۳. اودا به داسی لیدل وی چی نه به په یو ځای کی وی اونه په یو طرف کی اونه متصل دیو شی سره، طریقه نلری داخبره، نه په فکر (پوهه) کی راځی نه په زړه کی نه یو بل مثال لری.
۴. په خوب کی لیدل دخدای پاك ﷻ روا دی په شریعت کی، اودا لیدل دخدای پاك ﷻ روایت کړل سویدی په بې شمېره روایتو سره دپخوانیو علماوو او نیکانو او بزرگانو څخه، او کم چی په کتاب کی دصد لك یعنی سل لکه تعداد اوشمېر ذکردی نوددې څخه مراد دغه خاص شمېر نه دی بلکه مراد دا دی چی دډیرو کسانو یعنی بې شمېره کسانو څخه دا خبر را نقل سویدی چی هغو الله ﷻ په خوب کی لیدلی دی.

*　　*　　*

## ﴿ باب دوئم در بیان ارکان واحکام ایمان گوید ﴾

دویم باب دی په بیان کی درکنو او احکامو دایمان کی

**١. گر انبياء هم نامدی نی شرع بودی در جهان**

که چيری انبياء عَلَيۡهِمُ السَّلَامُ نه وای راغلي اونه وای شريعت په دنيا کي

**واجب شدی بر مردمان ايمان بخالق متقدر**

واجب سوی به وای پر خلکو باندی ايمان په خدای ﷻ باندی

**٢. تصديق دل ايمان بدان اين رکن اصلی بيشکی**

باور دزړه ايمان وګڼه، دا ستنه ده محکمه بېشکه

**اقرار شد اندر زبان از بهر احکام ای پسر**

اقرار کول سوه په ژبه دپاره دحکمونو دشرعي ای زويه

**٣. تصديق گر داری بدل اقرار ناری بر زبان**

که تصديق لري په زړه کي او اقرار نه وي پر ژبه

**باشی تو مومن نزد حق کافر به نزديک بشر**

يي ته مومن په نزد دخداي ﷻ او کافر يي ته په نزد دانسان

**۴. گر مردمی اندر جبل علمی نمی شنود زکس**

که چيري انسان په غره کي وي علم وا نه وري ديو چا څخه

**آنجا بميرد آنچنان يابد عذابی در سقر**

او په هغه ځای کي ومري هم دغه رنګه جاهل، وربه کړي عذاب په دوږخ کي

**دلغاتو حل:**

نآمد: نه وای راغلي، خالق: پيدا کونکی، مقتدر: قدرت لرونکی.

رکن: ستن، دملا تير او اصلي برخه ديو شي.

جبل: غر، سقر: نوم دی ددوږخ.

**تشريح او مطلب:**

۱. که نبیان عَلَیۡهِمُ السَّلَامُ اوشریعت هم نه وای راغلی بیابه هم ایمان راوړل په الله ﷻ واجب سوی وای پرخلقو باندی.

۲. یقین او تصدیق په زړه سره ایمان دي، بیشکه همدا اصلی رکن دی دایمان، اوپه خوله سره اقرار کول دپاره داحکامو شرعیه وو دی ای ځوانه.

۳. او که یقین او تصدیق ولری په زړه سره اوپه خوله سره یې نه ووایی یعنی اقرار په ژبه سره ونکړی، نوته به مومن یې په حضور دخدای پاك کی، ځکه هغه ستا په زړه علم لری، او کافر یې په حضور دخلقو کی. ځکه چی هغوی ستا دزړه دپټ حاله څخه خبر دی.

۴. که چیری په غره کی یو سړی وی او علم یې هم دیو چا څخه نه وی اوریدلی، او هلته مړ سی پرهم دې کفر اوجهالت باندی، نوعذاب ورلره سته، ځکه چی ده په الله ﷻ ایمان نه درلودی.

**۱. ایمان بیا چون کسی علمی نخواند معرفت**

کله چی ایمان راوړی یو سړی اونه ووایی علم عقاید

**عاصی بود او مومنی ایمان مقلد معتبر**

گنهگار دی هغه مومن ایمان دپیروی کوونکی معتبر دی

**۲. هر گز نیاید مومنی بیرون زایمان هیچگه**

هیڅکله نه راوزی مومن دباندی دایمان څخه هیڅ وخت

**گر چه گناهان مکیند از صد کبآئر بیشتر**

که څه هم چی گناهونه کوی ترسلو لویو گناهونو زیاتی

**۳. چون کافری گو می کند صد چند حسنه طاعتی**

لکه چه یو کافر وکړی یو څو سوه نیك عبادتونه

**از کفر ناید او بیرون گر چه کند عدد المطر**

دکفر څخه نه راوزی دی دباندی که څه هم چې نیکی دده دباران په شان وی

**۴. شکی نیاری شبه هم ایمان خود ایجانمن**

چه شك ونه کی اونه شبه په خپل ایمان کی ای زما روحه

**بر حق بگو مومن منم ورنه تو باشی از کفر**

په حقه سره ووایه چه مومن یم زه، کنه نوته یی دکافرانو څخه

**۵. دوزخ نماند مومنی جاوید لیکن چند گه**

په دوزخ کی نه پاته کیږی مومن همیشه لیکن یو څه وخت

**قدری گنه رنجی کشید آید بیرون پس زا نقدر**

په اندازه دګناه تکلیف کشوی بیا به وروسته راووزی تردغه اندازی پس

**۶. چون تو کنی عصیان بسی نیکی بکن هم متّصل**

هرکله چې ته وکړی ګناه، ډیر نیکی هم وکه سمدستی په هغې پسی

**عفوت کند حضرت خدا جمله گنه گردد هدر**

عفو به درته وکړی الله ﷻ ، ټول ګناهونه به دې ختم سی

**دلغاتو حل:**

بیا: راوړه، معرفت: پیژندل، عاصی: ګنهګار، مقلد: تابعدار.
کبآئر: غټې ګناهونه، پرکمو چی دالله ﷻ یا رسول الله ﷺ دطرفه څخه وعید (دعذاب وعده) راغلی وی.

حسنه: نیکی، عدد: شمار، مطر: باران، څاڅکی دباران، عدد المطر: یعنی دباران دڅاڅکو په شمېر دا کنايې ده دډېروالی څخه دیو شی.
جاوید: همیشه، قدری: په اندازه.
عصیان: گناه، متصل: په دستی، پرلپسی، هدر: لغو، عبث، ختمیدل.

**تشریح او مطلب:**

۱. په دې بیت کی مصنف رحمة الله علیه دوې مسئلې بیان کړیدی، اوله دا مسئله: چی څوك ایمان راوړی او مؤمن وی لیکن علم عقاید ونه وايی او دهغه مسئلې نکی زده نو هغه دعلم ایمان حکمونه تفیصلی نه دی زده کړی او گناهگار دی، باید چی دی دعقآئدو ضروری مسئلې زده کړی. دوهمه مسئله دا چی که یوچا ته دعلمِ عقآئد ددلآئلو علم نه وی بلکه دی دیوه مجتهد لکه دامامِ اعظم ابو حنیفة رحمة الله علیه مقلد وی نو هم یې ایمان معتبر دی.
۲. په دې بیت کی یې دا مسئله ښوولی ده چی یو مومن که هر څومره گناهونه وکړی که څه هم لوی لوی گناهونه وی، په دې سره دی دایمان څخه نه وزی، خوپه دې شرط چی روا یې ونه بولی، ځکه هغه څوك چی یقینی حرام گناهونه هم کوی او روا یې هم بولی یا کوی خو یې نه مگر روا یې بولی نوهغه دایمان څخه وزی.
۳. همدارنگه چی کله کافر ایمان نه وی راوړی نو که هر څومره ډیری او بې شمیره نیکیانی وکړی حتی لکه دباران څاڅکی، لا هم دی په دې نیکو کارونو سره کم چی یې بې له ایمانه کړیدی دکفره څخه نه راوزی.

۴. شك مه راوړه اومه هم شبه کوه په خپل ایمان کی ای روحه دپلار! په حقه سره وایه چی زه مومن یم، اوکه داسی اقرار پرخپل مومن والی ته په خپله ونکړی نوته به دکافرانو څخه وشمېرل سی.
۵. په دوږخ کی مومن دهمیشه دپاره نه پاته کیږی، مگر یو څه وخت پاته کیږی، په قدر او اندازه دگناه چی کله خواری اوتکلیف وگالی او دهغو سزا تر لاسه کړی، نوتر دې وروسته به بیرته ورڅخه راووزی او جنت ته به داخل سی.
۶. کله چی ستا څخه گناه وسی، نوته په دې گناه پسی سمدستی نیکی کوه، په دې ترتیب سره الله ﷻ ته اُمید سته چی تاته ستا دا گناه په سبب ددې نیکۍ درمعاف کړی.
لکه الله ﷻ چی په قرآن کریم کی فرمایی: اِنَّ الْحَسَنٰتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئٰاتِ، یعنی په تحقیق سره نیکۍ گناهونه له مینځه وړی، نوکله چی انسان په گناه پسی متصل په دستی نیکی وکړی نو اُمید سته چی الله ﷻ به ددې نیکی په سبب سره دا گناه ختمه اویا لرې کړی.

## ﴿ باب سوم دربیان عقاید وعقوبت گور گوید ﴾

دریم باب په بیان کی دعقآئدو او دعذاب دقبر ویل کیږی

**۱. در گور پرسش حق بدان بر کودکان هم بالغان**

په قبر کی سوال حق وگڼه پر کوچنیانو هم پر لویانو

**منکر نکیر پر سدش از وی چو غائب شد بشر**

منکر او نکیر پوښتنه کوی دده څخه کله چه پټ سی دده څخه انسانان

**۲. غرقه بآبی گر شود شیری کشد یا سوخته**

که ډوب سی په اوبوکی که یی زمری وخوری یاپه اور وسوځی

**او را سوالی دان یقین در گور نی این منحصر**

دده ځخه پوښتنه حق وګڼه په قبر کی دانه ده منحصره

**۳. در گور ضغطه حق بدان ابرار را آسان شود**

په قبر کی (دقبر) تنګیدل ثابت وګڼه، نیکانو لره آسانه کیږی

**اشرار را باشد چنان چون در جواری نیشکر**

بدانو لره به داسی سی، لکه په مثال دهاونګ چی شکره نه وی پکښی

**۴. اطفال جمله مشرکان اندر سوال وخلد هم**

په کوچنیانو کی دټولو مشرکانو، دسوال او هم دجنت په باره کی

**کرده توقف بیشکی آن شمع امت نامور**

کړی دی توقف (سکوت) بی شکه هغی شمعی دامت نامداره

**۵. مومن که باشد پارسه بدهد جوابی زود شان**

مومن که پاك او نیك وی وربه کی جواب ډیر ژر ودوی ته

**گویند او را خسپ تو همچون عروس شاد در**

ورته وایی به ملایکی ده ته چه بیده سه په مثال دناوکی خوشحالی

**۶. عصات بعضی مومنان گوید جواب از فضل حق**

ګناهګاره بعضی مومنان به هم جواب ورکی په فضل دخدای ﷻ

**کفار را بسته زبان بیند سزای بیشتر**

دکفارو خولې به بندې ولرې، او وبه وینې زیاته سزا

**۷. نیکی گران آید اگر مصلح بدان او را ولی**

نیکي که یې چیرې درنه راسي وګڼه هغه نیك او دوست دخدای

**مفسد شقی باشد یقین شرش گران آید اگر**

بد، او بد بخته به وی په یقین سره که یې چیرې بدی درنه سي

**۸. کفار عاجز آمده گویند لَا اَدْرِیْ یقین**

کفار عاجزه کیږي دجوابه څخه وایي به لاَ اَدْرِیْ (زه نه یم خبر) په یقین سره

**با مطر قه از آتشین بزنند شانرا صعب تر**

په مطر قه داور سره به ووهی دی په ډیر سختې سره

**دلغاتو حل:**

شیر: زمری، او دلته مراد ورڅخه مطلق درنده حیوان دی، کشد: وخوری، سوخته: سوځل سوی، گور: قبر. منحصر: بند، لازمی.
ضغطه: کنبېکنبل، زبیښل، ابرار: نیکان، ښه خلګ، اشرار: بدان

بیکاره خلګ، جُوار: په پیښ دجیم سره هغه شی ته ویل کیږي کم چې دلرګی یا اوسپنې څخه جوړیږي دپاره دمیده کولو او ټکولو ددواوو او نورو کلکو شیانو چې په اصطلاح کې هاونګ ورته وایي.
اطفال: کوچنیان، ماشومان، واړه، خلد: جنت، او دجنت همیشه والی،
توقف: پټه خوله کیدل، سکوت، خاموشي.
پارسا: پرهیزګاره، متقي، زود: ژر، خسپ: بیدیدل، عروس: ناوی، واده
عصاة: جمع دعاصی ده، عاصی: ګنهګار، بسته: تړلی، بیشتر: زیات.

مصلح: نیك، ښه، ولی: دالله ﷻ دوست، مفسِد: فساد کوونکی، شقی: بدبخته، بې لاری.
لاَ اَدْرِیْ: یعنی زه نه یم خبر، مطرقه: تازینه، یوه درنه آله چی یو شی په ټکول کیږی، آتشین: داور څخه جوړ سوی، صعب: سخت.

**تشریح او مطلب** :

۱. په قبر کی سوال او پوښتنه حقه وګڼه دهر سړی څخه، که کوچنی وی او که لوی، لکه په یوه مذهب کی چی همداسی دی چی دکوچنیانو څخه هم پوښتنه کول کیږی، او نور علمآء بیا پوښتنه یوازی دبالغانو دپاره وایی، پرهر حال دوې ملآئکی چی یوه یې نکیر اوبله یې منکر نومیږی ددې مړی څخه درې پوښتنی کوی هغه وخت کله چی دده څخه انسانان غآئب سی، هغه درې پوښتنی لکه چی په احادیثو کی راغلی دی دادی: ۱. مَنْ رَّبُّكَ ؟ ۲. وَمَنْ نَّبِیُّكَ ؟ ۳. وَمَا دِیْنُكَ ؟ یعنی ۱. ستا رب څوك دی ؟ ۲. او ستا نبی څوك دی ؟ ۳. او ستا دین څشی دی ؟
۲. دا سوال به خامخا دهر مړی څخه کیږی، برابره خبره ده که په قبر کی ښخ کړل سی، اوکه یې یو درنده وخوری، ختم یې کړی، اوکه وسوځی هیری سی، اوکه په دریاب کی غرق سی، اوکه په بل ډول مرګ سره مړ سی پر هر تقدیر باندی دا سوالونه دانسان څخه کیږی، اودا داسی نه دی چی خامخا به په قبر کی پوښتل کیږی.
۳. په قبرکی راټینګیدل دقبر پرمړی باندی حق وبوله، اودا را ټینګیدل دقبربه پر مومن باندی آسانه وی، اوپر بدانو خلګو باندی به دارنګه سخت اوپه تکلیف کی وی لکه ګنۍ چی دبورې اوشکری ایستلو دپاره په هاونګ کی کوټل کیږی.

**۴.** په کوچنیانو کی دمشرکانو چی آیا ددوی څخه به سوال کیږی اوکه نه ؟ او آیا دوی به په جنت کی وی اوکه په دوږخ کی ؟ نوپه دې باره کی زموږ دامامِ اعظم، سراج الأمّت ابو حنیفة رحمة الله علیه څخه توقف اوسکوت را نقل سویدی، یعنی کله چی دهغه" څخه په دې باره کی پوښتنه وسوه نو ده" هیڅ پکښی ونه ویل او پټه خوله سو.

**۵.** بیا کمو ملائکو چی سوالونه کړیدی دوی ته به ددوی دسوالو جوابونه پرهیزگاره مومنان ژر او آسانه ورکړی، او بیا به ملآئکی ورته ووایی چی بیده سه لکه خوب دهغه ناوی چی خوشحاله وی.

**فآئده:** په قبر کی تر سوال او جواب وروسته چی مومن کله ملآئکو ته صحیح جوابونه ورکړی نو هغوی ورته ووایی چی اوس ته بیده سه په بې غمی۔ سره لکه هغه خوشحاله ناوی چی هیڅوك یې نه راویښوی مگرهغه شخص کم چی دې ته ډیر نژدی وی، چی هغه یې خپل زوج دی. همداسی په حدیث شریف کی هم راغلی دی.
او ددې تشبیه وجه شاید دا ده چی لکه څنگه چی ناوی دزوج وکور ته په راتگ سره وار خطا وی چی زوج او دزوج سره گډ ژوند به یې څنگه وی، ولی چی پردې باندی ددې آینده ژوند تړوله بنا وی، اوکله چی ددې زوج ددې طبیعت موافق او برابر وی، نو دا ډیره خوشحاله سی اوپه بې غمه زړه بیده سی، همدغه ډول مومن شخص چی په قبرکی کښېښوول سی نوپه لومړی سر کی دی هم وار خطا وی چی اوس به ملآئکی راځی اوبیا به سوالونه را څخه کوی، نوچی زه به ودوی ته جواب ورکړی سم اوکه یا؟ اوکله چی دی دهغو سوالوته سم جوابونه ووایی نو همداسی بیغمه سی لکه هغه ناوی چی دزوج څخه تر خوشحاله کیدو وروسته بیغمه سی.

۶. بعضی گناهگار مومنان به هم جواب ورکړای سی، او دا خاص په فضل سره دخدای ﷻ ،او دکفارو ژبی به ددې جواب څخه وتړل سی او زیات عذاب به ورکول سی.
۷. او بیا په تللو کی داعمالو که یې چیری نیکی درنه سی نو همدا شخص ولی دی، اوکه یې چیری شر او بد درانه سوه نو همدا شخص فساد کوونکی او بدبخته دی په یقین سره.
۸. کافران به عاجزه وی دجواب ورکولو څخه، او وایی به په یقین سره چی لاَ اَدْرِیْ یعنی زه ددې سوالو په جوابو نه یم خبر، نوپه دې جواب سره به یې ملآئکی داور په مطرقه سره ډیر سخت ووهی.

**۱. در گور عاصی مومنی بیند عذابی چندگه**
په قبر کی به نافرمانه مومن ووینی عذاب یوڅه موده
**کفار را در گور دائم عذابی بیشتر**
کافرانو لره به په قبرکی همیشه عذاب وی ډیر زیات

**۲. انعام وراحت حق بدان احسان کرم در گورها**
انعام او خوشحالی ثابته وګڼه هم احسان او سخا په قبر کی
**مومن که باشد صالحی بیند همی شام وسحر**
مسلمان چی وی نیك وینی به همدارنګه حال ماښام اوسهار

**۳. در گور باشد زندگی چون زندگی امروز ما**
په قبرکی ژوندون وی داسی ژوندون لکه نن چی زموږ دی
**کنجشک شیند بر قبر مرده بداند ماده نر**

مرغۍ چه کله کښيني پرقبر باندې مړی به پيژني ښځه اونر دهغې

**۴. راحت عذابی هر چه هست از نیک وبد در گورها**

راحت اوعذاب هر څه چې دی دنيکو اود بدو څخه په قبرو کې

**دانند خلقی همگنان الاّ همین جن وبشر**

پيژني يې مخلوق ټول مگر نه دا پيريان او انسانان

**۵. اجسام عالم جملگی مجنون وعاقل کودکان**

ددنيا ټول اجسام ليوني، هوښيار او کوچنيان

**جن وشیاطین وحش هم طیر وبهائم در حشر**

پيرې، شيطانان درندگان هم مرغان او چارپايان په حشر کې

**۶. آیند حاضر جملگی هر یک حسابی میدهد**

رابه سي حاضرېږي به ټول هر يو به حساب ورکوي

**عدلی شود بر همگنان ظلمی نه بر کس نی جبر**

عدل به وسي دهر يوه سره نه به ظلم وي پر هيچا او نه به تکليف

* * *

**۷. صوری چو اوّل در دمد میرند جمله زندگان**

شپيلۍ چې اول وار ووهي مړه به سي ټوله ژوندي

**در صور دومی بیشکی خیزند هر یک از قبر**

په دوهم وار شپيلۍ سره به پورته سي هر يو دقبره څخه

**۸. صوری گرفته در دهان داده خمی مر پشت را**

شپیلي يې نيولي ده په خوله كي وركړي يې دي كوږوالي شا ته

**يكپاي پيش وپس دگر باشد همی او منتظر**

يوه پښه يې مخته ده اوبله يې شاته دغه رنګه دی په انتظار كي

**دلغاتو حل:**

چندګه: يوڅه وخت، امروز: نن ورځ، كنجشك: چوغكه، شيند : كښيني، همگنان: ټوله، جن: پيرى، بشر: انسان، وحش: وحشيان، طير: مرغه، بهآئم: چارپايان، حشر: قيامت، جبر: ظلم، صور: شپيلۍ، خيزند : پورته به سی، دهان: خوله، خم: كوږوالى، پشت: ملا، منتظر: انتظار كوونكى دامر دخداى پاك ﷻ، خيزند : پورته كيږى.

**تشريح او مطلب:**

۱. په قبركي به ګنهګار مومن يوڅه وخت عذاب ويني دخپل ګناه مطابق، او دكفارو دپاره به په قبركي هميشه عذاب وى ډير زيات.
۲. انعام او خوشحالي په قبركي حق بوله همدارنګه احسان او كرم په قبرو كي، هغه مسلمان چي صالح وى هغه به همدارنګه په خوشحالي او احسان كي وى ماښام او سهار.
۳. په قبر كي به داسي زندګي وى لكه زموږ دنن ورځي دا زندګي، تر دې چي كه دمړى پر قبر باندى يوه چوغكه كښېني نو هغه به يې نر او ماده لا پيژني.
۴. په قبرو كي چي كم راحت اوعذاب، ښه اوبد پر انسانانو باندى وى، هغه ټوله مخلوقات پيژني اوپه پوهيږى مګر نه انسان اوپيرى.
۵، ۶. ددنيا ټول ژوندى جسمونه چي هرڅه دى كه ليوني دى كه عاقل، كه كوچنيان دى كه لويان، پيريان، شيطانان، ځناوران، مرغان،

چارپایان، دابه ټول دقیامت په ورځ میدانِ محشر ته راځي اوهر یوبه حساب ورکوي، پر دوی ټولو باندې به عدل کیږي، نه به پر هیڅا ظلم وي اونه زیاتي.

۷. شپیلۍ چې اول وار پوه سي مړه به سي ټول ژوندي، چې دوهم وار پوه سي ټول به راپورته سي دقبرونو څخه.

۸. دشپیلۍ دپُف کولو لپاره اسرافیل عَلَيْهِ السَّلَامُ شپیلۍ په خوله کې نیولې پر ملا کوږ تیار ولاړ دی، یوه پښه یې مخ ته ده یوه شاته په انتظار، لکه چې انتظار کوونکی همداسې کوي.

**۱. میزان بحق دان بیشکی از بهر مومن کافران**

ترازو ثابت وګڼه بې شکه دپاره دمومن او کافر

**اعمال را وزنی شود آن خیر باشد خواه شر**

اعمال به وتلل سي که دخیر څخه وي اوکه دشر څخه

**۲. نیکی گران آید اگر مصلح بدان او را ولی**

که چیري یې نیکي درنه راسي صالح وګڼه دی او ولي

**مفسد شقی باشد یقین شرش گران آید اگر**

چې بدکاره او بدبخته وي په یقین سره شر دده به زیات راځي

**۳. پس نامها پران شود یابند جمله مردمان**

پس له دې څخه به عمل نامې والوزي ټول به یې پیدا کړي

**در راست دست مومنان دردست چپ جمله کفر**

په راسته لاس سره به یې مومنان، اوپه چپه لاس سره به یې ټول کافران واخلي

**۴. بر پشت دوزخ پل بدان خلقی روان بالای آن**

پر مینځ ددوږخ به پل وی او خلګ به پورته پر هغه روانیږی

**از تیغ باشد تیز تر وزموی سر باریک تر**

تر تیغ (غشی) تیز دی او تر وریښته دسر نری دی

**۵. بعضی چو برقی بگذرد بعضی چو باد وراکبی**

بعضی به په مثل دبریښنا پرتیر سی، بعضی لکه باد، او لکه سپور

**بعضی چو راجل میرود بعضی زموری هم بتر**

بعضی به په مثل دپښو دتګ کوونکی ځی اوبعضی به ترمیږی هم بتروی

دلغاتو حل:

میزان: تله، ترازو، وزن: تلل، مصلح: نیك اوښه سړی، مفسد: فساد راوستونکی، شقی: بدبخته،پران: الوتل، پښت: شا، ملا، تیغ: غشی، موی، وریښته، باریك: نری، موری: میږی، بتر: بد.

تشریح او مطلب:

۱. میزان او ترازو داعمالو دتللو دپاره حق وبوله، دهرمومن او کافر دپاره، ټول کارونه به تلل کیږی که خیر یعنی ښه افعال، اعمال او اقوال وی اوکه بد، ټول به تلل کیږی.

۲. که یې چیری نیکی درنه سوه نودی مصلح او ولی دخدای پاك ﷻ وبوله، او دفساد کوونکی اوبدبخته سړی به یقینًا شر زیات وی.

۳. بیابه دهر سړی عمل نامه والوزی او هغه ته ورسول سی، مومنانو ته به په راسته لاس ورځی اوټولو کافرانو ته په چپه لاس سره.

۴. پر دوږخ باندی یو پُل حق وبوله، چی پُلِ صراط نومیږی، اوبیا به پر هغه پل باندی خلګ روانیږی، دا داسی پل دی چی تر وریښته دسر نری دی اوتر چاړی تیره دی.

۵. پر دې پل باندی په تګ کوونکو خلګو کی به بعضی خلګ چابك دبریښنا په شان تیریږی، او ځینی به لکه باد او بعضی به دپښو دتګ کوونکو په شان سره ځی، او بعضی به تر میږی هم بد (کراړ) وی.

**۱. روشن شود هم رویها بعضی چو ماه چار ده**

ځلیږی به مخان هم دبعضو په مثل دڅوار لسم دسپوږمی

**بعضی سیه گردد چنان دیجو رشب زان خوبتر**

بعضی مخان به داسی تور وګرځی چی تاریکه شپه به هم ترهغه ښه وی

**۲. آید جوارح در سخن بدهد گواهی دست وپا**

رابه سی اندامونه پر خبرو، شاهدی به ورکوی پښې او لاسونه

**حیران شود جمله جهان مردم زهولش بی خبر**

حیران به سی ټوله دنیا، خلګ به یې دهیبته څخه بی خبره وی

**۳. هم حوض کوثر حق بدان اندر بهشتی چار جو**

هم حوض کوثر حق وبوله، او په جنت کی څلور ویالې حق وبوله

**از آب وشیر وشهد هم جوی چهارم از خمر**

داوبو، دشیدو هم دعسلو (شهدو)، او څلورمه به دشرابو څخه وی

**۴. مخلوق دان امروز تو جنت جهنم هر دو را**

مخلوق (پیدا سوی) وګڼه نن ورځ لا ته جنت اودوږخ دواړه

**این هر دو را با اهل خود فانی مدان ای شه پسر**

دا دواړه سره دخپلو اهلانو (یعنی کار کوونکو ملآئکو) فانی مه بوله ای دباچا زویه (شاهزاده) !

**۵. امروز مالک می کشد هیزم بدوزخ ومبدم**

ترننه ورځې پوری مالك (ملآیکه ددوږخ) راکشوی لرګی ودوږخ ته هروخت

**هر لحظه رضوان کوشکی سازد همی از مشک تر**

اوهر ساعت رضوان (ملائکه دجنت) جوړوی ماڼی دتازه مشکو څخه

**دلغاتو حل:**

روشن: روښانه، رویها جمع دروی ده په معنی سره د مخ، ماه: میاشت، سپوږمۍ، چارده: څوارلسم، سیه: په اصلی کی سیاه دی په معنی سره دتور، دیجور: عربی لفظ دی په معنی سره دډیر تاریك، جوارح: جمع ده دجارحة په معنی سره داندام، دست: لاس، پا: پښه، هول: خوف، بیره، بهشت: جنت، حوضِ کوثر: دهغه تالاب نوم دی چی خدای ﷻ دپیغمبر ﷺ لپاره ورکړی دی، جو: په اصلی کی جوی وو په معنی دویالی، یاء ورڅخه حذف سویده دپاره دقافیه دشعر، شیر: شیدی، شهد: عسل، خمر: شراب، مالك: نوم دی دیوې ملآئکی چی ددوږخ مشری یې په غاړه ده، هیزم: خاشاك، لرګی، دمبدم: په اصل کی داتوری داسی دی:

دم بدم، یعنی گړۍ په گړۍ، ساعت په ساعت، لحظه: گړۍ، رضوان: نوم دی دیوې ملآئکی چی دجنت مشری یې په غاړه ده، کوشك: ماڼۍ.

**تشریح او مطلب:**

۱. ښه ښائسته او روښانه به وی مخان دجنتیانو په مثال سره دخوارلسم دسپوږمۍ، او دچا مخان به تور وی لکه تکه توره تیاره شپه بلکه تردې به لا هم زیات وی په توروالی کی.
۲. دقیامت په ورځ دانسانانو پراعمالو باندی ددوی پښې او لاسونه هم شاهدی ورکړی، او ټوله دنیابه حیرانه سی، او ددې څخه به وترهیږی او وبه بیریږی، ځکه دوی به خبر نه وی چی زموږ پښې او لاسونه دالله ﷻ خفیه او پټ پولیس دی، چی زموږ څارنه کوی.
۳. هم حوض کوثر حق وبوله، او وی به په جنت کی ځلور ویالې، ۱. داوبو ۲. دشیدو ۳. دشاتو ۴. اوځلرومه ویاله دشرابو.
۴. اوجنت اودوږخ دواړه اوس لا پیدا سویدی، داسی نه ده لکه معتزله چی وایی چی هغه به په قیامت کی تر حساب او کتاب وروسته پیدا کیږی، دا دواړه سره دخپلو اهلانو او اوسیدونکی فانی مه بوله، ای دباچا زویه (شاهزاده)، یعنی جنت او دوږخ او ددواړو اوسیدونکی به بیا نه فنا کیږی، بلکه په دې کی به همیشه وی.
۵. دنن ورځی څخه لا مالك، چی ملآئکه ده ددوږخ، لرگی واور ته ددوږخ راوړی گړۍ په گړۍ او ساعت په ساعت، او همدارنگه هر گړۍ رضوان، چی ملائکه ده دجنت، په جنت کی نوی نوی ماڼۍ جوړوی، داسی ماڼۍ چی تر مشکو هم تازه او خوشبویه وی.

* * *

**۱. مومن بجنت جاودان نی مرگ بیند نی علل**

مومن به په جنت کی همیشه وی نه به مرگ وینی نه مرض

**کافران بسوزد همچنین دائم بآتش در سقر**

کافران به سوزی دغسی همیشه په اور سره په دوږخ کی

**۲. مومن بقدر ذنب خود بیند عذابی بعد ازان**

مومن به په اندازه دخپلی گناه عذاب وویني وروسته دهغه څخه

**آید برون جنت رود صد کشک یابد از گهر**

راوبه وزی ددوږخ څخه جنت ته به ولاړسي سل ماڼۍ به پیدا کړی دمرغلرو څخه

**۳. مومن بدوزخ چون رود آتش نگردد گرد او**

مومن چی کله دوږخ ته ورسي اور به نه گرځی پرشا اوخوا دده

**سختی نه او را در سقر الا همین خوف وخطر**

عذاب به نه وی ده لره په دوږخ کی بلکی بیره او خطر

**۴. دوزخ بسوزد جن پری کافر چو باشد با یقین**

دوږخ به پیریانان سوځی کله چی کافران وی په یقین سره

**در نیل جنت پریان دان اختلافی مشتهر**

په رسیدوکی دجنت وپیریانانو لره اختلاف دی مشهوره

**۵. نومید بودن از خدا هم ایمنی زو کفر دان**

ناأمیده کیدل درحمت څخه دخدای پاك ﷻ ، او هم بیغمه کیدل دعذاب څخه دخدای پاك ﷻ کفر دی

**تصديق كاهن كفر شد از غيب چون گويد خبر**
يقين كول په جادوګر كفر دى كله چې له غيبو څخه خبر وايي

**دلغاتو حل:**

جاودان: هميشه، علل: مرض، سقر: نوم دى ددوږخ، گُشك: بنگله، مانۍ، ذنب: ګناه، چندګه: يوڅه وخت، ګهر: ملغلره، خوف: بيره، جن: عربى لفظ دى ي پيرى، پرى: فارسى لفظ دى يعنى پيريانان، نيل: رسيدل، نوميد: نا اُميده، ايمن: بيغمه، كاهن: جادوګر، كوډګر.

**تشريح او مطلب:**

۱. مومن به په جنت كې هميشه وى نه به وينى مرګ اونه مرض او هرڅه چې كافر دى نو هغه به هميشه په دوږخ كې په اور سوځى.
۲. مومن به دخپلى ګناه په اندازه په عذاب كې وى وروسته له هغه به ددوږخ څخه راووزى اوپه جنت كې به دده لپاره بنګلى دملغلرو وى.
۳. اوچې مومن كله په دوږخ كې وى نواور به دده پرشا اوخوانه وى، او نه به وربا ندى سختى وى يوه بيره او خطره به وى وربا ندى.
۴. او پيريانان چې كله كافران وى يقيناً اور به يې وسوزى، اوجنت ته په رسيدلو دپيريانانو كې مشهوره اختلاف دى.
۵. نا اُميده كيدل دخداى ﷻ درحمت څخه، كفر دى او دعذاب څخه يې بيغمه كيدل، هم كفر دى، او دجادوګر په خبرو باور درلودل، كله چې هغه دغيبو څخه خبرى كوى، هم كفر دى.

**۱. هرگز نباشد اولياء چون انبياء در مرتبه**
هيڅكله نه دى وليان په شان دنبيانو په مرتبه كې

**نی از فرشته هیچکس باشد چو ایشان ای پسر**

نه دملائکو څخه هیڅوك دی په شان ددوی ای ځوانه

**۲. زُهّاد وجمله اولیاء باشند افضل از ملک**

پرهیزګاران او ټول ولیان بهتر دی تر ملائکو

**غیر از خواص چار کس هر چار ایشان نامور**

ماسوا دخاصو څلورو کسانو څخه چې دا څلور واړه ددوی مشهوره دی

**۳. جز انبیاء واولیاء زهّاد وصالح مردمان**

بی له نبیانو او ولیانو څخه زاهدان او نیکان خلګ

**فضلی ندارد بر ملک دیگر عوامی از بشر**

بهتری نه لری پر ملائکو نه نور عام خلګ دانسانانو څخه

**۴. هرگز نباشد هیچکس پس از انبیاء ابوبکر چنان**

هیڅکله به نه وی هیڅ سړی وروسته ترنبیانو دابوبکرؓ په شان

**از بعد او میدان عمر پس بعد ازان عثمان نگر**

وروسته ترده وبوله عمرؓ وروسته ترهغه عثمانؓ وګنه

**۵. وزبعد او حیدر بدان او بود شاه در جهان**

وروسته ترهغه علیؓ وبوله هغه وو باچا په دنیا کی

**مخلص شوی مسلم همین از رفض گردی دور تر**

خالص مسلمان به سی او هم به درافضي توب څخه وګرزی زیات لیری

* * *

**دلغاتو حل:**

نامور: نوم لرونکی، مشهوره، زهاد: پرهیزگاران، فضل: بهتری، رفض: دا دیوې طآئفې نوم دی دشیعه څخه چې رافضة ورته وایی، او دوی حضرت علی رضي الله عنه اوفاطمة الزهراء رضي الله عنها او امام حسن وامام حسین رضي الله عنهما لره فضیلت ورکوی پرهغه مخکنیو درو یارانو، یعنی حضرتِ ابوبکرصدیق رضي الله عنه، اوحضرتِ عمر رضي الله عنه او حضرتِ عثمان رضي الله عنه باندی.

**تشریح او مطلب** :

۱. اولیاء داسی نه دی لکه انبیاء علیهم السلام په مرتبه کی او نه دملائکو څخه یوه ملآئکه په بهتری کی داسی ده لکه دوی علیهم السلام.
۲. زاهدان ترټولو فرشتو بهتر دی مگر ماسوا دڅلورو فرشتو څخه چې جبرائیل علیه السلام اومیکائل علیه السلام اوعزرائیل علیه السلام او اسرافیل علیه السلام دی.
۳. ماسوا دانبیآء علیهم السلام او اولیآء رحمة الله علیهم اونورو صالحو مومنانو څخه ، نور عام انسانان پر ملآئکه علیهم السلام باندی بهتری نلری.
۴. او وروسته تر انبیاء علیهم السلام هیڅوك نه دی بهتره، مگر خلیفهٔ اول حضرت صدیق اکبر رضي الله عنه دی وروسته ترهغه حضرت عمر رضي الله عنه دی اوبیا عثمان غنی رضي الله عنه دی.
۵. اوبیا حضرت علی رضي الله عنه دی. نوکله چې دغه ډول عقیده وساتی هغه مخلص مسلمان دی دشیعه رافضی څخه ډیر لیری دی.

**ا. افضل خدیجه شه زنان پس عائشه افضل بدان**

ترټولو ښه بی بی خدیجه رض ده چې بادشاه ده دزنانو بیا عائشه رض ښه وبوله

**افضل زجمله دختران تو فاطمه زهرا شمر**

ښه ترټولو لوڼو بی بی فاطمه وشمیره

**۲. سخنی مگو درحق کس زاصحاب احمد مصطفٰی**

خبری مه وایه په حق کی دهیچا دملگرو څخه دپیغمبر ﷺ

**سیّاره دانی هر یکی نی همچو شان کس راهبر**

ستوری وبوله هریو نسته په شان ددوی بل سړی لار ښوونکی

**۳. گواهی بده کین ده نفر از اهل جنت بیشکی**

شاهدی ورکړه چی دغه لس کسان دخلگو څخه دجنت دی

**ابوبکر رضی الله عنه هم عثمان رضی الله عنه علی رضی الله عنه دانی چهارم عمر شه رضی الله عنه**

ابوبکرؓ عثمانؓ علیؓ وبوله څلورم باچا عمر (رضی الله عنهم)

**۴. سعدؓ وسعیدؓ وطلحهؓ دان هم بوعبیدهؓ هشتمی**

سعد او سعید اوطلحه وبوله هم ابو عبیده اتم

**ابن زبیرؓ شد نهم هم عبد الرحمٰنؓ نامور**

ابن زبیر سو نهم دی هم عبد الرحمان نوم درلودونکی

**۵. میثاق را بر حق بدان زآدم ذراری جملگی**

وعده حقه وبوله دآدم علیه السلام داولادی څخه ټوله

**منکر مشو تو زین سخن رسته شوی روز حشر**

منکر مه سه ته ددی خبری څخه خلاص به سی په ورځ دقیامت

**۶. تو نار وجنت عرش را کرسی وهم لوح وقلم**

ته اور اوجنت او عرش اوکرسی هم لوح او قلم

## موجود دان مخلوق هم فانی مدان ومنکسر

**هم موجود اوهم يې مخلوق وبوله، نیستی يې مه ګڼه اونه هم مات**

**دلغاتو حل:**

شه: دادشاه مخفف دی معنی يې ده باچا، دختران: جمع ددختر ده معنی يې ده انجلۍ، لور، زهرآء: دبی بی فاطمة رضي الله عنها لقب دی، سیّاره: ستورې، راهبر: لار ښوونکی، ذراری: اولاده.

**تشریح او مطلب:**

۱. په ټولو زنانو کی بهتره زنانه خدیجه رضي الله عنها ده، بیا عائشه رضي الله عنها ده. اوپه لوڼو او انجونو کی بهتره فاطمة الزهراء رضي الله عنها ده.
۲. دپیغمبر ﷺ په ملګرو کی هیڅ بد مه وایه، هغوی رضي الله عنهم هر یو لکه ستوری خلګو ته لار ښيي.
۳،۴. شاهدی ورکه پردې چی لس کسان صحابه کرام رضي الله عنهم جنتیان دی یعنی رسول الله ﷺ دوی ته په جنت داخلیدو سره زیری ورکړیدی، هغوی لس کسان دادی: اول: ابوبکر رضي الله عنه ، دوهم: عمر رضي الله عنه ، دریم: عثمان رضي الله عنه، څلورم: علی رضي الله عنه، ۵. سعد رضي الله عنه، ۶. سعید رضي الله عنه، ۷. طلحه رضي الله عنه، ۸. ابوعبیدة رضي الله عنه، ۹. ابن الزبیر رضي الله عنه، او لسم ۱۰ عبد الرحمٰن رضي الله عنه دی.
۵. کمه وعده چی ټوله اولاد دآدم عليه السلام کړی وه هغه حق وبوله، مه منکر کیږه ته ددغه خبری څخه، چی خلاص سی په ورځ دمحشر.
۶. دا عقیده وساته چی دوږخ، اوجنت، اوعرش، او کرسی اوهم لوح او قلم موجود دی او ثابت دی، نیستی نه دی، بلکه اوس لا موجود دی.

* * *

**١. در لوح مرقوم آنچه شد زان خشک وفارغ شد قلم**

په لوح محفوظ کی چی څه لیکلی دی هغه کیږی دهغه څخه وچ سو قلم

**جز آن نباشد هیچگه هر گز نگردد خامه تر**

ماسوادهغه څخه نه کیږی نورڅه هیڅ وخت، اونه به هیڅکله دهغو رنګ ځی

**٢. بر بادشاهان هیچگه بیرون میا تیغی مکش**

پر باچاهانو باندی هیڅکله دباندی مه را باسه توره (دجنګ)

**بکنند ظلمی گر چه شان صد جور بینی یا جبر**

کوی ظلم که څه هم چی دوی سل ظلمه ووینی یا تجاوز ووینی

**٣. غزوی بکن با باغیان زیر علم سلطان خود**

غزا کوه دباغیانو سره لاندی تر بیرغ دبادشاه خپل

**باغی چو بینی شد کسی او را بکش تعجیل تر**

نافرمانه چی ووینی چی سو یوسړی هغه مړ کړه په تلوار سره

**۴. رخصت بدان اندر سفر افطار افضل صوم را**

اجازه وګڼه په سفر کی ماتول دروژې، خو نیول یې ښه دی

**جائز نگویم در سفر اندر نماز الاَّ قصر**

روانه وایم په سفر کی لمونځ بالکل لیکن په قصر سره

**۵. باید گذاری جمعه را پس هر که باشد نیک وبد**

باید چی وکی جمعه په وروسته پسی دهر چا که نیك وی او که بد

**مسحی بکن بر موزها باشی بخانه یا سفر**

مسحه کوه پر موزو باندی که په کور کی یې که په سفر کی

**دلغاتو حل:**

مرقوم: يعنى ليكل سوى، خشك: وچ، خامه: خرابيدل، ميا: مه راوړه، تيغ: غشى، توره، جور: ظلم، جبر: ظلم، تعدى، غزوى: غزا، باغيان: بى امره او نافرمانه دمسلمان باچا څخه، علَم: بيرغ، جنډه، تعجيل: تلوار، افطار: ماتول، قصر: لنډوالى، دلته ورڅخه مراد لنډوالى دلمانځه دى په سفركى يعنى چى څلور ركعته به دوه ركعته كوى.

**تشريح او مطلب:**

١. په لوح محفوظ كى چى څه ليكلى دى هغه كيږى ماسوا دهغه څخه هيڅ هم نه كيږى. او دلوح محفوظ خبره هيڅ كله چپه نه ځى.
٢. پر باچاهانو باندى توره مه راكاږه كه ظالم وى هم ددى خلاف مكوه.
٣. او دباغيانو سره غزا كوه دخپل باچا تر بيرغ لاندى اوچى كله ووينى يو سړى چى دى باغى سو، نو دى مړ كه په تلوار سره.
۴. په سفركى روژه خوړل رخصت دى مگر بهتره يې نيول دى. اوهر څه چى لمونځ دى په هغه كى بل شى نسته بى له قصره.
۵. دجمعى لمونځ كوه په هر نيك اوبد سړى پسى اومسحه پرموزه كوه كه په سفركى يې اوكه په كور كى.

**١. ميدان شفاعت بر حق است ابرار مر اشرار را**

ويپيژنه سفارش (شفاعت) په حقه سره دنيكانو خاص بدانو لره

**خواهند از حضرت خدا آرند بيرون از سقر**

غواړى به ددرباره څخه دخداى ﷻ چى راويې باسه دباندى ددوږخ

**۲. از بهر مرده زندگان بدهند صدقه یا دعا**

لپاره دمړي چې ژوندي ورکړي خیرات یا دعا پسې وکي

**گردد عذابی دور شان یابند راحت بیشتر**

گرزي عذاب لیري ددوی ښخه پیدا کوی خوشحالي ډیره زیاته

**۳. مشکل چو کاری ترا آید گهی میخوان دعا**

کله چې یو سخت کار تا لره راسی وایه دعا

**مغز عبادت دان دعا دارد دعا جانا اثر**

مقصود په عبادت کې وګڼه دعا، لري دعاء ای روحه زما اثر

**۴. دانی قیامت را نشان دجال دیگر دابه هم**

وبوله قیامت لره نښه دجال او بله دابه هم

**عیسیٰ فرود آید کشد دجّال را از پشت خر**

عیسیٰ ؑ به راکښته سي مړبه کې دجال دشا ښخه دخره

**۵. یاجوج با ماجوج هم پیدا شود اندر جهان**

یاجوج او ماجوج به هم پیدا سي په دنیا کې

**سرهائی بعضی آسمان باشند بعضی یک شبر**

سرونه دځینوبه تر آسمان پوري وي او بعضي به یوه لوېشت وي

**دلغاتو حل:**

شفاعت: سپارش، ابرار: معنیٰ نیکان، سقر: نوم ددوږخ دی، پشت: شا، یاجوج او ماجوج: نوم ددوو طائفو دی چې داولاد ښخه دیافث بن نوح عَلَیْہِ السَّلَامُ دی اوټوله کافران دی، شِبر: معنی لوېشت، دغه دیاجوج اندازه

ده، او دماجوج اندازه ده شپیته گزه.

**تشريح او مطلب**:

۱. دنیکانو شفاعت کول حق دی بدانو لره، غواړی به دخدای ﷻ څخه چې دوی ددوږخ څخه دباندی راوباسی.
۲. دمړو دپاره خیرات اوصدقه یا دعا پسی کول ددوی څخه عذاب لیری کوی او خوشحالی ورته پیدا کوی.
۳. اوهر کله چې مشکل درلره راسی دعا وایه مقصود دعبادت څخه هم دعا ده او روح دعبادت ده.
۴. او دقیامت نښانی دجال ده او دابه ده، او داچې عیسیٰ علیه السلام راسی دجال دخره دشا څخه مړ کی.
۵. اوبله علامه یې دا ده چې یاجوج او ماجوج به پیدا سی په دنیا کی او سرونه به یې ترآسمانه پوری رسیدلی وی.

**۱. از سوی مغرب شمس را باشد طلوع بی نزاع**

دطرفه څخه دمشرق دلمر راختل نښانه ده دقیامت بې له مخالفته

**بسته شود در توبه را کان بود مفتوح بشر**

وبه تړل سی دروازه دتوبې هغه چې مخکی خلاصه وه پر انسان باندی

**۲. کثرت زنان اندر جهان دانی قیامت را نشان**

ډیریدل دزنانو په دنیا کی وپیژنه دقیامت علامه

**بر اسپ چون بینی زنان آید قیامت زود تر**

پر آس چې ووینی زنانی راځی قیامت ژر زیات

**۳. دیگر نشانی علمها خوانند خلقی بیعمل**

بله علامه داده چې علمونه به وایي خلگ بې عمله

**ساجد به بینی اندکی مسجد به بینی بیشتر**

لمونځ کونکي به ووینې کم مسجدونه به ووینې ډیر زیات

**۴. مشغول بینی در بنا خلقی شده از جان ودل**

خلگ به مشغول ووینې په جوړیدلو کې دبناوو په اخلاص سره

**مرگی بخواهی آنزمان مرگ همی بهتر شمر**

مرگ وغواړه هغه ساعت مرگ هم بهتر وشمیره

**۵. محمود احمد تاج دین مزدور بینی هر طرف**

چې محمود، احمد، او تاج دین يې نوم وي مزدوري به کوي په هر طرف

**شادی قبولا زیرکا مقطع شده هم مشتهر**

چې شادي، قبولا، اوزیرکا نوم چې يې وي فیصلې به کوي اوهم مشهور

**۶. اهل بوادی روستا گوبان شبان هم جفت ران**

خلگ دصحرا او دشلو اوغوبانه اوهم بزگران

**کفشی نه گاهی پای شان پگی نبوده شان بسر**

چې چپلکې به نه وي ددوی په پښو کې او پگړي به يې نه وي په سر

**دلغاتو حل:**

بې نزاع: بې له اختلافه، مفتوح: خلاصه، اسپ: آس، اهل: خاوندان، اوسیدونکې، بوادی: بیابان، شبان: شپانه، جفت ران: دهقان، باغوان، کفش: بوټ، چپلکې، پگی: پگړی، لنگوټه.

❀

**تشريح او مطلب** :

۱. بله علامه دعلامو څخه دقيامت داده چی لمر دمغرب يعنی لويدو دخوا څخه را وخيږی، په دې وخت کی به دتوبې دروازه دانسان پرمخ وتړل سی وروسته تر هغه چی خلاصه وه.
۲. بله علامه دعلامو دقيامت څخه داده چی زنانی به ډيری سی په دنيا کی اوچی پرآس سپرې سی زنانی دا علامه دقيامت ده.
۳. بله علامه هم داده چی خلګ ډير علمونه کوی مګر بی عمله وی، او بله علامه هم داده چی لمونځ کونکی به نه وی مسجدونه به ډير وی.
۴. اوبله علامه هم داده چی خلګ به دبناوو په جوړولو کی مشغول وی په اخلاص سره نوهغه وخت مرګ وغواړه تردې مرګ هم ښه دی.
۵. اوچی محمود، احمد، تاج دين يې نومان وی، داسی خلګ به ووينی په هرطرف چی مزدوری به کوی، اوچی شاد، قبولا، زيرکا يې نومان وی دا به فيصلی کوی اووی به هم مشهوره.
۶. خلګ دصحراء او دشلو، اوغرو، اوشپانه اوبزګران، چی چپلکی به يې نه وی اونه به يې بګړی پر سر وی.

**۱. دانی قيامت رانشان ايشان چو بينی شهرها**
وپيژنه دقيامت علامه دا چی دا خلګ وينی په ښهرو کی
**مشغول گشته در بنا هر يک بقصری مفتخر**
مشغول به وی په جوړولو دبنګلو فخر کوونکی

**۲. غسل ووضو نی کار شان نی ذکر حق اندر زبان**
نه به وی غسل اواودس کاروی ددوی نه به ذکر دخدای پاك پرژبه وی ددوی

**نی در نماز ونی دعا نی پاک تن ای شه پسر**

نه به وی په لمانځه کی اونه په دعا کی اونه به يې پاك وی بدن ای زويه

**دلغاتو حل:**

شهرها: ښارونه، مشغول: اخته، مفتخر: فخر کوونکی.

**تشریح او مطلب:**

۱. بله علامه دقيامت داده چی دا خلګ به په ښارونوکی مشغول وی په آبادۍ او ودانيو سره او هم په دې سره به فخر کوونکی وی.
۲. خلاصه داچی داخلګ به داسی ددنیاپه کارونو اخته وی چی، غسل، اودس، دخدای ﷻ ذکر، لمونځ، دعا، پاکوالی دبدن او داسی نور دينی ضروری عبادتونه به ددوی ځخه پاته وی، او دوی به ددنيا په خوندونو او لذتونو کی ډوب وی، په همدې وخت کی قیامت دی.

*   *   *

## ﴿ باب چهارم در بیان علم وتعلیم وفضل آن می گوید ﴾

څلورم باب په بيان کی دعلم او دزده کړی او فضیلت دهغه ويل کيږی

**۱. بر سنگ خارا نقش دان علمیکه خوانی در صغر**

پر ډبره باندی سخت نقش وبوله هغه علم چی وی وايی په کوچنيوالی

**بر آب دان نقش را علمیکه خوانی در کبر**

پر اوبو باندی وبوله نقش هغه علم چی وی وايی په لوی والی کی

**۲. قرآن بخوان تفسیر هم آموز خط صرف ولغت**

قرآن ووايه هم تفسیر زده کړه خط او صرف او لغت

**نحو ومعانی با بیان توحید هم فقه وخبر**

نحوه او معانی سره دعلم بیان او علم کلام، فقه او هم حدیث

**٣. علم بخوان کان مر ترا نافع بود منجی شود**

داسی علم ووایه چی هغه تا لره فائده مند اوساتونکی ستا سی

**جنت بیابی حور هم یابی خلاصی از سقر**

جنت به پیدا کی اوحوری اوهم به خلاصون ددوږخ څخه

**دلغاتو حل:**

فضل: بهتری، فضیلت، زیاتوالی، سنگ: ډبره، خار: سخته، صغر: کوچنیوالی، کبر: غټوالی، آموز: ایزده کول، توحید: دهغه علم نوم دی کم چی دعقیدی بیان کوی، فقه: دهغه علم نوم دی کم چی دمسئلو بیان کوی، نافع: نفع رسوونکی، منجی: خلاصوونکی، سقر: دوږخ.

**تشریح او مطلب** :

١. دعلم زده کول په کوچنی والی کی ډیر مفید دی، ځکه چی هرڅه په کوچنیوالی کی څوك وایی هغه داسی یادیږی او محفوظیږی، لکه پر سخته ډبره باندی نقش، اوعلم زده کول په لوی والی کی داسی دی لکه پر اوبو نقش، یعنی ژر بیرته هیریږی.

٢. او ددې شیانو زده کړه ضروری ده: قرآن کریم، دقرآن کریم تفسیر، او علمِ خط، اوعلمِ صرف او علمِ لغت، همدارنگه علمِ نحو، او علمِ معانی سره دعلمِ بیان، او همدارنگه علمِ توحید، او هم علمِ فقه شریف، او هم علمِ حدیث شریف.

۳. او ددې علومو سره داسې نور علوم هم ووايه چې هغه تا لره نفع در رسوونکې او په دنيا او آخرت کې دمشکلاتو څخه خلاصوونکې وي، تر څو چې جنت پيدا کړې او هم حورې او هم ددوزخ دعذابه څخه خلاصون پيدا کړې.

**۱. علمی که خوانی بهر حق بیشکه ترا منجی شود**
علم چې ووايې لپاره دخداى بيشکه تالره ساتونکې کيږي
**نی بهر فتوی نی قضاء نی بهر نان چیزی دیگر**
نه لپاره دفتوىٰ نه دقضاء نه لپاره دډوډې نه دبل شي لپاره

**۲. علمی که خوانی بهر حق دان سود خود آن علم را**
هغه علم چې ووايې لپاره دخداى، وبوله خلپه ګټه او فائده دغه علم
**علمی که نبود بهر حق زان علمی بینی صد ضرر**
علم چې نوې لپاره دخداى دهغه علم څخه به ووينې سل ضرره

**۳. علمیکه خوانی بهر آن تا صدر شینی مرتفع**
هغه علم چې ووايې لپاره ددې چې مشر سې او کښيني لوړ
**آن علم دان چون کسبها بل کسب زان بهتر شمر**
هغه علم وبوله په مثل دکسبونو اوکسب تر هغه ښه وشميره

**۴. حیله نیا موزی گهی منکر نگردی از حیل**
حيله مه زده کوه هيڅکله مه منکره کيږه دحيلې څخه
**از شرع بیرون پای خود هرگز نیاری ای پسر**
دشرع څخه دباندې پښه خپله هيڅکله رانه وړې اې ځوانه

**۵. چون دوست داری علم را یا عالمی متعلّمی**

هروخت چې دوست لرې علم یا عالم یا طالب

**پاکیزه گردی از گنه گنهی که کردی در عمر**

ته به پاك گرزې دگناه څخه دهغه گناه څخه چې دې کړې وي په عمر کې

**دلغاتو حل:**

منجي: خلاصوونکی، نجات ورکوونکی، بهر: دپاره، فتوی: دفتوا ورکولو، مفتي کیدو، نان: ډوډۍ، سود: ګټه، فائده، شینی: کښیني، مرتفع: لوړ، کسبها: کسبونه، عالِم: ښوونکی، متعلم: زده کوونکی.

**تشریح او مطلب :**

۱. کم علم چې دخدای پاك ﷻ درضا دپاره سړی ووایي هدغه علم نجات ورکوونکی او خلاصوونکی دی دعذاب څخه دخدای ﷻ، نه هغه علم چې دپاره دفتوٰی ورکولو، یا دپاره دقاضي کیدو، یا دپاره دډوډۍ یا دپاره دیو بل غرض یې څوك ووایي.

۲. هغه علم چې دخدای پاك ﷻ درضا حاصلولو لپاره وي هغه علم فائده ده اوکم علم چې لپاره دخدای پاك ﷻ نه وي نو ددې علم څخه به سل ضرره ووینې.

۳. علم چې دلوړ والی، نامه، عزت او شهرت لپاره وي نو هغه علم یو کسب دی، لکه دا نور کسبونه ددنیا، بلکه نور کسبونه لا ترداسی علم ډیر ښه دی.

۴. دشرعي احکامو دلیری کولو یا دهغو دسپکولو دپاره حیلې مه جوړوه، او هغه حیلې کمې چې په شریعت کې دشارع دخوا څخه راغلی

دی لکه دایوب ﷺ دښځی دوهلو دنذر په پوره کولو کی، یا دیوسف ﷺ حیله چی دورور راګرځولو دپاره یې کړی وه، دهغو څخه منکرکیږه هم مه، دحیلې جوړولوپه وجه چی دشریعت څخه دباندی هیڅکله پښه کښېښږدی، ای ځوانه.

**۵.** کله چی یاته په خپله علم لری یعنی عالِم یې، یا متعلم او زده کوونکی یې دعلم، یا دعالِم او طالب سره مینه او محبت لری، نو دا ستا دپاره خیر او ګټه ده اوپه دې وجه به الله ﷻ ستا ګناهونه ستا په ژوند کی دروبخښی.

لکه رسول الله ﷺ چی په یوه حدیث شریف کی فرمایی: كُنْ عَالِمًا اَوْ مُتَعَلِّمًا الحدیث، یعنی یا خوپه خپله دځانه څخه عالِم جوړکه یا طالب او دعلم زده کوونکی سه اویاهم ددوی سره محبت وساته او بل قسم مه جوړیږه، فَتَكُنْ هَالِكًا، نوته به هلاك سی. نو مصنف صاحب رحمه الله علیه هم په دې بیت کی ددې حدیث شریف مضمون راوړی او دې حدیث ته یې اشاره وکړه.

**۱. وقتیکه بینی طالبی مر علم را یاری بکن**
کله چی ووینی یو طالب دعلم نو کومك ورسره وکه
**جنت بیابی از خدا کلکی دهی گر منکسر**
جنت به پیدا کی دخدایه څخه، قلم ورکه که څه هم چی مات وی

**۲. گر علم خواند مردمی بکند عبادت اندکی**
که چیری علم وایی یو سړی او عبادت کم کوی
**باشد زخاصان نزد حق وزعابدان نزدیکتر**
بیابه هم وی دخاصانو خلکو څخه په نزد دخدای اوتر عابدانو ډیر نژدی

**۳. فضلی که دارد عالمی بر عابدان هم زاهدان**

بهتری لری عالم پر عابدانو هم پر زاهدانو

**چون فضل احمد مصطفٰی بر کم کمینه از بشر**

لکه بهتری دپیغمبر ﷺ پر یو کم او کمزوری انسان باندی

**۴. بر عالمان نسبت مکن عابد که تنها خویش را**

پرعالمانو باندی نسبت مه ورکوه عابد ته چی عابد یوازی خپل ځان

**خواهد خلاصی از خدا عالم خلاصی صد نفر**

غواړی خلاص کی دخدایه څخه او عالم سل نفره خلاصوی

**۵. شو خاکپائی عالمان درجی بیابی در جنان**

سه خاوری دپښو دعالمانو درجی به پیدا کړی په جنتو کی

**شو دور تر از جاهلان تا تو نسوزی در سقر**

ولاړ سه لیری دجاهلانو څخه چی تا ونه وسوزی په دوزخ

**دلغاتو حل:**

کلکی: قلم، ګرك، منکسر: مات، اندکی: لږ، کم، کم کمینه: کمزوری، کم مرتبه، خویش: خپل ځان.

تشریح اومطلب :

۱. کم وخت چی یو طالب العلمووینی کومك ورسره کوه، هرڅومره چی ستا په وسه پوره وی، که څه هم چی یو قلم ورکړی او هغه هم مات، یعنی دا لا هم زیات ثواب دی.
۲. کم سړی چی علم کوی او دعلم په حاصلولو مشغوله وی، او عبادت

کم کوی، دی دا سړی دخاصو خلگو څخه په نزد دخدای پاك ﷻ او تر عابدانو وخدای پاك ﷻ ته ډیر ور نژدی دی.

۳. بهتره دی عالم هم پر عامو کسانو، اوهم پرعابدانو او زاهدانو لکه څومره چی بهتری ده دپیغمبر ﷺ پر کمزوری امتی باندی.

۴. او دعالِم ددومره فضیلت وجه داده چی عابد چی عبادت کوی نو یوازی یې دخپل ځان لپاره فائده رسیږی اوعالم په خپل علم سره سلو کسانو ته فآئده رسوی، اوبیا ددوی دپاره شفاعت هم کوی.

۵. دعلماوو داسی ځان خادم جوړه کړه لکه دپښو خاوری بیابه دهمدې خدمت په سبب سره خلاص سی دعذابه څخه ددوږخ.

**۱. مقصود از علمت عمل درس وقضاء مقصود نی**

مقصود دعلمه څخه تالره عمل دی نه درس اونه قضاء مقصود ده

**علمیکه باشد بی عمل دانی کمانی بی وتر**

هغه علم چی وی بی عمله داسی یې وبوله لکه لیندی بی غشی

**۲. علمیکه حاصل شد ترا ترس از خدا تقوٰی بکن**

علم چی حاصل سی تالره نوبیره دخدای ﷻ څخه او پرهیزگاری وکه

**ور نه تو باشی دزد دین هم راهزن هم حیله گر**

که داسی نه کوی نوته یې غل ددین هم لار وهونکی هم چل کونکی

**دلغاتو حل:**

قضا: قضاوت، کمان: غلول، لیندی، بی وتر: غشی، ترس: بیره، تقوٰی: پرهیزگاری، دزد: غل، راهزن: لار نیوونکی، لار وهونکی.

**تشریح او مطلب** :

۱. ستابه اصلی مقصود دعلمه څخه عمل وی، نه خاص درس اوتدریس کول، اونه به دی خاص قضا کول مقصود وی، بلکه په لومړی درجه کی په خپل علم عمل کول، بیا په دوهمه درجه کی همدغه علم بل چاته رسول، ددرس اوتدریس یا قضا اونورو لارو څخه دابه ستا مقصود وی، اونه به دې هم مقصد دعلم نوری دنیاوی فائدی وی، اوهغه علم چی بی عمله وی هغه داسی دی لکه غلول او لیندی چی بی غشی وی.

یعنی کم چی اصلی مقصد دی دغشی او لیندی څخه چی ویشتل ددښمن دی، نودا مقصد نه حاصلیږی مګرنه هغه وخت چی غشی او لیندی دواړه درسره وی، اوکه یوازی لیندی وی او غشی یې نه وی نو په دې سره ستا مقصد نه حاصلیږی، همدغه رنګه چی علم بې عمله وی نو کم چی اصلی مقصد دعلم دی چی نجات دی په آخرت کی هغه نه حاصلیږی بې له عمله څخه په دې علم باندی.

۲. علم چی حاصل کی نو دخدای پاك څخه بیریږه او پرهیزګاری کوه، اوکه تاعلم حاصل کی مګر تقوا او پرهیزګاری دی نه وه، نوبیا ته ددین غل یې او لار وهونکی او چل ګیر یې.

ځکه چی بیا به ته په همدې خپل علم سره ځان ته دقسم قسم ناروااوو کولو دپاره لاری جوړی کړی، او په همدې وخت کی به شیطان پر تا باندی بری او کامیابی ترلاسه کړی، اوهمدا علم چی تاپه خواریو دځان دګټی دپاره حاصل کړی وو، نن به ستا دګمراهۍ او ضلالت سبب سی، او همدا خپل علم به دې دوږخ ته ورسوی، لکه شیطان چی یې ورسوی.

الله ﷻ دی په خپل فضل او کرم سره موږ اوټولو مومنانو ته په خپل زده کړی علم باندی دعلم کولو توفیق دغیوڅخه را نصیب کړی. آمین ثم آمین ، وما ذلــك علی الله بعزیز ، انه سمیع قریب مجیب .

## باب پنجم در مسائل قضاء حاجت ووضوء وتیمم وغسل گوید!

پنځم باب دی په بیان کی دمسآئلو دادا کولو دحاجت او داوداسه او دتیمم او دغسل

**۱. چون در قضا حاجت روی زور بکن بر پای چپ**
هروخت چی ادا کولوته دحاجت ځی زور کوه پر پښه چپه باندی
**در سوی قبله رو مکن هم پشت را ای نامور**
طرف دکعبی ته مخ مه مکوه هم شا مه ورگرزوه ای نوم لرونکی

**۲. چون بول غائط مر ترا زحمت دهد در حال کن**
هروخت چی بولی یاغائط تاته تکلیف درکوی فی الحال یې کوه
**گر تو بداری ساعتی صد رنج بینی صد ضرر**
که یې چیری ټینگ کړی یوساعت سل مرضونه به ووینی سل ضررونه

**۳. چون در قدم جای روی اول بنه توپای چپ**
هر وخت چی بیت الخلاء ته ځی اول چپه پښه ایږده
**گر با تو باشد کاغذی آن دور کن با خود مبر**
که چیری ستا سره کاغذ وی هغه لیری کړه، دځانه سره یې مه وړه

**دلغاتو حل:**

قضاء حاجت: یعنی انسانی حاجت پوره کول، سوی: طرف.

**تشریح او مطلب** :

۱. هر وخت چي په بیت الخلاء کی دحاجت ادا کولو دپاره کښېني پر چپه پښه زور کوه ، او مخ وقبلی ته مه گرزوه مه شا.
۲. اوکم وخت چي وړی بولی یا لوی بولی درته راسی، ځان لره تکلیف مه ورکوه هغه ساعت یې کوه کنه وی نوسل مرضه ځینی پیداکیږی.
۳. اول چي ننوزی وبیت الخلاء ته چپه پښه مخکی دننه کوه، اوکله چي راوزی نو بیا رسته پښه مخکی راباسه، او که کاغذ درسره وو هغه مه درسره وړه، بلکه ایږده یې.

**۱. دائم تو باشی با وضوء جامه نداری ریمگین**
همیشه اوسه په اوداسه جامه مه لره خیرنه
**چونتو شوی هم بیوضوء در حال کن تعجل تر**
هروخت چي سی بی اودسه فی الحال اودس کوه

**۲. وقتیکه گردی بی وضوء نظری مکن در مصحفی**
کم وخت چي بی اودسه یې کتل مه کوه قرآن ته
**نظری مکن بر آسمان سیاره نی شمس وقمر**
کتل مه کوه آسمان ته نه ستورو ته نه لمر او سپوږمۍ ته

**۳. نی سوی کعبه کن نظر نی روی سوی عالمان**
مه طرف ته دکعبی مخ کوه مه وطرف ته دعلماوو
**نی ذکر گوی نی سبق نی روی مادر نی پدر**
مه ذکر کوه مه سبق وایه مه مخ کوه مور او پلار ته

**۴. نی رد سلام هم کنی نی اندر آئی مسجد**

جواب د سلام مه ورکوه او مه ځه مسجد ته

**نی خواب بکنی نی خوری تجهیز میت هم سفر**

مه خواب کوه مه خوراك، مه تیاری دمړی دکفن، غسل اودفن، مه سفر

**۵. این جملگی آداب دان اجری بیابی از خدا**

دغه ټول آداب دی ثواب به پیدا کی له خدایه څخه

**بکنی تیمم یا وضوء انگه عبادت ای پسر**

کوه تیمم یا اودس وروسته دهغه څخه عبادت ای ځوانه

**۶. مصحف نگیری بیوضوء مسجد نیائی هم جنوب**

قرآن مه نیسه بی اودسه مسجد ته مه ځه جنوب

**بزگار گردی بیشکی هم فاقه بینی هم فقر**

ګنهګار به وګرزی بی له شکه هم به لوږه ووینی هم مسکینی

**دلغاتو حل:**

دایم: همیشه، ریمگین: خیرنه، ککړه، تعجیل: تلوار، چټکتیا، نظر: کتل ، مصحف : قرآن شریف ، سیاره : ستوری ، شمس : لمر ، قمر : سپوږمۍ، تجهیز: برابرول دمړی په کفن غسل او دفن سره، جنب: هغه سړی چی انزال سی او غُسل یې نه وی کړی، فاقه: لوږه، فقر: مسکینی.

**تشریح او مطلب :**

۱. همیشه په اوداسه سره ګرځه، کپړې له خیرو څخه صفا کوه، یعنی چی خیرنی سی نو هغه کاږه اونوری اغونده، او چی کله بی اودسه سی

سمد ستی اودس کوه.
۲. کم وخت چی بی اودسه سی قرآن کریم ته کتل مه کوه، همدارنگه کتل مه کوه وآسمان او ستورو ته او لمر او سپوږمۍ ته.
۳. همدارنگه دبی اودسۍ په حالت کی کتل مه کوه وطرف دکعبی ته اونه وطرف ته دعلماوو، مه ذکر کوه مه سبق وایه مه مخ دمورته اومه مخ دپلار ته بی اودسه گوره.
۴. اوجواب دسلام هم مه کوه اومه بی اودسه مسجد لره ورزه مه خوب کوه او مه خوراك مه برابرول دمړی دکفن اوغسل او دفن کوه اومه سفر بی اودسه کوه.
۵. هم دغه ټول ادب دی، پرکولو به یې خدای ﷻ ثواب ورکی، یا تَیَمُّم یا اودس کوه بیا عبادت کوه.
۶. بی اودسه قرآن کریم مه را اخله او مسجد ته مه ورځه په داسی حال کی چی ته جُنُب یې گنهگار به سی اولوړه به ووینی اوهم خواری.

**۱. آب منی ظاهر چو شد با دفق وشهوت جانمن**

اوبه دمنیوچی کله ښکاره سی سره دټوپ وهلو اوخوند سره ای روحه زما

**یا حشفه غائب چون شود اندر فروجی یا دُبر**

یا سر دذکر چی پټ سی یا په فرج کی یا دشا په خوا کی

**۲. انزال باشد خواه نی فرضی بدان آن غسل را**

وتل دمنیوکه وسی اوکه نه فرض وبوله هغه غسل

**وطی بهائم مرده هم انزال اینجا معتبر**

په وطی دچارپای یادمړه کی هم تویېدل دمنی دی معتبر

**۳. چون از نفاس وحیض هم پاکی به بیند عورتی**

هرکله چې له نفاس اوله حیضه څخه هم پاکه ووینی ښځه

**پاکیزه بکند غسل او این غسل را فرضی شمر**

پاك دی وکړی غسل او دا غسل فرض وشمیره

**۴. سنت بدان غسل جمعه در عید هردو عرفه هم**

سنت وبوله غسل دجمعی او داختر او عرفې هم

**از مرده هم واجب شده غسلش بده پاکیزه تر**

دمړی غسل هم واجب دی غسل ورکړه ډیر پاك

**۵. چون پیشت آید حاجتی از جان ودل غسل بکن**

هر وخت چې مخ ته درته راسی یوحاجت نوپه اخلاص سره غسل کوه

**مسلم چو گردد کافری دان غسل او هم دوست تر**

کله چې مسلمان سی کافر سړی هم دده لپاره غسل ښه دی

**۶. هر عضو را می شو بگو کلمه شهادت بارها**

هر اندام چې پرېولې وایه کلمه دشهادت وار وار

**بیشک شوی پاک از گنه جنت درائی در حشر**

بې له شکه سی به پاك له ګناه څخه جنت ته به راځې په محشر کې

**دلغاتو حل** :

دفق: غورځیدل، حشفه: سر دذکر، بهآئم: چارپایه، انزال: وتل دمنیو، عورت: ښځه .

**تشریح او مطلب** :

۱. کم وخت چې مني ښکاره سي سره ددوو شرطو یا ټوپ وهونکی یا سره دخونده، یا سر دذکر پټ سي، دښځې دمخ په خوا (فرج) کې یا دشا په خوا (دُبُر) کې .
۲. اوچې تو ییدل دمني راسي بیا غسل فرض دی اووطی کول دچارپای سره یادمړی سره چې انزال راسي نوغسل فرض دی.
۳. اوکم وخت چې زنانه دنفاس څخه صفا سي یا دحیض څخه نوبیا دی ځان پاك کړی په غسل سره، اودا غسل فرض دی.
۴. او غسل سنت دی دلمانځه دجمعې او داخترونو لپاره اوپه ورځ دعرفې او داحرام لپاره هم سنت دی. او دمړی غسل واجب دی.
۵. او کم وخت چې تاته یو حاجت وی بیا غسل کول ښه کار دی او هر اندام چې پریولی کلمه دشهادت ار بار ویل ښه کار دی.

**۱. مسواک را در هر وضوء دائم بکن در صوم هم**
مسواك په هر اودس کې همیشه وهه په روژه کې هم
**خوشبو بکن تو جامه هم گردی معطر سر بسر**
خوشبویه کړه ته کپړه هم به وگرځې ته خوشبویه دسر څخه ترپښو

**۲. در ریش وسبلت شانه کن یابی امان از دام وغم**
په ږیره اوبریتو ږمونځ وهه پیدابه کې خلاصی له قرض اوله غمه
**در سینه گردان شانه را ابرو بکن هم فرق سر**
په سینه کې وگرزوه ږمونځ هم په ورځو کې اوهم په لار دسر کې

**٣. یکسان تیمم هر دو را محدث بود خواهی جنب**

یو رنګه دی تیمم هرو دواړو لره که بې اودسه وی اوکه جنب

**چون تو نیابی آب را یا خوف بینی یا خطر**

هغه وخت چې نکړی پیدا اوبه یابیره وینی یا خطره

**۴. از جنس ارضی هر چی هست از خال وریگ وسرمه گچ**

دجنسه ځخه دمځکې هرڅه چې وی دخاوری درنجو دچینی ځخه

**سازی تیمُّم از نقع گر خاک باشد خوبتر**

کوه تیمُّم په ګرز سره که خاوره وی نو بهتره ده

**۵. در غسل کردن هم وضوء سخنی مگو با هیچکس**

په غسل کولو کې هم په اوداسه کې خبری مکوه دهیچا سره

**فارغ سوی چون از وضوء میخوان همی سور قدر**

چې خلاص سی کله داوداسه ځخه وایه هم سورة القدر

**۶. پیش از سخن بگذار تو از حق بخواهی حاجتی**

اول خبری پریږده ته نفل وکړه اوله خدایه وغواړه حاجت

**گردد روا آن حاجتت فی الحال یا زود تر**

وبه وګرزی هغه حاجت پوره فی الحال یابه پوره سی ژر

**دلغاتو حل:**

معطّر: خوشبو، ریش: ږیره، سبلت: بریت، شانه: ږمونځ، دام: قرض، فرق: لار، سرمه: رانجه، نقع: ګرز .

**تشريح او مطلب** :

۱. مسواك په هر اوداسه کی همیشه وهه، حتی په روژه کی یې لا هم وهه، خوشبویی لګول هم سنت دی، او څوك چې ظاهری خوشبویی پر بدن ولګوی الله ﷻ به یې په ثواب کی تول باطن دسره څخه ترپښو پوری ور خوشبویه کړی.
۲. او ږیره اوبریت ږمونځوه خلاص به سی درڅخه قرض. دارنګه دسینې په وربښتانو کی ږمونځ تیرول، او همدارنګه دسترګو په ورځو کی ږمونځ تیرول، او همدارنګه دسر په لار کی.
۳. او تیمم دجنب اودبی اودسه لپاره یورنګه دی هغه وخت چې اوبه نه وی یا خو اوبه وی مګر په استعمال کی یې بیره وی یاخطره وی.
۴. کم شی چې له جنس څخه دمزکی وی لکه خاوره یا ریګ یا رانجه یا کچ په هغه تیمم روا دی، همدارنګه په ګرز هم تیمم وهل کیږی، خوپه دې تولو شیانوکی خاوره ډیره ښه ده.
۵. په غسل او اوداسه کی خبری دچا سره مه کوه، کله چې فارغ سوې دغسل او اوداسه څخه نو سورة القدر وایه.
۷. که یو حاجت او محنت درته راسی نو دوه رکعاته نفل وکړه دخدای پاك ﷻ څخه خپل حاجت وغواړه، نو هغه حاجت به یافی الحاله پوره سی یا به ډیر ژر پوره سی.
په دې آخری بیت کی یې اشاره وکړه وصلوة الحاجة ته، دکم دپاره چې اول غسل کول کیږی، اوبیا تر غسل کولو وروسته دوه رکعاته لمونځ کول کیږی، وروسته له هغه بیا خپل حاجت غوښتل کیږی.

* * *

## ﴿ باب ششم در بیان نماز واحکام آن گوید ﴾

شپږم باب په بیان کی دلمانځه او دهغه داحکامو ویل کیږی

**١. داری بپا اوقات را ملعون سوی در ترک آن**
لره قایم وختونه دلمانځه لعنتی به سی په پرېښوولو دهغه
**تارک مصر کافر بدان هم جای او دوزخ شمر**
پرېښوونکی دلمانځه همیشه کافر وبوله ځای دده دوزخ وشمیره

**٢. چونتو کنی وقتین را یکجا جمع در روز شب**
چی ته کوی دوه وختونه یوځای جمع په ورځ یاپه شپه
**محبوس مانی یک حقب اندر جهنم هم سقر**
بندبه پاته سی یوه حقبه په جهنم هم په دوزخ کی

**٣. چونتو گذاری فجر را سخنی مگو با هیچکس**
چی ادا کی دسهار لمونځ خبری مه کوه له هیچا سره
**تا در طلوع میخوان دعا گردی تو شخص معتبر**
تر راختلو پوری دلمر وایه دعا وبه گرځی سړی معتبر

**۴. گردی بدوزخ سوخته آن جا بمانی سالها**
وبه گرزی په دوزخ کی سوځلی اوپه هغه ځای کی به پاته سی کلونه
**چونتو کنی ترک جمعه خمس جماعت ای پسر**
چی ته کوی پرېښوول دجمعی او دپنځو لمونځو ای ځوانه

**۵. سخنی مگو با هیچکس چون بشنو بانگ آذان**

خبری مه کوه له هیچا سره چې اوری اواز داذان

**مشغول در کار مشو می گو اجابت نامور**

اخته په هیڅ کار مه سه، قبلول کوه داذان ای نامور

**۶. ترک اجابت چونکنی یا خود سخن گویی در آن**

پریښوول دقبلولو چې کوی یا په خپله خبری کوی په هغه کې

**آید بلا هر زمان در پیش تو تعجیل تر**

رابه سی افتونه په هره زمانه کې ستا مخ ته په تلوار سره

**دلغاتو حل** :

نماز: لمونځ، بپا: برپایه، ادا کول، پرځای کول، ملعون: په لعنت کړل سوی، ترك: پرېښوول، مُصِر: همیشه، محبوس: بندی، قیدی، حُقْب: عربی لفظ دی په پیښ دحآء سره اتیا ۸۰ کالوته ویل کیږی او یو کال دری سوه شپیته ۳۶۰ ورځې دی، فجر: سهار، دسهار لمونځ، طلوع: را ختل، بانگ: آواز، اجابت: قبلولو داذان ته ویل کیږی.

**تشریح او مطلب** :

۱. اداکوه په خپلو وختونو کې لمونځونه که یې چیری پریږدی نو لعنت به درباندی وسی. همیشه پرېښوونکی دلمانځه کافر وبوله، اوهم یې ځای دوږخ وبوله.
۲. کله چې ته په شپه او ورځ کې ددوو وختونو لمونځ پر یوه ځای وکی نو یوه حقبه به پاته سی په جهنم کې.

۳. کم وخت چې دسهار لمونځ وکې خبرې دچا سره مه کوه تر لمر ختو پورې دعاوې کوه، ددې په برکت سره به ته یومعتبر سړې جوړسې.
۴. په دوږخ کې به وسوځې او هلته په کلو کلو پاته سې که چیرې ته دجمعې لمونځ اوپنځه لمونځونه په جماعت پریږدې.
۵. چې اذان شروع سې خبرې پریږده، اوپه هرکار چې اخته یې هغه پریږده، او داذان جواب ورکوه.
۶. کله چې ته پریږدې اذان ته جواب ورکول او دهغه قبول نورا به سې تاته آفتونو هروخت ډیر ژر.

**۱. بر پای داری چاشت را اشراق هم ناغه مکن**

ادا کوه لمونځ دڅاښت اواشراق هم مه پریږده

**گردی تونگر بیشکی یابی بسی از مال وزر**

وبه گرځې دولتمند بې له شکه پیدابه کې ډیر مال او زر

**۲. وقت تجهد نیم شب بگذار تو از صدق دل**

پروخت دلمانځه دتهجدپه نیمه شپه کې نفل کوه په اخلاص دزړه

**حق را بیابی بیشکی ایمن شوی از شور وشر**

خدای به پیدا کې بې له شکه خلاص به سې له شور اوشره څخه

**۳. نعمت بیابی بیکران گر تو بخیزی آنزمان**

نعمت به پیدا کې ډیر که چیرې ته پورته کیږې هغه وخت

**آنوقت وقت خاصگان هر گز نیابی جز سحر**

هغه وخت چې وخت دی دخاصانو هیڅکله به یې نکې پیدا بې له سحره

**۴. چونتو بخواهی دوستی باحق کنی باید که تو**

هروخت چې وغواړې دوستي دخداى پاك سره وکې بايد چې ته

**مشغول باشی صبحدم سازی وضوء وقت سحر**

اخته اوسه په سهارکې او اودس کوه په وخت کې دسهار

**۶. از فرض چون فارغ شوی غفران بخواهی آنزمان**

دفرضو څخه چې خلاص سې بخشش غواړه هغه وخت

**تا چون نماز مصطفٰی گردد نمازت نامور**

دپاره ددې چې لمونځ ستا په شان دپيغمبر ﷺ سې اى نامداره

**دلغاتو حل:**

اشراق: دلمر ختو څخه نيم ساعت وروسته وخت، څاښت: دوه ساعته دلمر ختو څخه وروسته ، ناغه: قضا، تونګر: دولتمند، مالداره، بسى: ډير، صدق: ريشتيا، اخلاص، ايمن: بيغمه، بيکران: بې شمېره، بخيزى: پورته کيږى، صبحدم: سهار وختى، غفران: بخښنه، عفوه.

**تشريح او مطلب :**

۱. داشراق او دڅاښت لمونځ هم مه قضاء کوه نوبه ډير مال او دولت او زر پيدا کړې .

۲. په اخلاص سره تهجد کوه دشپې په نيمايى کې، دقيامت په ورځ به دتکليف او درد څخه خلاص سې.

۳. که ته دغه وخت پورته سې دلمانځه دپاره، نو ډير نعمتونه به په دنيا او آخرت کې پيدا کړې داوخت دخاصو خاصو خلګو دى .

۴. کله چې وتر وکی بیا خبری مه کوه دهیڅا سره، اوچی دلمانځه څخه دماخستن خلاص سی فوراً بسترې ته ځه او خوب کوه.
۵. کله چې ته دا غواړی چې دوستی وکی دخدای ﷻ سره نوباید چې ته اخته یې په عبادت کی سهار .
۶. چې دفرضو څخه خلاص سی بخشش (دعا) غواړه دخدای پاك ﷻ څخه چې لمونځ ستا په شان دلمانځه دپیغمبر ﷺ سی.
مراد ددې دعا څخه هغه مشهوره دعا ده کمه چې تر فرضو وروسته کول کیږی یعنی: اَللّٰهُمَّ اَنْتَ السَّلَامُ وَمِنْكَ السَّلَامُ تَبَارَكْتَ يَا ذَا الْجَلَالِ وَالْاِكْرَامِ، کمه چې په ټولو کتابو کی داحادیثو مبارکه وو راغلی ده.

**۱. چون از نماز آئی برون فی الحال تو کرسی بخوان**
چې دلمانځه څخه خلاص سی فی الحال اية الکرسی وایه
**محتاج تو گردد جنان هم حور یابی در قصر**
مشتاق به دی سی جنتونه هم حوره به پیدا کی هم مانۍ

**۲. حاضر شوی چون بشنوی مرده کسی از اهل دین**
حاضریږه کله چې واوری داچې مړ سویدی یو مسلمان
**حاضر شدن یابی جزاء در ترک بینی صد ضرر**
په حاضریدو سره به پیدا کی جزاء اوپه پریښوولو کی سل ضرره

**۳. برپای دار جمعه را هرگز نگیری ترک آن**
کوه لمونځ دجمعی هیڅکله یې مه پریږده هغه
**باشد امیری ظالمی باغی بود یا داد گر**
که امیر ظالم وی اوکه باغی وی اوکه انصاف داره

**۴. میگو اذان اوقات را ناغه مکن ایجانمن**
وایه اذان وختو پنځو لره ناغه يې مه کوه ای روحه زما
**یابی جزا بیحد وعد اینجا نه گیری مزداگر**
پیدا به کی جزاء بی حده که دلته وانخلی مزدوری

**۵. مزدی مگیر امروز تو فردا جزا ضائع مکن**
مزدوری مه اخله نن ورځ دصبا جزاء مه ضائع کوه
**باشد امامت یا اذان تعلیم یا چیزی دگر**
که وی امامت یا اذان یا تعلیم یا بل شی

**دلغاتو حل:**

برون: دباندی، کرسی: آیة الکرسی چی دسورة البقرې دوه سوه پنځه پنځوسم نمبر **۲۵۵** آیت دی، دلته هم مونږ په تشریح کی رانقل کړیدی، جنان: جنتونه، قصر: مانۍ، مرده: مړی، اهلِ دین: یعنی خاوندان ددین، مراد ددې ځخه مسلمانان دی، جزا: بدله، ثواب، ترك: پرېښوول، امیر: باچا، حاکم، والی، باغی: هغه شخص چی دباچا ځخه بې امری کوی، داد: انصاف، عدل، دادگر: انصاف کوونکی، عدل کوونکی،مزدی: مزدوری، امروز: نن ورځ، فردا: صبا ورځ.

**تشریح او مطلب :**

۱. کله چی دفرضی لمونځو ځخه فارغه سوی، نو آیة الکرسی وایه، آیة الکرسی چی دسورةِ بقرې دوه سوه پنځه پنځوسم نمبر **۲۵۵** آیت دی، او هغه دا دی: اَللّٰهُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ ، لَا تَأْخُذُهُ سِنَةٌ وَلَا نَوْمٌ ، لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ

، مَنْ ذَا الَّذِي يَشْفَعُ عِنْدَهُ إِلَّا بِإِذْنِهِ ، يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ ، وَلَا يُحِيطُونَ بِشَيْءٍ مِنْ عِلْمِهِ إِلَّا بِمَا شَاءَ ، وَسِعَ كُرْسِيُّهُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ ، وَلَا يَئُودُهُ حِفْظُهُمَا ، وَهُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيمُ.

حافظ ابن کثیر رحمه الله علیه په خپل تفسیر کی ددې آیت په باره کی لیکلی دی:

لَها شأن عظيم قد صح الحديث عن رسول الله صلى الله عليه وسلم بأنَّها أفضل آية في كتاب الله. (تفسير ابن كثير)

یعنی دې آیت ته ډیر لوی فضیلت حاصل دی، په تحقیق سره راغلی دی درسول الله ﷺ څخه ددې آیت دفضیلت په باره کی داسی چی دا افضله آیت دی په قرآن کریم کی.

او امام بقاعی رحمه الله علیه لیکلی دی:

آية الكرسي سيدة آي القرآن التي ما اشتمل كتاب على مثلها

(نظم الدرر فی تناسب الایات والسور للامام البقاعی)

ترجمه: آیت کرسی دقرآن کریم دآیتونو سردار دی، او داسی آیت دی چی داسی آیت په هیڅ یوه بل آسمانی کتاب کی نه دی راغلی.

ددې آیت دفضیلت په باره کی چی کم احادیث راغلی دی هغه خو بیخی ډیر دی، لیکن موږ به دمشت نمونهٔ خروار په اندازه باندی یو څو احادیث دلوستونکو دپاره دلته را نقل کړو.

١. قال عليه الصَّلاة والسَّلام: إن أعظمَ آيةٍ في القرآن آيةُ الكرسي . من قرأها بعث الله تعالى ملكاً يكتُب من حسناته ويمحو من سيئاته إلى الغد من تلك الساعة (ابو سعود)

نبی ﷺ فرمایلی دی: په تحقیق سره لوی آیت په قرآن کریم کی آیتِ کرسی ده، چاچی دا وویل الله ﷻ یوه ملائکه را استوی چی دده نیکی

ليکی او دده دګناهونو څخه ګناوی خرابوی دسبا ورځی تر همدغه ګړی پوری. داحديث شريف علامه ابو سعود الحنفی په خپل تفسير کی تر آيتِ کرسی لاندی را نقل کړيدی.

۲. عن الأسفع البكري: أن النبي صلى الله عليه وسلم جاءهم فسأله إنسان: أي آية في القرآن أعظم ؟ فقال النبي صلى الله عليه وسلم: { اللَّهُ لا إِلَهَ إِلا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ لا تَأْخُذُهُ سِنَةٌ وَلا نَوْمٌ } حتى انقضت الآية. (١). (تفسيرابن كثير)

ترجمه: داسفع بکری رضي الله عنه څخه روايت دی چی نبی کريم ﷺ دوی ته راغی او بيا دده ﷺ څخه يو چا پوښتنه وکړه چی کم آيت په قرآن کريم کی ډير لوی دی ؟ رسول الله ﷺ جواب ورکی چی دا آيت شريف: اللَّهُ لاَ إِلَهَ إِلا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ لا تَأْخُذُهُ سِنَةٌ وَلا نَوْمٌ ، يعنی آيت الکرسی.

۳. عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: " من قرأ حين يصبح آية الكرسي وآيتين من أول " حٰم، تنزيل الكتاب من الله العزيز العليم " (سورة الغافر ١–٢) حفظ في يومه ذلك حتى يمسي ومن قرأهما حين يمسي حفظ في ليلته تلك حتى يصبح" (٢) . (تفسير البغوی)

ترجمه: دابی هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چی رسول الله ﷺ وفرمايل:

---

(١). رواه الطبرانی فی المعجم الكبير (١/٣٣٤) وقال نور الدين الهيثمي في المجمع (٦/٣٢١): " فيه راو لَم يسم وقد وثق، وبقية رجاله ثقات ". انتهٰی

(٢). أخرجه الترمذي: في فضائل القرآن – باب ما جاء في سورة البقرة وآية الكرسي ٨ / ١٨٢ وقال هذا حديث غريب. وقال الامام السيوطی فی تفسيره الدر المنثور فی تفسير آية الكرسی فی ذيل هذا الحديث: أخرجه البخاري في تاريخه والطبراني وأبو نعيم في المعرفة بسند رجاله ثقات. انتهٰی فالحديث مقبول خصوصا فی الفضآئل التی هی مَجمع التساهل للمحدثين.

کم څوك چې دسهار په وخت کې آیت کرسی او دسورة الغافر – چې په ځلور ویشتمه ۲۴ پاره کې دی – اولنی دوه آیتونه – یعنی حٰم ، تَنْزِيلُ الْكِتَابِ مِنَ اللهِ الْعَزِيزِ الْعَلِيمِ ، ووایی الله ﷻ به دهغه حفاظت وکی په دغه ورځ کی تر څو چی ماښام کیږی او که یې دماښام په وخت کی ووایی الله ﷻ به یې حفاظت وکی ترڅو چی سهار کیږی .

**۴. روي عن رسول الله صلى الله عليه وسلم أنه قال : « ما قرئت هذه الآية في دار إلا اهتجرها الشياطين ثلاثين يوماً ولا يدخلها ساحر ولا ساحرة أربعين ليلة »**

**(ذکره الامام فخر الدین الرازی فی تفسیره الکبیر)**

ترجمه: درسول الله ﷺ څخه روایت سویدی چی ده ﷺ وفرمایل: چاچی دا آیتِ کریمه په یو کور کی وواییه نو دهغه کوره څخه شیطانان دیرش ۳۰ ورځې لیری کیږی اونه به هم دې کورته جادوګر، یا جادوګره [1] داخله سی تر ځلوېښتو ورځو پوری.

**۵. أخرج البيهقي في شعب الإيمان عن أنس رضي الله عنه قال : قال رسول الله ﷺ « من قرأ في دبر كل صلاة مكتوبة آية الكرسي حفظ إلى الصلاة الأخرى ، ولا يحافظ عليها إلا نبي أو صديق أو شهيد » . (تفسير الدر المنثور)**

ترجمه: دحضرت انس رضي الله عنه څخه روایت دی چی رسول الله ﷺ وفرمایل: چا چی وروسته ترهر فرضی لمانځه آیة الکرسی وویله هغه به تر بل لمانځه پوری دالله ﷻ په امان کی وی، او همیشه توب نه کوی پر ویلو باندی ددې آیتِ کرسی مګر نه نبی یا ولی _ صادق _ یا شهید.

---

[1]. په دې حدیث شریف دجادوګر، یا جادوګری ذکر راغلی دی، خو مراد ورڅخه تاثیر دجادو دی، یعنی ددې آیت په برکت سره به دې کور ته دجادو هیڅ اثر ونه رسیږی، برابره خبره ده که دا جادو دجاوګر نارینه وی اوکه دجادوګری زنانه. والله اعلم

**٦. أخرج البيهقي في شعب الإيمان من طريق محمد بن الضوء بن الصلصال بن الدلهمس عن أبيه عن جده « أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال : من قرأ آية الكرسي في دبر كل صلاة لم يكن بينه وبين أن يدخل الجنة إلا أن يموت ، فإن مات دخل الجنة » . (ايضا من الدر المنثور)**

ترجمه: درسول الله ﷺ څخه روايت چې څوك آيت كرسى دهر لمانځه په آخر كى وايى نو دده او جنت ته دداخليدو په مابينځ كى نوره فاصله نسته مګر نه دا چې دى مړ سى _ يعنى بس جنتى جنتى دى _ كه چيرى مړ سو نو جنت ته به داخل سى.

**٧. عن أبي هريرة رضي الله عنه أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال : « لكل شيء سنام (١) وإن سنام القرآن البقرة وفيها آية هي سيدة آي القرآن آية الكرسي » أخرجه الترمذي . (نقله الخازن فى تفسيره)**

ترجمه: حضرت ابو هريرة رضي الله عنه درسول الله ﷺ څخه روايت كړيدى، چې رسول الله ﷺ وفرمايل: دهر شى دپاره لوړ او ښه وى، اوپه قرآن كريم ډير لوړ او ډير ښه سورة بقرة ده، اوپه دې سورة كى يو آيت دى چې هغه دآيتونو سردار دى، او هغه آيتِ كرسى دى.

خلاصه داچې علماوو ددې مبارك آيت په فضيلت اوتفسير كى مستقل كتابونه ليكلى دى، خو په دې لږو فضآئلو نقل كولو باندى دلته بس والى كوو. والله سبحانه وتعالى اعلم

❁

(١). قال الخازن فى توضيح لفظ السنام بعد سرد الحديث المذكور: قوله: إن لكل شيء سناماً. سنام كل شيء أعلاه تشبيهاً بسنام البعير والمراد منه تعظيم هذه السورة والسيد الفاضل في قومه والشريف والكريم وأصله من ساد يسود وقوله هي سيدة أي القرآن أفضله . آهـ

نو دلته هم مصنف صاحب رحمة الله عليه ولمونځ کوونکی ته وایی چی کله دلمانځه څخه فارغه سوی نو سمدستی آیتِ کرسی وایه، اوکله چی دا عادت په تا کی پیدا سی، نو جنتونه به تاته شوقمند او خواهشمند سی یعنی جنتونه به دا وایی چی یا الله جل جلاله دا فلانی شخص ماته راولی، او همدارنګه به دې حوری خواهش کوونکی سی، او دالله جل جلاله دطرفه څخه به په جنتو کی مانۍ درکول سی.

۲. اوکله چی دیوه مسلمان دمرګ خبر واوری نو سمدستی بې جنازې ته حاضرېږه، په حاضریدو کی بې ډیر لوی ثواب دی، مګر بې له عذره په نه حاضریدو کی بې ډیر تاوانونه دی. مثلاً چی بیابه صباستا جنازې ته هم څوك نه حاضرېږی، او داسی نور تاوانونه.

۳. او قائم لره لمونځ، یعنی همیشه بې پرځای کوه، او دجمعی لمونځ مه پرېږده، باچا که ظالم وی اوکه بی انصافه وی اوکه انصاف داره وی.

کله چی قانون پخوا داسی وو چی دمحلی او ولایت او ولسوالی امیر به دجمعی لمونځ ورکوی، نوځکه بعضو کسانوته به داخیال پیدا کیدی چی دا امیر پر شریعت برابر نه دی، نه په ده پسی لمونځ نه صحیح کیږی، او دا به بې هم په وسه نه وه چی دجُمعې دلمانځه دپاره بل ښار او وطن ته ولاړ سی نو ځکه پردې بناء باندی به ورڅخه دجمعې لمونځ پاته وو، نو مصنف رحمة الله عليه دلته دا بیانوی چی دباچا اوامیر دبدوالی دوجی څخه دجمعې لمونځ پرېښوول نه دی پکار، بلکه برابره خبره ده که هغه ظالم وی، که باغی وی، اوکه انصاف داره وی، نوته خپل لمونځ پسی کوه ځکه چی لمونځ بیا هم پسی صحیح کیږی.

۴. او اذان پرخپل خپل وخت کوه، ناغه کوه بې مه، که بې ناغه کړی یعنی دلمانځه دداخلیدو پر وخت باندی دلمانځه دپاره اذان ونکړی، نو

ډیره سزا به یې ووینی، اوکه اذان پرخپل خپل وخت وکړی او بې له مزدوری یې وکړی نو ډیر ثواب به پیدا کړی.

**۵**. او په دې دنیا کی مزدوری مه اخله پرنیك كار باندی سبا یعنی په آخرت کی به یې ډیر ثواب تر لاسه کړی، برابره خبره ده که دا نیك کار امامت وی اوکه اذان وی اوکه تعلیمِ دینی وی اوکه یوبل ددین کار وی، نو چی وس او طاقت وی مزدوری دی نه وربان‌دی اخلی.

## باب هفتم در بیان زکوٰة وصدقات ومثل آن گوید

اووم باب ثابت دی په بیان کی دزکات او خیراتونو او دې ته ورته دنورو مسئلو په باره کی

**۱. چون مال یابی از خدا خواهی بماند سالها**

هرکله چی مال پیدا کی او دخدایه غواړی چی پاته سی کلونه

**ربعی بده از عشر آن را که بینی مفتقر**

څلورمه یې ورکوه دلسمی دهغه څخه چی ووینی فقیر

**۲. دو صد درم شرعی چو شد سالی بماند دست تو**

دوه سوه روپی چی سی یوکال په لاس ستا کی

**فاضل بود از حاجت داین نباشد پیش در**

زیاتی وی تر حاجت، پوروړی نه وی ستا په دروازه کی

**۳. مثقال عشرین از ذهب نیمی بده مثقال تو**

مثقالونه چی سل سی دسرو زرو څخه نونیم مثقال ورکوه ته

**پنجی اذان دو صد درم یابی خلاصی از سقر**
پنځه روپۍ ورکوه ددوو سوو څخه بیا به پیدکړی خلاصون ددوږخه

**دلغاتو حل:**

ربعی: څلورمه، عُشر: لسمه، مفتقر: محتاجه، فاضل: زیات، ذهب: عربی لفظ دی په معنی دسره زر .

تشریح او مطلب :

۱. کم وخت چی مال پیداکی اوکال ورباندی تیر سی نویې زکوٰة ورکوه څلورمه دلسمی حصی څخه هغه څوك چی فقیر او مسکین وی.
۲. دوه سوه درهمه شرعی چی ستا ترحاجت زیات وی او دپوره څخه هم خلاص وی او یوکال پوره یا اکثره کال ستا په ملك کی پاته سی.
۳. که شل مثقال سره زر وی نیم مثقال ورکه، پنځه روپۍ ورکوه ددوو سوو درهمو څخه، په دې سره به ته خلاصون پیدا کی ددوږخ څخه.

**۱. پیرایه چون باشد ترا زان هم زکوتی فرضدان**
کالې چی تا لره وی دهغه څخه هم زکوٰة فرض وبوله
**تا بر تو ماند سالها باید زتو بنت وپسر**
ددی لپاره چی ستا څخه پاته سی ډیرکلونه لور یا هلك ته

**۲. اسپی خری سودا کنی در هر سری دینار ده**
آسونه چی اخلی او سودا کوی یې نو پرهر سر باندی یې یو دینار ورکه
**پنجی بیابی از شتر یک گوسفند از ماده نر**
پنځه چی پیدا کی داوښانو څخه یو پسه ورکه که ښځه وی اوکه نر

**۳. از گاو ده یکساله وز چهل غنم ده یکسری**

له غوایانو څخه یوکلنی اوله څلویښتو پسو څخه یو سر ورکه

**یکساله راده ازغنم پنجی چویابی ازشتر**

یوکلنی ورکوه له پسو څخه پنځه چی پیدا کی له اوښانو څخه

**دلغاتو حل** :

پیرایه: دښایست لپاره چی پربدن باندی کم زیور اچول کیږی، بنت: لور، اسپ: آس، شتر: اوښ گوسپند: پسه، ماده: ښځه، گاؤ: غوییې، غنم: پسه.

تشریح او مطلب :

۱. زیات زیوارت چی پراته وی هم زکاة پکښبی فرض دی ، او زکاة یې ورکول پکار دی چی ددې په سبب سره الله ﷻ دانسان په مال او اولاد کی برکت اچوی.

۲. او هغه آسان چی رانیول کیږی او خرڅول کیږی په هغو کی دهر یوه پر سر یو دینار دی، او اوښان چی کله پنځو ته ورسیږی په هغوکی یو پسه دی.

۳. یعنی اوښان چی پنځو ته ورسیدل او کال ورباندی تیر سی او پر بیابان گرزی یوپسه ورکول فرض دی، دلسو غوایانو څخه یو گیلگی دیوه کال ورکه او دڅلویښت پسو څخه هم یو پوسه ورکه.

ددې زکاتو زیات تفصیلونه دفقهی شریفی په کتابو کی کتلای سی.

## در بيان زكوٰة زراعت وصدقه ودعا

**۱. از غله عشری بده چون تو زراعت میکنی**
دغلو څخه لسمه حصه ورکه کله چی ته کرل کوی
**ور نه شوی بزگار هم برکت نیابی در ثمر**
که یې نه ورکوی سی به گنهگار برکت به یې نه وی په میوه کی

**۲. مال مزکی بیشکی هم بر تو ماند هم ولد**
مال چی زکوٰة یې ورکی پاته به سی ستا وزوی ته
**آتش نگردد گرد او نی غرق گردد در بحر**
اور نگرزی پرشا وخوا دهغه نه به ډوب سی په دریاب کی

دلغاتو حل :

زراعت: کښت، غله: دانه، عشری: لسمه حصه، ثمر: میوه، مزکٰی: هغه مال چی زکاة یې ایستل سوی وی.

تشریح او مطلب :

۱. کم شیان چی کری اواوبه یې دآسمان څخه وی په هغه کی لسمه حصه ورکه نه به گنهگار یې نه به یې برکت کم وی.
۲. او دکم مال چی زکوٰة ووزی هغه برکت لری ستا وبچیانو ته به لا پاته وی، هغه څه چی ته په زکاة کی ورکی هغه دخدای ﷻ سره محفوظه کیږی نه اور سوځی نه په دریاب غرقیږی.

**۱. مانع شوی زکوٰة را صلوة را آری بجا**
منع کونکی چی سی دزکوٰة او لمونځ راوړی پر ځای باندی
**قصری نیابی در جنان افتاد باشی پیش در**
بنګلی به پیدا نکی په جنتو کی لویدلی به یې په دروازه کی یې

**۲. صدقه بده از مال خود از خاصه مال خویشتن**
خیرات ورکوه دماله خپل څخه خاص له مال خپله
**مستان تو صدقه از کسی باشد زکوٰة یا نذر**
مه اخله ته صدقه له سړی څخه که زکوٰة وی یا که نذر

**۳. نا وجه بدهی صدقه را داری را ازان طمع جزاء**
دحرامو څخه چی ورکوی صدقه او امید دثواب لری
**اثم شوی دوزخ روی از خمر خورد آن بتر**
ګنهګار به سی دوزخ ته به ولاړ سی دشرابو ترخوړنکی دا کار بددی

**۴. درویش چون گوید دعا داند یقین نا وجه را**
فقیر چی دعا کوی په یقین سره حرامو لره
**آثم شود او زین گنه ملعون بود هم خاک سر**
ګنهګاربه سی دی ددی ګنه څخه لعنتی هم خاوری په سر

**۵. چونتو برانی بر زبان نا وجه خوردن تسمیه**
هر وخت چی راوړی پرژبه دحرامو خوړلو په وخت کی بسم الله

**کافر شوی دوزخ روی اینحکم در خانی نگر**
کافربه سی دوږخ ته به ولاړ سی داحکم په مجموعه خانیه کی وګوره

**۶. گر خفیه بدهی صدقه ایمن شوی از قهر حق**
که چیری ورکوی په پټه سره صدقه خلاص به سی دقهره دخدای

**چون نوح گردد عمر تو ده چند یابی مال وزر**
لکه دنوحؑ وګرزی به عمر ستا لس چنده پیدابه کی مال او زر

**۷. صدقه بده از بهر حق نی بهر نام وریا**
صدقه وکه لپاره دخدای ﷻ نه دنامه او ریا لپاره

**چون تو بریا صدقه دهی ذره نیابی از اجر**
کم وخت چی یې په ریا ورکوی یوه ذره به پیدا نه کړی جزاء

تشریح او مطلب :

۱. دجنت نعمتونه به پیدانه کی اونه به هم وداخل سی که څه هم چی لمونځونه کوی تر څوچی زکوٰة هم ور نکی.
۲. خیرات له خپله مال څخه ورکوه ته بیا له خلګو څخه زکوٰة او نذر او صدقه مه اخله.
۳. دحرامو څخه چی صدقه ورکوی دثواب امید مه ساته او ګنهګاره هم یې توبه ځینی وکاږه .
۴. بیا کم فقیر ته چی یې ورکوی او هغه په خبر وی چی دا حرام دی او بیا هم دعا کوی ګناهګار به سی دی هم ددې ګناه څخه .
۵. په فتویٰ مجموعة خانیة کی دی چی په حرامو خوړلو بسم الله ویل

کفر دی. ددې معنٰی داده چی حرام خوړل غټه گناه ده لکه کفر یعنی کفر نه دی خوکه یې حلال وبولی بیا کفر دی.
۶. صدقه په پټه سره زیات ثواب لری نو په پټه سره یې ورکوه، اوستا په مال کی به برکت هم راسی.
۷. او صدقه ورکوه دپاره دخدای پاك ﷻ نه دپاره دنامه اونه دپاره دریا، اوکله صدقه په ریا سره وی نو بیا په هغه کی ثواب نسته.گ

**۱. صدقه بده درویش را ایذاء مکن منت منه**
خیرات ورکوه فقیر لره ضرر مه ورکوه احسان مه پر ایږده
**در زیر نه تو دست خود تا دست او گردد زبر**
دلاندی ونیسه ته لاس خپل چی لاس دده بالا سی

**۲. گندم بده تو نیم صاع خرما وجو اضعاف آن**
غنم ورکوه نیمه کاسه خرما او وربشی دوچنده دهغه یوې کاسی
**در فطر این واجب شده اضحٰی بکش شاة وبقر**
په سرسایه کی دغه واجب ده په لوی اختر پسه او غوییی حلال کړه

**۳. گاؤ شتر از هفت کس شاتی بکش از یک نفر**
غوا اواوښ داوو کسانو پسه مړ کړه دیوه سړی څخه
**بر پل چو فردا بگذری چون برق لامع میگذر**
په پل صراط چی صبا تیریږی لکه بجلی روښانه به تیر سی

**۴. چون پیش آید حاجتی یا زحمتی صدقه بده**
چی مخ ته راسی یوحاجت یازحمت خیرات ورکړه

**صحت شود حاجت روا زحمت رود بیرون زدر**

جوړبه سی حاجت به دی خلاص سی، رنځ به دباندی وزی ژر

**۵. گر صدقه خواهی تادهی باری بده ارحام را**

که خیرات کوی خپلو قریبانو ته یې ورکوه

**درویش را هرگز مده ایشان چو بینی مفتقر**

فقیر لره یې مه ورکوه چې دوی فقیران ووینی

**۶. صدقه بگرداند بلا خشم خدا شاند فرو**

خیرات لیری کوی رنځ او قهر دخدای کښته کوی

**هرگز نیاید نزد تو آفت بلا خوف وخطر**

هیڅ وخت به نه راځی درته آفت اوبلا بیره او خطره

دلغت حل :

ایذاء: ضرر، منت: احسان، صاع: کاسه، جو: اوربشه، اضعاف: دوچنده. اضحٰی: لوی اختر، لامع: روښانه، ارحام: قریبان.

تشریح او مطلب :

۱. خیرات چې ورکوی فقیرته نو ضرر او احسان مه ورباندی ایږده پر هغه فقیر. او خپل لاس کښته نیسه.
۲،۳. دغنمو څخه نیمه کاسه چې پاوکم دوه سیره کیږی او دخرماوو او داوربشو څخه یوکاسه ورکوه ځکه چې سرسایه هم واجب ده، په لوی اختر کی پسه دیوه سړی اختری کیږی او غوایی او اوښ داوو کسانو

څخه اختری کیږی.
فائده یې داده چی پر پل صراط تیریږی نو لکه تیزه بجلی دغسی به تیر سی .
۴. کله چی تاته څه حاجت او تکلیف یا رنځ پیښ سی، نو ته صدقه ورکوه ځکه چی په دې سره مقصد ترلاسه کیږی.
۵. خیرات چی ورکوی نو کوښښ وکه چی اول یې خپلو قریبانو ته ورکی ځکه اول ددوی حق دی .
۶. او صدقه قهر او غضب دخدای ﷻ درڅخه لیری کوی، ددې وجی څخه همیشه صدقه ورکوه.

## باب هشتم در بیان روزهائی رمضان المبارک گوید

**۱. روژه بکن نیت بدل رمضان را چو دیدی ماه را**
روژه ونیسه اونیت په زړه باندی وکړه چی ووینی میاشت
**غیبت مکن فحشی مگو از لاغ وبازی کن حذر**
غیبت مه کوه ښکنځل مه کوه له بدو ویلو څخه پرهیز کوه

**۲. با آب کن افطار را چون گرم بینی از هوا**
په اوبو ماتوه روژه هغه وخت چی گرمی ووینی له هوا څخه
**افطار با خرما بکن باشد هوا چون سرد تر**
ماته کړه روژه په خرما چی وی هوا سړه زیاته

**۳. افطار خواهی چون کنی از حق بخواهی حاجتی**
روژه ماتول چی وغواړی نو له خدای پاك څخه حاجت غواړه

**در هر مهمی کان ترا دشوار باشد ای پسر**
هر کار چې هغه تالره سخت وی ای ځوانه

**۴. روزه بداری بهر حق نی بهر نام ونی ریا**
روزه ساته لپاره دخدای پاك نه دپاره دنامه او دریا
**طعمیکه میخوردی بشب افطار کن هم آنقدر**
هغه شی چې خوری دشپې په هغه هم روژه ماته کړه هم هغه قدر

**۵. طعمیکه میخوردی بچاشت آنرا مخور درویش ده**
هغه طعام چې خوری یې غرمه هغه فقیرته ورکړه
**گر تو نگهداری خوری چندان نیابی از اجر**
که یې ته ساتی خوری یې بیابه پیدانه کی ثواب

**۶. گه گه بداری نفل را مفطر نباشی دائماً**
کله کله ساته نفلی روژه ماتوه یې هم مه همیشه
**هم بیض را داری بپا باشی بخانه یا سفر**
هم دځوارلسمی او دیارلسمی دمیاشتی وساته روژه که په کور کی یې
که په سفر کی

تشریح او مطلب :

۱. دروژی لپاره نیت کوه چې کم وخت میاشت دروژی ووینی غیبت مه کوه بدی خبری هم کوه، دعبثیاتو، بې فآئدې کارونو، بی معنی خبرو او داسی نورو افعالو څخه ځان ساته.

۲. کم وخت چې دګرمۍ روژه وي په اوبو سره روژه ماته وه اوکه په يخنۍ کې وي په خرما سره يې ماته وه .
۳. کم وخت چې روژه ماتوي په دغه وخت کې دخدای ﷻ څخه خپل حاجتونه غواړه.
۴. روژه صرف دپاره دخدای ﷻ نيسه، نه دپاره دنامه او ريا، څومره چې عادي خوراك کوي روژه مات هم هغومره کوه.
۵. کم خوراك چې دغرمې دخوا څخه کوي هم په خپله مه خوره، او فقير ته يې ورکوه، چې ثواب ترلاسه کړې.
۶. کله کله نفلي روژه هم نيسه خوهميشه يې مه ماته وه خاص بيا په څلوارلسمې دمياشتې او ديارلسمې دهرې مياشتې ښه کار دی، نفلي روژه نيسه که کوريې که په سفرکې.

**۱. روزه بداری در رجب اول میانه اخرش**

روژه ولره درجب په اول او مينځ اوآخر کې

**ترویه داری روزه را هم عرفه هم قدری نحر**

دائم دذی الحجی روژه ولره هم په نهم هم څه داختر څخه وروسته

**۲. روزه خمیس وجمعه هم شش روز از شوال هم**

دروژی دپنجشنبې او دجمعې هم شپږ روژی دکوچنی اختر

**صائم شوی در هر دو مه از بهر حق روز قمر**

روژه ولره په هرو دوو مياشتو په لسم دمحرم او دذی الحجی دخدای ﷻ دپاره په هغو ورځو کې چې سپوږمۍ وي

*   *   *

**۳. میری که باشد لشکری دائم بگرد در روز شب**

یو سردار چي وی حاکم دلښکر همیشه گرزی دورځی هم دشپی

**از نفل دارد روزه گر افطار باشد خوبتر**

که نفلی روژه ونیسی خو ماته ویل ښه کار دی

**۴. صائم چو برگ شب خورد زانزنگ ماند در دهن**

روژه دار چي خوراك وکی دشپی کم چي پاته سی په خوله کی

**مکروه باشد همچنین بل خوف باشد از فطر**

مکروه ده بلکی بیره یې ده دماتولو

**۵. دائم بخور طعمی سحر ترکش نگیری هیچگاه**

همیشه خوراك کوه په پیشلمی پریښوول یې مه کوه هیڅری

**هرگز نپرسد حق ترا از طعم فطر وهم سحر**

هیڅکله به پوښتنه خدای ﷻ نه کوی دپیشلمی هم دروژه مات

**۶. روزه بدان اسرار حق با کس مگو این راز را**

روژه وبوله یو له راز دخدای څخه مه یې وایه هیچاته

**روزه چنان پنهان بکن نی زن بداند نی پسر**

روژه داسی پټه ساته چي خبرنه سی ښځه او هلك

**۷. فردا چو حق اعمال را بدهد بخصمان بتر یکی**

صبا چي خدای ﷻ ورکوی علمنامی دښمنانو ته

**طاعت که جملگی خصمی برد روزه مگر**

عبادت چي ټول وی وړی یې مگر روژه نه سی وړای

تشریح او مطلب :

۱. روژه ونیسه په رجب کی په اول اومابین اوپه آخیرکی هم په اتم هم په نهم دذی الحجی باندی.
۲. اوله روژه دجمعرات دورځی اودجمعی اوشپږ روژی دکوچنی اختر دورځی څخه وروسته ونیسه.
۳. که باچا دلښکر یې شپه او ورځ گرزی ترنفلی روژی درته ماتول ښه کار دی .
۴. که دشپې څه یو شی په غاښو کی پاته سی بیا روژه مکروه کوی بلکی خطره دماتیدو ده.
۵. پیشلمۍ همیشه کوه او هیڅکله یې مه پرېږده، او خدای ﷻ دسړی څخه دروژه مات او پیشلمی په باره کی پوښتنه نه کوی.
۶. روژه داسی پټه ونیسه چی کوچنی اوښځه هم درباندی خبرنه سی، ځکه چی دا دخدای ﷻ راز دی.
۷. او روژه یو داسی عمل دی چی دآخرت په ورځ چی کله یوه انسان دبل انسان سره ظلم کړی وی نوپه بدله کی چی یې کم اعمال ورکول کیږی په هغو کی روژه داسی عمل دی چی دا هغه ته په بدله کی نه ورکول کیږی.

**۱. وقتی در آئی مسجدی باید در آئی معتکف**
کم وقت چی راځی مسجد ته نو راځه په نیت داعتکاف
**رمضان چو آخر عشر شد شو معتکف یابی قدر**
درمضان چی اخیر لس سی اعتکاف کونکی سه پیدا به کی شب قدر

**۲. يکدم مشو بيرون ازان جزء حاجت غسل ووضوء**

يو ساعت مه کيږه دباندی ماسوا دحاجت اودغسل او داوداسه څخه

**بيعی بکن هم تو بخر کالا نياری در نظر**

بيعه کوه هم ته اوهم يې اخله هغه شی مه راوړه دننه ومسجد ته

**۳. مخور طعام وآب هم در اعتکاف وخسپ هم**

خوره طعام اواوبه هم په اعتکاف کی او هم بيديږه

**خاموش مشو از ذکر حق ميخوان قرآن هم شام وسحر**

پټه خوله مه کيږه له ذکره دخدای پاك او دقرآن هم ماښام اوهم سهار

دمشکلو الفاظو حل :

معتکف: هغه سړی ته وايی چی دروژی په آخرو لسو کی په مسجد کی ناست اوسی، خسپ: بيده کيدل.

تشريح او مطلب :

۱. کم وقت چی مسجد لره راځی نو په نيت داعتکاف دننه کيږه يعنی بغير له لمانځه. او درمضان په اخره عشره يعنی لسو شپو کی هلته په مسجد کی اوسه.
۲. او يو ساعت هم مه راوزه بغيرله ضرورته يو لپاره دحاجتی انسانی او غسل لپاره او داوداسه لپاره راوزه، اوکم وخت چی شی رانيسی هغه مسجد ته دننه مه وړه .
۳. خوراك کوه اوبه چښه او بيده کيږه قرآن وايه سهار اوماښام.

## باب نهم دربيان حج وجهاد با كافران گويد

**١. از خانه بيرون مرو جز از جماعت جمعه هم**
له كوره دباندې مه ځه ماسوا له جماعت اوله جمعې څخه
**بيرون بدان آفت بلا وقتى مكن نيت سفر**
دباندې وبوله آفت اوبل هيچرې مه كوه نيت دسفر

**٢. گر تو سفر خواهى كنى بارى سفر كعبه بكن**
كه چرې ته سفر غواړې چې وكې نو يو وارې سفر دكعبې وكه
**تا تو كنى طواف حرم با لب ببوسى آن حجر**
ددې لپاره چې طواف وكې دحرم، په شونډان ښكل كړې هغه ډبره

وضاحت او مطلب :

١. له كور دباندې گرسره مه ځه كه بياځې نو دپنځو لمونځو لپاره ځه او دجمعې لپاره ځه.
٢. اوسفر مه كوه كه يې كوې بيا دكعبې لپاره ځه ځكه يو وار تلل فرض دي چې طاقت ولرې.

**١. در حج رفتن فرض دان گر زاد دارى راحله**
حج ته تلل فرض وبوله كه چيرې توښه لرې اوسفر خرڅ
**يكساله نان ده اهل را راهى چو بينى بى خطر**
ديوه كال ډوډې وركه وكور ته، كله چې لار ووينې بې خطرې

**۲. چونتو بیاری حج بجا در تو نماند یک گنه**

چې ته په ځای راوړې حج په تاکې نه پاتېږي يوه گناه

**شادان روی اندر جنان باحور شینی در قصر**

خوشحال به ولاړ سې جنتوته سره دحورو به کښېنې په بنگلو کې

**۳. باید مدینه هم روی بکنی زیارت مصطفٰی**

باید مدینې ته هم ولاړ سې کوه زیارت دپیغمبر ﷺ

**تا پاک گردی از گنه با او نشینی در صدر**

چې ته پاك وگرزې دگنه څخه ، سره دده ﷺ به کښېنې په جنتوکې

**۴. آنکس که اوحجی کند نرود زیارت مصطفٰی**

هغه څوك چې حج وكې او نه ورسي زيات لره دنبي ﷺ

**گفته جَفَا نِیْ آنرسول تحقیق دانی ای پسر**

ويلي يې دی لفظ د: جَفَا نِيْ هغه رسول، صحیح يې وگڼه ای ځوانه

**۵. گر تو مسافر میشوی تنها مروی یاری طلب**

که ته مسافر کېږې مه ځه تنها ملگری طلب کړه

**همسایه حاصل کن نگو آنگه برو خانه بخر**

يو همسايه پيدا كړه نيك هغه وخت څه دكور واخله خبره

**۶. گر تو سفر خواهی کنی روز قمر کم مشتری**

که چیری ته سفر غواړې کوه يې په ورځ ددوشنبې نه دجمعرات

**راحت بیابی زان سفر هم گنج یابی هم گوهر**

خوشحالي به پيدا كړي دهغه سفرهم به خزانه پيدا كي هم ملغرى

## دمشكلو الفاظو معنٰى :

زاد: هغه شى ته وايي چى دلارى اوتگ راتگ خرچه وى، راحله: دموټر دجهاز انتظام، (جَفَانِيْ) پيغمبر ﷺ وايي چى كم سړى حج وكى او زما زيارت نه كوى هغه زما سره ظلم وكى.

## وضاحت او مطلب :

١. حج ته تلل فرض دى كم سړى چى دلارى مكمل او دكور دعيال خرڅ او نفقه ولرى.
٢. كم وخت چى حج وكى خداى ﷻ به يې دگناهونو څخه صفا كړى او دجنت او حورو مستحق به سى.
٣. اوچى حج كوى زيارت دپيغمبر ﷺ هم كوه، ترڅو چى پاك سى دگناه څخه او دنبى ﷺ به په يو ځاى سى په مانيو كى دجنتو.
۴. اوكه ته حج وكى مگر دنبى ﷺ زيارت ونكى، نو هغه نبى ﷺ درته ظالم وايي.
۵. سفرچى كوى تنهايې مه كوه بلكه ملگرى هم پيدا كوه، ځكه چى ديوازى سفر څخه رسول الله ﷺ منعه كړيده.
٦. اوچى سفركوى په ورځ ددوشنبې يې كوه او دپنجشنبى په ورځ سفر مه كوه.

*   *   *

**۱. روز زحل میکن سفر آئی سلامت جانمن**
پہ ورځ دهفتی کوه سفر رابه سی سلامت ای روحه زما
**در حال بینی روی شان دیری نمانی در سفر**
سمدستی به وینی مخ ددوی ډیربه پاته نه سی پہ سفرکی

**۲. عقرب چو بینی ماه را از خانه بیرون در مرو**
پہ عقرب کی چی ووینی میاشت دکوره مه وځه
**در برج ثالث هم مرو مانی تو آنجا دیر تر**
پہ برج دریم کی مه وزه پاته به سی هلته ډیر

**۳. روز جمعه روز احد در غرب تو هرگز مرو**
پہ ورځ دجمعی اوپه یکشنبی مغرب طرف ته مه ځه
**زحمت به بینی در بدن صحت نیابی ای پسر**
تکلیف به ووینی په بدن کی جوړوالی به نه کی پیدا ای ځوانه

**۴. شنبه دو شنبه وقف کن در شرق رفتن جانمن**
دهفتی او دوشنبی پہ ورځ مشرق ته مه ځه
**ور تو نمانی میروی از دزد بینی صد خطر**
اوکه ته نه پاتیږی ځی نو له غلوبه ووینی سل خطری

**۵. روز سه شنبه اربعاء سمت شمالی هم مرو**
پہ ورځ دسه شنبی اوچار شنبی طرف دشمال ته مه ځه

**در مشتری بیرون مرو سوی جنوبی در سفر**

په ورځ دپنجشبې مه ځه وطرفته دجنوب په سفر

**۶. چون گم کنی تو راه را راهی نیابی تا روی**

چې ته ورکه کړې لار اولار پيدانه کې چې ولاړسې

**گوئی آذان در حال تو راهی بیابی در نظر**

نو وايه آذان في الحال به لار پيداکې په کتلو کې

دمشکلو الفاظو معنیٰ :

عقرب: دمنې دخزان دموسم دیو میاشتې نوم دی.

تشریح او مطلب :

۱. که دهفتې په ورځ سفر کوې ډیر به سلامت يې او خوشحاله به يې په لیدو ددوستانو.

۲. دعقرب میاشت چې ووینې نو دکوره څخه دباندې مه ځه، اوپه برج دریم کې هم مه ځه که نه نو هلته په سفر کې به ډیره موده پاته سې.

۳. سفرمه کوه دیکشنبې په ورځ، او دجمعې په ورځ هم سفرمه کوه کنه مرض به په بدن کې ووینې.

۴. دهفتې او ددوشنبې په ورځ هم دمشرق په طرف مه ځه بیا له غلو څخه به بیره ووینې .

۵. دشمال طرفته په سه شنبه اوچار شنبه مه ځه په ورځ دجمعرات جنوب ته هم مه ځه .

**۲. چې کله په سفر کې لار در څخه ورکه سي سمدستي اذان وکه نور لار به پیدا کې.**

مصنف صاحب رحمة الله علیه دلته دسفر دپاره دبهترینو ورځو ذکر وکې چې په دغو ورځو کې سفر نیك وي اوپه دغو ورځو کې بدوي، اوپه دغو ورځو کې فلانی طرف ته ښه وي اوپه دغو ورځو کې فلانی طرف ته، ددې دپاره یو جدول هم په اصلي کتاب تحفة النصآئح کې راوړل سویدی، کم چې موږ دلته هم دناظرینو دآسانی دپاره را نقل کوو.

چې په دې یوه طرفته دورځو نومونه دی، او بل طرفته دڅلور طرفونو نومونه دی یعنی : مشرق، مغرب، جنوب او شمال، اوپه لاندی خانو کې ورته دنیك ، یعنی نیکبخته سفر دی په همدغه ورځ وهمدغه طرفته، او بد ، یعنی تاوانی سفر دی په همدغه ورځ وهمدغه طرفته.

جدول دا دی:

| ورځې: | جمعه | شنبه | یکشنبه | دوشنبه | سه شنبه | چارشنبه | پنج شنبه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| مشرق | نیك | بد | نیك | بد | نیك | بد | نیك |
| مغرب | بد | نیك | بد | نیك | بد | نیك | بد |
| جنوب | بد | نیك | بد | نیك | بد | نیك | بد |
| شمال | نیك | بد | نیك | بد | نیك | بد | نیك |

**۱. جنگی بکن با کافران فرضی بدان این جنگ را**

جنگ کوه دکافرانو سره فرض یې وبوله دغه جنگ

**وقتیکه بینی کافران کردند غوغا عام**

هغه وخت چې ووینی کافرانو لره غلبه زیاته ډیره

**۲. از حرب نگریزی گهی بزگار گردی بیشکی**

له جنگه چی وتښتی یووخت گنهگار به سی بیشکه

**اکبر کبائر این گنه زان کار کن کلی حذر**

لویه گناه ده دغه گناه له دی کار څخه بالکل پرهیز وکه

**۳. گر مومنان باشند ده وآن بیست ویک از اهل حرب**

که چیری مومنان وه لس ۱۰ هغه یوویشت ۲۱ کافران

**آندم که تابی روی را باشد مباح ایشه پسر**

هغه ساعت که ته مخ گرزوی دووی څخه روا دی ای دباچا زویه

دمشکلو الفاظو معنٰی :

غوغا: شر اوفساد، حرب: جنگ سره له کافرانو، حذر: ځان ساتل، ذوقی: خوند.

توضیح او مطلب :

۱. جنگ له کافرانو سره فرض دی کم وخت چی ددوی فساد ډیر سی په مځکه کی یعنی غالبه سی.
۲. اوله جنگ څخه تیښته کول، ترټولو گناهونو زیاته گناه ده ، نو ځکه ځان ورڅخه ساتل ضروری دی.
۳. مومنان که لس وی او کافران یو ویشت وی، یو کافر زیات وی پر مسلمانانو، بیاکه ولاړ سی څه پرواه نلری.

*  *  *

## باب دهم در تلاوت قرآن وذکر ودعا ودرود گوید

**۱. قرآن چو خوانی جانمن از جان ودل اورا بخوان**
قرآن چی وایي ای روحه ځما دزړه له اخلاصه يې وايه
**دریاب معنٰی هر سخن ده روز ختمی کن بسر**
زده کوه يې معنٰی دهری خبری په لس ورځی کی يې ختم کوه

**۲. مدغم بدان معنٰی درو اندیشه کن درخواندنش**
پټه وبوله معنٰی په هغه کی ښه فکر کوه په ويلو کی
**ذوقی بیابی وجد هم نوری بگردی سر بسر**
خوند به پیداکی اوحال هم نورانی به وگرزی سر تر پایه

**۳. در وقت خواندن دان چنان گویی که میشنوی زحق**
په وخت دويلو داسی وګڼه چی اورم يې له خدايه
**با او بگویم راز خود ازوی شوی تو مست تر**
سره دده وايم حال خپل له هغه څخه به مست سی

**۴. سلطان بدان حضرت قرآن اندر حجاب صدتبق**
بادشاه وبوله ذات دقرآن په سلو پردو کی
**بیزار شو از غیر حق انگه بیابی زو خبر**
جلاسه دماسوا دخدای څخه له هغه څخه پیداکی خبر

**۵. خواندن حروف وهم هجا هرگز مدان آن خواندنش**
ویل په ټکو سره اوهم په حروفو سره مه بوله دغه ویل
**اندر دبیرستان چنین خوانند هر شام وسحر**
په مدرسو کی یې همدغسی وایی ماښام او سهار

**۶. خواهی شوی اسرار دان سلطان به بینی چشم**
که غواړی چی پټ احوال ووینی اوبادشاه ووینی په سترگو خپلو
**در صحن دل جاروب زن انجا برون کن مال وزر**
په میدان کی دزړه جارو وهه له هغه ځایه لیری کړه مال او دنیا

**۷. یٰس ونوح وعم راهم واقعه با ملک خوان**
سورة یٰس اونوح اوعم اوهم تبارك الذی وایه
**پس فجر وظهر وعصر هم مغرب عشاء را ای نامور**
وروسته له سهار اوماپښین اومازدیگر ماښام اوماخستن ای نوم والا

**۸. در شب جمعه طٰهٰ بخوان یابی جزاء بیحد وعد**
په شپه دجمعی طٰهٰ سورة وایه پیدا به کی جزاء
**پش از جمعه خوانی کهف ایمن شوی از شور وشر**
مخکی دلمانځه دجمعی ځخه سورة کهف وایه خلاص به سی له شره

**۹. در بند خوان اخلاص را الحمد را باتسمیه**
په بند کی وایه قل هو الله او الحمد اوبسم الله
**میخوان چهل یکبار تو هر تب که باشد درد سر**
وایه یو څلویښت واره دهر رنگه تبی لپاره او ددرد دسر

**١٠. از بهر عزت روز شب تو سورة یوسف بخوان**
لپاره دعزت شپه اورځ سورة یوسف وایه
**سورة تغابن را بخوان می ترسی از طاعون اگر**
سورة تغابن وایه که بیریدلی دطاعون څخه

## دمشکلو الفاظو معنیٰ :

قرآن په ادب سره ویل دادی چی الفاظ ښه په تجوید سره وایه په زړه کی یې معنیٰ درگرزوه بیا دهغه په ویلو سره به یوخوند پیداکی، ذوق: خوند، حجاب: پرده، دبیرستان: ځای دویلو اوزده کړی، صحن: میدان، جاورب: جارو.

## توضیح اومطلب :

١. قرآن چی کله وایی په زړه اوپه روح سره یې وایه ، او په لس ورځی کی یې ختم کوه.
٢. دقرآن معنی دقرآن په الفاظو کی پټه ده ، ددې وجی څخه خوند به هغه وخت پیدا کی کله چی ته فکر پکښی ووهی.
٣. دقرآن کریم دویلو په وخت کی داسی فکر کوه چی گواکی ته دخدای ﷻ سره خبری کوی او دهغه خبری اوری.
۴. دخدای ﷻ ماسوا دنورو تعلق پریږده دتلاوت په وخت کی، دقرآن دویلو سره دزړه تعلق جوړ کړه بادشاه به سی.
۵. تش دالفاظو ویل دقرآن خو دپاره دزده کړی دی کم چی دوه وخته په مدرسو کی هم ویل کیږی لیکن په معنی سره ویل یې پکار دی.

۶. که غواړی چی په راز پوهیدونکی سی، او باچاپه سترګو ووینی نو زړه ددنیا له محبته څخه صفا کړه .
۷. دغه سورتونه ددغو لمونځو څخه وروسته وایه: یٰس دسهار تر لمانځه وروسته، نوح دماپښین تر لمانځه وروسته، عم دمازدیګر تر لمانځه وروسته، واقعه دماښام تر لمانځه وروسته، تبارك الذی دلته ماخستن تر لمانځه وروسته.
۸. په شپه دجمعې سورةِ طٰه وایه اوپه ورځ دجمعې سورة کهف وایه، دشور او شر څخه به محفوظ سی.
۹. په بند کی یو څلویښت واره الحمد اوقل هو الله وایه سره دبسم الله، او دهری تبی اودرد دسر لپاره یې هم وایه.
۱۰. او دپاره دعزت سورةِ یوسف وایه، او سورةِ تغابن دپاره دساتنې دطاعون دمرض څخه وایه.

**۱. اوقات خمسه ذکر گو هم قوة خود کرد ذکر را**

پنځه وخت ذکر وایه هم خوراك شروع کوه په ذکر

**چندان بگو تو ذکر حق تا ذکر گوید موئی سر**

دومره ذکر دخدای ﷻ ته کوه چی وریښتان هم په ذکر سی

**۲. هر گه که گویی ذکر حق ذگر گوید مر ترا**

هروخت چی ته ذکر کوی دخدای نوخدای هم ستا ذکر کوی

**گردی یکی از اولیاء ذکرگویی هرسحر**

وبه گرزی له دوستانو دخدای څخه ذکر کوه هر سهار

**۳. در خفیه گو ذکر ودعا پاک گردی از گنه**

په پټه وایه ذکر او دعا پاك به وګرزې له ګناه څخه

**روزی ترا گردد لقا بینی خدا در بصر**

نصیب به ستا وګرزي ملاقات دخدای پاك په ستر ګو

**۴. مغز عبادت داج دعا بردار دست وکن**

مقصود له عبادت څخه دعا وګڼه، پورته کوه لاس پکښې

**الحاح کن خواندن دعا یابی اجابت زود تر**

عاجزي کوه په ویلو ددعا کې، قبلول به پیداکې ژر

**۵. یابی اجابت انگهی از وجه پوشی هم خوری**

بیابه پیداکې هغه وخت قبلیدل چې خورې حلال

**در کذب وغیبت فحش هم بکن زبانرا حبس وحصر**

ددروغ او دغیبت څخه هم کړه ژبه بنده

**۶. دانی اجابت طائری دارد دوپر از صدق دل**

وبوله قبلول ددعا مرغه چې دوه وزره لري دصدق څخه

**طیران نه گردد ممکنش چون بشکند این هر دو پر**

الوتل نه کوي اونه يې طاقت لري چې مات سي دغه دواړه وزرونه

**۷. چونتو دعا خواهی کنی صلٰوة گو در ابتداء**

هروخت چې دعا کوې په اول کې يې درود وایه

**در ختم صلٰوة گو تا بہج یابی زود تر**

په آخرکې يې هم درود وایه خوشحالي به پیداکې ډیره

توضیح او مطلب :

۱. ذکر همیشه کوه خاص په پنځو وختو کی اوخوراك هم په ذکر شروع کوه بیابه له دوستانو څخه دخدای ﷻ سی.
۲. ته چی هرکله دالله ﷻ ذکر کوی نو الله ﷻ هم ستا ذکر کوی، نو همیشه دالله ﷻ ذکر کوه، تر چی الله ﷻ به هم تا یادوی په قبلیدو دحاجتو سره ستا.
۳. په پټه دعا اوذکر کوه پاك به سی له گناه څخه دخدای ﷻ لیدل به دی نصیب سی.
۴. مغز دعبادت هم دعا ده، پورته کوه لاسونه په ډیری عاجزی سره دعا کوه داپه قبلیدو کی زیات اثر لری.
۵. اوهم زیات اثر دحلالو کپړو اغوستلو دی او دحلال خوراك دی ، له درواغو اوله غیبته ژبه بنده وساته .
۶. دعا قبلیدل دیوه مرغه په شان دی چی دوه وزره لری داخلاص، که اخلاص په دعا کی نه وی نو دعا نه قبلیږی.
۷. کله چی ته دعا کوی نو درود بیې په اول اوپه پای کی وایه، په دې سره به ستا دعا ډیر ژر قبلیږی.

*  *  *

**۱. ساعت اجابت را دعا وقت ندا روز جمعه**

وقت دقبلیدو دعا لره وخت داذان دی او ورځ دجمعی ده

**در جمعه ساعت آخرین خواندن دعا غنمی شمر**

دجمعی په ساعت اخر کی ویل ددعا غنیمت وشمیره

**۲. اتمام اذان دیدی که شد از حق بخواهی حاجتی**

کله چی پوره سی اذان غواړه دخدای پاك څخه حاجتونه

**وسط اقامت هم اذان درجوف شب وقت سحر**

په مابین داقامة هم داذان په میان دشپی او وخت دسحار کی

**۳. از ظهر تا از عصر هم در اربعا میخوان دعا**

له ماپښین څخه تر مازدیگره هم دچارشنبی په ورځ وایه دعا

**در شب جمعه عیدین هم وقتیکه میبارد مطر**

په شپه دجمعه او اخترانو هم هغه وخت چی اوری باران

**۴. وقتیکه گردی نرمی دل افطار بکنی روزه را**

بل هغه وقت چی وگرزی زړه نرم او روژه ماتوی

**چو تو کنی ختم قرآن حاضر جماعت صد نفر**

هغه وخت چی وایی قرآن اوختم وکی حاضرسی سل نفره

**۵. در شب برات وهم شبی اول که باشد از رجب**

په شپه دبرات اوهم اوله شپه دخدای ﷻ دمیاشتی

**وقتیکه صف غازیان جمله کند برصف کفر**

هغه وخت چی صف جوړکی غازیان حمله کوی پرصف دکافرانو

**۶. چونتو کنی فرضی ادا میکن زجان ودل دعا**

هروخت چی ته وکی فرض لمونځ داخلاصه دعا کوه

**وقتیکه کعبه مر ترا ایجان من آید نظر**

هغه وخت چی کعبه ووینی ای روحه ځما راځی په نظر

**۷. دارند چون غرض دعا مرد از مسافر زحمتی**
چې ولړې مقصود ددعا دمسافر یايو زحمت لرونکی ښخه
**دانی اجابت بیشکی دیگر دعا مادر پدر**
وبوله قبلیدل بیشکه بل دعا دمور اوپلار

دمشکلو الفاظو معنٰی :

وسط: میان دشی ته وایی، جوف: مابین دشپی، بارد: چی اوری.

توضیح او مطلب :

۱. کم وخت چې دعا ډیره قبلیږی هغه وختونه دادی: وخت داذان په ورځ دجمعی کله چی اذان پوره سی، او دجمعې په ورځ آخرنۍ ساعت دمازدیګر په خواکی.
۲. کله چی اذان پوره سی نودخدای ښخه حاجت غواړه، اود اقامت په مابینځ کی هم په اذان کی او دشپې په نیمایی کی.
۳. له ماپښین ښخه بیاتر مازدیګره، اوهم په ورځ دچارشنبې دعا کوه، اوپه شپه دجمعې، او داخترانو او هغه وخت چی باران اوریږی .
۴. او هغه خت چی روژه ماتیږی او زړه نرم وی، او هغه وخت دقرآن کریم ختم کیږی او ډیر خلګ یوځای سوی وی.
۵. په شپه دبرات او هم په اوله شپه درجب یعنی دخدای تعالی دمیاشتی دعا قبلیږی، او هغه وخت چی جنګ له کافرانو سره وی او صفونه برابروی پر کافرانو باندی حمله کیږی .

۶. کله چې ته فرض ادا کوی نو دزړه داخلاصه يې ادا کوه، او کله چې کعبه شريفه ووينی نو همدغه وخت دعا قبيليږی.
۷. اوکله چې ته غوښتنه کوی ددعا کولو ستا دپاره دمسافر او داسی شخص څخه چې په زحمت کوی نو دا دعا هم قبليږی، اوخاص کر دمور او پلار دعا داولاد په حق کی ډيره قبليږی.
اللّٰهم وفقنا للدعاء فی هذه الاوقات واختم لنا بالـــخير والسعادة والبشارة من الايــــمان. آمين يا ربّ العالَمين

* * *

## باب يازدهم در بيان مکاسب وقناعت وسوال گويد

يوولسم باب په بيان کی دکسبونو اودقناعت او دسوال نه کولو دی.

**۱. شرمی نداری ننگ هم از کسب کردن جانمن**
شرم مه لره اوهم پيغور له کار کولو څخه ای روحه څما
**آموز کسب وعلم هم شو ذو فنون صاحب هنر**
زده کړه کسب اوعلم هم سه خاوند دکمال اوپوهی

**۲. آموز علم وهم هنر درهانه گردی تابسی**
زده کړه علم اوهم پوهه په دروازو مگرزه ډير
**آنکس که باشد بی هنر نانی بخواهد دربدر**
هغه څوك چې وی بی کسبه ډوډی غواړی دروازه په دروازه

**۳. از کسب وکد خود بخور از دست رنج خویشتن**

له کسب اوله تکلیفه څخه خپل یې خوره او له لاسه دتکلیف خپل

**چیزی نخواهی از کسی تا شهد گردی هم شکر**

شی مه غواړه له سړی څخه چی خوږ وګرزی هم خوندور

**۴. کاری بکن در حال تو دان کاهلی چون کافری**

کارکوه فی الحاله ته پوهیږی چی کاهلی په شان دناشکری ده

**کاهل که باشد آدمی او را بدان چون گاؤ خر**

کاهل چی سړی وی هغه وبوله په مثال دغوا اوخر

**۵. سنگی چو آری هیزمی برپشت خود از کوه ودشت**

ډبری چی راوړی اولرګی په شا خپل دغره او دبیابان څخه

**او را فروشی نان خوری بهتر زصد نانی پدر**

هغه خرڅوی او ډوډی خوری ښه ده تر سلو ډوډی دپلار

**۶. کنجاره بخوری سبزی آبی خوری شور ونمک**

ګل چی خوری اوبه او واښه خو تروی او نمك داره

**بهتر زسلطان چون روی شربت خوری نعمت دیگر**

ښه دی له دی چی بادشاه ته ولاړ سی اوهلته وخوری شربت یانور شیان

دمشکلو الفاظو معنٰی :

آموز: زده کیدل، فنون: قسمونه، هنر: پوهی، دربدر: دروازه په دروازه،

کد : تکلیف، کاهلی: سستی، کار نه کول له کمزوری څخه اونه غوښتل دکار کولو، هیزم: لرګی.

## توضیح او مطلب :

۱. دکسب کولو په وجه هیڅ شرم مه لره زده کړه کسب اوعلم اوپوهه، او بیا دهغه څخه خپل ځان لره رزق پیدا کوه.
۲. په دروازو چی ګرزی ترهغه علم اوپوهی اویوکار زده کړه له خپل کسب څخه خوراك کوه له چاشی مه غواړه.
۳. دخپل لاس دخواری اوتکلیف څخه خپل ځان اوعیال ته رزق برابروه، دبل چا څخه شی مه غواړه.
۴. او کمزوری په کار کی مه کوی ځکه چی دا ناشکری ده په شان دحیواناتو، کار په خواری سره کوه.
۵. که بل کار نه وی نو ډبری او لرګی دغرو څخه راوړه خرخوه یې دغه هم ترټولو ښه کار دی .
۶. چی په خپل کور کی خوری واښه او تروی اوبه داهم دباچا ترنعمتو ښه دی، دباچهانو سره رابطه مه کوه.

**ا. چون سگ نباشی منتظر نان کسی تاکی خورد**

لکه سپی داسی مه کیږه کتونکی وډوډی دبل ته چی ویې خوری

**هر کس که بینی اینچنین اورابدان ازسگ بدتر**

هرسړی چی وینی دارنګه هغه وبوله ترسپی بد زیات

**۲. کسبی بکن نانی بخور صبر وقناعت پیشه کن**

کار کوه او ډوډی خوره صبر خپل کسب جوړ کړه

**چونتو نخواهی از کسی در عدن یابی کشک وزر**

چې ته نه غواړی دچا څخه شي بیا به پیداکې بنګلی او زر

**۳. چونتو ستانی از کسی خلقی ترا گوید گدا**

چې ته یې اخلې له خلګو څخه تا ته خلګ وایې فقیر

**ورتو کسی را میدهی گویند شاه معتبر**

اوکه یې ته چا لره ورکوی وایی به چې دا باچا دی معتبر

**۴. پندی بگویم خوبتر درگوش کن نیکو شنو**

نصیحت وایم ډیر ښه په غوږو کې یې ونیسه اوښه یې واوره

**احوال خود باکس مگو رنجی بکش نانی بخور**

حال خپل مه وایه سره له سړی کوشش وکړه ډوډی خوره

**۵. هم خواستن محظور شد اندر شریعت بیشکی**

هم سوال منع سوی دی په شریعت کې بیشکه

**یکروزه نانی چون بود آنخشک باشد خواه تر**

دیوی ورځې ډوډی چې وی تالره وچه ښه ده

**۶. چونتو بخواهی مال وزر از بهر عزت مفخرت**

چې ته غواړی مال او زر لپاره دعزت او دفخر

**میدان یقین آنمال را سوزند آتش چون جمر**

وبوله یقین هغه مال سوونکی لکه سکروټه

**۷. گرمی بکاری کشت هم مقدور باشد گر ترا**
که چیری کری فصل هم چی قدرت والی تالره
**در زرع کاری خود بکن بردار میوه بیشتر**
په کښت کې کار پخپله کوه چې فائده پورته کې ډیره

**۸. کسی که باشد درجهان باشد شمرده نفع آن**
هرکسب چې وی په دنیا کې په شمیر وی فائده دهغه
**در کشت نفع عالمی سودش نباشد منحصر**
په زمینداری کې فائده ده دټولې دنیا بې شماره

**۹. تیر وکمان از دست خود مهمل نداری هیچگه**
غشی اوغلو بیکاره مه پرېږده هیچرې
**آموز کردن آشنا اسپان دوانی هم شتر**
زده کول دلامبو دآسانو زغلول هم داوښانو

دمشکلو الفاظو معنٰی :

عدن: نوم دجنت دی، محظور: عربی لفظ دی په معنی دمنع سوی، مفخرت: فخر کوونکی.

توضیح او مطلب :

۱. دبل دډوډی انتظار مه کوه بیابه ترسپی لاهم بدسی. هرڅوك چې داسی کوی هر ترسپی هم بد دی.

۲. صبرچي وكي اوخپل كسب كوي ډيربه په جنت كي خوشحاله يې او جنتِ عدن ته به داخل سي.
۳. ته چي يې له خلګو اخلي نووايي به خلګ چي دا فقير دی اوچي ته يې بل چاته وركوي وايي به باچا دی.
۴. يو نصيحت درته كومه ډير ښه په ياد يې كړه، هغه دا چي خپل حال چاته مه وايه هيڅكله.
۵. سوال كول په شريعت كي منع دی چي ديوی ورځی ډوډی وی وچه وی اوكه لنده تر سوال كولو خوښه ده .
۶. هركله چي ته غواړی مال اوزر لپاره دعزت په آخرت كي به دهغه ځخه داور سكروټی جوړی وی.
۷. كه چيری زميندارى لری نوپه خپله كار پكښی كوه ميوه يې هم زياتيږی او ډير ثواب به دی هم وی.
۸. دكسب اوكمال په دنيا كي فائدی ډيری دی، په زميندارى كي تر ټولو كسبونو ددنيا فائدی ډيری دی چي شمار يې نه كيږی.
۹. دغشی اولينده زده كول، اسانه زغلول، لامبو وهل، داوښانو زغلول هم ګټمن دی او بی فائدی نه دی.

**فائده**: مصنف صاحب رحمة الله عليه چي دلته دكومو شيانو دزده كولو يادونه كړيده لكه: تير او غشی، آسان ځغلول، او نور ، داسی شيان دی چي داكثرو په زده كولو سره امر په احاديثو شريفه وو كي راغلی دی چي رسول الله ﷺ مبارك فرمايی چي تاسی غشی او لينده، دآسانو ځغلول او نور زده كوی ځكه چي دا اعمال دجهاد په وخت كي پكاريږی، (رواه ابوداؤد)، نوځكه نه يوازی دا چي دا اعمال په ژوند كی ډيره ګټه لری بلكه ثواب هم پر مرتب كيږی.

## ( باب دوازدهم در بیان نکاح کردن وجز آن گوید)

دوولسم باب په بیان کې دی دنکاح کولو اودې ته ورته دنورو خبرو

**۱. تا مر ترا قوت بود تزویج کردن وقف کن**

که تا لره طاقت وی دنکاح کولو نو ترك یې کړه

**آفت بدان اندوه غم اندر نکاح ای نامور**

آفت وبوله او خفګان او غم په نکاح کې ای نوم درلودونکی

**۲. چونتو نمانی زن کنی کن خوبصورت پارسا**

هروخت چې ته نه پاتیږې نو ښځه کوه ښائسته او پرهیزګاره

**فرمان برد خدمت کند مونس بود شام سحر**

کمه چې حکم منی خدمت او الفت کوونکې او مینه کوی همیشه

**۳. اندوه نارد پیش تو اندوه وغم جمله برد**

غم نه راوړی په مخ ستا کې بلکه چې غم ټول وړی

**گروی ندارد این سخن گوئی طلاقش زود تر**

که چیری دانه لری داخبره نو طلاق ورکه ډیر ژر

**۴. در چار چیز از خود فرو تزویج خواهی چون زنی**

په څلورو شیانو کې ترځان کښته ښځه کوه

**در سن وطول وهم حسب چارم بکثرت مال وزر**

په کلو اوپه درازی اوپه مرتبه څلورم په ډیروالی دمال کې

## دمشکلو الفاظو معنیٰ :

تزویج: په نکاح ورکول، مونس: محبت کوونکی، طول: اوږدوالی، پارسا: پرهیزګاره، وقف: دریدل.

## توضیح او مطلب :

۱. چی تالره طاقت وی دنکاح کولو نو نکاح کوه ځکه چی آفت اوغم په نکاح کی نسته.
او دا ځکه چی نکاح سنت ده درسول الله ﷺ مبارك ځکه چی هغه ﷺ فرمایی:

النِّکَاحُ مِنْ سُنَّتِیْ فَمَنْ رَغِبَ عَنْ سُنَّتِیْ فَلَیْسَ مِنِّیْ،

یعنی نکاح زما دسنتو څخه یوسنت دی اوڅوك چی زما دسنتو څخه مخ اړوی نو هغه زما څخه نه دی.
۲. او چی کوی ښځه نو ښائسته په اخلاقو کوه چی خبره منی او محبت کوی درسره ماښام او سهار.
۳. غم نسته په نکاح کولو کی، اوداسی ښځه کوه چی تاته غمونه نه راوړی بلکه چی ټوله غمونه درڅخه یوسی. اوکه داسی نه وی نو طلاق ورکوه ژر.
۴. په څلورو شیانو ترځان کښته زنانه کوه په کلو (عمر) کی، په درازی یعنی اوږدوالی کی، اوپه قابلیت کی تر ځان کمه ښځه کوه، او څلورم په ډیروالی دمال کی.

* * *

**۱. زن راچو خواهی خواستن هرگز نخواهی جز چنین**
ښځه چې غواړې غواړه همیشه دارنګه
**در خلق وخوبی هم ادب خوف خدا از خود زبر**
په اخلاقو په ښائست اوپه ادب په بیره دخدای کې

**۲. کوتاه فربه زنی مکن دیگر دراز ولاغرک**
لنډه چاغه ښځه مه کوه بله درازه او ډنګره
**هرگز نخواهی حامله فرزندان آن دارد بتر**
هیڅکله مه غواړه زړه اوپخه دهغه اولاد بدعمله وی زیات

**۳. بزنی مکن حنانه را ان زن که دارد ساق موی**
ښځه مه کوه ګیله کونکې هغه زنانه چې پر پښو یې ویښتان وی
**منانه را هم دفع کن مکاره باشد زشت سر**
احسان کونکې هم لیرې کړه چل کوی بد رنګه زیات

**۴. آن زن که او ایذا کند باریک دارد ساق پا**
هغه ښځه مه کوه چې ضرر رسوی اوباریکې لرې پنډۍ
**بر روی گوید بدترا دائم به بینی بسته سر**
مخامخ وایی بد تاله همیشه یې وینی سر تړلی

**۵. چونتو بخواهی خلوتی بیمار سازد خویش**
کم وخت چې غواړې خلوت نو ناجوړې کې ځان

**درهر سخن عذری کند مکاره باشد حیله گر**
په هره خبره کی عذر کوی چل کوونکی وی زیاته

**۶. آهسته چو گویی سخن پاسخ دهد نعره زند**
په کراره چی خبره ورته کوی جواب درکوی او نعری وهی
**بی اذن تو آید برون تنها بگردد در بدر**
بی اجازی له کوره وزی تنها گرزی کوڅه په کوڅه

**۷. مردم چو آید پیش او از تو گیله بروی کند**
خلګ چی راسی ومخته ددې ستا څخه شکایت ورته کوی
**گوید قوی ناخوش منم او گر چه باشد خوبتر**
وایی ډیر ناخوښه یم که څه هم وی خوشحاله زیاته

**۸. سر را پنوشد هیچگه نی روی شوید دست وپا**
سرنه پټوی هیڅ وخت نه پریولی مخ نه لاس نه پښه
**نی چشمها سرمه کند نی شانه اندر فرق سر**
نه سترګی رانجه کوی اونه په سر کی لار باسی

## توضیح او مطلب :

۱. همیشه دغسی ښځه غواړه چی هم په اخلاقو ښه وی هم په ادب، او هم بیره کوی دخدای ﷻ څخه .
۲. لنډه چاغه ښځه یاجګه ډنګره ښځه مه کوه، اوهمدارنګه حامله ښځه هیڅکله ونه کی چی اولاد یې بد عمله وی زیات.

۳. شکایت کونکی اوزړه اوپخه هیڅکله مه غواړه او هغه ښځه هم مه غواړه چې پر پنډیو باندی وریښتان لری.
۴. او چل کونکی ښځه مه غواړه اوبد رنګه اوچی نری پنډی یې وی هم مه یې غواړه، او هغه ښځه هم نه غواړه چی مخامخ تاته جواب درکوی که څه هم چی ته به سم ورته ږغیږی.
۵. او داسی ښځه هم مه غواړه چی ته یې خلوت ته را بولی اودا ځان پر ناجوړی باندی واچوی، په هره خبره کی عذرونه درته کوی او حیله ګره او چل بازه وی.
۶. اوداسی ښځه هم مه غواړه چی ته کرار خبره ورته وکی مګردا آواز پورته کی اونعری وهی، او چی په ګلیو ګلیو ګرزی مخ نه پټوی او در په در روانه وی.
۷. چی کله خلګ په مخه ورسی نو دمیړه شکایت ورته کوی اوپه حقیقت کی دا خوشحاله وی.
۸. اوداسی ښځه هم مه غواړه چی سرنه پټوی هیڅکله او لڅ سر ګرځی، او نه مخ، نه لاسونه، اونه پښې پریولی، نه سترګی په رانجو توروی نه دسر دوړښتانو په ماینځ کی سنت لار باسی.

**۱. پنها کند از تو سخن مهمان بدارد دشمنان**
پټوی به لتا څخه خبری ستا میلمه بولی دښمن
**اول زتو طعمی خورد وزمرد بخورد پیش تر**
اول له تا نه طعام خوری اوسړی نه خوری زیات

**۲. آنکس که دارد زن چنین اور ابدوزخ دان یقین**
هغه سړی چی لری داسی ښځه هغه په دوږخ کی وبوله یقیناً

**چو تو زنی یابی چنین درحال او راکن بدر**

چی ته ښځه پیدا کی دارنگه هغه لیری کړه په دستی

**۳. راحت بخواهی در جهان فی الحال رو سریه بخیر**

خوشحالی که غواړی په دنیا کی سمدستی نیزه واخله

**چون ماه در شب چار ده شیرین سخن هم سمبر**

لکه میاشت دڅوارلسمی شیرین کلام او خوبصورته

**۴. گر نیک یابی پارسا قانع بود خدمت کند**

که یې چیری نیکی پیدا کی فقیره صابره اوخدمت کونکی

**با او بسازد خوش بزی ورنه برو دیگر بخیر**

سره دهغه موافقت وکړه اوښه ژوندون که نه وی بله واخله

**۵. شهوت مبین در روی زن بیگانه چون شد با ترا**

په خوند سره مه گوره مخ دښځی پردی ته چی تالره وی

**در سوی امر دهم مبین از نزد او شود دور تر**

طرف دهلك هم مگوره او له نزده دهغه سه ډیر لیری

**۶. چو تو لواطت یا زنا تقبیل بکنی مس هم**

هرکله چی ته لواطت یازنا یامچه یامسه وکی

**خیرات جمله عمر تو ناچیز گردد هم هدر**

نیکه دټول عمر ستا به ورکه وگرزی اوهم بلا فائدی

* * *

توضيح او مطلب :

١. په تا پسی خبری کوی اوستا میلمه دښمن بولی، اول ستا دمخه ډوډی خوری اوخوراك دسړی نه کوی زیات.
٢. هغه سړی چی ښځه دارنگه لری هغه په دوزخ کی وبوله بیشکه چی ته ښځه پیداکی دغسی سمدستی هغه لیری کړه.
٣. خوشحالی که غواړی په دنیاکی سمدستی نیزه واخله لکه میاشت دخوارلسم چی شیرینی خبری اوښائسته کلام کوی تاته.
۴. که چیری نیکه پرهیزگاره اوخدمت کوونکی وی دهغې سره موافقت وکه اوښه ژوندون وکه ورسره.
۵. دبل چا بیگانه ښځی ته په شهوت سره مه گوره، دارنگه طرف ته دهلك هم مه گوره او دهغه څخه لیری کیږه.
٦. کله چی یو څوك لواطت یا زنا وکړی، یا دپردی ښځی مچیدل یامسه کیدل وکړی، نو دهغه ټولی نیکی به عبث او بې فآئدې سی.

**فآئده**: مصنف صاحب رحمة الله علیه فرمایی چی: دگناهونو په سبب سره الله جل جلاله دانسان نیکی ورختموی، یعنی یوچا چی ډیری نیکی کړی وی او ډیر سم عملونه یې کړی وی الله جل جلاله به دهغه دا نیکی په دې سبب سره ورمحوه او خرابی کړی هغه وخت چی هغه دگناهونو څخه یو کبیره گناه وکړی، ددې وجی څخه فقیه ابو اللیث السمرقندی رحمة الله علیه په خپل کتاب تنبیه الغافلین کی لیکلی دی: چی دنیکیو کول دومره گرانه خبره نه ده څومره چی دنیکیو دحفاظت خبره گرانه ده، یعنی یو انسان چی نیکی کوی نو آسانه یې کولای سی مگر دهغه حفاظت گران دی، الله جل جلاله دی زموږ نیکی را محفوظه کړی. آمین

## باب سیزدهم در آوردن عروس بخانه ومجامعت با او گوید

دیارلسم باب دی په بیان کی دراوړلو دواده وخپل کور ته او بیا دهغې سره دجماع کولو دطریقې آدابو او نورو په باره کی

۱. **چون تو زنی آری بمنزل پای او در حال شو**
هرکله چې ته ښځه راولی خپل کورته پښی یې پرېوله
**باید بریزی آب را در چار گوشه بام ودر**
باید چی توی کی اوبه په څلورو کنجو دکور کی

۲. **خلوت کنی چون بازنی نام خدا گفتن درای**
په وقت دجماع چی دښځی سره یې کوی نوم دخدای اخله
**از دیو شیطان جملگی خوانی تعوذ نامور**
له پیری اوشیطان ټولو څخه ووایه اعوذ با الله

۳. **میکن ضیافت صبحدم کش گوسفند وگاؤ را**
کوه میلمستیا سهار حلال کړه پوسه او غوایی
**طعمی بکن خلقی بخوان آمد چنین اندر خبر**
طعام کړه پوخ خلگ را وغواړه راغلی دی داسی په حدیث کی

۴. **در وقت خلوت اهل خود شهوت زنی بیگانه را**
په وقت دجماع کی دښځی خپلی سره چی په ذهن کی پردی ولری

**در دل چو آری بیشکی دختر بزاید نی پسر**

په زړه کې یې راوړې بیشکه انجلې به دې پیدا کیږي

**۵. زیر درخت بارور هرگز مرو نزدیک زن**

لاندې تر درختې میوه دارې هیڅکله مه نزدیکیږه

**فرزند بدهد چون خدا ظالم بود هم بی هنر**

اولاد به خدای ﷻ درکې ظالم اوبې پوهې

**۶. گر بیوضو خلوت کنی بخلی برببینی در ولد**

که چیرې یې بې اودسه او خلوت وکې بخل به ووینې په اولاد کې

**در زیر مه سیار هم فرزند فاسق زشت تر**

لاندې تر سپوږمې اوستورو که خلوت وکې دخپل ښځې سره، نو به دې

هم زامن فاسقان وې زیات

**۷. سخنی مگو تو آن زمان گنگی ولد باشد ازان**

خبرې مه کوه هغه وخت اولاد به دې گونگې وي

**نظر مکن در شرمگه فرزند آید بی بصر**

کتل مه کوه فرج دزنانې ته زوی دې راځي بې له سترگو

## دمشکلو الفاظو معنیٰ :

خلوت: یوازې دزنانې سره لیدل. دختر: لور، بربیزی: توی کړې، گوشه: کنج، بغل، طرف، دیو: پرې، شیطان، تعوذ: یعنی چې یو سړی اعوذ بالله من الشیطٰن الرجیم ووایي.

توضیح او مطلب :

۱. کله چی ته خپله ښځه کورته را ولی، نو دهغې پښې په دستی ور پرېوله، او بیا هغه اوبه دکور په څلورو کنجیانو کی واچوه.
۲. دخپلی کور والا سره چی جماع کوی له مخه بسم الله وایه اوپناه له شیاطینو څخه غواړه.
۳. میلمستیا وکه سهار یو پسه یا غوایی حلال کړه خلگ ټور را وغواړه، او ډوډی ورکړه، همداسی په حدیث کی راغلی دی.
۴. که ته دخپلی ښځی سره دجماع په وخت کی دبلی ښځی فکر په ذهن کی ووهی په دې سره به ستا اولاد انجلی وی.
۵. تر داسی درختی لاندی چی میوه لری جماع مه کوه دخپلی ښځی سره که نه نو اولاد به دی ظالم وی.
۶. که بی اودسه جماع کوی نو هلکان به دی گونگیان وی او بخیلان به وی، لاندی تر سپوږمی او نورو ستورو چی جماع کوی هلکان به دی فاسقان وی.
۷ دجماع په وخت کی خبری مه کوه که نه نو اولاد به دی گونگیان وی، او هلکان به دی ړانده وی چی گوری وفرج دزنانی ته.

*   *   *

**۱. خلوت مکن با اهل خود سیر خوردی طعام**

جماع مه کوه دکور خپل سره په ماړه نس باندی

**بیمار گردی بیشکی صد رنج بینی صد ضرر**

ناجوړه به وگرزی بیشکه سل مرضه به ووینی او سل ضرره

**۲. اول زشب قربان مکن چندان نیابی راحتی**

پہ اول دشپی کی جماع مہ کوہ ډیربہ پیدانہ کی خوند

**قربان چو آخر شب کنی باشد ستوده خوبتر**

جماع چی کوی پہ آخیر دشپی یې کوہ چی ډیر بہ ښہ وی

**۳. اول کہ باشد چون شبی هم درمیان وآخرش**

پہ اول دمیاشتی کی دشپی هم پہ مابین دمیاشتی او آخرکی

**چونتو روی نزدیک زن از جن بہ بینی صد خطر**

کلہ چی تہ ورزی نزدیك وښځی تہ دپیری ځخہ بہ ووینی سل خطری

**۴. اول میان ماہ چون باشد نگردی گرد زن**

اول دمینځ دمیاشتی چی وی مہ گرزہ پرشا اوخوا دښځی

**ور نہ زیان باشد ترا لازم بود کردن حذر**

اوکہ نہ وی تاوان دی تا لرہ، نو لازم کوہ پرهیز

**۵. فارغ چو از قربان شوی از زن جلا شو زود تر**

خلاص چی سی لہ جماع ځخہ لہ ښځی ځخہ ژر جلاسہ

**خود را آب گرم شوی تاتپ نہ بنی درد سر**

خپل ځان پہ گرمو اوبو پریولہ چی تبہ اودرد سرنہ ووینی

**۶. خلوت کنی بازن جوان میکن حذر از پیر زن**

جماع چی کوی دښځی ځوانی یې سرہ کوہ پرهیز کوہ دزړی ځخہ

## نزدیک رفتن پیر زن باش همین خوردن زهر

## نژدی تلل دزړې ښځې دی خورك دزهرو

### دمشکلو الفاظو معنٰی :

سیر: موړوالی، قربان: نژدی کیدل وښځی ته، زیان: نقصان، حذر: پرهیز، تب: تبه.

### توضیح او مطلب :

۱. په ماړه نس هم جماع مه کوه ځکه چې دا سبب دتبې دی اودرد دسر ورځینی پیدا کیږی.
۲. جماع کوه په آخیر دشپې کې نه په اول نه په مابین دشپې. ځکه چې په دې وخت کې خوند زیات وی.
۳. اونه په اول دمیاشتې نه په مابین دمیاشتې نه په آخیری بلکې په درمیان ددغو شپو چې وی ځکه چې دپیریانو خطره ده.
۴. اول او مینځ چې وی دمیاشتې نوهم دښځې پر شاوخوا مه ګرځه، که نه نو دا دتاوان سبب جوړیږی.
۵. خلاص چې له جماع څخه سوی نو فوراً په گرمو اوبو غسل کوه چې تبه او درد سر نه ووینې.
۶. دزړې ښځې له جماع څخه پرهیز کوه ځکه چې زړې ښځې ته نژدی کیدل سم دزهرو دخوراك سره برابر دی.

**فآئده**: په احادیثو مبارکانو کې هم نبی کریم ﷺ دځوانې ښځې سره دنکاح کولو ترغیب ورکړیدی، چې دځوانې ښځې سره نکاح بهتره ده.

**۱. تعجیل در خلوت مرو باشد زیانی مر ترا**

تلواری په جماع کی مه کوه تاوان دی تا لره

**دانی منی از مغز سرهم روشنی اندر نظر**

وبوله منی دمغز دسر څخه هم روښانی په سترگو کی

**۲. گر کس رود درسال باشد قوی اورا بدان**

که څوك ځی په کال یاپه میاشت کی قوی به وی بدن دهغه

**ذوقی ازان هم بی حصر یابد فوائد بیشتر**

خوندبه وینی ډیرهم بی شماری فائدی زیاتی

**۳. وقتی که گشتی محتلم غسلی بکن بر زن برو**

کم وخت چی وگرزی جنوب غسل کوه بیابښځی ته ځه

**ورنه شیاطین بیشکی انباز گردد ای پسر**

که غسل نه کوی شیطانان بیشکه جمع کیږی ای ځوانه

**۴. کامل چو بینی ماه شد صحبت بکن با اهل خود**

پوره چیووینی میاشت جماع کوه دکور والا خپلی سره

**ناقص چو بینی ماه را منکو حه در خلوت مبر**

نیمه چی ووینی ماشت زنانه وجماع ته مه وړه

**۵. زن را طلب کن آنچنان هر گز ندان مردمی**

ښځی لره طلب کوه دارنگه چی هیڅکله نه سی پوه خلگ

**آورا نی کس بشنود تاریک باشد آن حجر**

خبری مو څوك وانه وری، په تاریکی هغه کوټه کی

**٦. انجا نباشد کودکی نی گربه باشد نی سگی**

هغه ځای نه وی هلك نه پیشو نه سپی

**بگزین محلی آنچنان آنجا نباشد جانور**

خوښ کړه داسی ځای چی نه وی هلته حیوان

دمشکلو الفاظو معنٰی :

تعجیل: کار ژر ژرکول، تلوار کول، ذوق: خوند، محتلم: هغه سړی ته وایی چی په خوب کی شیطان په شکل دزنانی ورته جوړ سی بیا جماع ورسره وکی یا داغسی غسل ورباندی لازم سی، منکوحه هغې زنانی ته وایی چی په نکاح کی دیو چا وی.

توضیح او مطلب:

١. په خلوت او جماع کی تلوار مه کوه، ځکه چی دا تالره تاوان لری، ولی چی منی دمغزو څخه دی .

٢. په کال یوواری جماع کوه، اوکه نه وی نوبیا په میاشت یو واری جماع کوه دغه دبدن لپاره ډیره فائده ده.

٣. اوکم وخت چی جنوب یې غسل دی نه دی کړی جماع مه کوه، که نه نو شیطانان به درسره شریك سی په جماع کی ای هلکه، نو که غواړی چی دشیطانانو دشراکت څخه خلاص سی جماع لږ کوه.

۴. چې میاشت پوره سی نو جماع کوه دخپلې ښځې سره او کله چې نیمه وی نو بیا یې مه کوه.
۵. په داسې ځای کې جماع کوه چې ستاسې خبرې هیڅوك نه اورې او پټ ځای وی، او آوازنه مه کوه ښکاره.
۶. او دخپلې ښځې سره داسې ځای جماع کوه چې سپی او پشی هم نه وی اونه بل یو حیوان وی.

**۱. نزدیک اهل خود مبین چون شه باشد بیوه زن**
په طرف دښځې خپلې مه گوره چې ناسته وی کونډه ښځه
**بوسه مده فرزند خود چون نشسته بینی بی پدر**
مه مچوه هلك خپل چې ناست ووینې بی پلاره یتیم

**۲. ترس از خرابی حال شان ناگاه آهی از درون**
وبیریږه له خراب حاله ددې چې ناڅاپه به یې ووزی آه دزړو څخه
**بزند گردد سوخته جمله جهان کوه وشجر**
وبه سوزی ټوله دنیا غر او درختې

**۳. حائض چو گردد عورتی حرمت بدان قربان او**
حائضه چې وگرزی زنانه حرام دی وهغه ته نژدې کیدل
**چون تو وطی نسیان کنی صدقه بده دینار وزر**
کم وخت چې وطی په هیره وکې خیرات که روپی اوزر

**۴. او را مکن از خود جدا همچون جهودان کافران**
هغه ښځه دځانه مه جلاکوه په شان دجهودانو کافرانو

**ذوقی بگیر ازجمله تن جز موضع خون منفخر**

خوند اخله دټول بدنه ددی څخه بې له هغه ځایه چې وینه څاڅی ځی

**۵. فرزند بدهد چون خدا اورا نکو نامی بنه**

اولاد چې خدای ﷻ درکی نیك نوم یې کښیږده

**نامیکه باشد برسرش حمدی وعبدی خوبتر**

هغه نوم چې په سرکی یې احمد یا عبد وی ډیر ښه دی

**۶. از روز زادن هفتی هم دور کن موی سرش**

دورځی دپیدا کیدو څخه په اومه باندی لیری کړه ویښتان دسر یې

**گر دختر است شاتی بکش شاتین چون باشد پسر**

پر انجلی یوپسه حلال کړه دوه پوسونه چې هلك وی

**۷. همچو رسوم جاهلان موی نداری بر سرش**

په شان دطریقی دجاهلانو ویښتان مه پریږدی په سر

**(جعدی) نداری نیتی کان ست شیطان را مقر**

اوربل مه لره نیت ځکه چې هغه دی دشیطانانو ځای

توضیح او مطلب :

۱. چې کونډه ښځه ناسته وی خپلی ښځی ته مه گوره چې یتیمان کوچنیان ناست وی خپل بچیان مه مچوه .
۲. وبیریږه که چیری په دغه حالت کی ددوی دخولی څخه اه ووزی حال به دی خراب سی .

۳. دمرض په حالت کی چی حیض ښځی ته راسی نوته خپلی کور والاته مه نژدی کیږه که جماع هم وکی په هیره بیاصدقه وکړه.
۴. حآئضه ښځه مه جلا کوه دخپل ځان څخه په بستره، خوب او خوراك کی، یوازی جماع مه ورسره کوه.
۵. اولاد چی خدای پاك درکی نیکه نوم پر ایږده چی احمدیې په سرکی وی یاعبد.
۶. که لور خدای ﷻ درکړه یوپسه حلال کړه اوکه زوی خدای ﷻ درکی پسونه حلال کړه یعنی عقیقه وربا ندی وکه.
دجاهلانو خلګو درواجونو په مثال سره پر سر باندی یې وربښتان مه ورپریږده بلکه سریې هم ور وخروه.

*　*　*

## باب چهار دهم در آداب طعام خوردن گوید

خوارلسم باب دی په بیان کی دآدابو دډوډۍ خوړلو

**۱. چون طعم خواهی تاخوری در روز وشب یکبار خور**

هرکله چی خوراك دطعام وغواړی نوپه ورځ شپه کی یې یو وار وکه

**آن طعم باشد سود تو باقی مرض دان درد سر**

هغه طعام به وی فائده مند باقی مرض وبوله اودرد دسر

**۲. در جوع چون طعمی خوری آن طعم دان بیعلتی**

په لوږه کی چی خوری ډوډی هغه وشمیره بی مرضه

**طعمی که در سیری خوری آن طعم بخورد دل جگر**

ډوډی چی په مړوالی خوری هغه خوراك درد دزړه او دځیگر دی

**۳. از پیش خود طعمی بخور در پیش کس مندار دست**

خپل دمخه څخه ډوډی خوره مخ ته دبل چامه وړه لاس

**بردار لقمه خورد ترمیخایی انرا بیشتر**

پورته کړه گوله کوچنی ډیره یې وژویه

**۴. چون طعم خواهی تاخوری اول بشو تو دست**

کله چی ډوډی غواړی چی وخوری اول پریوله ته لاس

**چون طعم خوردی هم بشو آمد چنین اندر خبر**

چی ډوډی وخوری هم پریوله لاس دغه سی راغلی دی په حدیث کی

**۵. تعظیم خور تو طعم را گو تسمیه هر لقمه را**

په ادب سره خوراك کوه وایه بسم الله دهری گولی سره

**پهلو زده بالای کهټ افتاده تکیه هم مخور**

اړخ وهلو سره او بالا پر کهټ تکیه کولو سره ډوډۍ مخوره

**۶. ریزه گر افتد بر زمین بردار انرا خود بخور**

ټوټی چی ایله سی په مزکه پورته یې کړه پخپله یې وخوره

**ختم بدایت بملح کن بردور بر لقمه نظر**

ختم اوشروع په مالگه کوه پورته کوی چی گوله نظر ورته کوه

* * *

## دمشکلو الفاظو حل :

لقمه: گوله، میخاییِ: ژویه، بشو: پریوله، علت: مرض.

## توضیح او مطلب:

۱. ډوډی چې خوری نو یو وار یې په شپه او ورځ کی خوره ځکه چی لږ خواراك مرض نه لری.
۲. دوهم ادب یې دادی چی له لوږه سره یې خوره ولی چی په موړوالی کی درد دزړه او دځگر وی.
۳. دریم دبل دمخه څه یې مه خوره دخپل ځایه څه خوراك کوه، او کوچنۍ گوله کوه، او هغه ډیره ژویه.
۴. څلورم په اول کی دډوډۍ خوړلو او همدارنگه په آخر کی یې لاس صفا کوه او پریوله یې.
۵. پنځم په بسم الله سره یې شروع کوه اوپه تکیه وهلو سره که په کور ناست یې که دغسی مه یې خوره .
۶. شپږم ادب: توته دډوډۍ چی ایله سی راپورته یې کړه په خپله یې خوره، او په شروع او په آخر کې یې مالگه څکه .

**۱. عیبی مکن درطعم کس هرشی که یابی آن بخور**

عیب مه کوه په ډوډی دسړی کی هرشی چی راغلی خوره یې

**نی ترش گویی بی مزه نی مثل آن چیز دیگر**

مه تروه وایه مه بی خونده نه په مثل ددی بل عیب

**۲. خواهی شوی بیشک غنی مالی بیابی بیکران**
که غواړی چی سی مالداره بیشکه مال به پیداکی ډیر
**تخلیل کن دندان خود چون طعم خوردی ای پسر**
خلال کړه غاښونه خپل چی ډوډی وخوری

**۳. کثرت آیادی برکت است تنها مثل ددان**
ډیر لاسونه چی دی برکت دی پکښی تنها خوراك مثل دحیوان دی
**طعمی چو تنها میخوری شیطان در او اُکل نگر**
هغه طعام چی خوری یوازی، شیطان خوراك کونکی وی پکښی

**۴. اندر طعام وآب هم ناگه بیفتد چون مگس**
په خوراك او اوبوکی که ناڅاپه ولویږی لکه مچ
**غوطه بده آنرا بکش آموز زمن این هنر**
ډوب یې کړه هغه بیایې وکاږه زده کړه زما څخه داحکمت

**۵. گفتست ختم الانبیاء هم اینچنین ایجانمن**
ویلی دی ختم کونکی دنبیانو دارنگه ای روحه ځما
**بر پر یکی دان زحمتی بر دیگر دارد ثمر**
په یوه وزر کی وبوله ضرر په بل کی لری میوه

**۶. چون از غذا فارغ شوی فی الحال رو خوابی بکن**
چی دخوراك څه خلاص سی فی الحال ولاړسه خوب کوه

**راحت بیابی در بدن آسوده گردد مغز سر**

خوشحالی به پیداکی په بدن کی ارام به سی مغز دسر

دلغاتو معنٰی :

بیکران: ډیر، تخلیل: په مابین دشی کی گرزول، ایادی: ډیر لاسونه، اکل: خوړونکی، غوطه: ډوبیدل .

توضیح او مطلب:

١. دخوراك عیبونه مه وایه کم شی چی ستا مخته حاضر سی هغه خوره، مه داوایه چی ترش دی مه داچی تریوی دی، مه داسی یوبل عیب په خوراك کی لټوه.
٢. خلالول دغاښو کوه ځکه په مال کی به دی برکت وی، یعنی په خلالولو سره دغاښونو په مال کی برکت پیدا کیږی.
٣. په گډه سره ډوډی خوری نه داسی لکه حیوانان چی یوازی خوراك خوښوی .
۴. کله چی مچ په اوبوکی یا په خوراك کی ناڅاپه ولویږی ډوب یې که بیا یې وکاږه او خوراك وخوره.
۵. په حدیث کی دی چی په یوه وزر کی یې مرض دی اوپه بل کی یې دوا ده.
٦. کله چی له خوراك څخه فارغه سی نو سمدستی بسترې ته ځه او خوب کوه دغه سبب دارامی او دخوشحالی دی. او په حدیث کی هم راغلی دی چی تر ډوډی وروسته په دستی خوب کول ښه دی.

**۱. در شب طعامی چون خوری باید روی گامی چهل**

پہ شپہ کی چی طعام وخوری نوباندی ولاړ سہ څلویښت گامہ

**تا تو نگردی زحمتی نی رنج بینی نی ضرر**

لپارہ ددی چی داخوراك دتكليف نہ سی نہ دمرض نہ دضرر

**۲. چون بر تو آید مهمان تعظیم کن بیحد وعد**

هرکلہ چی تاتہ میلمہ راسی عزت یې کوہ بی اندازې اوبی شمارہ

**فی الحال کش درپیش او چیزیکه باشد خشک وتر**

فی الحال راوړہ څہ چی وی وچ کہ لاندہ وی کہ وچ مخ تہ ددہ

**۳. ورتو گهی مهمان شوی هرجا که یابی جا نشین**

کہ چیری تہ میلمہ سی هرځای چی پیداکی کښینہ

**از میزبان آب ونمک خواهش مکن چیزی دیگر**

لہ کور والا څخہ اوبہ اومالگہ مہ غواړہ او مہ بل شی

**۴. شخصیکه خواند مر ترا وقتیکه سازد دعوتی**

کم سړی چی وغواړی تا هغہ وخت چی تیارہ کړی ملمستیا

**عذری بکن هم معذرت گر باشد شور وشر**

عذر وکړہ هم معذرت کہ چیری هلتہ وی شور اوشر

**۵. در طعم دانی شبهتی یاطعم بهر مرده**

پہ خوراك کی چی وی شك یاطعام وی لپارہ دمړی

**آنجا سرودی ودف دهل یا فحش وغیبت یا خمر**
هلته سروز وی یاډول یا دریا بی حیا یې یاخوشحالی دشرابو وی

**۶. یا ساختند آن طعم رابهر ریا نی بهر حق**
یایی جوړه کړی وی ډوډی لپاره دریا نه لپاره دخدای
**خوانند آنجا اغنیاء بکنند برفقر از زجر**
راغواړی هلته سرمایه داره کوی پر فقیرانو باندی ظلم

**۷. گر اینچنین طعمی بود دعوت انجا قبول مکن**
که چیری دارنگه دعوت وی دعوت مه قبلوه هلته
**فارغ نشین در خانه از اینچنین شو پرحذر**
خلاص کښینه په کور کی ددارنگه دعوت څخه پرهیز کوه

دمشکلو الفاظو معنٰی :

گام: قدمونه، خشك: وچ، تر: لانده، میزبان: کور والا، سرود: سروز، دف: دریا، دهل: ډول، ډول وهل، فحش: بدی خبری یا بد کار کول، عیش وعشرت: بازی کول.

توضیح او مطلب :

۱. کم وخت چی ډوډی وخوری څلویښت قدمه ځه بیابه دخوراك څخه تاته مرض اوتکلیف نه وی.
۲. کم وخت چی میلمه تالره راسی عزت اوادب یې ډیر کوه کم شی چی

موجود وی هغه دده مخ ته وروړه.
۳. اوکه چیری ته یوځای میلمه سی، نو دکور والا ښخه اوبه او مالګه مه غواړه مه بل شی .
۴. کم څوك چي تالره دعوت درکی اوهلته شر اوفساد وی بیا عذر ورته ووایه او خوراك ته یې مه ورځه.
۵. یاکه هلته په میلمستیا کی حرام خوراك وی یا ډول یا رباب یاشراب وی نوهم ته هلته مه ورځه.
۶. یا ډوډی لپاره دریا وی، یا سرمایه داران، او مالدارن را غواړی او فقیرانو لره تکلیف ورکوی.
۷. که چیری داسی ډوډۍ وه نو دعوت یې مه قبلوه، او کرار بیغمه په خپل کور کښېنه، هلته مه ورځه.

* * * * *

## باب پانزدهم در بیان آداب خوردن آب گوید

پنځلسم باب په بیان کی دی دادابو دچیښلو داوبو

**۱. گر آب خواهی تا خوری باید خوری زان اندکی**
که چیری اوبه غواړی چي وخوری مناسب ده چي لږ لږ وچیښي
**ساکن بخور اندر سه دم تعجیل در یکدم مخور**
په ارامی یې وچیښه په دری واره، په تلوار یې یو وار مه چیښه

**۲. استاده باشی آنزمان آبی مخور جز چار جای**

پہ ولاړہ سرہ چی یې نو هغه وخت مه چیښه ته ماسوا له څلورو ځایو

**باقی وضو در وقف جاهم آب زم زم هم سور**

زیاتی سوی اوبه داوداسه اودوقف په ځای کی هم اوبه دزمزم هم پاسخورده

**۳. آبی نباید تا خوری در چار جا ایجان من**

اوبه نه دی پکار چی وچیښی په څلورو ځایو کی ای روحه ځما

**نهار ویس خلوت مخور پس خواب وهم حاجت بشر**

په سهاروختی کی، وروسته ترجماع، وروسته ترخوب وروسته ترحاجت

**۴. آبی مخور یکساعتی یابی امان از دردها**

اوبه مه چیښه یو ساعت، خلاص به سی له دردو څخه

**هر گه که خوردی طعم را از گرم وشیرین چرب تر**

هروخت چی وخوری ډوډی له گرمو اوله خوږو اوغوړو څخه

**۵. چونتو گنه داری بسی آبی بده مرخلق را**

هرکله چی ته گناهونه لری ډیر اوبه ورکوه خلگو لره

**ناچیز گردد آن گنه از جوی جنت آبخور**

ورکه به دی وگرزی هغه گناه او دولی دجنت څخه به وچیښی اوبه

**۶. آبی خورانی خلق را یابی ثوابی از خدا**

اوبه څه وچښی په خلگو پیدابه کی ثواب له خدایه

**یک قدح بدهی تشنه را حوضی بجنت صد خبر**

یوه پیاله چی ورکړی تږی لره حوضونه دجنت سل واخله

## دمشكلو الفاظو معنیٰ :

پر: ډك، حذر: بیره، اندکی: لږ، تعجیل: تلواری، استاده: ولاړ، نهار: سهار وختی، امان: ځان ساتل، چرب: غوړه.

## توضیح او مطلب :

١. که غواړی چی اوبه وچښی نولږ لږ وچیښه په ارامی سره تلواری مه کوه په چښلو کی، بلکه په درو ساګانو سره یې چیښه.
٢. په ولاړی اوبه مه چیښه مګر په څلورو ځایو کی اول چی داوداسه اوبه زیاتی سی په ولاړی یې چښل مباح دی کم ځای چی منګی یا لوښی داوبو وی او ځای دناستی نلری هلته په ولاړی مباح دی چښل اوبه دزم زم په ولاړی مباح دی، او پسخورده هم ددغه ځایو څخه بغیر نه دی روا داچی په ولاړی اوبه وچیښل سی.
٣. یو دم اوبه مه چښه له ګرم شی وروسته له خواږه شی وروسته له غوړ شی څخه وروسته.
۴. اوبه مناسب نه دی چی ویې چښی په څلورو ځایوکی ١. سهار وختی ٢. له جماع وروسته ٣. له خوب وروسته ۴. له حاجت انسانی څخه وروسته.
۵. کله چی تا ګناهونه ډیر کړی وی نوخلګوته اوبه په خیرات کی ورکوه نوددې په سبب سره به الله ﷻ ستا هغه ګناهونه وبخښی.
٦. اوبه چی ته وچیښی په خلګو باندی نو دالله ﷻ دطرفه څخه به ثواب پیدا کی، دومره ثواب به یې الله ﷻ درکی چی ته کله یوه پیاله ورکی ویوه تږی شخص ته نو الله ﷻ به دهغه په بدله کی یو حوض درکړی.

## (باب شانزدهم در بیان آداب جامه پوشیدن)
شپاړسم باب دی په بیان دآدابو دجامې اغوستلو

**۱. جامه بپوشی آنچنان کان دیر ماند مر ترا**
چې جامه اغوندې داسې یې اغونده چې هغه ډېر وخت پاته سی تالره
**نی جهونه پوشی شربتی پوش انچنان باشد ستر**
مه نرمه اغونده اومه ټوټه اغونده دغسې چې ستر پټوی

**۲. از پنبه پوشی جامه در این بیابی راحتی**
دپونبه څخه اغونده جامه په دغه کې به خوشحالي پیداکې
**دستار باشد پیراهن ایزار کن زان سخت تر**
بګړی چې وی یاقمیص یاپرتوګ داسې یې کوه چې پټوی عورت زیات

**۳. کمخواب وخز دیباج را باید نپوشی هیچگه**
کیمخا اوخزاد دوریښمو باید چې نه واغوندې هیڅ وخت
**ابریشمی چون رشته شد زان توبه کن کلی حذر**
وریښمې چې تارونه پکښې وی دهغه څخه توبه وکاړه اوبالکل پرهیزوکه

**۴. مختار شد درجامها اسپید جامه جانمن**
ښه دجامو چې ده سپینه جامه ده ای روحه ځما
**تو دور کن از خویشتن هم زرد هم لعل ومعصفر**
ته لیری کوه له ځانه خپله هم ژړه هم سره هم نارنجی رنګه

## دمشکلو الفاظو معنیٰ :

جوی: ویاله، قدح: پیاله، جهونه: نوم دهغه کپړی دی چی ډیره باریکه وی، شربتی: نوم دهغه کپړی دی چی ټوټه وی عورت نه پټوی، پیراهن: قمیص، ایزار: لنګ، کمخواب: یوقسم دوریښمو کپړه ده، او خزدهم: یوقسم کپړه دوریښمو ده، **لعل**: سور رنګه، **معصفر**: لکه دمالتی رنګ.

## توضیح او مطلب :

١. کله چی ته غواړی چی جامه ډیر وخت تیرکی نونه نرمه جامه اومه ټوټه جامه اغونده.
٢. له پنبه څخه جوړه سوی جامه اغونده، ځکه چی دا خوشحالی هم لری، هرقسم جامه دپنبه وو څخه کوه که بګړی وی که قمیص که پرتوګ او که بل شی وی.
٣. دوریښمو څخه چی جوړوی لکه هغه قسمونه چی دکمخواب نوم لری یا دخزد په نامه یادیږی هغه جامې مه اغونده.
۴. اوپه ټولو جامو کی چی ښه جامه ده هغه سپینه ده، نه سره اونه ژړه او نه لکه دمالتی په ډول رنګ چی یې وی.

**ا. کم پوش پشم وچرم را سجده مکن بالائی آن**

کمه اغونده جامه دوړیو اودچمړی سجده مه کوه بالا پرهغه

**بر پنبه سجدهٔ افضل است نزدیک علما معتبر**

پرپنبه سجده بهتره ده په نز دعلماء معتبرو

**۲. دستار بندی هفت گز شمله گذاری پس عنق**

بگړی چی تړی نو اوه گزه یې تړه، شمله ورکوه دچټ پرخوا باندی

**بی شمله باشد بندشی آن بندش شیطان شمر**

بی شمله چی وی بگړی، هغه بگړی ده تړل سوی دشیطان

**۳. شمله که باشد باعلم آن شمله روشن بدان**

شمله چی وی سره دعلمه هغه شمله روښانه وګڼه

**بی علم شمله دان چنان چون خانهٔ تاریک تر**

بی علمه شمله وبوله دغسی لکه کمره توره یاتاریکه

**۴. دیری بماند پاک هم کوته چو پوشی جامه را**

ډیر عمر به پاته سی اوپاکه هم چی اغوندی لنډه جامه

**این بس شکل صالحان هم مردم نیکو سیر**

دا جامه چی ده طریقه دنیکانو خلګو ده او دنیك خویه هم ده

**۵. چون کفش پوشی موزه هم باید که پوشی زرد ولعل**

هرکله چی بوټونه په پښو کوی نو موزه هم اغونده یاژړه یاسره

**چون کفش وموزه شد سیاه اندوه بینی بیشتر**

هروخت چی بوټونه او موزه تور وی غم به وینی زیات

**۶. موزه چو پوشی کفش هم باید که پوشی راست هم**

موزه چی په پښو کوی اوبوټونه باید شروع له راسته طرفه وکی

**چونتو کشی این هر دو را باید کشی برعکس تر**
هرکله چې ته کوی کښل یې بیا دچپه څخه یې کاږه

دمشکلو الفاظو معنٰی :

چرم: څرمن، دستار بګړی، عنق غاړه، زرد ژړه، لعل سره، اندوه غم، عکس: اړول، بدلیدل، سرچپه.

توضیح او مطلب :

۱. کم اغوستل کوه دچمړی یا دوړیو سجده مه کوه بالا پر هغه، سجده پر پنبه ډیره ښه ده.
۲. بګړی چې تړی باید اوه ګزه وی شمله دشاه وطرفته ورکوه، بی شملی بګړی دشیطان ده.
۳. شمله سره چې دسره علمه وی هغه روښانه اوښه وی، دبی علمه شملې مثال داسی دی لکه کمره تاریکه .
۴. ډیره عمربه پاته سی جامه اوهم پاکه کله چې برابره جامه اغوندی،
۵. برابره جامه نه اوږده نه کوچنی دغه دنیکانو علامه ده.
کله چې بوټونه په پښو کوی باید چې موزه او بوټونه دواړه په پښو کړی، چې باید ژړ رنګ یا سور رنګه وی، تور رنګ والاغم ده.
۲. چې موزه په پښو کوی اول یې له راسته طرفه شروع کوه کم وخت چې یې کاږی له چپه طرفه یې شروع کوه.
او دا حکم یوازی په بوټو او موزو کی نه بلکه په کالو اغوستلو او دارنګه په نورو نیکو کارونو کی هم دی چې راسته ترچپه دمخه وی.

**۱. هرگه که پوشی جامه نو یک کف پر زآنی بکن**

هروخت چې اغوندی جامه نوی یو لاس له اوبو ډك کړه

**دوباره سورة قدر خوان زآن آب کن تو جامه تر**

دوه واره سورة قدر ووایه هغه اوبه پرجامه واچوه

**۲. انگشتری زآهن مپوش ازمس واز ارزیز هم**

گوتمی داوسپنی مه په گوته کوه اوله مسو اوله ژړو هم

**تو دو رکن از خویشتن خاتم چو یابی عین زر**

ته لیری کړه له ځانه خپل څخه گوتمی چې پیدا یې کی له خالص زرو

**۳. ترک تختم افضل است امری نباشد چون ترا**

پریښوول دگوتمی ښه دی امر چې نوی تاله

**از نقره کن انگشتری حاکم چو گشتی نامور**

دسپینو زرو گوتمی ښه ده چې حاکم وګرزی نوم درلودونکی

## دمشکلو الفاظو معنیٰ :

سورة قدر: دسوة انا انزلناه نوم دی، انگشتری: گوتمی، آهن: اوسپنه، مِس: پِتَل، تختم: گوتمی په گوته کول.

## توضیح او مطلب :

۱. هروخت چې نوی جامه پیدا کې، یولاس اوبه راوخله سورة قدر دوه واری پر اوبو ووایه پردم یې کړه اوهغه اوبه پرکپړو وپاشه.

۲. گوتمی دژړو او دمسو او اوسپنی مه په گوته کوه او دخالص سرو زرو. اوکله چی خالص دسرو زرو گوتمۍ پیدا کی هغه لیری کوه.
۳. که چیری امیر یاحکیم دوخت یې نوپه گوته کی گوتمۍ دسپینو زرو نو درته مباح دی.

* * * * *

**(باب هفدهم در بیان ذکر کردن وخفتن گوید)**

اوولسم باب دی په بیان کی دذکر کولو او بیدیدلو

**۱. در ذکر کردن خواب رو بیدار گردی ذکرگو**

په ذکر ویلو کی خوب ته ځه چی بیداره گرزی ذکر کوه

**باید نخسپی با وضوء بسیار یابی تو ثمر**

باید دی چی بیده کیږی په اوداسه ډیره به پیدا کړی میوه

**۲. کوچه نگردی نیم شب ازخانه بیرون در مرو**

په کوڅوکی مه گرزه نیمه شپه له کوره دباندی مه ځه

**خفتن چو خواهی شمع کش آوند پوش وبند در**

چی بیده کیږی بتی مړه کړه لوښی پټ که دروازه بنده کړه

**۳. تنها نه خسپی خانه کانجا نباشد ادمی**

تنها مه بیدیږه په کورکی چی سړی نه وی

**آسیب یابی از پری باشد ترا از جان خطر**

ضرر به بیا پیداکی له پیری څخه تا لره دروح خطره ده

**۴. چونتو عشا کردی ادا فی الحال رو خوابی بکن**
چې لمونځ دماخستن وکې فی الحال ځه خوب کوه
**عاصی شوی دوزخ روی شبها بخوانی چون سمر**
گنهگاربه سی دوږخ ته به ولاړ سی دشپې چې وایې دا قصې

**۵. قیلوله رادان نعمتی هرگز نگیری ترک آن**
دغرمې خوب یونعمت وشمیره هیڅکله یې مه پرېږده
**راحت بیابی دربدن آسوده گردد مغز سر**
ارام به پیداکې په بدن کې ارام به دې گرزې مغز دسر

**۶. مقدور باشد تا ترا هرگر نخسپی بر زمین**
قدرت چې وي تاله هیڅری مه بیدیږه پر مزکه
**طاعون وبا هم از زمین آید برون جان پدر**
طاعون مرض او وباهم له مزکې څخه راځي دباندې ای روحه دپلار

**۷. خوابی که بینی جانمن تعبیر پرس از عالمان**
خوب چې ووینې ای روحه زما دمعنٰی پوښته یې کوه له عالمانو څخه
**نی کودکان ودشمنان نی زنان اهل کفر**
له هلکانو څخه له دښمنانو څخه له ښځو څخه له کافرانو څخه یې
پوښتنه مه کوه

دمشکلو الفاظو معنٰی :

نخسپ: بیده کیدل، شمع بتی یا څراغ، آوند: لوښی، منگی، خفتن بیده کیدل، قیلوله: دغرمی خو باندی، آسیب: کم ضرر چی سړی ته رسیږی دپیریانو له طرفه، سمر: نقلونه اوقصی، طاعون نوم دیومرض دی، وباء هم نوم دیوه مرض دی، پرس پوښتنه، کودك: کوچنی هلك یا نجلۍ.

توضیح او مطلب :

۱. چی بیدیږی هم ذکر کوه اوچی راپورته سی هم دخدای ﷻ ذکر کوه په دې سره به ته ډیر ثواب پیدا کی.
۲. په کوڅو کی مه گرزه له کوره هم په نیمه شپه مه وزه، کله چی بیده کیدل وغواړی نو شمع مړه که، او پر لوښو باندی سرونه کښېږده.
۳. تنها مه بیدیږه یو ضرر یا آفت دپیریانانو دلاسه څخه در ونه رسیږی ځکه چی په یوازی والی کی ددې احتمال ډیر دی.
۴. چی ماخستن لمونځ وکی فی الحال بیدیږه گنهگاربه سی چی دشپی مجلسونه کوی.
۵. دغرمی خوب کوه او هیڅکله یې مه پریږده، ځکه چی لپاره دبدن او ددماغ ډیره لویه فائده لری.
۶. ځومره چی دی طاقت وی په مزکه هیڅکله مه بیدیږه، ځکه چی دطاعون او وبا خطره ده.
۷. خوب چی کله ووینی نو له عالمانو څخه یې پوښتنه کوه نه له هلکانو اونه له زنانو اونه له ددښمنانو اونه له کافرانو څخه . ځکه چی دخوب دتعبیر دپاره ډیر لوی علم پکار دی، او هغه دهرچا سره نه وی.

**۱. تعبیر بکند چون کسی آن خواب افتد هم برآن**
چې څنګه دخوب معنیٰ څوك وکي هغه خوب هغه شي دي
**بد را بگوید خوب چون آن زشت گردد خوبتر**
بد ته چې ښه ووايي هغه بد ګرزي ښه

**۲. گربد بگوید خواب را آن خوب بیشک بد شود**
که بد ووايي خوب لره هغه خوب بیشکه بد سي
**خواندم چنین اندر کتب دیدم چنین اندر خبر**
ماویلي دي دارنګه په کتابوکي لیدلي مي دي په حدیث کي

**۳. منکر مشو از خواب مرویست از پیغمبران**
منکرېږی مه دخوبونو څخه راغلي دي دپیغمبرانو څخه
**چون خواب بینی مصطفیٰ تحقیق دان هم معتبر**
په خوب کي چې ووینی پیغمبر رښتیا وبوله هم یقیني

**۴. شیطان بصورت مصطفیٰ قدرت ندارد تا شود**
شیطان په شکل دپیغمبر قدرت نه لري چې سي
**نی همچو کعبه او شود نی همچو شمس ونی قمر**
نه په شان دکعبې دی کیدلای سی نه په شکل دلمر نه دسپوږمی

**۵. جانان نخسپی شب جمعه عاشوره عرفیه عیدهم**
جانانه مه بیدیږه په شپه دجمعي دعاشوري هم دعرفي هم داخترانو

**رمضان زآخر ده بشي بيشک بيابي شب قدر**

او درمضان چې اخير لس شې مه بيديږه بيشکه پيدا به کې قدر

## دمشکلو الفاظو معنٰی :

تعبير: بيان کول دخوب دمعنٰی، زشت بد ، خواندم: ماويلی دی، منکر: نه منونکی، مرويست رانقل شويدی، عاشورا: لسمه دمحرم دمياشتی، عرفه: دنهم شپه دذی الحجه دمياشتی دلوی اختر دمياشتی.

## توضيح او مطلب :

۱. کله چې شخص تعبير درته وکی، هغه خوب هم داسی لويږی، که بد ته ښه ووايی هغه بد به ښه سی.
۲. بيان چې دخوب دمعنٰی اوسی هغه خوب بياهغسی ځی که ښه معنٰی وه خوب ښه وی که يې معنٰی بده وه خوب به بدوی. مادغسی ويلی دی په کتابو کی اوليدلی می دی په حديث کی.
۳. له خوبه مه منکره کيږی کله چې پيغمبر ﷺ ووينی يقينًا دا هغه ﷺ دی اودا خوب معتبر دی.
۴. شيطان هيڅکله په صورت دپيغمبر ﷺ نه سی جوړيدای اونه په شکل دکعبی اونه دلمر اونه دسپوږمی جوړيدلای سی .
۵. دجمعی په شپه او دعرفی او دعاشورا اوهم داخترانو په شپو کی مه بيديږه اوهم درمضان په لسو آخرو شپوکی ځکه چې دشب قدر ثواب به پيدا کې.

* * *

## باب هژدهم در بیان بیع وشرا گوید
اتم باب دی په بیان کی دبیع او شرآء

**۱. میکن تجارت جانمن این از مکاسب خوب دان**
کوه سودا ای روحه ځما دغه له کسبو ښو څخه وبوله
**دبز برکت بیشتر اسپان بهائم هم بخر**
په بزو کی برکت زیات دی هم په اسونو هم په خروکی

**۲. غله مخر نیت گران برده فروشی هم مکن**
غله مه اخله په نیت دگرانی اوذخیره یې هم مه کوه
**پرهیز کن این هردو را ملعون نگردی محتکر**
پرهیز کوه دغه دواړو لره لعنتی به ونه گرځی ذخیره کونکی

**۳. در سود غلّه برده هم هرگز نباشد برکتی**
په فائده دغلی کی او دمره یې کی هیڅکله برکت نه وی
**محروم مانی از کفن آن مال بخورد کس دگر**
بی نصیبه به پاته سی له کفنه هغه مال به خوری بل څوك

**۴. درهر چی بینی ضرر کس هیزم بود یا کاه کچ**
په هرڅه کی چی وینی ضرر دخلگو که لرگی وی یاچونه
**آن احتکار است بیشکی مخصوص نی قوة بشر**
دغه ذخیره ده بیشکه خاصه درزق څخه دانسان

**۵. گر غله داری از زرع بکنی ازان انبارها**

که چیری غله لری له کشت خپل څخه او دهغه څخه جمع

**هرگز نگردی محتکر نزدیک علماء معتبر**

هیچری نه گرزی ذخیره په نز دعلماوو معتبرو

دمشکلو الفاظو معنیٰ :

مکاسب: کسبونه کارونه، بز: بزی اوپسونه، بهائم چارپایان، ملعون لعنتی، محتکر ذخیره کونکی، سود فائده، هیزم لرگی، گاه وابښه، گچ چونه، زرع: کښت، انبار: جمع.

توضیح او مطلب :

۱. په تجارت کی چی برکت لری، هغه دپسو تجارت دی او دارنگه فائده لری داسانو تجارت اوهم دچارپایانو تجارت.
۲. غله چی اخلی بیایې لپاره دگرانی مه ذخیره کوه، او ددې کار څخه پرهیز کوه چی ملعون ونه گرځول سی.
۳. دغلی او دمریانو په تجارت کی هیڅکله فائده نه وی. بلکه اکثره وخت خاوند دکفن څخه هم محرومه وی.
۴. وابښه او لرگی یا چونه چی په بندولو کی یې دخلگو ضرورت وی هم مه ذخیره کوه .
۵. که له خپله کښت څخه غله سره جمع کی هیڅکله ته نه یې محتکر یعنی ذخیره کونکی .

* * *

**۱. چون تو خریدی بنده مفروش او را هیچگه**
چې تاواخستی یومریي مه خرخوه هغه هیچرې
**دانی برادر بیشکی اوگر چه باشد بد بتر**
وشمیره یې خپل ورور بیشکه که څه هم چې بد وی

**۲. گرتو فروشی یاخری سوگند ناری درمیان**
که ته خرڅول کوی یا اخستل قسم مه راوړه په مابین کې
**سوگند چون صادق خوری روزیت گردد تنگ تر**
قسم چې په رښتیا واخلی روزی به دې وگرزی تنگه زیاته

**۳. کیلی ووزنی چون خری آری بخانه از دکان**
دپیمانې اوتول شی چې واخلی راېې وړه کورته له دوکانه
**ناکرده کیل ووزن هم مفروش جانا هم فخر**
چې نه دی وی تللی او پیمانه کړی هم یې مه خرڅوه هم یې مه اخله

**۴. مالک کینزک چون شوی پالی رحم را فرض دان**
خاوند دمینځې چې سې پاکې دفرج فرض وشمیره
**مسی مکن تقبیل هم فی الحال در خلوت مبر**
لاس مه وروړه مچه هم فی الحال مه اخله اوخلوة ته یې هم مه وړه

**۵. کامل چو بینی حیض را اندر کنارش رود کش**
پوره چې ووینی حیض په غیږکی یې ژر راوله

**بیعی کنی چون جاریه پاکی رحم دان دوست تر**
چې واخلی مینځه پاکی دفرج وشمیره ښه ډیره

**۶. پرهیز کن خوردن ربا باشد با خوردن چنان**
پرهیز کوه له خوړلو دسود خوړل دسود داسې دی
**کردن زنا با مادران هفتاد بار ایشه پسر**
لکه چې زنا له مندو سره اویا واره ای دباچا زویه

دمشکلو الفاظو معنٰی :

مفروش: مه خرڅوه، سوګند قسم، کیلی تلل، وزن برابر کیدل، کینزك مینځه، مس لاس وروړل، تقبیل مچه اخستل، ربا سود، مادران، مندی.

توضیح او مطلب :

۱. هرکله چې ته واخلی یومریی بیایې مه خرڅوه ورور یې وګرزوه، که څه هم چې دی ډیر بد سړی وی.
۲. کله چې سودا کوی نو قسم مه وربا ندی کوه ځکه چې قسم ستا روزی تنګه ګرزوی.
۳. دتللو یا دپیمانی شی چې راوړی کله چې تلل سوی نه وی مه یې راوړه کورته ولی چې جنجال پکښې راتلای سی.
۴. کله چې مینځه رانیسی نو دهغې دفرج دپاك والی دپاره څه موده ورته دجماع انتظار کول واجب دی.
۵. ښځه چې له حیضه پاکه سوه بیایې جماع رواده په غیرکی یې واخله

او تردی مخکی یې جماع کول نه دی روا.
٦. دخوړلو څخه دسود پرهیز کوه ځکه چی دومره تاوان لری لکه له مور سره اویا واره زنا.

*　*　*

**(باب نوزدهم در بیان منع از صحبت ملوک واغنیاء)**
نولسم باب په بیان کی دی دمنع کیدو دمجلس څخه دباچهانو او غنیانو

**١. درویش شو درکنج شین طمعی مکن از هیچکس**
فقیر سه په کونج کی کښینه طمعه مه کوه له هیچا څخه
**قانع شدن ملکی بدان خانه بدان پر از گهر**
صبر کول یوه بادشاهی وبوله کور وشمیره ډك له غمیانو

**٢. نزدیک سلطان خود مرو دربار سلطان دان بلا**
په نزد دباچا په خپله مه ځه دربار دبادشاه وشمیره آفت
**چونتو هوس سلطان کنی باشد ترا از جان خطر**
چی ته مینه دمجلس دبادشاه کوی تا لره ده دروح بیره

**٣. تقلید شغل شه مکن آفت بلا مدغم دران**
تابعدار دکار وبار دبادشاه مه کوه آفتونه اوبلاوی پټی دی په هغه کی
**راحت به بینی اندکی زحمت به بینی بیشتر**

خوشحالي به ويني كم زحمت به وويني زيات

**۴. اشغال شه بیشک بدان همچو برائی جامه**

کارونه دبادشاه بيشكه وبوله لكه كپړه دچنجيانو

**پوشد برائی چون کسی او را ندانی معتبر**

هغه څوك چي واغوندي هغه سړی مه شميره معتبر

**۵. چونتو غنی بینی بدر بگریز زو فی الحال تو**

چي ته غني ووينې په دروازه كي تښته له ده څخه في الحال

**درویش آید چون نظر آور به پیشش ماحضر**

فقير چي راسي په نظركي راوړه په مخ دده كي چي څه حاضر وي

**۶. پرهیز از میر وملک دان زهر قاتل قرب شان**

ځان ساته داميرانو اوبادشاهانو څخه دوی زهر قاتل وشميره

**چونتو نشینی باملک هر لحظه بینی صد ضرر**

هركله چي ته كښيني سره دبادشاه هرساعت به ويني سل ضرره

دمشكلو الفاظو معنٰى :

قانع صبركونكى پر ډك تقليد تابعداری كول مدغم پټ قاتل مړكونكى هرلحظه هرساعت.

توضيح او مطلب :

۱. فقيرى مختاره كړه او په كنج كی كښينه عبادت كوه خپل كور به دی

دملغلرو ښخه ډك وي.
۲. وه دربار دباچاهانو ته مه ځه تكليفونه ورسره ډيردي، ځكه چي ته كله هوس دباچا وكي نوستا ځان ته خطره ده.
۳. خالص تابع داري دباچا مه كوه ځكه چي بلاوي اوتكليفونه په دې ډير زيات دي.
۴. كارونه دباچا بيشكه وبوله لكه جامې تاواني، هرچا چي واغوستي هغه تاواني بيشكه.
۵. چي سرمايه دار ووينى تيښته ځيني كوه، فقير چي كم وخت راسي چي كم شي حاضر موجود وي هغه ورلره راوړه .
۶. له آمر اوله باچا ښخه ليري گرزه دوستي ددي هريوه مړه كونكى ده اوله فقيرانو سره هميشه كښينه .

**۱. تعظم كن درويش را چيزى بده از بهر حق**

عزت وركوه فقير لره يوشي وركه لپاره دخداى

**برو زتو ثلثان دين تعظيم منعم بهر زر**

ولاړبه سى له تا ښخه دري حصى ددين چي عزت كوى دغنى لپاره ددنيا

**۲. الطاف سلطان چون كند هرگز مشو مغرور آن**

مهرباني چي بادشاه وكي درباندي هيڅكله مه سه مغروره په هغه

**شكر كه سلطان مى دهد آن زهر دانى نى شكر**

شكر چي بادشاه دركي هغه زهر وگڼه نه شكرى

**۳. ذيشان نيابى راحتى مهرى نيارند بركسى**

ددي ښخه پيداكيږي خوشحالي محبت نه راځي په هيچا كي

**رافت ملک آفت بدان احسان شان خشم وقهر**
مهربانی دبادشاه آفت وبوله احسان ددی قهر دی اوقهر

**۴. جونتو روی مجلس شهان باید نگهداری زبان**
هرکله چي ولاړسی خلوت دباچاهانو ته وساته ژبه
**سخنی نگویی پیش شان آئی برون باشی چو کر**
خبری مه وایه په مخ ددوی کی، راوزی به لکه نوکر

**۵. پرسند چون ازتو سخن خدمت بکن پاسخ**
چي پوښتنه له تا وسی دخبری خدمت کوه جواب ورکوه
**سخنی که گوئی پیش شان نرم وخرین آهسته تر**
خبری چي وایی په مخ ددی کی نرمی اوتازه او سوکه

**۶. ناخوانده برشاهان مرو خوانند چون درحال او**
چي نه يي بللی باچاهانو ته مه ځه چي ودی غواړی نو ځه
**طاعت بکن فرمان شان این نوع فرضی شمر**
تابعداری کوه دحکم ددوی داقسم فرض وشمیره

**۷. عدلیکه بکند بادشاه بهتر زسالی شصت دان**
انصاف چي وکی باچا ښه دی دشپیته کالو څخه
**بکند کسی طاعت دران یا خود عبادت بیشتر**
چي اوکړی څوك طاعت په دغه کلونه کی یاعبادت

**۸. حدی اقامت چون شود اندر زمینی بهر حق**

دیوه حد شرعی قآئمیدل چی اوسی پرمځکه لپاره دخدای

**از چهل صبحی دان نکو بارد که متواتر مطر**

دڅلویښتو صبا ښخه ښه دی چی پکښی وی باران پرلپسی

## دمشکلو الفاظو معنٰی :

ثلثان: دوی دریمی حصی، الطاف مهربانی، راحت خوشحالی، خشم قهر، پاسخ جواب، خرین تازه، ناخوانده چی شی یې نه ویلی .

## توضیح او مطلب :

۱. عزت ورکوه فقیر لره لپاره دخدای ﷻ اوکه دسرمایه دار عزت کوی لپاره ددنیا نو وړی دوې دریمی حصی ددین څخه ستا.
۲. باچا چی مهربانی وکی مغروره کیږه مه هغه زهر وبوله اوتاوانی یې وګڼه ګټه نلری درته.
۳. له دی څخه به پیدانه کی خوشحالی بلکه یو ډول آفت وبوله احسان ددوی اوقهر یې وبوله.
۴. کله چی ته دباچهانو ومجلس ته ولاړ سی نو باید چی خپله ژبه دخبرو کولو څخه وساتی.
۵. چی پوښتنه ستا څخه وسی نوته جواب دخبری ورکوه دوی ته په ښائسته او نرمی لهجی سره.
۶. چی نه دی غواړی نو دربار دباچاهانو لره مه ورځه اطاعت یې کوه او

خبره يې منه.

٧. کله چې باچا عدل کوي نو دده دپاره تر شپيتو کالو عبادت هم زيات ثواب لري، ځکه نو باچا ته عدل پکار دی.

٨. کله چې يو حد قآئم او جاري کړل سي پرمځکه باندی، نو دا ده ته تر څلوېښتو ورځو نفعمند باران هم ښه دی.

*   *   *

## (باب بيستم در خلق نکو ونرمی کردن وحقوق همسايه گويد)

شلم باب دی په بيان کې دښو اخلاقو او دنرمي کولو او دهمسايه دحقوقو

**١. تو پيشه کن خلقی حسن تا اجر يابی بيعدد**

ته کسب کړه دخوی ښه چې ثواب پيداکې ډير

**باخلق چندان خلق کن تا تو بگردی مشتهر**

دخلگو سره دومره ښه خوی وکړه چې مشهوره سی

**٢. نادان چو گويد بد ترا خلقی بکن پاسخ بده**

ناپوهه چې درته بدوايي په نيکخويي جواب ورکه

**خلقی کند ياری ترا گردند هر يک دادگر**

خلگ به درسره امداد وکي او وبه گرزي انصاف والا

**٣. عقل ومعيشت پيشه کن بامردمان ورزش نکو**

عقل اوروزگار کسب کړه له خلگو سره ښه گذاره وکړه

**تاشهد گردی درجهان یابی بعقبیٰ هم اثر**

چې ګبین شې په دنیا کې په اخرکې به هم اثر پیداکې

## دمشکلو الفاظو معنیٰ :

عدل: برابروالې دحقوقو، شصت شپېته، چهل څلویښت، مشتهر: مشهوره، پاسخ جواب، معیشت گزاره، شهد شات، عقبی اخرت .

## توضیح او مطلب :

۱. دخلګو سره ښه خوی کوه چې مشهوره سې، ځکه چې په دې سره به بې حسابه اجرونه پیدا کې.
۲. بداخلاقه خلګ چې تاته څه وایي جواب ورکړه په ښه اخلاقو سره خلګ به ستاسره امداد کوی تاته به وایي عدل والا .
۳. ښه روز ګار چې دی هغه کسب دی اوښه ګذاره کوه لکه دعسلو ګبین هرسړی به دی خوښوی.

**۱. نرمی بکن باجمله کس خلق مدار پیشه کن**

نرمي کوه دټولو سره ښه اخلاق او خوی کوه

**تادوست گردی خلق راچون روح در قالب بشر**

چې دوستان سی ستا خلګ لکه روح په قالب دخلګو کې

**۲. کن مشورت درکارها کاری مکن بی مشورت**

کوه مشوره په کاروکې کارمه کوه بې مشوری

**مامور شد در مشورت شاه رسل ای نامور**

حکم سوی دی په مشوره سره باچا درسولانو ته

**۳. چون تو همی برده خری اوربدان همزاد خود**

چې ته مریې اخلی خپل همزولی یې وبوله

**طعمش خوران چون طعم خود جامه بپوشان خوبتر**

ډوډی ورکوه په مثل دخپلی ډوډی اوجامه ورکوه ښه ډیره

**۴. چون اوکند عصیان گنه بگذار ازوی صبرکن**

چې دی کوی گناه نوعفوه وکړه ورته او صبروکه

**آوند گر او بشکند یاده مگو دیگر بخر**

که لوښی مات کی بدورته مه وایاست بل واخله

**۵. کاری مفرما آنچنان رنجه شود زان کارها**

دکار ورته مه وایه چې په تکلیف سی هغه دکارو څخه

**خاصه چوبینی صائمش فرمای کاری ماقدر**

خاص چې ویې وینی روژه دار حکم کوه دکار په اندازه سره

**۶. رنجه مکن همسایه رابسیار احسان کن برو**

مه خفه کوه همسایه ډیره نیکی ورسره کوه

**ورنه بدوزخ مرترا باشد عذابی سخت تر**

اوکه نه نوپه دوزخ کی به وی تالره عذاب هم محنت زیات

## دمشکلو الفاظو معنٰی :

روح: یوصورت باریك لره نوم دی چی بدن وربانذی ژوندکوی. قالب دلته نوم دی دبدن، مامور حکم ورته سوی، برده مریې، همزاد همزولی، آوند لوښی .

## توضیح او مطلب :

١. دټولو خلگو سره نرمی کوه اوښه خویونه دځان طبیعت وگرزوه نو ټول خلگ به ستادوستان سی .
٢. په هرکارکی مشوره کوه ځکه چی دمشوری کولو امر پیغمبر ﷺ ته هم سوی وو.
٣. مریې چی رانسی داسی یې بوله لکه خپل همزولی، هغسی ډوډی ورکوه اوهغسی جامه ورکوه لکه خپل ځانته چی یې ورکوی.
۴. که یوکار خلاف وکی عفوه ورته کوه یایوشی مات کی هیڅ مه ورته وایه بل واخله.
۵. هغه کار ورته وایه چی دی په تکلیف نه سی چی روژه یې وی هغونه کار ورته وایی چی په اندازه وی.
٦. تکلیف خپل همسایه ته مه ورکوه ځکه چی دا عذاب سبب گرځی تالره په دوږخ کی.

*   *   *

### ا. جمله بزرگان اولیا ایذا تحمل بیشکی

ټولو لویو بزرگانو دضرر بردباری کړیده بیشکه

**کردند ازهمسایگان چندانکی ناید درحصر**

کوی به یې دهمسائګانو دلاسه څخه دومره چې نه راځي په شمارکې

**۲. خدمت بکن برجمله را مخدوم گردی بیشکی**

خدمت کوه ټولو لره خدمت ګذار به وګرزی بیشکه

**انکس که اوخدمت کند مخدوم گردد تاج سر**

هغه څوك چې دی خدمت وکړی مخدوم به ګرزی تاج دسر

**۳. اسپ وبهائم چون خری کاه ودلیده شان بده**

اسونه اوچارپایان چې واخلې وابنه او اوړه دوی ته ورکړه

**آبی نما هم بار بخورند اندک بیشتر**

اوبه ورته ښکاره کوه ډیر واره یې څکې اوکه ډیری دانې

**۴. زبان بسته است اوگفتن نداند حال خود**

پوهیږې چې ژبه یې تړلې ده دویلو څخه دی دحال خپل

**دائم بماند بست لب شفقت کنی تو بیخبر**

همیشه دی تړلې شونډی مهربانی کوه پر بی خبرو باندی

## دمشکلو الفاظو معنٰی :

ایذاء ضرر رسیدل، حصر شمار، مخدوم چې دده بل څوك خدت کوی. لب، شونډی، بسته تړلی، بهآئم چارپایان، هغه حیوانان چې څلور پښې لری، شفقت مهربانی، رحم دلی.

توضیح او مطلب :

۱. پرضررو تهولو بزرگانو صبر کړیدی اودهمسایه گانو سره په ښه کولو کی ثواب بی شماره دی.
۲. خدمت کول دخلگو الله ﷻ به ستا خدمت په خلگو وکی بیشکه. هغه څوك چی دبل خدمت کوی خدای یې مخدوم گرځوی.
۳. حیوانات چی رانیسی خدمت یې کوه. واښه او اوبه ډیر او پر وخت ورکوه او ښکاره یې ورته ایږده.
۴. ځکه چی حیوانان ژبه نه لری چی خپل ضرورت بیان کړی ددې وجی څخه ته تل پام ورته کوه.

**(باب بیست ویکم در حقوق والدین بر اولاد گوید)**

یوویشتم باب په بیان کی دی دحقوقو دمور او پلار

**۱. باوالدین احسان بکن تا اجر بیابی بیعدد**

دمور او پلار سره نیکی کوه لپاره ددی چی ثواب پیداکی بی شماره

**خدمات ایشان فرض شد درنص وهم اندر خبر**

خدمت ددیی فرض دی په اٰیات هم په حدیث

**۲. هرچونکه خواهند آن کنی جنت درآئی بیشکی**

هررنگه چی غواړی هغه سی کوه جنت ته به ولاړسی بیشکه

**مر مصطفٰی را گفت خالق یاد کن ای نامور**

خاص رسول الله ﷺ ته وویل رب هغه یاد کړه ای نوم درلودونکی

**۳. انکس که عزت میکند ابویه را بشنو نکو**

هغه څوك چی عزت کوی مور او پلار لره واوره ښه

**دارین عزت مرو را مقبول در جمله بشر**

ددوارو جهانو عزت وی هغه لره اوقبول به وی په ټولو خلگو کی

**۴. در رزق او برکت شود هم عمر گردد دراز**

په رزق دهغه کی به هم برکت سی اوهم به ئی عمر اوږد سی

**مقبول باشد جابجا مشهور اندر هر شهر**

قبول به وی په هرځای کی مشهور به وی په هر ښار کی

**۵. ابوین را خوشنود کن تا برتو راضی حق شود**

مور او پلار خوشحاله که چی راضی سی له تا څخه خدای

**یابی تو قصری درجنان باشند او درو گهر**

پیدابه کی بنگلی په جنتو کی چی وی له ملغلرو اوله غمیو څخه

**۶. در زیر پا مادر پدر جنت بیابی بیشکی**

لاندی تر پښو دمور او پلار به جنت پیداکی بی شکه

**فرمان شان اری بجا یابی ثوابی بی حصر**

حکم ددوی راوړه په ځای ثواب به پیداکی بی شماره

**۷. شیرین سخن هم نرم گودر پیش شان شین باداب**

خوږه خبره هم په نرمی سره کوه په مخ ددوی کی کښینه په ادب

**آداب شان ارى بجا تا تو نگردى مضطرر**
ادب ددوى پر ځاى راوړه چى نه وگرزى بيقراره

**۸. طعمى بده در اثر جوع جامه بپو شان قدر خود**
طعام ورکوه وروسته دلوږى څخه جامه وراغونده په اندازه خپل
**نامى مخوان ابويه را تا تو نگردى مفتقر**
په نامه مه وايه مور او پلار ته چى نه وگرزى فقير

## دمشکلو الفاظو معنٰى :

والدين مور اوپلار، ابويه مور او پلار، مقبول قبول سوى، در ملغلرى، مضطرر بيقرار، مفتقر فقير.

## توضيح او مطلب :

۱. دمور پلار سره ښه کوه چى بيشماره ثواب پيداکى، خدمت کول يې فرض دى په آيات هم په حديث سره.
۲. کم شى چى غواړى هغه ورکوه ځکه چى دمور پلار په خدمت کى ثواب ډير دى.
۳. کم سړى چى دمور اوپلار عزت کوى په دنيا اواخرت کى به عزت پيدا کى.
۴. په رزق کى به يې برکت وى او عمر به يې دراز وى اوځاى پر ځاى به مشهور وى.
۵. مور او پلار راضى که، ددې په بدله کى به بنگلى دجنت پيدا کى ډکى له ملغلرو څخه.

۶. لاندی تر پښو دمور اوپلار جنت دی حکم ددوی منه په دې کی ثواب دی بی شماره.
۷. نرمه خبره ددوی سره کوه په ادب سره کښینه ادب ددوی کوه چی نه سی ستا څخه بیقراره او ناراضه.
۸. ډوډی ورکوه چی وږی سی جامه ورکوه په خپله اندازه سره، په نامه هم مور اوپلار ته مه وایه چی فقیرنه سی.

**۱. بر امر شان مامور شو الا که امر معصیت**
**بکنند جانان چون ترا میکن ازان کلی حذر**
په امرددی باندی منونکی سه مگرنه په امر دگناه
چی وکی دگناه امر ای جانه تالره دهغه څخه پرهیز

**۲. اُف مگو درپیش شان خوفیت زین جرم عظیم**
اف مه وایه په مخ ددوی کی بیره ده له دی څخه
**بی اذن شان جای مرو باشد ترا صد خطر**
بی حکمه ددوی هیڅ ځای مه ځه تالره سل خطری دی

**۳. مرهر کرا خوشنود شد مادر پدر اوشه سعید**
خاص دهرچا څخه چی خوشحال شو مور اوپلار هغه نیك دی
**خوشنود گردد حق برو اورا نسوزد درسقر**
خوشحاله به سی له ده څخه خدای ﷻ نه سوځی اور ددوږخ

**۴. گر میکنی تو بیست لک سالی عبادت بهر حق**
که چیری ته شل لکه کاله عبادت کوی لپاره دخدای

**بهتر زحق والدین این نیست از خیر البشر**

بنه تر حق دمور اوپلار دا کار نه دی بیان سوی له پیغمبر ﷺ

**۵. گرعاق بکند طاعتی خیرات هم در روز وشب**

که چیری عاق سوی دمور او پلار ښخه خیرات کوه ورځ اوشپه

**جای نباشد مرو را الا که در جوف سقر**

یوځای نسته خاص ده لره مگر سته منځ ددوږخ

**۶. دان عاق مادر هم پدر محروم از بوی بهشت**

وبوله عاق دمور هم دپلار بی نصیبه له بوی ښخه دجنت

**دیدم چنین اندر نسخ از نسخهای معتبر**

ماليدلي دی دارنگه په کتابو کی دکتابو معتبرو ښخه

## دمشکلو الفاظو معنٰی :

معصیت گناه، أف کلمه دایت ده معنٰی داسی کلمه مه وایه چی مور او پلار ته پکښې ضرر وی، خوشنود خوشحال، جوف معنٰی مابین، سقر نوم ددوږخ دی .

## توضیح او مطلب :

۱ . دمور اوپلار خبره هر وخت منه نه په گناه کی. اوکله که مور او پلار خدای مه که په بدو باندی امر درته وکی، نوبیا یې ته په قول مه کوه، بلکه خپله نیك کار کوه.

۲. دضرر کلمه ویل مور اوپلار ته بیره دعذاب دی. ددوی داجازې څخه پرته هیڅ ځای هم مه ځه.
۳. دکم سړی څخه چی خوشحال سی مور اوپلار دهغه نو هغه ډیر نیك سړی دی.
۴. که یوسړی شل لکه کاله عبادت کوی خوتر هغه دمور اوپلار خدمت زیات ثواب لری.
۵. که یوسړی آزاری دمور اوپلار وی فوراً دی تابع داری کوی که یې نه کوی ځای به یې دوږخ وی.
۶. کم څوك دمور او پلار لخوا څخه عاق وی پر هغه باندی بوی دجنت حرام دی، همداسی راغلی دی په کتابوکی.

**۱. ابوین چون خوشنود نی صرفًا وعدلاً دان یقین**
مور اوپلار چی راضی نه وی نه فرض اونه نفل وبوله په یقین
**مقبول نی حضرت خدا خیرات دیگر هم هدر**
قبول نه وی په حضور دخدای کی نیکی نوره هم باطله

**۲. مردود مادرهم پدر هرگز نباشد سرخ رو**
رد کړل سوی دی دمور اوپلار هیڅکله نوی عزتمند
**عزت نباشد مرورا برکت نه اندر مال وزر**
عزت نه لری اونه خاص برکت وی په مال اوپه زروکی دده

**۳. خوار وخجل هردو جهان آسان نیاید آب ونان**
خوار اوشرمنده به وی په دواړه جهانه اوپه اسانی به پیداکی رزق

**تنگی برزقش آنچنان كايد پريشان دربدر**

تنګي به يې وي په رزق کې دومره چې ګرځي به کوڅه په کوڅه

**۴. تلخی فراوان مرورا در وقت ونزع جان او**

تريخ والي به وي خاص ده لره په وقت دوتلو دروح

**در گورنی راحت ورا باشد عذابی بیشتر**

په قبرکې خوشحالي نه وي ده لره اووي به عذاب زيات

* * *

دمشکلو الفاظو معنٰی :

ابوين: مور پلار ته وايي، تثنيه جمع تغليبي ده، يعنی غلبه يې ورکړه پلار لره پر مور. مقبول قبول سوی، خجل شرمنده، ګور قبرته وايي، شوهر خاوند دښځې .

توضيح او مطلب :

۱. مور او پلار چې دسړي څه نه وي خوشحاله نوري نيکی هم دهغه شخص باطلې وي.
۲. شړل سوی دمور او پلار هيڅکله نسی سپين مخی کيدی، او نه هم دهغه قدر وي.
۳. دکم سړي څخه چې مور او پلار نه وي خوشحاله هغه خوار او خجل او شرمنده وي هم په دنيا او هم په آخرت کې، نو کله چې دمور او پلار ناراضی دومره لوی عذاب دی نو پرهيز ورڅخه پکار دی.

۴. دکم سړی څخه چی مور نه وی خوشحاله تریخ به والی ده لره په وخت دروح وتلو کی.

## (حکایت علقمه اصحابی رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ)

قصه دعلقمه صحابی رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ

**۱. نشیده برعلقمه بروی چو شد وقت نزاع**
نه دی ده اوریدلی دعلقمه قصه پرده دروح ختلو
**زحمت گران بندی زبان تلخی چوبروی بیشتر**
سختی وه وربانذی درنه او دژبی تریخوالی ډیر زیات

**۲. زان او بیامد بر نبی گفته که ای شه مرسلان**
ښځه دده راغله ونبی ﷺ ته ویل ای باچا درسولانو
**بر شوهرم نزع گران گشت است عاجز مضطرر**
پر میړه می دځکندن خواری ده، وګرزیدی عاجزه بی قراره

**۳. فرمود احمد مصطفٰی مر مرتضٰی وهم بلال**
وفرمایل رسول ﷺ خاص علی ته هم بلال ته
**سومی سلیمان فارسی عمّار را چارم شمر**
دریم سلمان فارسی ته اوعمار یې څلورم وشمیره

**۴. رفتند شان برعلقمه گردند تلقین مرورا**
ولاړل دوی په طرف دعلقمه ویې کړی تلقین ده لره

**هرگز نه جنبیدش زبان کردند براحمد خبر**

بالکل ونه ښوریده ژبه دده کړی یې رسول الله ﷺ خبر

**۵. پرسید سید پاک دین ابویه دارد زنده این**

پوښتنه وکړه سردار دده دمور اوپلار دژوند

**گفتند اصحابش چنین مرده یقین اورا پدر**

وویل اصحابو دا رکم مړدی په یقین سره پلار دده

**۶. زنده است مادر علقمه گشتهٔ ضعیف وناتوان**

ژوندی یې ده مور گرځیدلی ده ناتوانه او بې طاقته

**فرمود سید مرسلان رو ای بلال زودتر**

وفرمایل سردار دپیغمبرانو ﷺ ولاړ سه ای بلاله ډیر ژر

**۷. برمادرش ازمن سلامی گو چنین ای پیر زن**

پرمور دده باندی سلام ووایه زما او ورته ووایه ای بوډی

**گر طاقتی داری بیا خوانده ترا خیر البشر**

که قدرت لری نوراسه بولی تا خیر البشر ﷺ

**۸. گر او ندارد طاقتی او را بگو تو ای بلال**

که چیری دانه لری طاقت دی ته ووایه ای بلاله

**درخانهٔ خود شسته شو آید بتو شافع حشر**

په کور کی خپل ناسته اوسه رابه سی تاته شافع دقیامت

**٩. رفته مؤذن مصطفٰى بگذارد چون پيغام**

چې ولاړې اذان کوونکې درسول ﷺ او ويې رسوې پيغام

**برخاست شادآن پيرزن وقتيكه بشنيد اين خبر**

داپورته سوه په خوشحالې سره هغه بوډۍ چې وايې وريدې دا خبر

## توضيح او مطلب :

علقمه: نوم ديوصحابي دي چې دروح ختلو په وخت کې ډير په تکليف وو پيغمبر ﷺ دده کور والاته سړي ورواستوی چې علقمه څنګه سړی وو هغه ورته وويل چې علقمه نيك سړی وو اومور ځينې ناراضه وه.

## دمشكلو الفاظو معنٰی :

فرمود وفرمايل. تلقين ورته ويل كلمه دشهادت دمړی مخته، برخاست راپورته سوه. پيرزن بوډا زنانه .

## مطلب او توضيح :

١. آيا تا نه ده اوريدلی قصه دحضرتِ علقمه رضي الله عنه چې كله دده دروح وتلو وخت سو، نو پرده باندی روح وتل ګران سوه او دی دهغه څخه ډير په عذاب سو.

٢. نو ښځه يې ورسول الله ﷺ ته راغله او دخپل زوج تكليف يې ورته بيان كی.

٣. وويل پيغمبر ﷺ حضرت بلال، علی، سلمانِ فارسی او حضرت عمار رضي الله عنهم ته چې ولاړ سی تلقين ورته وكی .

۴. هغه اصحاب رضي الله عنهم چې ورته راغله دهغه ژبه بنده کلمه يې نه ويله نويې رسول الله ﷺ ته خبر ورکی.
۵. بيا چې رسول الله ﷺ راغلی نو پيغمبر ﷺ پوښتنه وکړه دمور اوپلار دعلقمه چې ژوندی دی که نه ؟ صحابه وو رضي الله عنهم وويل پلار خو يې مړدی په يقين سره.
۶. او موريې ژوندی ده مګر ډيره ضعيفه ده، نبی ﷺ حضرت بلال رضي الله عنه ته وويل چې :
۷. مورته يې زما سلام ووايه او ورته ووايه که طاقت لری راسه پيغمبر ﷺ تاغواړی .
۸. که طاقت دتګ کولو نه لری نو ته په خپل کور کښېنه پيغمبر ﷺ به تا لره راسی .
۹. ولاړی موذن حضرت بلال رضي الله عنه او پيغام يې ور ورسوی هغه هم را پورته سوه په خوشحالی کله چې يې واوريدل خبره.

**۱. اوګفت سازم جان فدا برخاک پای مصطفیٰ**

هغې ووېل چې قربانوم روح پر خاورو دښو دپيغمبر ﷺ

**کرده عصا در دست خود آمد بحضرت نامور**

ويې نيوله لکړه په لاس خپل راله حضور دنبی ﷺ ته

**۲. کرده سلامش مصطفیٰ هم خواند او راپيش خود**

وکړی سلام دې نو رسول الله ﷺ وغوښتله مخ خپل ته

**احوال جمله علقمه ګفته ضعيفه سربسر**

چې حال ټول دعلقمه ووايه ټول دسره ترپايه

**۳. گفتا که بود این علقمه صاحب صلوٰة صوم هم**

ويې ويل چې وو علقمه صاحب دلمانځه هم دروژې

**هم عابد وهم زاهد وبوده سخی ومعتبر**

هم عابد وو هم زاهد وو اوهم سخی اومعتبر

**۴. لیکن زخدمت من مقتصر بود ای ختم رسل**

مگر له خدمته څخه زما کوتاه کونکی وو ای ختمونکی درسولانو

**زن خویش را عزت بدادی میکرد ما رابی وقر**

ښځې خپلې لره يې عزت ورکاوه اوکوله يې مالره بيعزتي

**۵. گفت من هرگز نه کردی گفت زن کردی قبول**

خبره زما يې هيچرې نه کوله خبره دښځې يې قبلوله

**راضی نیم زو زین سخت ای شافع محشر**

راضی نه يمه زه دده ددی خبری څخه ای شفاعت کوونکی دمحشره

**۶. فرمود سید زود ترهیزم جمع کن ای بلال**

وفرمايل رسول لرگی ژر جمع کړه ای بلاله

**سوزیم تا مرعلقمه را کن آتشی تعجیل تر**

سوزم خاص علقمه کړه اور ژر زيات تيار

## دمشکلو الفاظو معنیٰ :

جان فداء روح قربان کونکی، عصا لکړه، مقتصر کوتاه کونکی، بی وقر بی عزته، شافع سفارش کونکی.

توضیح او مطلب :

١. موریې وویل زما روح دی قربان وی ترخاورو دپښو دپیغمبر ﷺ لکړه یې را واخسته راغله نبی ؑ ته .
٢. سلام یې وکی نبی ﷺ وبلله مخ خپل ته چی حالات دعلقمه ټول راته بیان کړه .
٣. بوډی مور یې وویل علقمه خاوند هم دلمانځه وو هم دروژی هم عابد وو هم زاهد هم سخی اوهم معتبر .
۴. لیکن زما خدمت به یې نه کوی اوخپلی ښځی لره به یې عزت ورکوی ما لره به یې بی عزتی راکوله .
۵. زما خبره به یې نه منله او دخپلی ښځی خبره به یې منله، زه دده ددی خبری څخه راضی نه یم .
٦. پیغمبر ﷺ وفرمایل ای بلاله لرگی ژر جمعه کړه سوزم علقمه اور ژر تیار کړه ای بلاله.

**١. عجزی نمود آن پیر زن گفتا که ای شه مرسلان**

عاجزی وکړه هغی بوډی ښځی وویل ای باچا درسولانو

**بهر چی سوزی علقمه فرزند دارم این پسر**

دځه لپاره سوزی علقمه ځما زوی دی دا هلك

**٢. فرمود سید گر شوی خوشنود برفرزند خود**

وفرمایل سردار که چیری ته خوشحاله کیږی له ځوی خپله څخه

**هرگز نسوزانم ورا باید نجاتی از سقر**

هیڅکله نه سوځم دی بیا به پیدا کی خلاصی له دوږخه څخه

**۳. گفتا گواه شو یانبی راضی شدم برعلقمه**
ویې ویل شاهد سه ای نبی راضی سوم دعلقمه څخه
**خوشنود گشتم این زمان گر جور کردی یاجبر**
خوشحاله وگرزیدمه داساعت که چیری ظلم کوی یاجبر

**۴. پس گفت ختم الانبیاء رو زودی ای صاحب اذان**
وروسته هغه وویل خاتم دنبیانو ﷺ ولاړسه ای صاحب داذانه
**دریاب حال علقمه بروی بکن نیکو نظر**
پیداکړه حال دعلقمه پر ده باندی وکړه نیك نظر

**۵. چون آن بلال متقی آمد بسوی علقمه**
هرکله چی هغه بلال پرهیزگاره راغی وطرف دعلقمه ته
**بشنید کلنه زو هنوز او بود خود بیرون زدر**
واوریده یې کلمه دهغه څخه اودی وو بهر له دروازی څخه

**۶. گفتی چنین آن علقمه هستی تو واحد لاشریک**
ویل داسی هغه علقمه، ته یې خدای واحد لاشریك
**هست ان محمد بنده ات هم شد رسول رهبر**
دی هغه محمد ﷺ بنده ستاهم دی رسول لار ښوونکی

## دمشکلو الفاظو معنٰی :

نجات خلاصوالی، جور ظلم، دریاب معلوم کړه، متقی پرهیزگار، رهبر لارښوونکی، خوشنود خوشحاله، فرزند زوی.

## توضیح او مطلب:

۱. عجز او زاری وکړی هغی بوډی او وی ویل دغه علقمه ولی سوزی همدغه زما زوی دی.
۲. پیغمبر ﷺ وویل که چیرته خوشحاله سی له خپله زویه څخه زه هیڅکله دی نه سوځمه دی به خلاص سی له دوږخه څخه .
۳. وی ویل بوډی مور دعلقمه ته شاهد سه زه له علقمه څخه راضی یمه که ظلم یې کړی وو هم.
۴. بیا پیغمبر ﷺ وویل بلال رضي الله عنه ته چی ژر ولاړ شه ای خاونده داذانه معلوم کړه حال دعلقمه پرهغه وکړه نیك نظر
۵. هغه بلال رالی وطرف ته دعلقمه هغه کلمه ویله په زوره چی بلال رضي الله عنه ددباندی څخه لا واوریده.
۶. علقمه ویل ای خدایه ته واحد لاشریك یې، محمد ﷺ ستا بنده دی هم رسول دی هم لار ښوونکی.

**۱. چون مادرش خوشنود شد برعلقمه ایجانمن**
چی مورد ده خوشحاله سوه پر علقمه ای روحه ځما
**انگه کشاده شد زبان اسان شد تلخی سکر**
وروسته دهغه خلاصه سوه ژبه اسانه سوه سختی دمرگ

**۲. اسان شده کندن برو پس جان بحق تسلیم**
اسانه سو ځکندن وروسته دهغه څخه هغه مړسو
**پس مات هذا الشاب چون آمد رسول راهبر**
چی مړسو دغه ځوان نو راغی رسول لار ښوونکی

**۳. فرمود سید تا وراغسل وکفن بدهند زود**

وفرمایل سردار غسل اوکفن ورکی ژر

**خواندش جنازه پس ورا کردند اورا در قبر**

ویې کړه ده لره جنازه وروسته دهغه ځخه یې دفن کړی په قبرکی

**۴. شنوید ای یاران من گفت چنین آن مصطفیٰ**

واوری ای یارانو ځما ویلی دی دغسی رسول الله ﷺ

**کاری نیاید طاعتی از رضا مادر پدر**

په کارنه راځی طاعت بی له رضا دمور او پلار

دمشکلو الفاظو معنیٰ :

کشاده خلاص، مَاتَ مړسو، هذا الشاب دغه ځوان، سکر مرگ.

توضیح او مطلب :

۱. چی هروخت مور دعلقمه ځخه خوشحاله سوه هغه ساعت ژبه دده هم خلاصه سوه.

۲. اسانه سو پرده باندی حالت دمرگ او زکندن په سبب ددې درضا او تردې وروسته بیا مړ سو.

۳. پیغمبر ﷺ وفرمایل چی علقمه رضی الله عنه ته ژر غسل اوکفن ورکی، او بیا یې دده جنازه ادا کړه.

۴. بیا پیغمبر ﷺ وفرمایل چی طاعت بی له رضا دمور او پلار په کار نه درځی.

## (باب بیست ودوم در آداب وام دادن وگرفتن گوید)

دوه ویشتم باب دی په بیان کی دادبونو دقرض ورکولو او قرض ورڅخه اخیستلو

۱. در وام نافتی جانمن تازنده باشی درجهان

په قرض کی ونه لویږی چی ژوندی یې په دنیا کی

ازبام شکند دست وپا زوام برود جان سر

له بامه څخه په غورزیدلو کی به دې مات سی لاس او پښه او په قرض کی به دې ولاړ سی روح او سر

۲. هرگز ندارد کس روا وامی کشیدن جزسه جای

هیڅری جائزنه دی قرض مگر ماسوا له دری ځایه

درمخمصه بهر کفن تزویج دختر یاپسر

په تنگی کی لپاره دکفن یاپه نکاح کی دلور یا دځوی

۳. چون تو دهی وامی بکس دهی قرض حسن

هرکله چی قرض ورکوی باید قرض حسن ورکړی

خواهش مکن مهلت بده یاوه مگو دیوان مبر

غوښتنه مه کوه وخت ورکړه بد مه وایه دفترته مه ورځه

۴. وامی مکن بهر هوا ازان وام افتی دربلا

قرض مه اخله دپاره دتقاضا دنفس وبه لویږی په تکلیف کی

**دنیا کشی اندوه وغم عقبی شوی هم بیوقر**
پہ دنیاکی راکشوی غم اوغم پہ آخرت کی هم بیعزتی

**۵. چون تو بکس وامی دهی نیت بکن ناخواستن**
چی تہ قرض چالره ورکوی نیت کوه دنه غوښتلو
**چون اودهد بستان خوشی ورنه بکن کلی حذر**
چی هغه یې درکوی اخله یې پہ خوشحالی ورنه پرهیز ډیرکوه

**۶. ازدین اگر یگدانگ رابدهد این خویشتن**
قرض کہ یوه روپی ورکی یو چا قرضدار تہ خپل
**نزدیک حق باشد نکو از صدقه دینار وزر**
پہ نزد درب ښه ده لہ صدقی دزرو او دروپو

**۷. صدقه اگر مقبول شد یابی ازان اجر وجزاء**
صدقه کہ چیری قبولہ سی پیدابہ کی دهغه څخه اجر اوثواب
**یکحبه گر از حق کس باقی کشا کش درحشر**
یوه دانه کہ چیری دحق دغیره څخه پاته سی تکلیف دی پہ قیامت کی

**۸. ازوام دار خویشتن مستان گهی چیزی نفع**
دقرضدار خپل څخه مه اخله څه شی نفع
**کشتی ستانی چون گرو غله مخور برخصم بر**
دپتی څخه چی واخلی کاښی غله یې تی مالك تہ یوسه

**۹. جمله گروها حکم این جانان من نیکو شنو**
دټولو ګروی حکم دادی ای جانه زما ښه واوره
**گاوی ستانی چی گروهم شیر او هرگز مخور**
غوا چې واخلې په ګرو ته يې شيدى مه خوره

دمشکلو الفاظو معنٰي :

وام قرض، شکند ماته وی، مخمصه حالت دتنګی، تزویج په نکاح ورکول، دختر لور، مهلت وخت ورکول، اندوه غم، عقبٰی آخرت، یکحبه یوه دانه، حذر پرهیز، نفع فائده، ګرو په بند دقرض کی ورکول، خصم: په مقابل کی.

توضیح او مطلب :

۱. په قرض کی ونه لوېږی په دنیاکی هیڅکله یعنی قرض مه اخله چی ژوندی يې په دنیاکی دغه قرض دغسی مثال لری لکه بام چی چپه سی اولاس اوپښه دسړی مات سی.
۲. قرض بی له دری ځایه نه دی روا یوپه حالت دتنګی کی، بل لپاره دکفن، او دپاره دنکاح دلور یازوی.
۳. کم ځوك چی قرض ورکوی باید قرض حسن ورکی. اوقرض مه ورکوه لپاره دخپل ځان دخواهشاتو .
۴. قرض مه کوه ځکه چی هغه په دنیاکی غم دی اوپه عقبی کی هم دبی عزتی سبب ګرځی.
۵. کم چاته چی قرض ورکوی بیايې مه ځینی غواړه که يې خپله درکی

نوپه خوشحالي يې ورځخه اخله.

۶. ته چې خپل قرضدار لره قرض ورکی دا دخدای ﷻ په نزد باندی ترصدقه ښه دی .

۷. صدقه که مقبوله وی ثواب لری او دبل دحق ځخه که يوه دانه حق دچا پرغاړه وی تکليف دی په آخرت کی.

۸. دقرضدار ځخه دخپل قرض په وجه فائده مه اخله، اومه داسی کوه چې کله دهغه کښت خلاص سی اوته يوځه غله ورځخه داغسی مفته واخلی په دې وجه چې هغه ستا قرضدار دی، او مه داسی نور منافع بې له قيمته ورځخه اخله.

۹. که چيری ته غوا رانيسی او ويې دروی په گرو سره دهغه ځخه فائده په شيدو مه اخله.

## (باب بست وسوم در سکوت ومنع از غيبت گويد)

درويشتم باب په سکوت يعنی خاموشی اوپټه خوله کيدو کی او په منع کی دغيبت ځخه ويل کيږی.

**۱. چون تو روی در مجلس ساکت نشين خاموش هم**

چې ته ولاړ سی ومجلس ته پټه خوله کښينه اوغلی هم

**مکشای تو اول زبان پاسخ بده درگهر**

مه خلاصوه ته اول ژبه جواب ورکړه لکه ملغلری

**۲. باشی توساکت روز وشب سخنی مگو جز ذکر حق**

اوسه ته چپ هميشه خبری مه کوه بی له ذکره دخدايه

**سخنیکه باشد گفتنش نزدیک حق انرا اجر**

هغه خبره چې وی په ویلو دهغه کی په نزد درب ثواب

**۳. سخینکه نبود اندر آن غرضی ترا اسلام ودین**

هغه خبره چې نه وی په هغه کی تالره داسلام اودین

**غرض معاشی نی درو آنرا تو لایعنی شمر**

اوغرض ددنیا نه وی په دی کی هغه تالره بی فائدی وشمیره

**۴. غیبت حرامست بیشکی در گفتنش دوزخ روی**

غیبت حرام دی بیشکه په ویلو سره یې دوزخ ته ځی

**عیبیکه درغیبت کنی این ست غیبت ای پسر**

چې عیب په غیبت کی کوی دادی غیبت ای ځوانه

دمشکلو الفاظو معنٰی :

خاموش پټه خوله کیدل، پاسخ جواب، گهر ملغلری.

تشریح او مطلب:

۱. کم وخت چې کم مجلس ته ولاړسی هلته ساکت اوپټه خوله کښینه ژبه مه خلاصه وه بیله هغه خبرو چې داسی وی لکه ملغلری.
۲. همیشه پټه خوله اوسه او ذکر دخدای ﷻ کوه، کمه خبره چې حقه وی هغه کوه، دهغې په کولو سره الله ﷻ ثواب درکړی.
۳. اوکمه خبره چې کوی داسی خبره کوه چې په هغه کی ضرورت ددین

او دمسلمانانانو وی.
۴. غیبت حرام دی مه یې کوی سړی دوږخ تهورباندی ځی، غیبت دادی چی عیب دخلګو وایی.

**۱. آنکس که اوغیبت کندحسنات او بروی رود**
هغه څوك چی غیبت کوی نیکی دهغه څه ځی
**مغتاب گویی میخورد مردار لحمی از بشر**
غیبت کونکی خوری غوښه دانسان مرداره

**۲. غیبت مگو درهیچگه بگریز ازغیبت کنان**
غیبت مه وایه په هیڅ ځای کی اوتښته دغیبت کونکی څخه
**از جملگی عصیان گنه غیبت بدانی زشت تر**
دټولو گناهونه څخه گناه دغیبت وبوله بده ډیره

**۳. نمام را دان دوزخی بوی نیابد ازجنان**
چغل خور لره وبوله دوزخی بوی نه روځی دجنتو
**هرچند طاعت میکند دان طاعتش جمله هدر**
هرڅومره چی طاعت کوی وبوله طاعت دده ټول باطل

**۴. دانی موکل بر زبان جمله بلا آفات را**
وبوله مقرر پر ژبه باندی ټول آفتونه
**جرم زبان گر اندکست دان جرم او رابیشتر**
جرم یعنی صورت دژبی کوچنی دی وبوله جرم دهغې زیات

**۵. دان کفر ازو هم شرک ازو هم قذف بهتان ازو**

وبوله کفر ددینه اوهم شرك له دینه هم ښکنځل دروغ له دینه

**هرگز ندیدم در جهان از خامشان کس خوبتر**

هیچری مانه لیدلی په دنیاکی ترخاموشانو بل څوك ښه

**۶. کذبی نگویی هیچگه لعنت خدا برکاذبان**

دروغ مه وایه هیڅ وخت لعنت دخدای پرکاذبانو

**کاذب نباشد سرخرو اورا نیارد کس نظر**

دروغ ویونکی نه دی عزت مند، نه راوړی دی څوك په نظر کی

دمشکلو الفاظو معنٰی :

حسنات جمع دحسنه ده معنٰی نیکی، مغتاب غیبت کونکی، لحم غوښه، بگریز تښته، زشت بد، هدر خراب باطل.

تشریح او مطلب :

۱. کم سړی چی غیبت کوی نیکی دهغه څخه ځی اوغیبت کونکی لکه مرداری غوښی چی خوری دانسان.
۲. غیبت مه کوه په هیڅ ځای کی چی طاقت دی وی له غیبته تښته غیبت تر ټولو گناهونو بد دی.
۳. چغل خور غیبت کونکی دوږخی دی بوی نه ورته راځی دجنتو اوڅومره عبادت چی کوی هغه باطل دی.
۴. ټول اُفتونه دژبی سره تړلی دی، دژبی جرم یعنی جسم که کم دی مگر

ډیر لوی لوی ګناهونه ورخخه کیږی .
**۵**. کفر شرك اوغیبت اوښکنځل اودروغ دغه ټول دژبی څخه کیږی، ځکه نو تر خاموشانو په دنیا کی ښه سړی نسته .
**۶**. دروغ مه وایه هیڅکله ځکه چی لعنت دخدای ﷻ دی پر کاذبانو یعنی درواغ ویونکو باندی.

**۱. قذفی مگو مملوک را مقذوف چون باشد بری**
ښکنځل مه وایه غلام لره چی ښکنځل ورته کوی اوهغه پاك وی
**حدی خوری روز جزا گردی سیه رو درحشر**
جزاء به وخوری، او په ورځ دقیامت به وګرزی تور مخی

**۲. چون قذف گفتن مرترا بربندگانی عادت بود**
هرکله چی ښکنځل خاص تالره مریانو ته عادت وی
**مردود گردی از شهادت در سراجی کن نظر**
نامنظوره به وګرزی په ګواهی کی په سراجی کتاب کی نظر وکړه

**۳. سوگند هم غیر از خدا هرگز نیاری برزبان**
قسم بغیر دخدای څخه هیڅری مه راوړه په ژبه
**بزگار گردی بیشکی آن شرک دانی خفیه تر**
ګنهګار به وګرزی بیشکه داشرك وبوله پټ ډیر

**۴. هرگز مخور سوگند توگر چی خوری ازصدق دل**
هیڅری مه اخله قسم که څه هم اخیستل یې رښتیا دزړه وی

**حلّاف در دوزخ بدان درقهر حق او را شمر**

قسم خور په دوزخ کي وبوله په قهر دخداى کي يې وشميره

**۵. اول به بینی چون کسی او را سلامی کن روان**

اول چي څوك ووينې هغه لره سلام وايه ژر

**يابی جزاء بيحد وعد هرگز نيايد درحصر**

پيدابه کې جزاء بي حده چي هيچرى به رانسي په شمار کي

**۶. چونتو سلامی رد کنی گر مسلم است رد کن نيکو**

چي ته سلام ردکوى که مسلم وو ښه يې ردکړه ترهغه سړى

**انرا که بينی کافر ست گو مثل آن نی بيشتر**

چي ويې وينې چي کافردى مثل دهغه وايه نه زيات

**۷. سلطان سلامی برحشم مولٰی کند بربندهٔ**

بادشاه دى سلام په لښکر کوى مولى دى په مريي

**بی بی کنيز خويش راهم اغنيا برمفتقر**

بي بي دى سلام کوى ومينزو ته هم دولتمند په فقيرانو باندى

**۸. تنها که باشد مردمی خدمت کند مرجمع را**

يوازى چي وى سړى دى کوى پر ټولي باندى

**راکب کند بر راجلی بينا کند بربی بصر**

سپور سړى دى په پښو تلونکى باندى ليدونکى په ړانده

**۹. چون عطسه بزند مسلمی تحمید گوید متصل**
هرکله چي وپریچي يو مسلمان حمد دي وايي متصل
**یرحمک گو درحال تو فرض کفایه می شمر**
یرحمك وایه سمد ستی دافرض کفايې وشمیره

**۱۰. سبقت کنی گر تو برو تحمید گویی پیش ازان**
مخکی والی که چیری وکی په ده ثنا ووايي مخ ته ترهغه
**در گوش ودندان هم شکم درد نه بینی ای پسر**
په غوږونو اوپه غاښو هم په نس کی به درد نه وینی ای ځوانه

دمشکلو الفاظو معنٰي :

قذف دشریعت په اصطلاح کی پاك سړی یاښځی ته نسبت دزنا کول، په لغت کی ویشتلو ته وایی لکه چی په اٰیت کی دی: نَقْذِفُ بِالْحَقِ عَلَى البَاطِل، سراجی نوم دیو کتاب دی په میراثو کی، حلافَ زیات قسمونه اخیستل، حشم لښکر، هیزم لرگی، عطسه پرینچی، شکم نس.

توضیح او مطلب :

۱. ښکنځل مه کوه خپل غلام ته کله چی هغه بې گناه وی، که نه وی نو دقیامت په ورځ حد دربانډی راسی.
۲. ښکنځل چاته مه کوه ځکه بیا په شریعت کی حد دربانډی جاری کیږی، دکم سړی چی قذف کول عادت وی نوگواهی یې نه ده قبوله.
۳. قسم بغیر دخدای ﷻ دنامه ښخه په بل چامه اخله گنهگار به سی، او

کوچنی شرك دی.
۴. که چیری رښتیا خبره کوی نو هم قسم مه ورباندی اخله قسم خوړونکی دوږخی دی.
۵. اول چی مسلمان ووینی ښه سلام ورته کوه اویوه زیاته کلمه هم ورته وایه په دې سره به بې اندازې ثواب پیدا کی.
۶. اوکله چی کافر درته سلام ووایی نوته هم دهغه مثل ورته وایه زیات والی مه وربا ندی کوه.
۷. باچا دی سلام پر لښکر کوی بادار پر مریانو بی بی دی ومینزو ته سلام اچوی سرمایه دار پر فقیرانو.
۸. تنها سړی دی پر ټولی سلام اچوی، او سپور سړی دی پر پیاده، لیدونکی دی پر ړانده.
۹. عطس یعنی پریچی چی درلره درسی ته حمد وایه اوریدنکو دی یرحمك الله وایی.
۱۰. کم سړی چی مخکی یرحمك الله ووایی وهغه چاته چی وپریچی نو هغه به ډیر ثواب پیدا کی.

* * *

**(باب بیست وچهارم در بیان حسد وتکبر وعجب می گوید)**

خلورم باب په بیان کی دی دحسد او تکبر اودعجب

**۱. حاسد نیابد نیکوئی هرگز نیاید ساگهی**

کینه گرنه پیدا کوی نیکی هیچری نه راځی ارام ده لره

**بخورد حسد طاعات را چون هزم در تنور**
خوری حسد نیکی داسی لکه لرگی په تنور کی

**۲. بگذار عجب وکبر هم شو خاکپای همگنان**
پریږده لویی او تکبر ښه سه خاوری دټولو
**ماند بدوزخ مدتی خودبین که باشد کینه ور**
پاته به سی په دوږخ کی ډیر وخت متکبر چی وی کینه گر

**۳. چون تو بگوئی عیب کس صد عیب آید پیش تو**
هرکله چی ته وایی عیب دسړی سل نقصانونه تالره راځی مخ ته
**مکری و غدری هم مکن تاتو نیفتی درسقر**
فریبونه اوټگی هم مه کوه چی ونه لویږی په دوږخ کی

**۴. هرگز مکن استیزه راگر چی بود حق سوی تو**
هیچری مه کوه جنگ اگرکه حق په جانب ستا وی
**باحور شینی در جنان کو بیابی در صدر**
سره دحورو به کښینی په جنتو کی مانۍ به پیداکی اوچته

**۵. کبری مکن باجمله کس دان هرکسی بهتر زخود**
لویی مه کوه دهیچا سره وبوله هرسړی ښه له خپله ځانه
**چون کبر بکنی برکسی باشی زگبران هم بتر**
هروخت چی کبر کوی پرسړی سی به داتش پرستو څخه بدتر

**٦. كبر است كار ابليس رابايد تواضع پیشه کن**

لويي ده كار دشيطان تواضع كسب كه

**تا حق ببردارد ترا اندر میان بحر وبر**

چي خداى پورته كى تا په منځ دلندى او وچى كى

**٧. چون پیر وكودک در نظر آید ترا تعظم كن**

چي بوډا سړى اوهلك په نظر درلره راسى عزت يې كوه

**كودک بدانى بى گنه درپير طاعت بیشتر**

هلك وبوله بى گناه ، په بوډا والى كى اطاعت زيات

**٨. مومن ندارد کین اندرون جان خود**

مومن نه لرى كينه دننه په روح خپل كى

**شب راچون خسپد جانمن كينه بشويد ازجگر**

دشپې چي بيديږى اى روحه ځما كينه ومينځه دځگر څخه

دمشكلو الفاظو معنٰى :

عجب چي يوسړى ته خپل ځان ترټولو ښه معلوميږى، مكر چل، استيزه جنگ، گبران آتش پرست، ابليس معنٰى نا اميد له رحمته دخداى ﷻ، بحر لوند، اوبه، بر وچه مزكه، پير بوډا، كودك كوچنى .

توضيح اومطلب :

١. حسد كونكى هيچرى خوشحالى او آرام نه سى پيدا كولى او حسد

خوری نیکی لکه په تنور کی چی اور لرگی خوری .
۲. پرېږده عجب او تکبر سه ښه عاجزه لکه خاوری، اوحسد کونکی به يوڅه زمانه پاته سی په دوږخ کی .
۳. چی ته وايی عيبونه دخلگو سل عيبونه تالره مخ ته راځی، فريبونه او ټگی هم مه کوه ترڅو چی په دوږخ کی ونه لوېږی.
۴. هيچری جنگ دهيچا سره مه کوه ، ځکه چی په دې سبب سره به دحورو سره کښينی په سر دجنتو کی .
۵. تکبرمه کوه ټول خلگ دځانه ښه وبوله، څوك چی تکبر کوی تر آتش پرستانو هم بد سی.
۶. تکبر کار دشيطان دی تواضع کوه، دتواضع په سبب سره به خدای تا لوړ کی پرټولو خلگو باندی.
۷. سپين ږيری اوهلك چی درته راسی عزت يې کوه، ځکه چی کوچنی بې گناه دی او سپين ږيری ډير طاعت کړی وی په دې وجه باندی دوی دواړه داحترام لائق دی.
۸. مسلمان په خپل زړه کی کينه نه لری، دشپې چی بيده کيږی نودخپل زړه څخه کينه وباسی او زړه ورڅخه پاك کی.

* * *

**۱. هرجا شجر بيند کسی گشته نگون سوی زمين**

هرچيری چی ته درخته ووينی چی کړه په طرف دمزکی

**خدمت کند هم پشت خم چون بگذرد زير شجر**

خدمت يې کوی هم شا ورته ټيټه وی کله چی تيريږی لاندی ترهغې يوڅوك

**۲. عیسیٰ شده برآسمان کرده تواضع خوی را**
عیسیٰ ولاړی وآسمان ته کړله یې تواضع او خواري
**قارون شده زیر زمین چون کرد بخل وکبر سر**
قارون سو لاندې ترزمکې چې کوی یې بخیل والي اوتکبر دواړه

**۳. چونتو شجر بینی نگون راکع شده سوی زمین**
چې ته وینې درخته نسکوره پرركوع په طرف دزمكې
**آری همون گردد نگون شاخیکه باشد میو پر**
هغه ونه به ګرزي نسکوره چې ښاخونه ډك وي له میوې څخه دهغې

دمشکلو الفاظو معنیٰ :
شجر درخته، پشت ملا ، نگون کښته، راکع رکوع کونکی.

توضیح او مطلب :
۱. هرچیرې چې درخت کړه ووینې په طرف دمزکې خدمت کوي دهغې سرې بیا په کړه ملا لاندې ځینې تیریږي.
۲. عیسیٰ ﷺ عاجزي کوله آسمانو ته پورته سو قارون تکبر کوی اوبخیل والي یې کوی په مزکه ننوتی.
۳. هر وخت چې درخته ووینې کمه چې رکوع کونکی ده ښاخونه یې ډك وي له میوې څخه.
**فآئده:** یعنې په درختوکې هره درخته اوپه ښاخو کې هرښاخ چې عاجزي وکي یعنې چې لاندې کښته وي الله ﷻ هغه ته ډیره میوه ورکړي او هر څوك یې عزت کوي او پام ورسره کوي چې خراب نه سي.

**(باب بیست وپنجم در اخلاص واعمال خود گوید)**
پنځه ویشتم باب دی په بیان کی داخلاص او دخپلو عملونو

**۱. صوم وصلٰوة وصدقه هم بهر خدا خالص کنی**
روژې اولمونځونه اوصدقی لپاره دخدای خالص کوه
**نی بهر جنت حور نی بهر خلاصی از سقر**
نه لپاره دجنت اونه دحورو نه لپاره دخلاصی له دوږخه څخه

**۲. از بهر دنیا یاعمل بهر جزا عقبٰی کنی**
لپاره ددنیا یاعمل لپاره دجزاء دآخرت چی کوی
**مزدور باشی بیشکی کامل نیابی از اجر**
مزدور یې ته بیشکه پیدا به نه کی کامل ثواب

**۳. حق را بیابی آنگهی کاری کنی از بهر حق**
**مخلص چو گشتی جانمن بینی خدا را چشم سر**
اخلاصمند چی وگرزی ای روحه زما خدای ﷻ به ووینی په سترگو دسر
خدای ﷻ به پیدا کی چی کار کوی لپاره دخدای

**۴. اخلاص دارد کار درکار اخلاص کن**
اخلاص لره ډیری فائدی دی په کاروکی اخلاص کوه
**کفری بدان سمع وریا نی از مرائی کس بتر**
کفر وبوله اورول بل ته وربنکاره کول بل ته ریا کاری بد زیات

**۵. چون ذگر گوید پاسبان ازبهر راندن دزدها**
چې ذکر کوی چوکیدار دپاره دشړلو دغلو
**بزگار گردد بیشکی باشد منافق بیخبر**
گنهگار به وگرزی بیشکه دی منافق اوبی عمله

**۶. دنیا چو خواهی ازخدا ازبهر آن طاعت کنی**
دنیا چې غواړی له خدایه لپاره ددی طاعت کوی
**دنیا بیابی بیشکی مانی زجنت دور تر**
دنیا به پیداکی بیشکه پاته به سی دجنت څخه لیری

**۷. چپ راست بیند بنده چون درنماز خویشتن**
چپه اوراسته طرف ته چې گوری بنده په لمانځه کی
**گوید خدا می بنگری از من مگر او خوبتر**
وایی خدای چې گوری له ماڅخه شاته شاید هلته وی ښوك ښه ډیر

**۸. دل را چوبندی باخدا درکاری راه حق**
زړه چې وتړی په خدای پوری په کارونو دلاری دخدای
**فرمائی کاری نفس را تا اجر یابی پرگهر**
ښیه داسی کار نفس لره چې ثواب پیدا کی ډك له فائدی

## دمشکلو الفاظو معنٰی :

عقبی آخرت، انگهی په هغه وخت کی، بزگار: گناهکار، اخلاص خاص

درضا دخدای ﷻ لره، سمع بل چاته وربنکاره کول، پاسبان چوکیدار، پرگهر ډك له ملغلرو.

توضیح او مطلب :

۱. لمونځ روژه اوصدقه خاص دخدای لپاره کوه نه لپاره دجنت نه دحورو نه لپاره دخلاصلوالی ددوزخ څخه.
۲. کم کار چی ته خاص دآخرت لپاره او دخدای ﷻ درضا دپاره کوی کامل ثواب به پیدا کی په هغه کی.
۳. خدای ﷻ به پیدا کی هغه وخت چی کار کوی دخدای ﷻ دپاره، کله چی اخلاص وکی په کار کی نو ثواب لری.
۴. اخلاص په کار کی ډیری فآیدې لری نوځکه په کارکی اخلاص پکار دی، او کم کار چی بل ته دښوولو یا اورولو دپاره کول کیږی نو دا ریا ده اوپه دې کی ثواب نسته.
۵. کله چی چوکیدار ذکر کوی ددې دپاره چی غله يې واوری لا هم ثواب نه دی پر مرتب.
۶. دنیا چی غواړی له خدای ﷻ څخه نو لپاره دطاعت يې غواړه، چی په هغه سره طاعت وکی.
۷. کله چی خپل رسته اوچپه طرف ته په لمانځه کی گوری، نوخدای ﷻ وایی چی گواکی ده ترما ښه څوك پیداکی خپل دشاخواته نو ځکه هغې خواته گوری.
۸. زړه چی دی وتړه سی له خدایه سره په کاروکی په لار دخدای ﷻ کی برابر ثواب به پیداکی ډك دفائدو څخه.

*   *   *

**(باب بیست وششم در توکل ورضاء وخوف ورجاء گوید)**

شپږویشتم باب دی په بیان کې دتوکل اورضا او بیرې او اُمید

**۱. چونتو کنی برحق توکل هم رضا درکار**

هرکله چې ته وکړې پرخدای توکل هم رضا په کارونو کې

**بیشک ولی گردی یقین درسلک خاصان معتبر**

بیشکه دوست درب به وگرزې په یقین سره په ټولی دخاصانو کې معتبر

**۲. جمله سپردم کارها درحضرت ای بادشاه**

وایه چې ومې سپارل کارونه پردر ستا ای بادشاه

**گو این سخت در روز وشب ترس از خدا نی کس دگر**

وایه داخبره همیشه بیریږه له خدایه نه له بل چا

**۳. خوفش بباید آنچنان جز من کسی نی دوزخی**

بیره درب دارکم باید وی چې زما څخه ماسوا دوږخې نسته

**امید باید اینچنین باشم بجنت صدر در**

امید باید دارکم وی چې یم په جنت کې لوړ ځای

**۴. مسلم بباید درمیان خوف ورجا هردو طرف**

مسلمان باید وی په مینځ کې دبیرې او دامید

**خوفش بباید انکی امید باید بیشتر**

خو بیره باید کمه وی امید درحمت زیات وی

**۵. ابلیس شش لک سال گر میکرد طاعت رانده شد**

شیطان شل لکه کال عبادت کوی وشړل سو

**بوبکر بود در پیش بت کردند بر وی صد نظر**

ابوبکر رضي الله عنه دمخه دبت عبادت کوی پر ده سل نظره وسوه

**۶. دل را نداری ملتفت تازنده ازبهر نان**

زړه مه منتظر کوه ترڅو چې ژوندی یې لپاره دډوډی

**روزی رساند ذو المنن را در خزائن پرگهر**

رزق به درته رسوی بی احسانه لری خزانی ډکی له غمیانو

**۷. بخشش ندانی ازکسی جز از خدای خویشتن**

ورکړه مه بوله دسړی ماسوا دخدایه خپل

**چون مر ترا بخشد کسی جن وملائک یا بشر**

چې تالره یې درکی څوك له پیریانانو یاملائکی یاانسانانو څخه

## دمشکلو الفاظو معنٰی :

ترس بیریدل، خوفش بیره، رجاء امیدکول ورحمت ته دخدای ﷻ، ذو المنن خدای ﷻ، ملتفت کتونکی انتظار کونکی، پرگهر ډك له غمیانو او ملغرو څخه .

## توضیح او مطلب :

۱ . کله چې توکل وکی پرالله ﷻ باندی اوهم رضا په کاروکی، نوبیشکه

چې ولی به وګرځی.

٢. ټول کارونه سپاره وخدای پاك ته له خدای ﷻ څخه وبیریږه په شپه او ورځ کی همیشه.

٣. بیره دخدای ﷻ دغسی وی چی زه ددوږخی یم امید به هم لری داسی چی زه په جنت کی یم.

۴. مسلمان باید دبیری اودرحمت په مابین کی وی بیره یې کمه وی امید یې زیات وی .

۵. شیطان ډیر عبادت وکی خوبیا هم وشړل سو اوپسی واخیستل سو پر ابوبکر خدای ﷻ وکړل سل نظر درحمت .

٦. زړه انتظار کونکی مه لره لپاره دډوډی رزق خو خدای ﷻ درکوی له خزانو څخه چی ډکی دی له غمیانو څخه .

٧. ورکړه درزق او دنورو شیانوبی له خدایه ﷻ څخه دبل هیچا مه بوله، نه دملایکی اونه دپیری.

**١. خالق نمیګوید ترا اندر بلای ده رضا**

خدای ﷻ وایی تا لره چی په افتونه ځما کړه رضا

**ورنه برو زیر سما خالق طلب جز من دګر**

اوکه یې نه کوی نو له ما ماسوا بل خدای طلب کړه

**٢. تکیه مکن برکار خود عجبی بطاعت هم مکن**

تکیه مه کوه په کار خپل اولویی هم په عبادت مه کوه

**بلعم ازین برصیصا ګشتند ملعون خاک سر**

بلعم اوبرصیصا وګرزیدل لعنتیان اوخاوری په سر

**(باب بیست وهفتم در بیان فضیلت صبر وشکر)**

اوه ویشتم باب دی په بیان کی دفضیلت دصبر او شکر

**۳. فرحت چوخواهی دایما همدم بسازی شکر را**

خوشحالی که غواړی همیشه ملگری کوه دشکر

**ظالم چوبینی خصم را صبری بکن یابی ظفر**

ظالم چی ووینی دښمن صبر کوه پیدابه کی کامیابی

**۴. ظالم چو ظلمی می کند صبر ی بکن باکس مگو**

ظالم چی ظلم درباندی کوی صبر کوه چاته مه وایه

**از کس نخواهی داد چون دادت دهد هم دادگر**

دچا څخه چی نه غواړی انصاف خپله به انصاف درکی عادل

**۵. دان نصف ایمان صبر را هم شکر رانصف دگر**

وشمیره نیم ایمان صبر اوهم شکر نیم بل

**محکم بکن این هردو را مومن بگردی بیخطر**

ټینگ کړه دا دواړه مومن به وگرزی بی خطره

**۶. امید کس دردل مکن امید کن برخالقی**

طمعه دسړی په زړه کی مه کوه امیدکوه دخدایه څخه

**کورزق بدهد خلق رام رغان وماهی بحر وبر**

چی دی رزق ورکوی مرغانو اوماهی ددریاب او دوچی ته

## دمشکلو الفاظو معنٰی :

عجب خپل ځان ښه بلل. بلعم دسړی نوم دی له قومه څخه دموسٰی عَلَیۡهِ السَّلَامُ، او دده یوه اوږده قصه ده کمه چې په غټو کتابو کی ذکره ده خودا یې ځای نه دی، برصیصا هم دسړی نوم دی، فرحت خوشحالی، ظفر کامیابی، داد انصاف.

## تشریح او مطلب :

۱. خدای ﷻ وایی چی بلا اوآفتونه اوبلاوی درباندی راځی نو صبر کوه او که یې نه کوی نو زما څخه ماسوا بل خالق طلب کړه.
۲. په خپل کارونو باور مه کوه بلعلم اوبرصیصا دخپل کار دوجی څخه خدای ﷻ له رحمته لیری وګرزیدل.
۳. خوشحالی چی غواړی همیشه شکر کوه ظالم چی کم وخت ووینی صبر کوه بیابه کامیابی پیدا کی.
۴. ظالم چی ظلم درباندی کوی صبر کوه هیچاته مه وایه خدای ﷻ به تا لره انصاف درکی.
۵. نیم ایمان هم صبر وبوله اوبل نیم هم شکر دی دا دواړه کوه نو ټینګ مسلمان به جوړسی.
۶. طمعه له هیچامه کوه اوخدای ﷻ رزق مایانو اومرغانو داوبو اودوچی ټولو ته ورکوی.

**۱. موجود داری نعمتی قیدش کنی درشکر حق**
که موجود سی درته یو نعمت هغه قید په شکر دخدای

**زاید بران خواهی اگر شکری بمن ای نامور**

زیادت په هغه باندی که غواړی شکر کوه ای نوم لرونکی

**٢. گرچه مراتب بی عدد دارد غنی شاکر ولی**

که څه هم مرتبی ډیری لری غنی چی شکر کوونکی دی لیکن

**او کی رسد باصابری کوصبر ورزد در فقیر**

دی به چرته ورسیږی صابر ته په فقیری کی

**٣. شاکر سلیمان که چی بود اندر غنا وسلطنت**

اگرکه شکر کونکی سلیمان وو په غنا او باچاهی کی

**اوکی رسد بامصطفٰی کرده بدرویشی صبر**

دی به چیرته ورسیږی رسول الله ﷺ ته چی یې کړی وو پرفقیری صبر

## باب بیست وهشتم در توبه کردن وزهد اختیار نمودن

اته ویشتم باب دی په بیان کی دتوبه کولو او دزهد اختیارولو

**٤. توبه بکن امروز توهرگز مگو فردا کنم**

توبه وکاره نن هیچری مه وایه چی صباته به یې وکم

**شاید بمیری صبحدم فردا نیابی ای پسر**

شاید چی مړسی هم نن ورځ صبابه بیانه کړی پیدا

**٥. توبه بکن ازصدق دل فی مامضٰی آری نَدَمْ**

توبه وکاره له صدقه دزړه څخه پر تیرو سوو گناهونو پښیمانه سه

**چون یاد آوی آن گنه گردی خراب ومنکسر**

چې یادوی په لذت سره هغه گناه سی به گناهګار اومات

**۶. زهدی بکن دستی مزن درمال دنیا جانمن**

پرهیزگاری کوه لاس مه وهه په مال اودنیا ای روحه ځما

**هرذره را باتو بود فردا حساب وهم حصر**

دهری ذری به له تا سره حساب وی صبا اوهم شمار

## دمشکلو الفاظو معنٰی :

قیدش بندول، مراتب درجی، فردا نوم دصبا ورځی دی، مامضٰی تیر سوی، ندم پښیمانی، منکسر مات.

## توضیح او مطلب :

۱. کم وخت چې نعمت خدای ﷻ درکی شکر کوه زیادت به خدای ﷻ درکی، ای نامداره.
۲. که څه هم مرتبې دسرمایه دار شاکر ډیری دی. لیکن کله رسیږی ودرجی دصبر کونکی فقیر ته.
۳. شاکره خوسلیمان ؑ وو په سرمایه داری اوباچاهی کی هغه کله رسیږی دپیغمبر ﷺ درجی ته چې په فقیری کی یې صبر کوی.
۴. توبه کاږه نن ورځ لا، او صبا ته یې مه پریږده شاید چې مړسی صبا ته نه سی پاته.
۵. توبه دزړه داخلاصه څخه کوه پښیمانه کیږه پرتیرو گناهونو باندی. اوکله چې ته یادوی په لذت سره هغه گناه نودا هم گناه ده.

۷. پرهیزگاری کوه لاس مه وهه په مال دبل چا کی صبا دهری ذری حساب درسره کیږی.

*   *   *

**۱. گربا زمانی از گنه وان گرچی باشد ذره**
که منع سی له گنه څخه که څه هم یوه ذره وی
**نزدیک حق باشد نیکو ازطاعت جن وبشر**
په نزد درب ښه ده ترعبادت دپیریانانو اوانسانانو

**۲. گر بنده ازصدق دل توبه کند ازمعصیت**
که یو بنده داخلاص دزړه څخه توبه کړی له گناه څخه
**بروی نماند ذره زان کردها باقی اثر**
پر ده به نه سی پاته یوه ذره دگناهونو اثر

**۳. دربند دنیا چون شوی طلبش کنی ازهر کسی**
په غم ددنیاکی چی سوی او طلب یې کوی له هرچا څخه
**محروم مانی ازخدا مغضوب گردی دربدر**
بی نصیبه به پاته سی له خدایه، غضبی به سی درپدر

**۴. عصیان بدانی دوستی کردن بدنیا هم خطا است**
گناه وبوله دوستی له دنیا سره هم خطا ده
**دشمن خدا دان بیشکی مولع که باشد مال وزر**
دښمن دخدای وبوله بیشکه حارص چی وی دمال او دزرو

**۵. فارغ شدی از سیم وزر رستی زدیو شر او**

چې خلاص سی دسپینو اوزرو څخه خلاص به سی له شره څخهددیبانو

**زاهد زشیطان ایمن است ، وسواس نی بروی گذر**

تارك الدنیا له شیطانه بیغمه دی، وسواس نه پر تیریږی

**۶. اموال دنیا چون کسی بکند جمع دانی سگی**

مال له دنیا څخه چې څوك جمعه کوی سپی یې وبوله

**کوهم شکم پر میکند آن زر بدان سنگ ومدر**

چې دی هم گیډه ډکوی هغه زر وبوله ډبره اولوټه

**۷. درویش خواهد مال وزر او را مدان درویش تو**

چې فقیر غواړی مال اوزر دی فقیر مه بوله

**هست او مقلد دزد دین دیوی بدان صورت بشر**

دی دی تقلیدی غل ددین، پیری یې وبوله په صورت دانسان

**۸. چون هست دنیا بیوفا در بند او بودن خطا است**

کله چې ددنیا بیوفا په ذکر کی کیده خطاء ده

**در جمع اودان صد عناد دردین نسودی بل ضرر**

په جمع کی یې ډیر تکلیفونه دی په دین کی یې نسته بلکی ضرر

دمشکلو الفاظو معنٰی :

معصیت گناه، محروم بی نصیبه، مغضوب غضب سوی، مولع حارص،

سنګ ډبره، مدر لوټه، مقلد تابعدار، عناد تکلیف.

توضيح او مطلب :

۱. که راوګرزی له ګناه څخه چی لړوی دغه په نزد درب ښه ده ترعبادت دهرچا که پیری وی که انسان.
۲. که یوبنده داخلاص څخه توبه وکاړی دګناه څخه نو پر ده به نه سی پاته اثر ددغه ګناه .
۳. کله چی په غم ددنیا کی سی او طلب یې کوی دهرچا څخه دخدای غضب به در وسی ګرزی به درپدره.
۴. ګناه ده محبت کول ددنیا سره، حارص سړی دخدای ﷻ دښمن وبوله چی زر او مال جمع کوی.
۵. چی له محبت ددنیا خلاص سی نوله شره اوله فساده دپیریانانو څخه به هم خلاص سی.
۶. تارك الدنیا دشیطان له وسواس څخه بیغمه دی مال اوزر چی جمع کوی وبوله هغه سپی چی خالی نس ډکوی.
۷. چی فقیرله چا څخه مال غواړی دا فقیر مه بوله دغه وبوله غل ددین او پیری په صورت دانسان.
۸. دنیا بیوفاء ده له چاسره وفا نه لری په جمعه کولو کی یې ډیر تکلیفونه دی.

**فائده**: مصنف صاحب رحمة الله علیه په دې باب او تردې په مخکی بابونو کی دتوبې کولو فضیلتونه، دزهد اختیارولو ثوابونه، اوفضیلت دشکر، صبر، توکل او رضا بیان کړه دکومو په باره کی چی بیشمېره احادیث هم راغلی دی، لیکن موږ یوازی دکتاب پرشرح باندی اکتفا وکړه دپاره داختصار.

## باب بیست ونهم در بخل وسخاوت وصدقه وایثار وامثال آن گوید

نه ویشتم باب په بیان کی دی دبخل او سخاوت او صدقې او بخشش کولو او داسی نورو شیانو

۱. گر دور داری خویش را ازکبر وز امساک هم
که ځان لیری کی له کبره اوله بخله څخه
رسته شوی یابی جنان باحور شینی در صدر
خلاص به سی بیابه جنت پیدا کی له حورو سره به کښېنی په جنت کی

۲. ایثار راهم پیشه کن چیزی نخواهی ازکسی
بخش کسب کړه دځان دپاره څه له چا څخه مه غواړه
محظور دانی خواستن دادن لطیف وخوبتر
منع وبوله سوال کول ورکول پاکیزه دی ښه زیات

۳. صد چندکس از صوفیان بودند عمری درسفر
سل کسه دنیکانو وه یوه زمانه په مسافری کی
گشتند تشنه هریکی ابریق بدیر یک نفر
او گرزیده تږی دهر یوه کوزه وه دیو سړی سره

۴. اوداد اورا او بدو مردند جمله تشنگی
دا یوه به ورکولی یوه لره او هغه به ورکولی بل لره مړه سول تږوله تندی

**آن اب خورد آن يكنفر آنجا نماند كس دگر**

هغه اوبه وچښلي هغه يوه نفر هلته پاته نه سو بل سړی.

**۵. هم صدر ومسند منزلت محراب ومحفل جائگه**

هم ځای دناستی اوفرش اومحراب اوځای دمجلس

**ايثار كن برديگران گردی توشخص معتبر**

بخشش كړه پر نورو سی به سړی معتبر

**۶. دشمن خدا شخص بدان كوپيشه سازد بخل را**

دښمن دخدای هغه شخص وګڼه چي خوی وګرځوی كنجوسی

**محبوب حق باشد كسی ايثار بكند سيم وزر**

دوست دخدای هغه سړی دی چي بخشش سره او سپين

**۷. هرگز منه مال فرو از بهر روز نيستی**

هيچری مال مه ږده لپاره دورځي دنيستي

**آن روز چون آيد ترا آن مال گردد مستتر**

هغه ورځ چي درلره راسی هغه مال به پټ سی

**۸. از بهر دختر ياپسر مالی منه زير زمين**

كه لپاره دلور يازوی مال ږدی لاندی ترمزكه

**حاجت چو شان گردد گهی هرگز نگويد كس خبر**

حاجت چي ددی سی كله، څوك به حال نه ورته وايي

**۹. هم برخدا بسپار شان میری نمیرد او گهی**
هم خدای ته یې سپاره ته به مړسی هغه به نه مری
**از کار بیغم شوی اندیشه ها ازدل ببر**
له کارونو څخه به بیغمه سی فکرونه له زړه څخه لیری کړه

**۱۰. این مال باشد مار تو آن ما ردان زنار تو**
دغه مال به وی تالره اودا مار وبوله زنار خپل
**زنار فردا نار تو این نار بر زنار بر**
اودا زنار به صبا سی اور ستا دغه اور پر زنار باندی

دمشکلو الفاظو معنٰی :

امساك بخیل والی، رسته خلاص، ایثار ورکول ویو چاته، محظور منع، لطیف باریك، تشنه تږی، ابریق کوزه، صدر سینه، مسند ځای دتکیی، منزلت مرتبه، محراب ځای دجنگ له شیطان سره، ایثار خوښیدل، دختر لور.

توضیح او مطلب :

۱. که له ځانه دغه دوه شیان لیری کی تکبر اوبخیل والی نو خلاص به سی له عذاب څخه او پیدا به کی جنت او سره له حورو به کښینی په سر دجنتو کی.
۲. بخشش کوه له چا څخه شی مه غواړه سوال کول منع دی ورکول ښه پاکیزه کار دی.

۳. سل کسان له نیکانو څخه وه یوه زمانه په مسافرۍ کی، او ګرځیده تږی دوی ټوله، په دوی کی دیوه سره کوزه وه.
۴. یوه به یوه ته ورکړه چی ته یې اوبه وچیښی هغه به بل ته ورکړه تر دې چی ماسوا له یوه څخه نور ټول دتندی څخه مړه سوه او بیا هغه یوه نفر دهغه کوزې اوبه وچښلی.
۵. په هروخت اوپه هرځای اوپر هرچا باندی بخشش کوه نوته به وګرزی یو سړی معتبره.
۶. بخیل سړی دخدای ﷻ دښمن وبوله کم سړی چی زراوسپن خیرات وی محبوب دخدای ﷻ دی .
۷. مال مه ایږده اومه یې جمع کوه لپاره دصبا ورځی کم وخت چی صبا راځی ته به مړ یې.
۸. که دزوی یادلور دپاره مال ږدی لاندی ترمزکه کم وخت چی ددی حاجت سی څوك به یې ور وښیی.
۹. اولادونه دی هم خدای ﷻ ته وسپاره او ددوی دپاره مال مه جمع کوه چی ته مړسی نو خدای ﷻ به یې ساتی.
۱۰. دمال محبت مار دغاړی دی هغه ستاسی زنار دی اودغه زنار ستا لپاره اور دی عذاب برعذاب دی.
**فائده**: دمال سره ډیر محبت کول او هغه بې اندازې یوځای کول، اودا تمیز او فرق نه پکښی کول چی آیا دا حلال دی اوکه حرام، بلکه فقط جمع کول یې سبب ګرځی په آخرت کی دلوی عذاب لکه چی الله ﷻ په قرآن کریم کی فرمایی:
وَالَّذِينَ يَكْنِزُونَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ وَلَا يُنْفِقُونَهَا فِي سَبِيلِ اللهِ فَبَشِّرْهُمْ بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿۳۴﴾ يَوْمَ يُحْمٰى عَلَيْهَا فِي نَارِ جَهَنَّمَ فَتُكْوَى بِهَا جِبَاهُهُمْ وَجُنُوبُهُمْ وَظُهُورُهُمْ هٰذَا مَا

كَنَزْتُمْ لِأَنْفُسِكُمْ فَذُوقُوا مَا كُنْتُمْ تَكْنِزُونَ (التوبة ، ٣٥،٣٤)

اوهغه کسان چې خزانه (جمع) کوي سره زر او سپين زر اونه خيراتوي هغه په لاره دخداى ﷻ کې پس زيرى ورکه ته هغوى ته په عذاب دردناك سره، په هغه ورځ کې چې ګرام والى به وکړل سى دهغه په اور ددوږخ کې پس داغل کيږى به په هغه سره تندیان ددوى او اړخونه ددوى او شاګانى ددوى (او ورته ويل کيږى به دوى ته) چې دا هغه شى دى چې خزانه کړى وو تاسو دپاره دځانونو خپلو پس وڅکئ تاسى خوند دهغه چې واست تاسى چې خزانه کوى به مو.

اوپه تفسيرِ يسير کې تردې آيت لاندى ليکي:

اوهرهغه مال چې زکوة يې ورکول کيږى هغه کنز نه دى که څه هم ښخ کړل سوى وى لکه چې حديث دى:

مَا أُدِّيَ زَكٰوتُهُ فَلَيْسَ بِكَنْزٍ وَاِنْ كَانَ بَاطِنًا وَمَا بَلَغَ اَنْ يُّزَكّٰى فَلَمْ يُزَكِّ فَهُوَ كَنْزٌ وَاِنْ كَانَ ظَاهِرًا.

(يعنى هرهغه مال اونقدى چې ادا کړه سوى وى زکوة دهغه نوهغه کنزنه دى که څه هم پټ اوښخ وى اوهغه مال چې رسيدلى وى حد دزکوة ته چې نصاب دى او بيا يې زکوة ورنکړه سى نوهغه کنزدى که څه هم ښکاره اوپر مځکه سربيره وى). ([1])

او همدارنګه په نورو احاديثو کې هم دداسى مال جمع کولو چې دهغه څخه فرضى حقوق دمسکينانو نه ادا کيږى منع راغلى ده چې ذکر کول يې دلته داوږديدو سبب کيږى.

* * *

---

([1]). دتفصيل دپاره وګوره : تفسير يسير (په کندهارى پښتو) جلد ١ صفحه ٥٧٣ ، چاپ: مکتبه حبيبيه ، کاسى روډ کوئټه. تحقيق د: محمد احمد الحقانى الافغانى

**(باب سیم درتواضع ومعیشت ونفع رسامیندن)**

دیرشم باب دی په بیان کی دتواضع او معیشت او نفع رسولو

**۱. باخلق ورزش کن نکو تادوست گردی جمله را**

دخلگو سره گذاره کوه ښه چی دوست وگرزی دټولو

**بانغز مردان خلق کن بازشت خویان بیشتر**

دښو خلگو سره ښه خوی کوه او دبدخویه سره ډیر زیات

**۲. آنکس تواضع میکند با او بکن صد چند آن**

هغه څوك چی عاجزی کوی ته سره دهغه کوه سل چنده

**ورکس تکبر میکند صدقه بدان با او کبر**

اوکه څوك تکبر کوی دهغه سره تکبر وبوله لوی ثواب

**۳. چونتو بخواهی باکسی بودن به یکجا مدتی**

هرکله چی ته غواړی له سړی سره اوسیدل یوځه وخت

**گر روز را گو ید شب ست بنمایی پروین هم قمر**

که ورځ ته ووایی چی شپه ده او وښیی پروین هم سپوږمۍ

**۴. گر مردمی منکر شود باتو ستیزد هردمی**

که یوسړی منکره سی لتا سره جنگ کوی هرساعت

**گوید حماری اسپ را گر تازیست میگو حمر**

وای خر آس وته نوکه عربی آس دی وایی چی خردی

**۵. رنجه مشو اندوه مکن خلقی چو گوید بد ترا**

خفه مه سه اوغم مه کوه خلګ چي وايي تالره بد

**مخلوق بدها برخدا گفته نیاید در حصر**

خلګو بدپه خدای باندی دومره ويلی دی چي نه راځی په شمار

**۶. از مدح کس خوشدل مشو اندوه دشنامی مکن**

له صفته دچامه سه خوشحال اوښکنځل مه کوه

**از مدح نی باشد نفع وزهجو کی باشدضرر**

له صفته څخه نسته فائده او دبدو يلو په چا کی ضرر

## دمشکلو الفاظو معنٰی :

ورزش ګذاره کول، بانغز نيك خلګ، زشت بد، پروين يو ځای غوټه ستوری، قمر سپوږمی، حمر خره، حصرشمار، مدح صفت کول، دشنامی ښکنځل، زهجوی له بې فائدو خبرو څخه.

## توضيح او مطلب :

۱. له خلګو سره ښه ګذاره کوه ټول خلګ به ستا دوستان سی له بدو خلګو سره زيات ښه کوه. ځکه چي دهغه سره ښه خالص دالله ﷻ دپاره وی نه دده دښو په مقابل کی.
۲. کم سړی چي عاجزی کوی دهغه سره ښه کوه سل چنده اوکه څوك تکبر کوی دهغه سره تکبر لوی ثواب دی.
۳. که له يو چا سره اوسی يوځه زمانه ګذاره کوه که څه هم هغه ورځ ته

شپه وايي يا وشپې ته ورځ هم گذاره ورسره کوه.

۴. که يو سړی منکر سی اوستا سره هر ساعت جنګ کوی او وايي خره ته آس يا آس ته وايي خرهم گذاره ورسره کوه.

۵. خفه کيږه مه که هرڅونی خلګ تاته بد وايي دمخلوق بدته څه کوی، پر خدای ﷻ مخلوق دومره بد ويلی دی چی هغه نه راځی په شمار کی يعنی ترحساب زيات دی.

۶. دصفته څخه دچا مه خوشحاله کيږه چی څومره يې کوی او بد او ښکنځل چاته مه وايه.

۱. سخنيکه گوئی باکسی برقدر عقل اوبگو
عالم چو بينی سامع است با اوبگو در وگهر
خبری چی وايي سره له سړی په اندازه دعقل دده يې وايه
عالم چی ووينی چی سامع دی نو له هغه سره وايعه ملغلری

۲. چون توبگوی جاهل است فهمی ندارد برسخن
سخنی بگويي انچنان دروی کند قدری اثر
هرکله چی ته پوه سی چی جاهل دی عقل نه لری په خبره
خبری کوه دارنگه چی پرده وکی څه تاثير

۳. لطفی ونرمی کن بسی قصد خريدن چو نکنی
بايد فروشی همچنين تاسود بينی زان تجر
مهربانی اونرمی کوه ډيره نيت داخيستلو وکړه چی
بايد چی خرڅول هم مناسب کوی په دی شان چی څه نفع ووينی دهغه تجارت څخه

۴. نفعی رسان مرخلق را دربند نفع خود مشو
میکن چنین تا زنده بیشکه شوی خیر البشر
فائده رسوه خلگو لره یوازی په فکر دفائدی خپلی کی مه سه
کوه دارنگه چی ژوندی یې بیشکه سی به بهتر دخلگو

۵. هرگز نخواندم درکتب نشنیده ام ازعالمی
همچون جزای نافعان باشد جزاء کس دگر
هیچری می نه دی ویلی په کتابوکی نه می اوریدلی له عالم څخه
په شان دثواب دنفع رسونکی چی به وی ثواب دبل چا

۶. نانی بده درویش را رسته شوی هردو جهان
نظری کنی چون برگدا برتو کند حق صد نظر
ډوډی ورکوه فقیر لره خلاص به سی په دواړو جهانو کی
نظر دمهربانی چی کوی په فقیر رب به وکی پرتا سل نظر

دمشکلو الفاظو معنٰی :

سامع اوریدونکی، در ملغلری، گهر غمیان، نفع فائده، خریدن اخستل، فروشی هم خرخول، تجر تجارت، رسته خلاص، گدا فقیر.

توضیح او مطلب :

۱. خبری چی دهرچا سره کوی دهغه دعقل په اندازه یې کوه چی عالم ووینی له هغه څخه اوره غمیان اوملغلری.
۲. هرکله چی ته پوه سی چی دا سړی کم عقله دی خبره ورته کوه داسی

چې دده دعقل په اندازه وی .
۳. کله چې شی خرڅوی په هغه وخت کی نرمی کوه په مناسب قیمت یې ورکوه چې فائده وکی ستا تجارت.
۴. خلګوته فائده رسوه اوخپل ځانته هم چې ژوند ستا دټولو بنی اٰدمو ښخه ښه سی.
۵. هیڅری می نه لیدلی نه اوریدلی دی دعالمانو ښخه چې کم سړی نفع رسوی دهغه دثواب په اندازه دی بل ثواب هم وی.
۶. فقیر لره ډوډی ورکوه چې خلاص سی له عذابه ښخه پرفقیر نظر کوه خدای ﷻ به پرتا کوی سل نظره.

**۱. رنجی بکن دردی بکش نفعی رسان مرخلق را**

تکلیفونه کوه دردونه کشوه فائده رسوه خلګو لره

**این کار دارد کارها زین نیست کاری خوتبر**

داکار لری فوائد له دی کار ښخه نسته بل کاربنه زیات

**۲. شو سنگ زیرین آسیا رنجی بکش راحت رسان**

سه تر ډبره لاندی دژرندی تکلیف کوه خوشحالی رسوه

**ورنه چو خیره مسخره نانی طلب رو در بدر**

اوکه یې نه رسوی نوپه شان دهجران ډوډی غواړه دروازه په دروازه

**۳. خوشوقت آن مرغی که او افتد بدام مردمی**

ښه دی حال دهغه مارغه چې هغه ولویږی دسړی په دام کی

**اورا فروشد نان خورد بدهد بزن دختر پسر**

هغه خرڅ کړه او ډوډی پری اوخوره خپل لور اوبچی لره

**۴. سائل چو آید پیش در ازتو بخواهد نانکی**

سوالگر چې راسې مخته ستا اوستا څخه څه غواړي

**منعی کنی چون نان ازو یاخود کنی اورا نهر**

منعه چې کې هرکله ډوډی دده څخه یا اوکې ترټنه دده

**۵. گوید خدا نان خواستم ما را ندادی لقمه**

وايي رب ډوډې مې وغوښته رادی نه کړه گوله ماته

**یابی عذابی زین گنه سالی هزار اندر سقر**

پيدابه کې عذاب له دې گنه څخه زر کاله په دوږخ کې

**۶. سائل بدانی هدیه ازحق تعالٰی بردرت**

سوالگر وبوله هديه له ربه لويه په دروازه ستا

**صد چند کن تعظیم اوهم بخش اورا مٙا قدر**

سل قسمه يې كوه عزت اوهم وركوه هغه چې په اندازه وی

دمشکلو الفاظو معنٰی :

رنج زحمت، سنگ ډبره، اسيا ژرنده، مسخره ټوقی، لقمه يوه گوله، سقر ددوږخ نوم دی يا له دوزخ څخه ديوی طبقی نوم دی، ماقدر څومره طاقت چې دی وی .

توضیح او مطلب :

۱ . تكليفونه كوه اودرد كشوه فائده رسوه خلگو لره دا كار لری فوائدی

ډیری تردی کار بل کاربنه نه سته.
۲. ښه ډېره لګه چې تر ژرندی لاندی ده تکلیف کوی او خوشحالی رسوی خلګو ته اوکه فائده نه رسوی نو ګرزی در په دره.
۳. هغه مارغه ښه دی چې پدام کی وی اوهغه خرخ کی او ډوډی بچیانو لره په رانیسی .
۴. سائل چې درلره راسی چې څه غواړی نو ډوډی مه ورځخه منعه کوه وریې کړه اوکه یې ونکړی.
۵. نو وایی خدای ﷻ چې ما ستا څخه ډوډی وغوښته تا را نه کړه نو پیدا به کی عذاب له دې ګناه څخه کلونه ډیر .
۶. سائل یو هدیه وبوله له جانبه څخه دخدای ﷻ عزت یې کوه اومال ورکه چې طاقت دی وی .

**۱. اتیام را پرور بسی نانی بده هم جامه**
یتیمانو لره ساتنه کوه ډوډی ورکوه هم جامه
**هر لحظه شفقت کن چنان تا یاد ناید شان پدر**
هرساعت مهربانی ورباندی کوه چې وریاد نه سی حال دپلار خپل

**۲. خدمت کند چون مردمی باشد چوخادم پیش تو**
چې خدمت دی یوسړی کوی او وی په شان دخدمت ګارستا
**باید نوازی هر زمان اورا بدان نور البصر**
مناسب دی چې پالی یې هرساعت دی وبوله نور دسترګو

**۳. ګریک دونان پیش آورند تولقمه لقمه بخشش کن**
که یوه ډوډی یادوې په مخ ستاکی راوړی څوك ګوله ګوله بخشش که

**یابی فضیلت بیشتر آن هر دورا تنهامخور**

پیدابه کی بهتری ډیره هغه دواړی په تنهایې مخوره

**۴. این حکم ها بر اغنیاء نی برفقیر گرسنه**

داحکم پر دولتمندو دی نه پر فقیر وږی باندی

**او خود بود محتاج نان کجا بدهد دگر**

هغه په خپله محتاج دی نو ډوډی به کله ورکی بل ته

**(باب سی ویکم درخوبی حلم وزشتی غصه کردن گوید)**

یودیرشم باب په بیان کې دی دفضیلت دحلم او دبدوالي باندی یانولو دی دغصه کولو

**۵. حلمی بکن باجمله کس محبوب گردی بیشکی**

نرمی کوه دټولو خلگو سره سی دوست بیشکه

**هرگز نباشد نزد حق ازحلم چیزی خوبتر**

هیڅکله نه دی په نزد دخدای ترحلم شی ښه زیات

**۶. جاهل چو گوید بد ترا حلمی بکن چیزی مگو**

جاهل چې وایی بد تالره حلم کوه شی مه ورته وایه

**خلقی ترا ناصر شوند بکنند یاری یکدگر**

خلگ به تالره کومك کوی ملگری یوله بله

دمشکلو الفاظو معنٰی :

اتیام یتیمان ، لحظه ساعت، نوازی عزت ورکول، مهربانی کول، نور

البصر روشانی دسترگو، لقمه گوله، گرسنه لوږه، حلم نرمی کول.

توضیح او مطلب :

۱. دیتیمانو سره ښه کوه له هر لحاظه که خوراك اوکپړه یانور څه وی چی خپل پلار یاد نه کی.
۲. خدمت کوه چی یوسړی ستا خادم وی عزت یې کوه هرساعت اودی خپل دسترگو نور وبوله.
۳. که یوه ډوډی څوك راوړی ستا مخته نو هغه هم تنها مخوره بل څوك درسره گډ کړه
۴. داحکم دسرمایه دارانو لپاره دی نه دفقیرانو لپاره فقیر خوپه خپله وږی دی هغه هم محتاج دی.
۵. نرمی کوه دټولو خلگو سره چی دوست وگرزی په نزد دخدای ﷻ ځکه چی دخدای ﷻ په نزد ترحلم ښه شی نسته.
۶. ترحلم ښه شی نسته که هرڅوك تالره بد وایی حلم کوه خلگ به ټول ستاسی مدد کونکی.

**۱. مردم چو خوانند علم راعالم شود اندر جهان**

سړی چی ووایی علم اوعالم سی په جهان کی

**حلمی نباشد چون درو شجری بدانی بی ثمر**

نرمی چی نه وی په ده کی نو درخته یې وشمیره بې میوی

**۲. خشمی مکن هیچ کس غاضب بدان مغضوب حق**

قهرمه کوه پرهیڅ سړی غضب کونکی وبوله په غضب سوی دخدای

**چون برتو بکند کس غضب سخنی مگو میکن صبر**

هروخت چي پرتا کوی ځوك غضب خبری مه وایه صبر کوه

**۳. عفوه بکن از مردمان خشمیکه داری خورفرو**

بخښش کوه خلګو لره قهر کښته بیایه

**تا هیچکس نزدیک حق ازتو نباشد دوست تر**

چي هیځوك په نزد درب لتا څخه نه وی دوست زیات

**۴. خشمی بیاید چون ترا کوهی نماید نزد تو**

قهرچي درسی تالره او دغره په شان ښکاره سی تالره

**آن خشم بخوری چون فرو یابی مزه شهد وشکر**

هغه قهر خوره بیابه پیداکی مزه دشاتو اوخوږو

**۵. دان اهل جنت انکسی کورا به بینی این صفت**

وبوله خلګ دجنت هغه سړی چي لری دغه صفت

**ناګه کند خشمی بکس هم باز آید زودتر**

چي ناڅاپه کوی قهر پر سړی هم راګرزی ژر ژر زیات

**۶. چون علم کس را داد حق باحلم اوشد منتظم**

چي علم چالره ورکی خدای دنرمی سره متصل

**چون او نباشد بیغمی اندر جهان مرد دگر**

په مثل دده به نه وی بیغمه په دنیاکی سړی بل

## دمشکلو الفاظو معنٰی :

ثمر میوه، غاضب په صیغه داسم فاعل غضب کونکی، مغضوب په صیغه داسم مفعول غضب سوی، کوهی غر، فرو کښته، شهد شات، شکر خوږه، منتظم برابر .

## توضیح او مطلب :

۱. کم سړی چی وایی علم اوحلم ورسره نه وی څوك یې په شمارکی نه راوړی.
۲. قهر مه کوه هیڅ سړی به پرتا غضب نه کوی کم سړی چی پرتا غضب کوی هیڅ خبره مه ورته کوه.
۳. غصه هیچاته مه کوه قهرکښته کوه هیڅوك به دخدای دوست نه وی بغیر له تا څخه.
۴. غصه که څه هم په مثال دغره وی هغه کښته کوه خوندیې ترشاتو او شکرو زیات وی.
۵. وبوله داخلګ جنت والا چی داصفت لری چی ناڅاپه چی قهر ورځی اوبیا دخپل قهر څخه راګرزی ژر.
۶. چی علم خدای ﷻ چالره ورکی اونرمی ورسره وی په اندازه دعلم نوهغه سړی به ډیر بیغمه وی په دنیاکی.

* * *

**۱. خشمی چو آید مرترا استاده باشی می نشین**

قهرچی درسی تا لره او ته ولاړ یې نو کښېنه

**در شسته باشی خسپ تو الا بنوش آب ای پسر**
اوکه ناست وی نو پریوزه او وچیښه اوبه ای هلکه

**۲. جائیکه خصم بد بود کشتن همی خواهد ترا**
کم ځای چی دښمن بدوی وژل غواړی تالره
**حلمی مکن گیرد زبون میگو جوابش سخت تر**
نرمی مه کوه هغه به دی وبولی عاجزه ورکوه جواب سخت ډیر

**۳. خشمیکه بکنی روز تاشب نباشی آنچنان**
قهر چی وکی دورځی ترشپی پوره مه گرزه هغسی
**خوشنود کنی مغضوب را یابی جزا ای پسر**
خوشحالی کوه چی قهردی ورته کړیدی پیدابه کی جزا ای هلکه

**باب سي ودوم در امر معروف ونهي منكر ومانند ان**
دودیرشم باب دی په بیان کی دامر کولو په ښو سره او دمنع کولو دبدو کارونو څخه او ددې په مثل دنورو شیانو

**۴. چون امر معروف فرض شد هم نهی از منکر همی**
هرکله چی حکم په ښه فرض سو هم منع له بده کاره
**بر جمله مومن فرض دان پیر جوان وبنده حر**
پرټولو مومنانویې فرض وبوله که مشروی که ځوان که مریی وی که وازاد

**۵. تذکیر را چون بشنوی ازگوش دل نیکو شنو**

وعظ چې اوری په غوږو دزړه یې ښه واوره

**زشتی بگوید یاحسن خذ ما صفا دع ما کدر**

که بد علمه یې وایی اوکه نیك واخله صفا ورڅخه پریږده بد

**۶. پایبندی چو گوید عالمی آنرا بصد عزت شنو**

نصیحت چې کوی عالم هغه په سلو عزتو واوره

**درفسق او نظری مکن درعلم او میکن نظر**

په بدعملی کی دده نظرمه کوه په علم دده کی وکړه نظر

دمشکلو الفاظو معنٰی :

خسپ پریوتل، زبون عاجزه، خوشنود خوشحاله، مغضوب غضب سوی، معروف نیك کار، منکر بدکار، دع پریږده، کدر خراب، زشتی بد.

توضیح او مطلب :

۱. قهر چې درسی که ولاړ یې کښینه اوکه ناست یې پرېوزه اوکه پروت یې نو اوبه وچیښه .

۲. چیری چې دښمن تاته راسی او وژنی دی هلته حلم مه کوه ، عاجزی کوه جواب ورکړه سخت .

۳. قهر چې وکی ترمابنامه پوری دغسی مه گرزه دهغه سره خوشحالی کوه پیدا به کی ډیر ثواب.

۴. امرپه ښه کارو اومنع کول له بدو کارو څخه فرض وشمیره پرهر چا که لوی وی که ځوان که ازادوی که مریی.
۵. وعظ په اخلاص سره اوره، که وعظ کوونکی نیك عمل لری که بد عمل لری اخله ښه بد یې پریږده.
۶. دعالم نصحت په عزت سره اوره دهغه وبد عمل ته نظر مه کوه خبری ته یې نظر وکړه.

**۱. ازامر کردن یامنع چون کس عداوت میکند**
دامر کولو او دمنع کولو چی څوك دښمنی کوی
**بگذار امر ومنع هم ازوی بکن کلی حذر**
پریږده ورته امر اونهی له دغه سړی څخه وکړه بالکل پرهیز

**۲. پندی چوخواهی تادهی اول بده مرخویش را**
نصیحت چی غواړی اول یې ورکوه خپل ځان لره
**پس پند ده مر اهل را منکوحه دختر یاپسر**
پس له هغه نصیحت وکړه ښځی اولور اوهلك خپل ته

**۳. سرگین گلابه منع کن کهگل مکن دیوار را**
خوشایی دحیوانانو منع که او مه یې اچوه (مښلوه) پر دیوال
**سرگین گلابه چون کنی گردد ملایک منتفر**
کله چی خوشایی دحیوانانو پردیوالو وی نوگرزی فرشتی تښتیدونکی

**۴. پاچک مپز تودیگ ونان گرچی شود خاکتری**
په خوشیو سره مه پخوه دیگ اوډوډی که څه هم ایری وی

**گوید نجس آن خاک را یوسف امام معتبر**

وايي مرداره ده هغه خاوره امام ابويوسف امام معتبر

**۵. ازشهر بعض مردمان بکنند هم عصیان گنه**

دشهر بعض خلق چې کوي گناه اوهم نافرماني

**مانع نگردد دیگران گیرد بلا شان عام تر**

که منع کونکي ونه گرزي نور نو پرې به وزي پردې ټولو عام آفت

**۶. ترکی کنی معروف رانی نهی از منکر همی**

چې پرېږدې ښه کار اومنع کوې له بده کار څخه

**افتی توهم اندر بلا خود رایکی زیشان شمر**

پرې به وزې په تکليفو کې ځان يو ددې څخه وشميره

دمشکلو الفاظو معنٰی :

عداوت دښمني، بگذار پرېږده، سرگين خوشايي، گلابه مرکب لفظ دی دگل او اوبه څخه، کهگل خټه جوړول، نجس مردار، نهی منعه.

توضيح او مطلب :

۱. کم سړی چې دامر بالمعروف او نهی عن المنکر کوونکی دښمني کوي هغه بالکل پرېږده.
۲. نصيحت چې ته کوې اول يې خپل ځان ته کوه بيايې خپلې ښځې ته بيا خپلې لور ته او زوی ته.

۳. خوشايي اوګلان او اوبه چي سره ګډسي ددغه ګډوالی څه پرهيز کوه ملائکه تالره نه راځي.
۴. ګوبر چي اور وربانذی بلوی ډوډی اوديګ مه وربانذی پخوه امام يوسف صاحب وايي مردار دی.
۵. دښار خلګ چي ګناه کوی که نور عام خلګ منع ورڅخه ونکی نو ټول خلګ به په آفت اخته سی.
۶. کم څوك چي خبره دښوکارو اومنعه له بدو کارو پريږدی هغه به اخته سی په تکليفو کی.

*   *   *

**(باب سی وسويم در رقص ومزامير وسرود وسماع ګويد)**
درو ديرشم باب دی په بيان کي درقص او دربابو او دسرود اوريدو

**۱. دان نعمتی صوت حسن هم بخشش حضرت خدا**
وبوله نعمت ښه آواز هم بخشش له حضور څخه دخدای ﷻ
**تو زينوا الحانكم ميخوان حديث مشتهر**
ته زَيِّنُوا اَلْحَانَكُمْ ووايه حديث مشهوره

**۲. اواز خوش جان بشنود ذوقش رسد عاشق شود**
اواز ښه چي روح واوری خوند ورته رسيږی اوعاشق کيږی
**خواهد نخستين جای خود قصدی كندسوی زبر**
غواړی اول ځای خپل نيت کوی طرف دآسمانو اومزکی ته

**۳. زوری کند کاید برون قالب بگیرد دامنش**

زور کوی چی راووزی دباندی لیکن بدن نیسی لمن دده

**این نوع را تورقص خوان زان کی ترا باشد خبر**

دي قسم حرکت ته رقص ویل کیږی له دغه څخه دی تا لره خبر

**۴. سر خدا دانی سماع محروم زین نعمت بسی**

راز درب وبوله سرود بی نصیبه دی له دی نعمت څخه ډیر

**مردان بدانند قیمتش نامرد کی دارد اثر**

بزرگان پوهیږی په عزت دده باندی په جاهل کله اثر کوی

**۵. اورا سماع باشد روا آنکس که میرد نفس او**

سرود روا دی هغه سړی لره چی نفس یې مړوی

**جانی بود زنده درو ورنه ترا باشد حذر**

روح یې ژوندی اوکه نه وی نو تا لره پرهیز ورڅخه پکار دی

**۶. چون بشنوی صوت حسن تحمید کن برحال خود**

هرکله چی واوری ښه آواز حمد وایه پرحال خپل

**مجذوب چون گردی ازان پیدا شود حال دگر**

خوند به پیدا کی چی وگرزی له هغه څخه ظاهرسی حال بل

**۷. دانی سرودی آتشی مرجان عاشقی صادقی**

وبوله سروز اور خاص عاشق صادق لره

**کین راز راز خاصگان دانند ایشان نی دگر**

چې دغه رازدی راز دخاصانو نه دی بل چالره

## دمشکلو الفاظو معنٰی :

زینوا الحانکم اواز ښائسته کړی، مشتهر مشهوره، بشنو واوره، مجذوب چې په محبت دشی کی سړی غرق سی په ځان نه پوهیږی، حذر، پرهیز.

## توضیح او مطلب :

۱. ښائسته آواز یو نعمت دی له نزده ځخه دخدای ﷻ لکه چې په حدیث کی راغلی دی.
۲. داسی اواز ښائسته کړه چې کم ځوك یې واوری نوپر عاشق سی او نیت صفا کوه.
۳. رقص او دارنګه دې ته ورته نور ناوړه افعال په کموکی چې تنګی جامې یا داسی نور اغوستل کیږی ناروا دی.
۴. دا یو سر خدایی دی کم ځوك چې یې نه لری بی نصیبه دی، بې له نیکانو په پوهیږی نه بل ځوك .
۵. سرود روا دی هغه چاته چې نفس یې مړوی یعنی دخوند دپاره یې نه اوری بلکه دروح دژوندی کیدلو لپاره یې اوری نه دبل څه دخواهشاتو لپاره .
۶. چې ښه اواز واوری نو حمد وایه پرخپل حال، چې مجذوب سوی بیا ددې څخه بل حال پیدا کیږی .

۷. دصادق عاشق لپاره اور دی سرود، ځکه چی دا لار او راز دخاصانو دی نه دبل چا.
**فآئده:** داحکم دهغه دریم قسم دی چی زړه موصوف بالصفاء بذکر الله وی که نه وی نو حرام دی.

**۱. صوت حسن قوت روان روح ترا پرور ازان**
اواز ښه روزی دروح ده روح وپاله په هغو سره
**شد از ازل قسمت چنان گویم چنین بشنو پسر**
سو له ازله قسمت دغسی، وایم وایی وره ای ځوانه [1]

**۲. تامر ترا قوت بود رقص مکن ای جانمن**
ترڅو پوری چی تا لره قوت وی رقص مه کوه ای روحه ځما
**منکر مشو این حال رادان قیل قال بیشتر**
منکره کیږه مه ددې حال ښخه وګڼه پکښې خبری ډیری

**۳. مطلق بدان حرمت غنا مشنو ملاهی هیچگه**
بالکل حرام وبوله سرود مه یې اوره هیڅکله
**طنبور وبربط چنگ نی وجمله حرامست درخبر**
ډولکې او رباب سرنا ټول حرام دی په حدیث کی

**۴. درطبل هم حرمت بدان الا که طبل غازیان**
په نغاره کی هم حراموالی وبوله ماسوا له نغاری ښخه دغازیانو

---

[1]. یعنی ښه آواز یو نعمت دی چی دازله ښخه حصه او قسمت دبنی آدمو مقرر سویدی.

**دف هم مزن در هیچ جای جز در عروسی ای پسر**
ډول هم مه وهه هیچ ځای ماسوا له واده څخه ای هلکه

**۵. دانی غنا افسون زنان از سر هوا چون بشنوی**
وبوله سرود منتر دښځو چی لپاره دهوایی اوری
**بیشک بیفتی در بلا بربند ازین کلی نظر**
بیشکه به ولویږی په تکلیفو کی له دی څخه پرهیز وکی

**۶. اندر سماع چون بشنوی کس نعره یاهی آزند**
په سرود کی چی واوری یوسړی چیغه وهونکی
**هرگز مشو مغرور ازان شاید که باشد ازمکر**
هیڅکله مه سه مغروره له هغه څخه شاید چی وی دفریبه څخه

دمشکلو الفاظو معنٰی :

رقص څرخیدل، غنا سرود، طنبور رباب، چنگ شپیلی، دف ډول، عروسی واده، مغرور متکبر، مکر چل .

توضیح او مطلب :

۱. اواز ښائسته دروح لپاره غذاء ده طاقت ورکونکی دی په محبت دعبادت کولو نه په خواهشاتو باندی.
۲. ترڅو پوری چی ستا طاقت وی رقص مه کوه منکره هم مه سه ډیر اختلاف پکښی دی.

۳. بالکل حرام دی سروز مه يې اوره هيڅ وخت، رباب، سرنا او سروز دا ټوله حرام دی.
۴. نغاره يعنی ډول وهل هم حرام دی يو نغاره دغازيانو، ډول هم يوځای مه وهه يو په واده کی.
۵. منتر دښځو سروز دی خاص دخواهشاتو لپاره يې اوری نو ځکه وبه لويږی په تکليفو کی .
۶. سروذ چی اوری يانعره وهی نو هيڅکله ورڅخه مغروره کيږه مه دا ټول چلونه دی.

*   *   *

**(باب سی وچهارم در لاغ وبازی وشطرنج وغيره گويد)**

ځلور ديرشم باب دی په بيان کی دلغو او عبثياتو او شطرنج او نورو

**۱. بازی حرامست بيشکی جز لاغ وبازی اهل خود**

بازی حرامی دی بيشکه ماسوا دبازی څخه دکور والا خپل

**انکس که بازی ميکند او را بدان چون گاؤ خر**

هغه څوك چی بازی کوی وبوله هغه په مثل دغوايی او دخره

**۲. ورنرد يا شطرنج چون بيند کسی نظری کند**

په تخته ياپه شطرنج باندی چی څوك کوی نظر

**در شرمگاه مادران آنکس کند گويا نظر**

په شرمگاهو دمندو کی کوی گواکی نظر

**۳. حضرت خدا بر مسلمی سی صد نظر روزی کند**

حضرت خدای ﷻ پرمسلمان باندی دری سوه نظره دروځی کوی

**شطرنج بازان زین نظر محروم تو بیشک شمر**

دشطرنج بازی کوونکی له دی نظر څخه بیشکه بی نصیبه وشمیره

**۴. درنرد یاشطرنج چون نظر کند بازی کند**

پر تخته دشطرنج چی لوبی کوی او نظر کوی

**درلحم خنزیر او گوئی کند او دستر**

په غوښو دخنزیر اوپه وینو دهغه کی لاس ککړ

**۵. شطرنج بازی شافعی لاباس گوید آنزمان**

په شطرنج بازی کول شافعی وایی باك نسته هغه ساعت

**گروی نباشد درمیان فحشی نگوید یک دگر**

چی شرط نه وی په مینځ کی ښکنځل نه وایی یوبل ته

**۶. چون کس سلامش می کند گوید جواب اورا دان**

چی څوك درته سلام وایی وایه جواب هغه لره

**نی فوت وقت زو شود باشد نه زین اومنفخر**

نه فوت والی دوقت دده څخه کیږی نه له دی څخه فخر

**۷. تعلیم غزوه کافران باشد همی اصلی غرض**

زده کوه غزا دکافرانو سره چی اصلی غرض دی

**وزبهر دفع ناخوشي يکساعتی ای نامور**

اولپاره ددفع کولو دخفگان یوساعت ای نوم درلودونکی

## دمشکلو الفاظو معنٰی :

جز لاغ ماسوا له لهو اولعب څخه ، گاو غویی، خوگ خنزیر، فحشی بد ویل، غزوه جهاد کول دکافرانو سره .

## توضیح او مطلب :

۱. بازی کول حرام دی ماسوا له بازی دکور والا خپل سره هغه سړی چی بازی کوی هغه لکه حیوان داسی دی.
۲. پرشطرنج باندی چی څوك نظر کوی داسی مثال لری لکه چی فرج دمورته سړی گوری.
۳. خدای ﷻ پر مسلمان دری سوه نظره کوی مگرنه پرهغه سړی چی شطرنج کوی .
۴. په تخته دشطرنج کی چی لوبی کوی اونظرورباندی کوی داسی دی لکه په وینو دخنزیرکی چی لاس وهی.
۵. دشطرنج دبازی په کولوکی امام شافعی صاحب وایی چی باك نسته پکښی چی شرط اوخُمار نه وی پکښی اېښول سوی یا ښکنځل یا بده خبره نه وی پکښی.
۶. چی څوك درته سلام واچوی جواب ورکړه نه فوت والی دوخت په دې کیږی اونه دده څخه فخر.
۷. زده کوه غزا دکافرانو سره دا زموږ مقصد دی او لپاره ددفع کولو

دخفگان ډیر ښه دی.

**۱. گروی چو باشد درمیان محظور باشد انزمان**

شرط چې وی په منځ کی ناروا دی هغه ساعت

**در لاغ وبازی مردمان بینی بکن تو ایشان زجر**

په بی فائدو بازو کی خلق چې وینی وکی زجر

**۲. اسپی دوانی یاشتر تیری فرستی یادوی**

اسونه چې زغلوی یا پر اوښانو غشی ولی یا چارپایه زغلوی

**دانی روا این چزها گروی درین جائز شمر**

وبوله روا دغه شیان شرط په دی کی جائز وشمیره

**۳. بازی کبوتر هم مکن مردود گردی درشرع**

لوبی دکبوترو مه کوه مردود الشهادت به سی په شرع کی

**چونتو پرانی انزمان ملعون بگردی خاک سر**

چې ته یې الوزوی هغه ساعت لایق دلعنت به گرزی خاوری په سر

**۴. شرط گرو هر دو طرف بیشک حرامست جانمن**

شرط دگرو ددواړو طرفو څخه بیشکه حرام دی ای روحه ځما

**دانی حلال ازیک طرف آید میان ثالث نفر**

وبوله حلال له یوه طرفه څخه چې راسی په مابین کی دریم سړی

**۵. هرگه کبوتر پای پریابی خروسی تاج سر**

هرکله چې کوتره پیداکی چې پرپښو یې ښې وی اوچرگ چې پر سر

باندی یې چار خولك وی

**از خود مکن هردو جدا تا دیو ناید خانه را**

نو له ځانه څخه یې مه جلا کوه دواړه چې شیطان رانه سی کورته

**۶. شکره پرانی دائماً ازبهر صیدی کن روان**

بانبه الوزوه همیشه اولپاره دښه کار یې روانه کړه

**این وجه وجه پاک دان میکن شکار ای شه پسر**

دا سبب سبب پاك وبوله کوه ښکار ای هلکه

دمشکلو الفاظو معنٰی :

محظور منع سوی، لاغ بی فائدی، بازی دوانی زغلیدل، خروسی چرگه، شکر بانبه.

توضیح او مطلب :

۱. شرط اینبوول په مینځ کی ناورا دی هغه ساعت چې په عبثیاتو خلگ ووینی مشغوله.
۲. آسان چې څوك زغلوی یا داوښ څخه غشی ولی یابل چارپایه حیوان زغلوی اوبیا شرط پکښی کښیږدی دا حرام نه دی.
۳. په کوتری سره بازی کول ددې سبب دی چې دهغه سړی شاهدی په شریعت کی ناقبوله ده.
۴. اسان چې زغلوی ددواړو طرفو څخه شرطونه کول حرام دی اوکه دیوه طرفه څخه وی یا ودریم نفرته وی بیاحرام نه دی.
۵. کم کوتره چې پرېښو ښه لری اوکم چرگ چې پرسر باندی چار خولك

لري له ځانه ښخه يې مه ليرى كوه.
۷. په باښه سره ښكار كول روا دى دغه يوسبب دى پاك له سببو پاكو ښخه لپاره دښكار كولو.

**۱. باسگ مكن بازى گهى ناقص شود اعمال تو**
سره دسپي بازى مه كوه برباد به دى سى عمل ستا
**جز سگ كه باشد پاسبان صيدى بگيرد از قهر**
بى دهغه سپي چي چوكيدار اوښكار نيسى په قهر

**۲. خالق نگهبان بس ترا ازسگ نگهبانى مجو**
خداى ﷻ ستا ساتونكى دى له سپي ښخه ساتنه مه غواړه
**ميكن توكل برخدا ورنه توئى از سگ بتر**
كوه توكل پرخداى ﷻ اوكه يې نه كوى نوته ترسپي هم بد يې

**۳. در سوى صيد تير را چون تو فرستى ياسگى**
وه طرفته دښكار چي غشي ليږى ياسپي
**شكره پرانى سوى وگو تسميه تعجيل تر**
يا باښه ليږى دهغه وطرف ته بسم الله ژر وايه زيات

**۴. باشد سگى آموخته ازصيد چيز كم خورد**
دسپي آموخته كيدل دادى چي دښكار ښخه شي نه خورى
**هم شكره بايد آنچنان خوانى دوان امد بسر**
هم باښه بايد داسى وى چي كله يې راوبولى راځى په خپل سر

**۵. گیرند ایشان صید را باجرح میرد صید چون**

چې ونیسي دی ښکار اوسره دزخمه چې مړسي ښکار

**ذبحی نه حاجت اندر ان مذبوح هم طیب شمر**

دحلالولو حاجت نسته هم هغه حلال وبوله اوهم یې پاك وشمیره

**۶. گر زنده یابی ذبح کن ور میرود دنبال رو**

که ژوندی یې پیداکې حلال یې کړه اوسپی ورپسې ورځې

**باید نشینی ازطلب گر مرده یابی خوش بخور**

باید چې نه کښینې له طلبه څخه که یې مړ پیدا کې ښه یې خوره

دمشکلو الفاظو معنٰی :

سگ سپی، نگهبان ساتونکی، مجو مه غواړه، تیر غشی، شکره باښه، تسمیه بسم الله ویل، تعجیل په تلواری سره، آموخته تعلیم ورکول سوی لپاره دښکار، جرح زخم، ذبح حلالیدل .

توضیح او مطلب :

۱ . دسپي بازی مه کوه عملونه به دی ټول خراب سی ماسوا له هغه سپي څخه چې چوکیدار وی.

۲ . خدای ﷻ ستا ساتونکی دی بل ساتونکی مه غواړه توکل په خدای ﷻ کوه نه په بل چا .

۳ . هروخت چې غشي ولی یاسپی لیږی یا باښه ښکار ته وراستوی نو بسم الله وایه.

۴. په ښکار پسی آموخته سپی لیږه کم چی خوراك دښکار څخه نه کوی یا باښه چی راوبیي غواړی نوتا لره راځی سره دښکاره.
۵. چی کم وخت دا ښکاری حیوان ښکار ونیسی یامړ سی هغه نو حلال دی دذبح ضرورت نسته.
۶. که بیي ژوندی پیدا کی نوبیا ورته کښینه مه فوراً ځه پسی او طلب بیي کوه.

**۱. چون ازغلوله کس زند گرچی جراحت میکنی**

هرکله چی په لینده باندی څوك ښکار وکی که څه چی زخمی سی

**نخوری اگر چی تسمیه گفت است ایجان پدر**

هغه ونه خوری که څه هم بسم الله دی ویلی ای روحه دپلار

**۲. از گز چو بزنی صید را جرح نشد مردان روا**

په نیزه چی ووهی ښکار او زخمی نسی نو مردار بیي وبوله

**درآب افتد بام هم آن صید را هرگز مخور**

په اوبوکی چی پریوزی یا پربام نو هیڅکله بیي مه خوره

**۳. گر آتشی سوزد ورا مردار دان ازو کن حذر**

که اور بیي وسوزی هغه مردار وبوله له هغه څخه کوه پرهیز

**روشن بکردم پیش تو این مسئله چون شمس وقمر**

ښکاره موکړه په مخ ستاکی دامسئله لکه لمر اوسپوږمی

* * *

**(باب سی وپنجم در تکبیر ذبح ومسائل آن گوید)**
پنځه دیرشم باب دی په تکبیر کی دذبح او ددې په مسئلو کی

**۴. بسم الله چو خواهی تاکنی گو تسمیه بسمل بکن**
حلالول چی وغواړی وکی نو وایه بسم الله بیا ذبح
**گر ترک گیری عامدًا مردار باشد کن حذر**
که یې پریږدی قصدًا مرداره ده بیا کوه ورڅخه پرهیز

**۵. ذابح چو باشد مسلمی مردی بود خواهی زنی**
حلالونکی چی وی مسلمان سړی وی که ښځه
**یا کودکی عاقل بود کوذبح داند هم بخور**
یاهلك هوښیار وی چی هغه په ذبح پوهیږی نو خوره یې

**۶. در ذبح ببری چار رگ حلقوم دو شهرگ مری**
په حلالیدلو کی چی پرې سی څلور رگونه یوحلقوم دوه ښارگه یومری
**زین جمله گر بُری سه رگ حلقوم یا باشد دگر**
له دی ټولو څخه که چیری دری رگونه پرې کی حلقوم پاته سی یابل

توضیح او مطلب :

۱. کم څوك په غلول ښکار کوی هغه دی یې نه خوری که څه هم چی بسم الله ووایی .
۲. کم سړی چی په نیزی باندی ښکار ووهی او هغه ښکار بیازخمی سی

نو هغه مردار دی.
۳. که په اوبوکی ولویدی یا دبام څخه را شوه سو او مړسو نو هم نه دی روا او مردار دی دارنګه که په اور کی وسوزی هغه مردار وبوله له هغه څخه پرهیز کوه .
۴. کم حیوان چی حلالوی بسم الله ورباندی وایه که یې قصداً پریږدی هیڅکله یې مه خوره.
۵. حلالوونکی چی مسلمان وی هغه سړی وی که ښځه یاهلك وی خو پوه وی چی په حلالیدلو سره پوهیږی نو هغه روا دی.
۶. په حلالیدلو کی یې چی څلور رګونه پرې سی حلقوم، مری، او دوه ښارګونه یادری رګونه ورڅخه پریسی یا حلقوم اویا بل یو پاته سی نو بیا هم روا دی.

**۱. مذبوح شد بیشکه روا اورا بخور ازجان ودل**

نو حلال سو بیشکه روا دی هغه خوره په اخلاص سره

**کردی فراموش تسمیه پاکش بدان فی الحال**

اوکه کړه دی هیره بسم الله پاك یې وبوله فی الحال یې خوره

**۲. اهل کتاب وصابیان وزاهل قبله هرکه هست**

اهل کتاب او صابیان له اهل قبلی څخه وبوله

**مذبوح شان باشد روا طیب بدان جائز شمر**

ذبح ددوی روا ده پاك یې وبوله روا یې وشمیره

**۳. بسمل کنی از بهربت یا درعمارت چاه جوی**

حلاله چی یې کی لپاره دبت یا دابادی یا دکوهی یادویالی

**وقتيكه آيد نو عروسى ياكسى آيد ازسفر**
یاهغه وقت چی نوی ناوی یاسړی راسی له سفره

**۴. یا زحمتی نیکو شود یابهر زرع وباغ وزرع**
یادې رنځور جوړ سی یاحلال کی لپاره دفصل دباغ او انګور

**اباد بکنی دیه چون یامیر آید در شهر**
یا لپاره دهغه چی اباد یې کی یا امیر راځی په ښار کی

**۵. مکروه باشد این ذبح کس را نباید تاخورد**
مکروه ده داذبح چالره مناسب نه دی چی ویې خوری

**جز اهل سجن وبندیان وانکس که باشد مفتقر**
بغیر دقیدیانو اوبندیانو او بغیر دهغه څخه چه ډیر عاجزه وی

**۶. زین خلق دیگر خلق را جائز نباشد تاخورد**
بی له دی خلګو نورو خلقو لره روا نه دی چی ویې خوری

**مردار دان مذبوح را ذابح چو کافر نی دگر**
مردار یې وبوله حلالی لره حلالوونکی لکه کافر نه بل څوك

دمشکلو الفاظو معنٰی :

مذبوح حلال سوی حیوان ته وایی، فراموش هیرونکی. اهل کتاب هغه خلګ چی په تورات، انجیل یازبور یې ایمان وی، صائبین هغه خلګ چی کله به یې په تورات ایمان وو اوکله په انجیل ، عمارت اٰبادی، اهل سجن هغه خلګ چی په بندی خانه کی وی، مفتقر محتاج.

توضیح او مطلب :

۱. کم حیوان چی حلال سی هغه بیشکه خوره په اخلاص سره که څه هم په هغه سره بسم الله نه ووایی.
۲. داهل کتابو او صائبیانو خلګ چی کم حیوان چی حلال کی هغه هم روا وبوله ځکه چی دوی خدای منی.
۳. کم سړی چی حلالیدل یا دابادی یادبت لپاره کوی یا هغه وخت چی نه وی واده وکی یاڅوك له سفره راسی.
۴. یاسړی دمرضه څخه جوړ سی یا دکښت یا باغ لپاره یا امیر یا باچا راځی ورته حلال یې کړی.
۵. دغه ذکر سوی قسمونه ټول مکروه دی دا ذبح سوی حیوان باید څوك ونه خوری ماسوا دبندیانو څخه یاهغه سړی چی وی ډیر محتاجه هغه دی یې وخوری.
۶. ددې خلګو یعنی بندیانو او محتاجینو څخه ماسوا ددې خوړل بل چا نه دی روا، که یې بل څوك وخوری نو داسی دی لکه هغه چی یو داسی حیوان خوړلی وی کم چی خاص کافر حلال کړی وی.

**۱. چنگل که دارد طائری اشکی بهائم هم مخور**
منګولی چی لری مارغه اوداړی والا چارپایان هم خوری
**دان اشک وچنگل هر دورا باشد صلاح ای نامور**
وبوله داړی او منګولی هردواړه وسله ای نوم درلودونکی

**۲. هم کرگ هم طاوس خور کرد ست رخصت مصطفیٰ**
همدارنګه زاڼ او طاووس خوره کړی یې دی اجازت رسول الله ﷺ

**آهو بخور خرگوش هم گاوان دشتی گور خر**

هوسی خوره هم سوی هم غوایان دبیابان او هم دغره خر

**۳. لحم حمار وبغل هم مشکوک دان اندر شرع**

غوښې دخره او دغاتر هم ناروا وبوله په شرع کې

**لحم فرس محظور شد نزدیک نعمان نامور**

غوښې دآس حرامې سوې دی په نزد دنعمان ای نوم لرونکي

**۴. مکروه دان جلاله راحبسی بکن علفی بده**

مکروه وبوله حیوانان گندگی خوړونکی بندیې کړه واښه ورکوه

**سه روز حبس ماکیان یک هفته میش وده بقر**

دری ورځې یې بندول دی دچرګانو یوه هفته دمیږو اولس ورځې دغوا

**۵. ابی مخور ماهی مگر ازجنس ماهی جملگی**

داوبو حیوان خوره لکه ماهی اوله جنس څخه دماهی نور ماهیان ټول

**طافی مخور جنگه مخور هرچونکی باشد ملخ خور**

مړماهی مه خوره اونهنګ مه خوره، اوملخ چې هرڅومره وی خوره یې

**۶. ماهی ملخ این هردو را ذبحی مکن تعجیل خور**

ماهی اوملخ دغه دواړه مه حلالوه ژر یې خوره

**آمد بسنت مصطفٰی خوردن سپرز وهم جگر**

راغلی دی په حدیث کی خوړك دپښتورگی هم دځیګر (اینې)

**٧. غدوه مراره بول دان فرج ذکرهم خایه**
ستغی او تریخی اوپوجی فرج او ذکر هم خایی
**مکروه تو این شش بدان محظور خون منفجر**
مکروه وبوله داشپږ، وبوله منع وینه روانه

**٨. لیکن شکنبه جملگی بارودگان ایجانمن**
مگر لری تهول سره دکلمو ای روحه ځما
**هیچ از نبی ومرسلان عامل نبود ای پسر**
هیڅوك دنبیانو اوله رسولانو څخه استعمالونکی نه وو ای هلکه

**٩. چون خام یابی گوشتی آنرا مخور بریان بکن**
هرکله چې غوښه اومه پیدا کړی مه یې خوره کباب یې کړه
**آتش برای طبخ آن شرطست ایجان پدر**
اور لپاره دپخیدلو داشرط دی ای روحه دپلار

دمشکلو الفاظو معنٰی:

چنکل منگولی، ایشکی داړی، بهائم چارپایان، کرك زانړی، آهو هوسی، خرگوش سوی، گاوان غوایی، لحم غوښی، بغل قچر، غاتر، فرس آس، نعمان نوم دامام ابوحنیفه رحمة الله علیه دی، علفی واښه. حبس بند، ماکیان چرگان، جلاله هغه حیوان چی مرداری خوری.

*   *   *

## توضيح او مطلب :

۱. داړی یام نګولی چی کم حیوان لری او چارپایان خوری او دغه ددوی وسله ده خوراك يې روا نه دی.
۲. دزانړی اوطاوس دخوراك اجازه کړیده رسول الله ﷺ هوسی هم خوره او هم سوی هم غوایی دغرو.
۳. غوښی دخره او دقچر هم ناروا دی په شریعت کی غوښی دآس منعه دی په نزد دامام ابوحنیفه رحمة الله علیه .
۴، مکروه وبوله غوښی دهغه حیوان چی مرداری خوری، اوکله چی یو داسی حیوان چی غوښی يې حلالی وی دا مرداری خوری اوته غواړی چی هغه حلال کی نومخکی تر حلالولو يې يوڅو ورځی دهغه مرداری دخوراك څخه بند کړه بیايې حلال که، او دبندیدو دورځو اندازه داسی ده چی دری ورځی چرګه بنده کړه او لس ورځی غوا بنده او یوه هفته میږه بنده کړه.
۵. داوبو حیوانان مه خوره مګر ماهۍ او دماهیانو جنس ټوله پاك او حلال دی مګر نه هغه حیوان چی خپله مړ سی، او دارنګه دنهنګ ماهی چی دا یو قسم دی په ماهیانو کی ددې خوراك نه دی روا.
۶. ماهی اوملخ دواړه خوره، او دارنګه په حدیث کی راغلی دی خوراك دپښتورګو او داینې .
۷. مرغړی اودبولو کځوړه اوفرج اوذکر اوخايې هم مکروه تحریمی دی او منعه ده خوراك دوینی درګو.
۸. لیکن هرڅه چی لری او ټوله کلمې دی نو دهیڅ نبی او رسول څخه ددې دخوراك دا نه دی راغلی.

۹. هرکله چې اومه غوښه پیدا کړی او غواړی چې ویې خوره نو پخه یې که اومه یې مه خوره بلکه کباب یې کړه.

**(باب سی وششم در بیان ماها وروز سعد ونحس گوید)**

شپږ دیرشم باب دی په بیان کې دمیاشتو او ورځو دنیك بختي او بدبختي

**۱. سه بار میخوان فاتحه باتسمیه ناغه مکن**

دری واره وایه الحمد لله سره بسم الله ناغه کوه یې مه

**هرگه که آید ماه نو اندر نظر ای نامور**

هروخت چې راسی میاشت نوی په نظر ای نوم درلودونکی

**۲. انا فتحنا غره خوان ناغه مکن در خواندش**

انا فتحنا سورة په اول دمیاشت کې ناغه کوه مه په ویلو سره

**ناید بلاها نزد تو یابی همی فتح وظفر**

نه به راځي بلاوی په نزد ستا پیدابه کې خلاصی اوکامیابی

**۳. ماه محرم زربه بین اندر صفر بین آئینه**

میاشت دمحرم په سرو زرو کې وگوره اوصفر په آئنه کې

**اول ربیع آب روان آخر غنم این مه نگر**

اوله خور په اوبو جاری کې دوهمه په پسو کې

**۴. اول جمادی نقره بین پیری به بین در آخرین**

دریمه خور په سپینو زرو وگوره په سری زوړ سره څلورمه خور

**ماه رجب مصحف به بين شعبان گياهی سبز تر**

میاشت دخدای ﷻ په قرآن شریف سره او وگوره برات په شنو وښو سره

**۵. شمیشر در رمضان نگر شوال جامه سبز بین**

میاشت دروژی په توره وگوره اودواړه اختران په شنه جامه

**ذیقعده بینی کودکی ذو الحجه دختر خوبتر**

دمیانی میاشت چی وینی په هلك سره او دلوی اختر دا په انجلۍ سره

**۶. از سال اول روزه را روزه بداری جانمن**

دکال اوله ورځ روژه کوه ای روحه ځما

**در روزه آخر سال هم نیت بکن یابی اجر**

په روز باندی دآخر دکال هم نیت کوه پیدابه کی ثواب

**۷. اول خمیس از رجب نیت بکن روژه را**

په اوله ورځ دخدای تعالی دمیاشتی نیت کوه دروژی

**میکن نماز تا عشاء افطار انگه ای پسر**

کوه لمونځ ترماخستنه ډوډی وخوره پس تردی ای زویه

**۸. چون گذاری اینچنین رسته شوی هردو جهان**

چی ته ادا کوی دارنگه خلاص به سی په دواړو جهانوکی

**رضوان کند ترا قصری بیابی از گهر**

دربان دجنت به کوی عزت ستا مانړی به پیدا کی ډکی له غمیو څخه

دمشکلو الفاظو معنٰی :

غنم پسونه، نقره سپین زر، شمشیر توره، افطار ماتول دروژی، رضوان چوکیداره دجنت، قصر بنګله، ګهر ملغلری۔

توضیح او مطلب :

۱. په اول دمیاشتی کی دری واره الحمدلله سره دبسم الله وایه پریږده یې مه همیشه په لیدو دمیاشت کی یې وایه.
۲. او هم په اول کی دمیاشت سورة الفتح مه پریږده نوته به له تکلیفو څخه خلاص سی.
۳. میاشت دمحرم ته په سرو زرو ورته وګوره داولی خور میاشت په رونو اوبو سرهووینه.
۴. دجمادی الاولی میاشت په سپینو سرو ووینه دریمه خور ځلورمه خور په زاړه سړی ووینه. دخدای تعالی میاشت په قرآن سره ووینه دبرات میاشت په شنو وښو سره ووینه .
۵. میاشت درمضان په توره سره ووینه، ذی القعده په کوچنی سره ووینه، ذو الحجة په انجلۍ سره ووینه.
۶. دکال په اوله ورځ کی هم روژه ونیسه اوپه آخر دکال کی هم نیت دروژی نیولو کوه .
۷. اوله پنجشمبه درجب هم نیت کوه دروژی نیولو دماخستن تر لمانځه وروسته یې افطار کوه.
۸. کله چی ته دکال میاشتی او ورځی داسی په روژو نیولو تیری کړی نو په دواړو جهانو کی به خلاص سی، او رضوان دجنت به ستا خدمت

کوی او ستا دپاره به په جنت کی مانۍ دسرو زرو څخه جوړی کړی.

**۱. نصف رجب طعمی بکن امساک هم میخوان دعا**

په منځ دخدای ﷻ دمیاشتی کړه طعام پوخ اوروژه ونیسه هم وایه دعا

**الحاح کن درخواندنش یابی اجابت زودتر**

عاجزی کوه په ویلو ددعا کی پیدابه کی قبلول ژر

**۲. غسلی بکن اول رجب هم درمیان وآخرش**

غسل کوه په اول دخدای ﷻ دمیاشتی هم په مابین او آخرکی

**تا پاک گردی ازگنه اکنون شوی زاده زسر**

چی پاك سی له گناه څخه لکه اوس چی پیدا سی دسر څخه

**۳. رمضان بخوان قرآن بسی شعبان بخوان صلٰوة**

په روژه کی وایه قرآن ډیر اوپه برات کی درود

**اندر رجب غفران طلب شب وروز ایجان پدر**

په میاشت دخدای ﷻ کی مغفرت غواړه شپه او ورځ ای روحه دپلار

**۴. چون شب براة آید ترا ده چیز کن ازجان ودل**

هرکله چی شپه دبرات سی تالره لس خبری کوه له زړه څخه

**غسلی بکن تو روزه هم بیدار باشی تاسحر**

غسل کوه روژه ونیسه هم بیدار اوسه ترسهاره

**۵. یٰسین نخست ایمان خود دومی توسعه**

یٰسین اول لپاره دسلامتیا دایمان خپل دوهم لپاره دفراخی درزق

**سويم مزيد عمر خود ميخوان بمانى دير تر**
دريم دزيادت والي دعمر يې وايه ژوندى به پاته سى ډير

**٦. درخت خانه دست زن آورند زاجنبان بسى**
په اسبابو دكوركى لاس وهه لوښو لره حركت وركوه ډير
**ميكن زيارت مردگان وعظى شنو اى نامور**
كوه زيارت دمړو نصيحت اوره اى ناموره

**٧. ميكن نماز ازبهر حق ميخوان دعا ازصدق دل**
كوه نفل لمونځ لپاره دخداى ﷻ وايه دعا له اخلاص دزړه څخه
**غفران بخواهى بهر خود وزبهر مادر هم پدر**
بخشش غواړه لپاره دځپل ځان اولپاره دمور اوپلار

توضيح اومطلب :

١. په **١٥** دخداى ﷻ دمياشتى روژه ونيسه دورځى او دشپى طعام پخوه او په عاجزى سره دعا كوه چى قبليدونكى ده.
٢. غسل كوه په اول دخداى ﷻ دمياشتى كى هم په مابين او آخركى چى پاك سى له گناه څخه لكه اوله ورځ چى پيداسوى يې.
٣. په رمضان كى قرآن وايه ډير او دبرات په مياشتى كى درود وايه، دخداى ﷻ په مياشت كى استغفار وايه شپه اوورځ اى روحه دپلار.
٤. چى شپه دبرات راسى لس شيان كوه په اخلاص اول غسل كوه بيا روژه او دشپى بيداره اوسه.

**۵**. یٰسین وایه چی ایمان دی سلامت سی دریم زیادت والی دعمر غواړه ډیر په دعا کی.
**۶**. دکور کار کوه په خپله اولوښی را اخله په خپله ځکه چی برکت پکښی ولویږی.
**۷**. لمونځ دپاره دالله ﷻ کوه او دعا کوه دزړه داخلاصه څخه، هم بخښه غواړه دالله دګناهونو خپلو.

**۱. عیدین راغلسی بکن خوشبوی کن توجامه تن**
داخترانو لپاره غسل کوه خوشبویي لګوه په جامه
**در فطر واجب شده توشیر باخرما بخور**
په روژه ماتولو کی ته شیدی سره له خرما خوره

**۲. عرفه چو آید جانمن هم حج خوانی انبیاء**
ورځ دعرفی چی راسی هم سورة حج وایه اوهم سورة انبیاء
**یابی ثواب عمره هم بارمی وسعی وهم نحر**
پیدابه کی ثواب دعمری هم درمی او دعرفات هم دحلالیدلو

**۳. وجهی نباشد چون ترا قربان کنی کوثر بخوان**
قیمت چی نوی ستا سره چی ذبح وکی نو سورة کوثر وایه
**در عشره ذی الحجه بخوان شب روز سورة فجر**
اوپه لسمه ورځ دذی الحجی کی وایه شپه اورځ سورة فجر

**۴. صوم وصلٰوة کن دعا هم سرمه صلح وتوسعه**
روژه اولمونځ کوه اودعا، هم رانجه اوصلح ددښمنانو سره اورزق پراخه

**غسلی بکن اصلاح هم عالمان چیزی ببر**
غسل کوه اوخیر خواهی کوه اوعالمانو ته ځه

**۵. چیزی بده اتیام را ارحام وپرس وزحمتی**
تحفه وړه اویو څه ورکړه یتیمانو لره دخپلو پوښتنه کوه او دمریض

**در روز عاشوره بکن هرده که گفتم ای پسر**
په ورځ دلسم دمحرم کوه دا هرلس چی مخکی می وویل ای هلکه

**۶. اندر صفر بیرون مرو جنگی مکن باهیچکس**
په صفرکی بهرمه ځه جنګ مه کوه سره دهیچا

**کاین ماه دارد شومی مدغم درین صد با خطر**
دغه میاشت لری ناکاروالی پټی سل خطری

دمشکلو الفاظو معنٰی :

عیدین اختران، فطر ماتول، عرفه نهم ورځ دذی الحجی، رمی شیطانان ویشتل، سعی تګ کول په مابین دصفا اومروا کی، ارحام خپلوان .

توضیح او مطلب :

۱. په شپه داخترانو غسل کوه خوشبو کوه اوروژه نیسه اوپه خرما اوپه شیدو یې ماتوه.
۲. دعرفې ورځ چی راسی سورة حج اوسورة انبیاء وایه ثواب لری دعمری او دسعی هم دحلالیدو .
۳. قیمت چی نه وی تا لره دقربانی نو سورةِ کوثر وایه په لسمی دذی

الحجی وایه سورة فجر.
۴. لمونځ کوه اوهم روژه نیسه او دعا کوه، هم جوړه ددښمنانو سره کوه او پراخی کوه په رزق کی.
۵. یوشی ورکوه یتیمانو ته دخپلوانو پښتنه کوه اودهغو کسانو پوښتنه کوه چی په تکلیف کی وی، اوپه لسم دمحرم روژه نیسه.
۶. دصفری په میاشت کی دباندی مه ځه او جنګ دهیچا سره مه کوه ځکه چی په دې میاشت کی پټ سل تاوانونه دی.

* * *

**۱. در چهار آخرین غسلی بکن جامه بشوی**
په ورځ دچهار شنبی آخری غسل کوه
**درخانه شین راحت طلب بااهل خود نعمت بخور**
په کورکی کښینه خوشحالی کوه سره دعیاله نعمت خوره

**۲. روزی حل ماهی بزن وزبهر صیدی رو برون**
په ورځ دنهمی ښکار دماهی کوه لپاره دښکار ځه دباندی
**آهو بیابی کرک هم افتد شکاری بیشتر**
اوسۍ چی پیداکی او زنړی هم حاصل به سی زیات ښکار

**۳. میکن عمارت دراحد باشد مبارک بیشک**
کوه آبادی په ورځ دیکشنبی وی به مبارکه بیشکه
**باغ وزراعت زودکن چاهی وجوی کن خضر**
باغ او زمینداری ژر کوه دڅاه او دویالې کیندل

**۴. عزم سفر داری اگر خواهی رسی بردوستان**
قصد دسفر که لرې اوغواړې چې ورسم دوستانو ته
**مختار شد از روزها روز قمر جان پدر**
ښه ده له ورځو ورځ ددوشنبې ای روحه دپلاره

**۵. فصد وحجامت چونکنی روز سه شنبه کن بسی**
وینه ایستل چې کوې په ورځ دسه شنبه یې کوه
**مریخ را خونریز دان ساعات او میمون شمر**
چهارشنبه هلاکونکی وبوله ساعتونه نیك وشمیره

**۶. چونتو بخواهی داروی بدهی بر زحمتی**
چې ته غواړې دارو ورکول چاته لپاره دتکلیف
**از بهر این مختار شد روز عطارد ای پسر**
له پاره ددې خوښه کړه ورځ دچهارشنبې ای هلکه

## دمشکلو الفاظو معنٰی :

آهو هوسی، عمارت ابادی، کرك زانړی، جوی ویاله، عزم قصد ، حجامت وینه کښل، میمون مبارك .

## توضیح او مطلب :

۱. په ورځ دچهارشنبې آخری غسل کوه په خپله کورکی کښینه دخپل عیاله سره خوراك کوه.
۲. په ورځ دسه شنبې ښکار دماهیانو کوه اوځه دپاره دښکار، اوسی به

پیدا کی او ښکار به یې کړی.
۳. په ورځ دیکشنبی آبادی کوه باغ او زراعت او ثاه او ویاله جوړوه ځکه چی په دې ورځ کار مبارك وی.
۴. دسفر لپاره ودوستانو ته ښه ورځ چی ده ددوشنبی ده، دا ورځ خوښه کړل سویده دپاره دسفر دورځو ثخه .
۵. وینه ایستل چی کوی نوپه ورځ دچهارشنبی یې کوه دغه ساعتونه مبارك وبوله.
۶. چی چاته دیو شی او یا یو څه ورکول کوی ددی لپاره هم ورځ دچهار شنبی ښه ده.

**۱. چون مرترا کاری بود سلطان به بینی تا امیر**
هرکله چی تالره کاروی چی بادشاه وینی یاحاکم
**تا حاجت گردد روا پس مشتری دارد اثر**
ددی لپاره چی وگرزی حاجت ادا پس زیات لوی اثر مشتری لری

**۲. روز جمعه تزویج کن هم بازنان خلوت بکن**
په ورځ دجمعی نکاح کوه هم دزنانو سره جماع کوه
**یابی جزا ازحد برون حضرت خدا دهد پسر**
پیدابه کی ثواب له حده زیات، هلك به خدای درکی

**۳. روز حل مریخ هم گرتو بپوشی جامه نو**
په ورځ دخالی او دچارشنبی هم که واغوندی جامه نوی
**یا فصد بکنی هم درین مصیبت پیش در**
یا وینه وباسی په همدې سره مصیبت به راسی په مخ کی ستا

**۴. در غره ثالث پنج هم بابیت وپنجم شانزده**

په سرکی دمیاشت دریمه او پنځمه سره د پنځمی ویشتمی او شپاړسمی

**کاری مکن جای امر وخالی نباشد از ضرر**

هیڅ کار مه کوه او هیڅ ځای مه ځه ځکه چی دا خالی نه وی دضرر څخه

**۵. درسال دانی بیشکی اثنا عشر روز نحس**

په کال کی وبوله بیشکه دولس ورځی ناکاره

**غافل مشو زان روز ازجمله کاری کن حذر**

غافله کیږه مه ددی ورځو څخه دټولو کارو څخه کوه پرهیز

**۶. ماه محرم یازده هم از صفر ده را بدان**

دمیاشتی محرم یوولسمه دصفری لسمه وبوله

**از شهر اول چارمی هم ده زآخر برشمر**

داولی خور څلورمه هم لسمه ددوهمی خور وشمیره

## دمشکلو الفاظو معنٰی :

مشتری نوم دیوه ستوری دی، تزویج په نکاح ورکیدل، فصد وینه کشول، غره اول دمیاشتی، نحس بیکاره، حذر پرهیز، اثنا عشر دولس.

## توضیح او مطلب :

۱. چی دباچا اوحاکم دوقت سره دی کاروی نو دمشتری په وخت کی ورځه چی اووم ستوری دی یعنی دمیاشتی اومه ورځ ده ځکه چی دغه

ډيره موثر ده.
۲. دجمعې په ورځ نکاح کوه هم دزنانو سره جماع کوه خدای ﷻ به ثواب هم درکی اونارينه اولاد هم.
۳. په ورځ دهفتې او دچهارشنبې کپړه په غاړه کوه اوکه وينه وکاږې په دغه ورځو کې بيابه غم راسې تالره.
۴. په اول دمياشتې اوپه پنځمه اوپه پنځم ويشتمه اوپه شپاړسمه هيڅ کارمه کوه خالي نه دی له ضرره.
۵. په کال کې دوولس ورځې ناکاره دی په دې ځان خبر کړه او ددې شخه مه نا خبره کيږه.
۶. اول دمياشتې دمحرم يوولسمه دصفرې لسمه ورځ داولې خور ثلورمه هم لس ددويمې خور دی.

**۱. اول جمادی بيست وهفت هم بيست دو از اخرش**

په دريمه خورکې اوه ويشتم هم دوه ويشتم په ثلورمه خور کې

**نيز از رجب دان بست ودوهم وبست سه شعبان نگر**

هم له رجبه وشميره دوه ويشتم او درويشتم دبرات

**۲. رمضان چهارم ماه شد شوال را هفتم بگو**

په رمضان کې ثلورمه دمياشت ناکاره سوه او اومه دکوچنې اختر هم

**هم بست وهشتم ذو القعده ذو الحجه هشتم درشمر**

اته ويشتمه دذو القعدی اتمه دلوی اختر

**۳. درسوم وهشتم سيزد هم هشژدهم را بيست وسه**

په دريمه کې اوپه اتمه کې اوپه ديارلسمه اوپه اتلسمه او درويشتمه

**هم بیست هشتم جانمن کاری مکن خاصه سفر**
هم په اته ویشتمه ای روحه ځما کار مه کوه خاص بیا سفر

* * *

**(باب سی وهفتم در بیانی پیری وجوانی میگوید)**
اوه دیرشم باب په بیان کی دبوډا والی او دځوانۍ دی

**۴. چون درچهل عمرت رسد کاهل نه شینی یکدمی**
هرکله چي شمار څلویښتو ته ورسیدی مه کښینه یو ساعت
**بگذار عصیان هم گنه طاعت عبادت بیشتر**
پریږده گناه او نافرمانی طاعت او عبادت ډیر کوه

**۵. گرتو نباشی اینچنین برعکس بکنی کارها**
که ته نسی دارنگه په خلاف ددی کوی کارونه
**طاعت کم وعصیان بسی شو ساخته بهر سقر**
عبادت کم او گناه ډیره سی نوسه تیار لپاره داور

**۶. غالب حیات آدمی از شصت تا هفتاد دان**
اکثره ژوند دبنده له شپیتو څخه تراویا وبوله
**کردی به بازی ثلث گم ثلثی زمنتی بیخبر**
کړه دی په لوبوکی دریمه حصه اوپه دریمه ثلثه کی مستی نه بي خبر

دمشکلو الفاظو معنٰی :

رجب دخدای تعالٰی میاشت، جمادی الاول دریمه خور، شعبان برات،

شوال دکوچنی اختر میاشت، کاهل سستی، عکس اړول، سقر نوم ددوږخ دی.

توضیح او مطلب :

۱. ددریمی خورپه اوه ویشتمه ورځ اوپه دوه ویشتمه ورځ اوپه څلورمه خورکی دخدای ﷻ دمیاشتی دوه ویشتمه اودرویشتمه له شعبان څخه ناکاره ورځی دی.

۲. وبوله څلورمه له رمضانه څخه، اومه له کوچنی اختر دمیاشتی څخه او اته ویشتمه دمیانی اواتمه دلوی اختر دمیاشتی .

۳. اوپه دریمه اواتمه کی اوپه دیارلسمه اوپه اتلسمه هم په اته ویشتمه کار مه کوه بیاخاص سفر.

۴. چی عمر ستا وڅلویښتو ته ورسیدی عبادت ډیرکوه. اوسر داوسه څخه ګناهونه پریږده.

۵. که چیری ته عبادت نه کوی اوګناهونه کوی نوخپل ځان دی جوړ کړه ددوږخ لپاره.

۶. اکثره وخت دبنده عمر شپیته ۶۰ کاله یا اویا ۷۰ کاله وی، ددې دریمه حصه دی په لوبو کی تیره کړه او نوره دی په مستیۍ کی تیره کړه نو اوس څه پاته سوه.

**۱. ثلثی که مانده آخرین دروی بدان آفت بلا**

ثلث چی پاته سی په هغه کی وګڼه آفتونه تکلیفونه

**که باد گیرد دست وپا صد بار روزی درد سر**

چی باد نیسی لاس اوپښی اوسل واره دورځی دسر درد

**٢. صحت نیابی یکدمی درد وبلا در هر زمان**
جوړوالی به نه کړی پیدا یوګړی درد اوتکلیف به وی په هروخت کی
**شبها نیابی خواب خوش فریاد بکنی تاسحر**
په شپوکی به نه کی پیدا خوب خوږ فریاد به کوی ترسهاره

**٣. تب در بدن لازم شود سرما ولرزه دائما**
تبه به په بدن کی هرومرو پیدا سی یخ او ریږدیدل همیشه وی
**گوارش نیاید نانکی درچشم گردد کم بصر**
هاضمه نه راځی دډوډی په سترګو کی ګرځی کم نظری

**۴. بهر مصالح پیش او هرگز نیاید مردمی**
دپاره دمصلحت ده ته هیڅکله نه راځی سړی
**رسوا شود براهل خود عزت ندارد هم وقر**
سپك سی په ټبر خپل کی عزت نه لری اوهم قدر

**۵. فهمی نماند آنچنان سخنی نماند یاد او**
فکر یې نه پاتیږی هغه رنګه خبره نه وی دده په یاد
**دشمن ندارد باک ازو هر روز عیش منکدر**
دشمن نه لری بیره له ده څخه هره ورځ یې ژوند خړوی

**۶. گر بنگرد سوی تبی درحال ازنفرت کند**
که چیری وګوری وطرفته دمعشوقی همدستی نفرت ځینی کوی

**خوبان همه شکر لبان شنیند ازوی دور تر**

معشوقې ټولي خوږ شونډې کښیني له ده څخه ډیری لرې

**۷. اسپید مویت چون شود گردند خوبان منهزم**

سپین ویښتان چې کله ستاسې ګرځي معشوقې نفرت کونکې

**پیری مگر شد نیستی ورنه چرا از وی حذر**

زوړوالی شاید چې ختم سې اوکه نه ، ولې دده څخه ده ویره

## دمشکلو الفاظو معنٰی :

ثلثی دریمه حصه ، خوبان معشوقه ، عیش گذاره .

## توضیح او مطلب :

۱. دریمه حصه هم دعمر پاته سوه، دغه وخت نو دآفت دی مرضونه او تکلیفونه درباندی راځي، یعنی درد او تکلیفونه به پکښې وی او یو ساعت به جوړنه یې.
۲. صحت به نه کی پیدا یو ګړی ددردونو او بلاوو څخه هیڅ ساعت، دشپې به خوب نسی کولی.
۳. هر وخت به دی په بدن کی تبه او ریبړدیدل پیدا سی، هاضمه به دی نه وی او دمعدی ناجوړی به ډیره سی.
۴. لپاره دصلاح او خیرخواهی څوك نه ورلره راځي. که طرفته دخپلی معشوقی وګوری نفرت ځینی کوی.
۵. په دې وخت کی به دې فهم هم کم سی او یاداښت به دې هم کمزوری سی او دښمن به هم نه درڅخه ییریږی.

٦. كه دی وګوری په طرف دمعشوقې سمدستی له ده څخه تښتی، او معشوقی ټولی له ده څخه لیری کیږی.
٧. هرکله چی وریښتان سپین سی بیا دده محبت کونکی له ده څخه نفرت ډیر کوی.

**١. گر شاه باشد کامران جمله جهان در ضبط او**
که بادشاه وی مقصود مند اوټول جهان په حکم کی دده وی
**ذوقی نه اورا لذّتی چون پیر باشد منکسر**
خوندنه وی هغه لره چی ضعیف وی اومات ګوډ

**٢. برپیر کس رانی نظر کن کس برو رحمت کند**
پرزوړ سړی نه څوك نظر کوی اونه څوك پرده رحمت کوی
**باریک شد هم استخوان اسپید شد موت زسر**
نرم سول هډونه هم سپین سول ستا وریښتان دسر

**٣. سخنی چو شنوی از کسی چیزی نه بینی درنظر**
خبره چی اوری له چا څخه څه شی نه وی په نظرکی
**زوری ندارد دست وپا بشکسته مهره در کمر**
زور به دی نه لری لاس اوپښی مات به وی تیر په ملا کی

**۴. مشکت همه کافور شد دان ارغوان چون زعفران**
ټول ویښته چی تور وی سپین سی سور مخ لکه زعفران
**شد تیر قامت چون کمان هم گشت قامت چون وتر**
سو دی غشی قد لکه دلیندی هم دی وګرزیده رګونه لکه دجی

**۵. سویت نه بیند هیچکس وقتی نپرسد دوستی**

پہ طرف ستا بہ نہ وینی هیڅ سړی نه دیوې پوښتنی دپاره

**چاکر نگیرد کس ترا واجب نیابی از اجر**

نوکرنه نیسی سړی تالره واجب نه به کی پیدا ثواب

**۶. برمن بیا تا من ترا بهتر ازان پرورم**

ماته راسه چې زه تا ترهغه وساتم ښه

**صد حور بدهم درجنان بی حد قصر پر گهر**

سل حوری درکړمه په جنتو کی اوډیری بنگلی ډکی له غمیو

**۷. چون پیر گردد مردمی بکند ندا حضرت خدا**

چې زوړ سی سړی آواز وکړی پروردگار

**رانند اورا مردمان جز خالق جن وبشر**

وشړی دی خلگو ماسوا له خالق دپیریانانو او انسانانو څخه

دمشکلو الفاظو معنیٰ :

کامران مقصد، پیدا کوونکی، ذوقی دخوند شی، منکسر ماته، استخوان هډوکی، تیر غشی، قصر بنگله .

توضیح او مطلب :

۱. که باچا وی مقصود پیدا کونکی اوټول جهان په حکم کی دده وی خوند به یې نه وی چی بدن ورسره ملگری نه وی.

۲. کم وخت چی بوډا سی نونه څوك په رحمت ورته گوری اونه په عزت

نه څوك پر ده نظر كوی.
۳. خبری چی دچا اوری نو په لاس او پښه اوملا كی دی طاقت نه وی او توان دی ختم وی.
۴. ټول وریښتان به دی سپین سی اومخ به دې سور سی او قامت به لیندۍ داسی كوږ سی.
۵. یو دوست هم بیا ستا خواته نه گوری، تردې چی نوكر هم ستا پر خوا لا نظرنه كوی.
۶. نو خدای پاك فرمایی چی ماته راسه چی ستا ښه پالنه وكړم، سل حوری دركړم په جنت كی او ډیری مانۍ دمرغلرو.
۷. چی زوړ سی اواز وكه خدای ﷻ لره خدای ﷻ له خپله درباره څخه څوك نه پسی اخلی.

**۱. برپیر دارم رحمتی كانرا نباشد حد وعد**

پر سپین ږیری لرم رحمت چی هغه لره نسته حد

**اسپد مومیت نور من چون نور سوزم درسقر**

سپین ویښته نور زما دی څنگه به سوزمه نور خپل په دوږخ

**۲. پس حال چون باشد چنین ناید زپیران كارها**

بس چی حال دارنگه وی نه راځی له سپین ږیری كارونه

**كاری مكن درحال تو نعمت جوانی را شمر**

كار كوه في الحاله اوځوانی یونعمت وشمیره

**۳. قدر جوانی پیر را گر توبه پرسی جانمن**

قدر دځوانی كه دزړو څخه وپوښتی ای روحه ځما

**آن پیر گوید پیش تو چندانکه ناید در حصر**

هغه زوړ به وایې په مخکې ستا دومره چې نه راځي په شمار کې

**۴. چون توبه بینی پیر را خدمت بکن ازجان ودل**

هرکله چې ته ووینې زوړ نو خدمت يې کوه په اخلاص

**تا تو شوی مرد نکو شخصی بگردی ذو القدر**

ددې لپاره چې ته سی نیك سړی وبه گرزې خاوند دقدر

**باب سی وهشتم در فوائد رنج ومصیبت وزحمت گوید**

اته دیرشم باب دی په بیان کې دفآئدو درنځ او مصيبت او زحمت

**۵. رنج وبلا دان نعمتی بردوستان نازل شده**

رنج اوبلا وبوله لوی نعمت چې پر دوستانو نازل سوی دی

**دشمن نیابد این نعم جز مومن نیکو سیر**

په دښمن نه راځي دانعمت ماسواله مومن نیك اخلاق څخه

**۶. چون مرترا رنجی رسد صدقه بده ازجان ودل**

چې تاله یوتکلیف رسیږي صدقه ورکوه په اخلاص

**سلطان نه زهری میدهد جز مرد معنٰی معتبر**

بادشاه ظاهری ته نه زهر ورکوی ماسوا له سړی معتبر څخه

**۷. هرتن که باشد بیخلل آن تن یقین بی برکت است**

هرسړی چې وی بی مرضه هغه تن یقینًا بې برکته دی

**حق دوست دارد آن سری کانرا همیشه درد سر**

پروردگار دوست لري هغه سر چي هميشه درد سر لري

توضیح او مطلب :

۱. خدای ﷻ وایی پر سپین ږیری سړی لرمه رحمت ځکه چی سپین ویښته نور زمادی اوزه خپل نور په اورنه سوځمه.
۲. دسپین ږیری توب دمخه هغه وخت نعمت وبوله چی ځوانی وی هلته عبادت ډیر ثواب لری.
۳. دځوانۍ قدر که غواړی چی وپیژنی نو دبوډاگانو څخه پوښتنه وکړه چی اهمیت یې درته وښیی.
۴. اوکم وخت چی سپین ږیری ووینی عزت اواحترام یې کوه. ترڅو ته هم ښه سړی سی.
۵. اوبلا او رنځ دخدای ﷻ په دوستانو باندی راځی داخاص په مومن نیك خوی باندی راځی.
۶. هرکله چی تا لره یوتکلیف ورسیږی ددنیا یا آخرت نوته دهغه ددفع دپاره صدقه ورکوه.
۷. کم سړی اوکم بدن چی بی مرضه وی اوبی رنځه وی یقینًا هغه بی برکته وی.

**۱. ملکیست زحمت جان من هرکس کجا شایان آن**

بادشاهي ده مرض ای روحه ځما هرسړی کله لایق دی دهغه

**ایّوب داند قدر این جرجیس ویونس نامور**

ایوب پوهیږی په قدر دجرجیس او یونس

**۲. صد گونه نعمت دشمنان ارند بس اندر جهان**
سل قسمه نعمت ورکې دښمنانو لره بلکې زيات باچهان کې
**از بهر نانی دوستان باشند حيران منتظر**
اولپاره دډوډۍ دوستان حيران اومنتظر کې

**۳. دانند خاصان قدر اين محروم شد عامه ازين**
پوهيږي انبياء او اولياء په قدر چې محروم سول عوام له دی څخه
**ماهی چی داند عشق را پروانه دارد اين خبر**
ماهی څه پوهيږی په قدر دعشق پتنگ په دی خبر دی

**۴. گر مومن اندر چهل روز درخو دنيا بدزين يکی**
که مومن په څلويښتو ورځو په څپله مرض پيدانه کی
**کامل ندانی مومنی ايمان اواندر خطر**
کامل يې مه بوله مومن ايمان دده په خطره کې دی

**۵. در تن نه بيند علتی قلت بمال خويشتن**
چې په بدن کې نه وينی بيماری اولږ والی دمال خپل
**نی ظالمی ايذا کند خوار وخجل نی وقر**
نه ظالم ورته ضرر رسولی نه خوار اوشرمنده نه بی عزته

**۶. چون حق بخواهد بنده را سازد يکی ازاولياء**
چې خدای ﷻ وغواړی يوبنده اوهغه جوړکې له دوستانو څخه

**سقمی به تن خر نی بدل مالی نه بیند درنظر**

بیماری به یې جسم وی اوغم په بدن کی نه وینی په سترګو

## دمشکلو الفاظو معنٰی :

جان روح، ایوب نوم دیو نبی دی، اوجرجیس نوم دسړی دی، او یونس هم نوم دنبی دی، اوڅوك وایی چی دواړه نومونه دنبیانو دی. صد ګونه سل قسمه، پروانه پتنګ، قلت کم والی، خجل شرمندګی، بی وقر بی عزتی، سقمی ناجوړی.

## توضیح او مطلب :

۱. باچاهی یومرض ده څوك لایق دی دهغه ددغه قدر بی له دری نبیانو بل چاته نه دی معلوم.

۲. سل رنګه نعمتونه خدای ﷻ ورکړی دی دښمنانو لره او لپاره دډوډی دوستان حیران دی.

۳. په دغه امتحان اولیاء اونبیان پوهیږی ماهی په عشق دپتنګ څه پوهیږی.

۴. که مومن په ځلوبښتو ورځو کی مرض اوتکلیف نه ووینی کامل نه دی په ایمان کی.

۵. چی کمه وینی ناجوړی په خپل بدن کی نونه ظالم ورته بی عزتی او شرمندګی رسولای سی.

۶. چی خدای ﷻ وغواړی یوبنده دوست وګرزوی نوغمونه اوپریشانی هم ورباندی راولی.

**۱. برتخت شاهی چار صد سالی بده فرعون سگ**

په تخت دشاهی څلور سوه کاله ناست وو فرعون سپی

**بیمار گاهی او نشد نی دید وقتی درد سر**

ناجوړی نه سو نه یې ولیدی دسر درد

**۲. صحت چو یابی شکر گو زحمت چوبینی صبر کن**

جوړوالی چی پیداکی شکر کاره زحمت چی وینی صبرکوه

**باکس نگو نی زحمتی بگذر درت سفر**

سره له هیچا مه وایه تکلیف ځکه چی تیریږی موده دسفر

**۳. دارو طلب هم بعد ازان تکیه مکن بر داروئی**

دارو وغواړه هم وروسته تکیه مه کوه پر دارو

**تقصیر درد امرو مکن جز حق مدان شافی دگر**

کمی په دارو کی مه کوه ماسوا له خدایه بل شافی مه بوله

**۴. ازصبر یابی گنجها پوشی مصائب درد وغم**

له صبره به پیداکی خزانی چی واغوندی مصیبتونه اوغمونه

**اظهار بکنی چون تو ان چندان نیابی از اجر**

ظاهروالی چی یې کوی دهغوبه هغه ثواب پیدانه کی

**۵. بیمار را چون بشنوی فی الحال رو پرسیدنش**

بیمار چی واوری فی الحاله ځه پوښتنه کوه

**گر چی مسافت درمیان باشد کروهی بیشتر**
که څه هم مسافه په مابین کی وی زیاته

**۶. چونتو نه پرسی زحمتی گوید خدا بی واسطه**
که ته پوښتنه نه کوی دبیمارخدای ﷻ بی واسطه وایی
**من زحمتی گشتم زمان وقتی نپرسیدی خبر**
زه ناجوړه سوم دومره زما یو وخت تاپوښتنه نه وکړه

## دمشکلو الفاظو معنٰی :

گنجها خزانی، تقصیر کوتاهی، شافی جوړونکی، بشنو واوره، مصائب جمع دمصیبة معنٰی پریشانی جوړونکی شیان.

## توضیح او مطلب :

۱. پرتخت دبادشاهی ناست وو څلورسوه کاله فرعون اوهیڅکله ناجوړی نه ورباندی راغله.
۲. جوړوالی چی درلره راسی شکر کاږه اوتکلیف چی دربان‌دی راسی صبر کوه.
۳. په دوا اعتماد مه کوه دا ناقصه ده مکمل جوړونکی خدای ﷻ وبوله نه بل څوك.
۴. او له صبره څخه ډیری خزانی دنعمتونو په لاس درځی مصیبتونه او غمونه چاته مه ښکاره کوه بیایې ثواب کم وی .
۵. که یوڅوك ناجوړی سو اوته خبر سی نو فوراً یې پوښتنه کوه، که څه

هم چې ډیر لیرې وي.
۲. که یې ته پوښتنه نه کوي نوخدای ﷻ یې پوښتنه کوي، اوبیا به درته ووایي چې زه نا جوړی وم تا پوښتنه ونکړه.

**۱. بیمار چون پرسی بده چیزی درون دست او**
دبیمار چې پوښتنه کوی یوشی په لاس کی ورکړه
**ازوی طلب جانان دعا بهر مهمی سخت تر**
دهغه څخه وغواړه ای روحه څما دعا لپاره دهرسخت کار ورخه وغواړه

**۲. بیمار چون گردی گهی فوتی مکن یکوقت را**
ناجوړی چې وگرزیدی هیڅکله مه قضا کوه یووقت
**غلطیده شسته کن آدا تا تو نیفتی در سقر**
په حرکت کی اوپه ارام کی یې ادا کوه چې نه ولویږی په دوزخ کی

**۳. زحمت بدان رحمت خدا اوقات چونداری بیا**
مرض هم وبوله رحمت دخدای ﷻ لمونځونه قائموه
**ورنی غضب آفت بلا فوتی کنی فرضی اگر**
اوکه نه وی قهر آفت وبوله که نه کوی فرض

**۴. چونتو به بینی زحمتی فی الحال ده صدقات را**
هرکله چې ته ووینی تکلیف فی الحال ورکوه صدقه
**دارو مکن بیمار را جز صدقه دادن ای پسر**
دارو کم ناجوړی لره ماسوا له صدقی ورکولو څخه

**۵. صدقه بگرداند بلا آمد حدیث مصطفیٰ**
صدقه ليرى كوى بلاوى راغلى دى په حديث كي
**بدهد دراز عمر او یابد جزا ای نامور**
وركوى اوږدوالى دعمر پيدابه كړى ته ثواب

**۶. صدقه بده در راه حق خبرنام اودیگر مده**
صدقه وركوه په لاره كي دخداى ﷻ دنامه لپاه يې مه وركوه
**کاری مهم آید تراحق صدقه پیش آرد اجر**
وركوى كار مهم لره چي رب گرزوى صدقه عوض دهغه

## دمشكلو الفاظو معنیٰ :

پرسيد پوښتنه، غلطيده حركت كونكى، كارى مهم اوسخت كار، يا مقصودى كار، پيش تو، په مخ ستاكى.

## توضيح او مطلب :

۱. ناجوړى لره چي ورسى يوشى په لاس كى وركوه اودنا جوړى څخه دعا هم وغواړه.
۲. ناجوړى چي سوى يو وقت فرض لمونځ مه قضاء كوه كه په پريوتو يې كوى اوكه په ناسته يې كوى.
۳. مرض هم دخداى ﷻ يورحمت وبوله لمونځونه كوه اوكه نه يې كوى فرض نو قهر اوآفت يې وبوله.
۴. هركله چي تكليف درته راسى فى الحال صدقه وركوه دوا يې بيله

صدقې بل شی نه ده.
**۵**. صدقه ورکوه له لپاره دخدای ﷻ نه دنامه لپاره اونه دریا کاری لپاره.
**۶**. صدقه بلاوی ستا څخه ګرځوی، همداسی راغلی دی په حدیث کی درسول الله ﷺ .

*   *   *

## باب سی ونهم درمصائب و آنچه بدان متعلق است

نه دیرشم باب دی په بیان کی دغمو اودهغه چی په دې پورې تعلق لري

**۱. صبری بکن گر مر ترا آید مصیبت جانمن**
صبر کوه چی خاص تالره راسی مصیبت ای روحه ځما
**یابی ثوابی انبیا ازحد بیرون هم بیحصر**
بیابه پیداکی ثواب دانبیاوو له حد څخه دباندی هم بیشماره

**۲. گرمر ترا وقتی رسد رنج مصیبت یاد کن**
که چیری تالره یوقت ورسیدی رنځ اوغم یادکړه
**جمله مصآئب رنجها پیغمبر جن وبشر**
ټولی سختی دپیغمبر دپیریانانو اودانسانانو

**۳. گرجزع فزع میکنی اندر مصیبت رنج خود**
که چیری ژړا اوبی قرار کوی په مصیبت اوغم کی

**سودی ندارد مر ترا محروم مانی از اجر**
فائده نه لری خاص تالره محروم له ثوابه شخه به دغسی پاته سی

**۴. از آه ولطمه نعره شق ازتن خراشی خدهم**
له اسویلی اوخاپیړی اوګریوان خیرول اوزخم کول
**از نتف موئی ریش وسر باید کنی کلی حذر**
دویښتانو او دږیری اوسر بائد چی ورځخه وکی پرهیز

**۵. سوگی مکن چون جاهلان خفتن زمین ترک سخن**
غم مه کوه لکه جاهلان پریوتل دمزکی او پریښول دخبرو
**ماندن گرسنه روز وشب تنها نشستن درحجر**
وږی کول دځان همیشه او تنها کښیناستل په حجره کی

**۶. تاریک کردن خانه رانی شمع را افروختن**
تیاره کول اونه ډیوه بلول په کورکی
**نی صحن رفتن هیچگه ترک گلابه بام ودر**
نه په میدان کی تلل هیڅ وقت او پریښوول دبام او دروازه

توضیح او مطلب :

۱. صبرکوه که چیری تالره مصیبت راسی ای روحه ځما بیابه ته داسی ثواب پیداکی لکه دنبیانو ترانداژی زیات.
۲. که چیری تا لره یووخت مصیبت راسی نوتولی سختی دپیغمبرانو او دپیریانانو اوانسانانو درياد کړه.

۳. كه يوسړى په مصيبت كى اوپه تكليف كى ژاړى اوفرياد كوى فائده نه لرى له ثوابه به همدغسى پاته سى.
۴. له آسويلى اوچاپيړى اوګريوان څيرل اوزخم كول له دغه ټولو څخه بايد پرهيز وكړل سى.
۵. غم مه كوه لكه دجاهلانو پرېوتل په مزكه كى پرېښوول، خپل ځان اوږى كول او تنها په حجره كى كښيناستل.
۶. تاريك كول دكور اونه څراغ بلول په كور كى، او دغولى جارو كول او پرېښوول دبام او ددروازې.

**۱. بيكارى از كارها ترک تجارت زرع وزر**

بيكاره كيدل له كارو څخه مه پرېږده تجارت اوكښت دانګورو

**يا جامه بودن ريگين كردى كبودى ياخضر**

ياجامه ساتل خړه ياجامه اودى رنګه ياشنه

**۲. اندر مصائب جمله را از مرد باشد خواه زن**

په غمو كى ټولو لره كه سړى وى كه ښځه

**محظور آمد درشرع كردن برهنه فرق سر**

حرام راغلى دى په شرع كى لوڅول دتندى او دسر

**۳. الا كه باشد عالمى كزمردنش ظاهر شود**

مګر داچى وى عالم چى دمرګ دده څخه معلوميږى

**اسلام اندر رخنه چون اونباشد كس دگر**

سايه پر اسلام اوبى دده څخه نه وى بل سړى

**۴. هر اندوهی کاندر جهان آید پیشت جانمن**

هرغم چې مخ ستاته راځي په دنیا کې

**شمعی بمیرد یاشود چیزی زنعلین منکسر**

ډیوه دې مړه سي یا یوشي دچپلکو څخه مات

**۵. دیگر شوی چون گرسنه یاظالمی ایذا کند**

بل چه شي په مثال دوږي یاظالم ضرر در رسوی

**دانی مصائب جمله را راجع شوی بکنی حذر**

وبوله مصیبت چې دي ټولو لره متوجه سوه، ورڅخه وکه پرهیز

**۶. رو تعزیت چون بشنوی مرده کسی ازاهل دین**

ځه فاتحه ته چې واوری مړی دمسلمانانو

**دانی سنن این نوع را ترکی نگیری ای پسر**

وبوله سنت دانوع پریږده یې مه ای هلکه

## دمشکلو الفاظو معنٰی :

تجارت خرڅول او رانیول. خضر شنه، مصائب غمونه، محظور ناروا، منع ، برهنه لوڅ، بی جامه، نعلین مچنی، منکسر ماته.

## توضیح اومطلب.:

۱. کم کارونه چې په دنیا کې کوه لکه تجارت او فصل او زمینداری دا کارونه مه پریږده.

۲. په هر قسم غمونو کې اوپه ټولوکې که دسړی وی که دښځې منع دی

لخول دسر اوتندی.
۳. غم هلته روادی چی عالم سړی مړسی اوپه دنیا کی بل په مثال سره دهغه نه وی.
۴. هر غم چی ستا مخ ته راځی لکه ځراغ مړسی یو چپلکه دی پرې سی یا ماته سی.
۵. یالوړه درباندی راسی یاظالم ضرر دررسوی په دغه ټولو کی ته سه و خدای ﷻ ته متوجه.
۶. فاتحې لره ورځه چی په خبرسی په مړی مسلمان او وبوله دا فاتحه سنت مه یې پرېږده هیڅکله ای مسلمانه.

**۱. چونتو عیادت یاغزا بکنی مر اهل ذمه را**

چی ته پوښتنه کوی یاماتم پرسی کوی دهندوانو

**باشد روا اندر شرع بکشا هدایه کن نظر**

دی روا په شرع کی خلاصه کړه هدایه وکړه پکښی نظر

**۲. حاضر جنازه چون شوی دریس جنازه روان شو**

حاضره چی جنازه سی وروسته دجنازی روان سه

**نعره مزن فریاد هم قرآن مخوان صوت خبر**

نعره مه وهه اوفریاد مه کوه قرآن مه وایه په لوی آواز سره

**۳. بانگی مزن بازار کو مرده فلان حاضر شوید**

اواز مه کوه په بازار اوکوڅوکی چه مړی دفلانی ته حاضرسی

**گلها نه ریزی برسرش بادام وخرما هم شکر**

گلونه مه ماتوه پرسر دده بادام او خرما هم شکری

**۴. گوری مربع چو نکنی مکروه باشد پشته کن**

قبرچې څلور کنجه کوی مکروه دی ماهی پشت یې کړه

**جامه مپوشان گور را تنبول وشربت هم مبر**

جامه اچوه پرقبر باندی پای اوشربت هم مه وړه

**۵. بالای تربت میوه را مانند برگی یاشکر**

بالا پر قبر میوه یاپاڼې یاشکره مه تویوه

**قرآن مخوان پایان آن بنشین بخوان هسته تر**

قرآن مه وایه پښوته دمړی، کښېنه وایه قرار وسرته

**۶. گور نبوسی هیچگه چون گمرهان ای جانمن**

قبر مه مچوه هیچری لکه دگمراهانو ای روحه ځما

**بزه گار گردی بیشکی جز گور مادر پدر**

گنهگار به گرزی بیشکه مه مچوه قبر ماسوا ددمور اوپلار څخه

دمشکلو الفاظو معنٰی :

عیادت پوښتنه، غزا غم کول، اهل ذمه هندو، بکشا خلاصول، بانگ مزن اواز مکوه، گور قبر، مربع څلور طرفه .

توضیح اومطلب :

۱. چې ته پوښتنه یاغم کوی دهندوانو، دا روا دی ته په هدایه نومی کتاب کی وگوره.

۲. کم وخت چې جنازه حاضره سی نعره مه وهه او فریادونه هم مه کوه ،

ځکه چی دا ناروا دی.
۳. مه نعری وه په بازارو او کوڅو کی چی فلانۍ مړسو اومه ګلونه پاشه پرسر دمړی.
۴. اوقبر جوړول ځلور کونجه مکروه دی ماهی پشت یې جوړ کړه.
۵. بالا په قبر میوه یادا بلګونه یاشکر مه اچوه قرآن هم پښوته دمړی مه وایه .
۶. قبر مچول هیچری مه کوه دا دګمراهانو کار دی ګنهګار به وګرزی، ماسوا دقبره څخه دمور اویا دپلار .

**۱. انجا مبر صندوق را چیزی مخور آشام هم**

هلته مه وړه صندوق شی مه خوره اوڅښل هم مه کوه

**خنده مزن هزلی مگو گرد دولت همچون حجر**

خندا مه کوه اوعبث مه وایه سی به په زړه سخت لکه ډبره

**۲. گنبد مکن برگور هم نی صفه کم نی چهپری**

ګنبده مه جوړوه پرقبر هم مانۍ اومه سایوان

**بادی وزد باران رسد گردد گنه بیشک هدر**

چی باد الوزی او باران رسیږی وبه ګرزی ګناه بیشکه توی

**۳. نقش ونگاری چون کنی برگورها یا گچ زنی**

نقشونه چی کوی پرقبرونو یاچونه وهی

**مکروه باشد درکتب صدقات باشد خوبتر**

مکروه ده په کتابونو کی صدقه ورکول ښه ده

**۴. صدقات بهر ارواح او گرمیدهی بروی رسد**

صدقه لپاره دروحو که چیری ورکوی رسیږی

**درشب جمعه آن هفته را بروی دهند آن ده قدر**

په شپه دجمعی هغه هفته وی پردی لس چنده

**۵. ایند هریک مردگان رخصت گرفته ازخدا**

رازی هریو مړی رخصت یې اخستی له خدایه

**گویند را ازخویش راحزن وفرح راحت خطر**

وایی راز خپل لره که غم وی اوکه راحت اوکه خطره

**۶. بیند حال ما وزر خود را زخوش واقربا**

گوری حال دمالونو او دزرو دخپلو قریبانو

**گویند بازاری دعا یابد دعاهای بی خطر**

کوی په عاجزی سره دعا چی راضی وی وارثان یې بیره

دمشکلو الفاظو معنٰی :

حجر ډبره، صفه چولتره، گورها قبرونه، هدر خراب، حزن غم په هغه شی چی تیر سوی وی، فرح خوشحال فی الحال، راحت خوشحال په راروانه زمانه کی .

توضیح اومطلب.:

۱. په قبرونو کی خوراك اوچنبل مه کوه ځکه چی زړه سختوی.

۲. گنبد مه جوړوه په قبرونو هم چولتره اومه خپری دغه ټول عبث اوبی فائدی دی.

٣. نقشونه جوړول اوچونه ورکول داهم مکروه وبوله تردغه صدقه ورکول ډیربنه ده.
۴. صدقات که چیری ورکی مړی ته یې ثواب رسیږی په شپه دجمعی.
۵. هریو مړی له کوره رخصت اخلی ځی وطرفته دخدای که راحت وی اوکه غم.
۶. او گوری حال دمال اودزو او دخپلوانو اوقریبانو چی دعاورته کوی هلته چی راضی وی وارثان.

**۱. احوال را باخویش ها گویند باحصرت بسی**

حال خپل سره دخپلوانو وایی په ډیر ارمان سره

**مادر پدر هم اخوتان هرکه بود دختر وپسر**

مور اوپلارهم دوړونو سره که لوروی که زوی

**۲. ازمال مایاران ما صدقه دهید ازبهر حق**

وایی دمال زماځخه صدقه ورکی لپاره دخدای

**یابم ثوابش گرچه تو ازمن بیابی صد قدر**

بیا به پیدا کړم ثواب دهغه له ما نه سل واری زیات ستاسی

**۳. هرکو زبهر حق دهد صدقه بروح مردگان**

هرڅوك چی صدقه ورکوی لپاره دخدای په روح دمړ

**یابد جزا روحش ازان اوهم شود زان بهردر**

پیدابه کړی ثواب روح دده له هغه څخه هم ډیر

**۴. میدان زیارت سنت ومیکن زیارت روزشب**

وبوله زیارت کول سنت اوکوه زیارت همیشه

**معهود سومی هفتی  دان بدعتی میکن حذر**

معلومول ددریمی یا اومی دغه وبوله بدعت کوه پرهیز

**۵. ازبهر اهل مرده راطعمی بکن ازجان ودل**

لپاره دکور دمړی ډوډی ورکوه داخلاصه څخه

**پس هردرم یابی جزا جانان من دینار وزر**

په عوض دهری روپی به پیداکی ثواب داشرفی او دزرو

**۶. ازبهر مرده طعم چون درسوم وهفتم یاچهل**

لپاره دمړی چی ډوډی په دریمه اومه او څلویښتمه

**سازی دهی درویش اورنه نباشد معتبر**

جوړوی ورکړه فقیر لره اوکه نه وی نو نه دی منظور

دمشکلو الفاظو معنٰی :

حسرت افسوس ارمان، دختران خوندی، دختر لور، معهود معلوم چی کړی. حذر پرهیز.

توضیح اومطلب:

۱. احوال سره دخپلوانو وایی په ډیر ارمان سره خصوصًا که مور اوپلار وی اوورونه اوکه لور اوکه زوی.

۲. خیرات چی کوی لپاره دخدای یې کوه چی پیداکی ثواب.

۳. ځوك چی لپاره دخدای صدقه ورکوی په روح دمړو ثواب یې خدای

ﷻ ورکوی.
۴. وبوله زیارت کول سنت دی لیکن ورځ معلوموول نه دی ښه.
۵. لپاره دمړی وکور ته ډوډی راوړل په اخلاص سره ثواب لری.
۶. دمړی دکور ډوډی په دریمه یاپه څلويښتمه ورځ ورکه فقیرته اوکه فقیرته یې ورنه کړی نونه ده منظوره.

**۱. گوری منقش چون کنی یاگل کنی یاکچ برو**
قبر چی هرکله نقش دارکی یاگلونه کړی یاچونه
**هرگز نباشد فائده نزدیک اوجان ای پسر**
هیچری نه لری فائده ای روحه څما ای هلکه

**۲. روحان چوبیند خود گور منقش خویش را**
ارواحان چی ووینی ځای دکورخپل منقش
**هرگز نباشد شادشان زین کار حذر**
هیچری نه وی خوشحالی دوی لره ددې کارونه پرهیز وکه

**(باب چهلم در احکام شهادت ومانند آن گوید)**
څلويښتم باب په بیان دی داحکامو دشهادت

**۳. چون کشته گردد مسلمی در راه حق ازکافران**
چی مړسی مسلمان په لاره دخدای کی له کافرانو څخه
**یا ظالمی عمدا کشد خواهی به تیغ ویاتبر**
یایې ظالم قصد مړ کړی په توره یاپه تبر

**۴. زنده نماند ساعتی فی الحال میرود درزمان**
ژوندی پاته نه سی یوساعت سمدستی مړسی
**نی طعمی بخورد آب نی سخنی نه اندک بیشتر**
نه خوراك وخوری نه اوبه نه خبری لږی یا ډیری

**۵. حد شهید اندر شرع جز این نباشد جانمن**
حکم دشهید په شرع کی ماسواله دی څخه پر بل چاهم کیږی
**دیگر شهیدان مصطفٰی گفت است بشنو ای پسر**
نور شهیدان هم رسول الله ویله واپی وره هلکه

**۶. غرقه به آبی شود دیگر به آتش سوخته**
غرق سوی په اوبو کی سوی په اور باندی
**مبطون ومطعون وانکه اومیرد کسی اندر سفر**
دنس له مرضه اوپه طاعون کی چی مړسی اوپه سفرکی

دمشکلو الفاظو معنٰی :
گچ چونه، منقش گلان درخت او دهغه شکلونه، عمداً قصد، غرقه چی په اوبوکی مړسی، مبطون چی دنس له مرضه مړسی، مطعون چی له طاعون مرضه مړسی.

توضیح اومطلب :
۱. قبرونه نقش کیدل اوچونه کیدل هیڅ فائده نه لری.
۲. روحونه دمړو ددی کارو څخه هیڅکله خوشحاله نه دی.

۳. کم سړی چی دکافرانو څخه مړسی په جهاد کی هغه شهید دی.
۴. کم سړی چی ددوی دلاسه زخمی سی اوبیا مړسی نه خوراك وکی نه چښل نه خبری داهم شهید دی.
۵. شهیدان همدا اشخاص دی دديِ څخه ماسوا بل چا ته اصلی شهید نه ویل کیږی.
۶. چی په اوبوکی غرق سی یاپه اور وسوځی یاپه مرض دنس سره یاپه طاعون سره داهم په حکم دشهید کی دی.

**۱. شخصیکه میرد درجمعه خواهی بروز باشی**

بل هغه سړی چی مړسی دجمعی په ورځ یاشپه

**عاشق که باشد پارسا آن عشق دارد ستر**

بل هغه عاشق دی پرهیز گار چی عشق پټ ساتی

**۲. وانکس که میرد درسماع شنود سماع ازبهر حق**

اوبل هغه سړی چی مړسی په سروز لپاره دخدای اوهغه

**وآن زن که میرد درحمل میرد کسی زیر جدار**

ښځه ده چی مړه سی پرحمل بل هغه سړی دی لاندی ددیوال

**۳. پامال گردد اسپ را یا برق بزند صاعقه**

یاپائمال دآس سی یایې بجلی او تالانده ونیسه یاتندر

**اندر چهی افتد کسی شیری کشد یاخوک نر**

یاپه کوهی کی ولویږی یاچی زمری یې مات کی یابل حیوان

**۴. انکس که سخنی بهر حق گوید شود کشته درآن**

بل هغه شهیددی چی دخدای لپاره خبره کوی مړسی په هغه

**دیگر بدان مرتث راشد شانزده جمله نفر**

بل هغه شهید دی چی دی وخت تیرکی، داټول شپاړس نفره سوه

**۵. انکس که بهر مال وزر جنگی کند باکافران**

هغه سړی چی لپاره دمال اوزرو جنگ کوی له کافرانو سره

**یا بهر نام شجعتی چندان نیابد ازاجر**

یا لپاره دنامه دغیرت نه به کړی پیدا ثواب

**۶. آنکس که بخورد زخمکی بر رو مقابل دشمنان**

اوبل هغه سړی دی چی وخوری زخم پر مخ ددښمنانو

**باوچه نسبت آنکسی زخمی خورد پشت وکمر**

دده سره څه مساوات دی دهغه چاچی وار وخوری په شا

دمشکلو الفاظو معنٰی :

ستر پټ والی، سماع اوریدل دسروز، صاعقه تندر، مرتث وخت تیریدل، شجعتی غیرت، پشت شاه، کمر ملا ، خوك نر سرکوزی.

توضیح اومطلب :

۱. بل هغه سړی چی مړسی په جمعه یاپه ورځ یاشپه. بل هغه سړی هم مرتبه دشهید لری چی عاشق صادق وی.

۲. اوبل هغه سی چی په خوند دسروز اوریدل لپاره دخدای مړسی اوبله

هغه زنانه ده چې اولادمړه سی، یالاندی تردیواله سی ددغه ټولو بیا مرتبه دشهید ده.
۳. یامړسی په ېښو دآس کی یابجلی یې ووهی یاپه خاده کی ولویږی یایې یوحیوان وخوری.
۴. بل هغه شهید دی چې دخدای لپاره یې کوله خبره شهید سو دغه گرده شپاړس نفره سوه دگردو دشهیدانو مرتبه ده.
۵. او هغه سړی چې دمال او زر دپاره جهاد کوی یا دپاره دنامه زیات ثواب به نه پیدا.
۶. او هغه سړی چې په جهاد کی پرمخ زخم وخوری زیات دی ترهغه چې پر شایې وخوری.

**۱. مقبل رود اندر جنان شادی کنان خنده زنان**
شهید قبول سوی زی به جنتوته خوشحالی کونکی
**از سالها هم پانصد مدبر شهید بیشتر**
په کلونه دپنځه سوه کاله بد بخته شهید زیات وروسته

**۲. هرگز کسی را درجنان دنیا نباشد ارزو**
هیچری چالره په جنت کی په دنیا ارمان نه وی
**الا شهید راه حق گرچی بیابد کشک زر**
مگروی به شهید دلاری دخدای که څه هم چې پیداکی ملغلری

**۳. چون مسلمی از صدق دل خواهد شهادت ازخدا**
هرکله چه یومسلمان له اخلاص نه غواړی شهادت له خدایه

**یابد چو شهدا درجتی میرد به تپ یادرد سر**

پیدابه کړی په شان دشهیدانو درجی په تبه یادرد سر

**۴. شهدا مگو ازمردگان دردل میند از اینسخن**

شهیدانو ته مه وایه مړی په زړه مه راوړه داخبره

**اندر جنان چون زنگان بخورند شربت هم ثمر**

په جنتوکی په شان دژوندو خوری به شربت هم میوی

**(باب چهل ویکم در اسباب فقر وتنگدستی گوید)**

یوڅلویښتم باب په اسبابوکی دفقر او مسکینی ویل کیږی

**۵. اسباب فقر ومدبری چل رامیدان یقین**

سببونه دفقر او بدبختی څلویښت وبوله یقین

**سطور بین اندر کتب راویست جعفر معتبر**

لیکلی اوگوره په کتابونو کی روایت کونکی امام جعفر دی

**۶. طعمی مخور باشی جنب آبی مخور ازنائزه**

طعام مخوره چی جنب یې اوبه مه څښه دسخکری څخه

**هم دور کن از خویشتن آوندهائی منکسر**

هم لیری کړه له خپله ځانه هغه لوښی چی مات وی

دلغاتو حل :

مقبل قبول سوی. مدبر بدبخته، کشك ژړی ملغلری، تپ تبه ثمر میوه، مسطور لیکل سوی. آوندها لوښی، منکسر ماته.

توضیح اومطلب :

١. شهید قبول سوی ځی به جنتو ته خوشحاله به يې او پنځه سوه کاله دبد بخته شهید څه دمخه زیات.

٢. هیچالره به ارمان نه وی وه تللو ته ددنیا مگر شهید لره به داتمناوی چی تللی وای بیاشهید سوی وای.

٣. چی یومسلمان په اخلاص سره له خدای ﷻ وغواړی شهادت پیدابه کی په شان دشهیدانو درجی په تبه یادرد سره .

۴. شهید ته مړه مه وایاست په جنت کی په شان دژوندو به خوری شربت اومیوی.

۵. اسباب دفقر او مسکینی درته بیانوم یاد يې کړه.

٦. که جنوب وی ډوډی اواوبه مه چښه په لوښی کی، اوبه هغه لوښی کی مه چښه چی مات وی.

**١. بولی مکن هم برهنه جاروب درشبهان مزن**

بولی مه کوه سرتوره جارومه وهه دشپی

**مگذار هم آوندها جانامن بکشاده سر**

هم مه پرېږده ای روحه ځما لوښی سرتوره

**٢. نی زن بگیرد نام شو نی شو بگیرد نام زن**

نه دی ښځی یادوی نوم دخاوند اونه خاوند نوم دښځی

**نی نام مادرهم پدر آرد زبان دختر پسر**

نی دی نوم دمور اوپلار اخلی په ژبه لور اوزوی

**۳. طعمی مخور هم بی ادب نی بد دعا فرزند را**

طعام مه خوره هم په بې ادبی بده دعا مه کوه زامنو ته

**پر کاله باشد نان آن را زدرویشان مخر**

ټوکری چې وی دډوډی هغه له فقیرانو څخه مه اخله

**۴. قائم نپوشی جان من شلوار را درهیچگاه**

په ولاړی مه آغونده ای روح ځما پرتوګ هیڅکله

**شسته مبند درستار هم گوشه نگیری ازبشر**

په ناستی مه تړه لونګوټه هم کناره وه نیسه له خلګو

**۵. در خشک موشانه مکن استاده باشی هم مکن**

په وچو ویښتوکی ږمونځ مه وهه په ولاړی

**شانه شکسته چون شود ازوی بکن کلی حذر**

ږمونځه چې مات سی له هغه نه اوکړه بالکل پرهیز

**۶. مقراض مویې شرمگه ستان گهی جانمن**

په غچې ویښتان دشرمګاه مه اخله ای روح ځما

**هم موئی را درشرمگه ازحد نداری بیشتر**

ویښتو دشرم ګا له حد نه زیات مه غځوه

دمشکلو الفاظو معنٰی :

برهنه لوڅ، جاروب جارو، آوندها لوښی، پرکاله چې پلاس کی نیسی لپاره دشیانو راوړلو، مقراض غیچی، استاده ولاړ، شانه ږمونځ.

توضیح او مطلب :

۱. بولی کول په لوخ سره مه کوه اوجارو کول دشپې مه کوه هم مه پریږده لوښی سرخلاصه.

۲. نه دی سړی دښځې نوم اخلی اونه دی سړی دښځې نوم اخلی او دی اولاد دمور او پلار نومونه اخلی.

۳. ډوډی چې خوری بی ادبه یې مه خوره شیرامه کوه خپلو زامنو لره.

۴. په ولاړی کپړی مه په غاړه کوه او لونګوټه په ناستی مه تړه.

۵. وچ ویښتان مه ږمونځوه اونه په ماته ږمونځ سره سرمه ږمونځوه.

۶. په غچی سره وریښتیان دشرمګاه مه اخله، اومه یې ډیر غټوه.

**۱. درپیش پیران هم مردهم آستانه درمشین**

په مخ کی دزړو هم مه زه په سر دروازه مه کښینه

**تخلیل دندان هم مکن چوبیکه باشد ازشجر**

خلالول دغاښو هم مه کوه په هغه لرګی چی ددرختی وی

**۲. وقتی نسوزی پوستی ازشیر باشد یابصل**

هیڅ وقت نه سوزی پوست داوږی یا دپیاز

**چو عنکبوتی بنگری ازخانه بکنی دور تر**

چی غنی ووینی دکوره خپل ژربې کړه دباندی

**۳. زنده سپس مفگن برون نی درنماز کاملی**

ژوندی سپږه مه غورزوه په لمانځه کی

**در کذب هم عادت مکن نی در فروجی کن نظر**

په دروغو کی عادت مه نیسه مه فرجونه ته کوه نظر

**۴. وقتیکه شوئی دست ورو خشکش مکن دامان خود**
هروخت چې پریمنځی لاس مه یې وچوه په لمن خپل
**پوشیده دوزی جامه چون بدتر شوی جان پدر**
آغوندی چې گنده جامې بدبخته به سی ای روح دپلار

**۵. چون تو گذاری فجر را ازوی دمیا مسجد برون**
چې ته اداکې لمونځ دسهار ژرمه مه راوزه له مسجده
**گردی بفاقه مبتلا آید به پیشت صد فقر**
اوکه راوزې په خواری به سې اخته تاته به راځي سل خواری

**۶. خوابی مکن درصبحدم اوبار آید پیش تو**
خوب مه کوه په سهار کې بدبختې به راسې مخ ستاته
**سوگند بخوری راست چون روزیت گردد تنگ تر**
قسم چې اخلې په رښتیا روزې به گرزې تنگه زیات

دمشکلو الفاظو معنٰی :
استانه پای حصه ددروازې، تخلیل خلالول، دندان غاښ، شجر درخته، بصل پیاز، عنکبوت غنې، مفگن مه اچوه، پوشیده دوزی اغوستل دگنډلې جامې، فاقه لوږه، سوگند قسم .

توضیح اومطلب :
۱. په مخ دسرو کې هم مه ځه اوپه پاي کې هم مه کښېنه.
۲. خلالول دغاښو په ښه صاف لرگې کوه. دپیاز اودوژې خورونه هم

مه سوځه اودغنی ټالونه هم دکور ښخه لری کړه.
۳. په لمانځه چی کم وخت ولاړيږ ژوندی سپړی مه غورزوه مه دانسانانو فرجوته گوره مه دځان عادت دروغ گرزوه.
۴. چی مخ یا لاس پریولی نو په خپل لمن باندی یې مه وچوه.
۵. چی ته وکی لمونځ دسهار زربیاله مسجده هم مه راوزه اوکه راوزی اخته به سی په فقر اوپه سل خواریو.
۶. خوب مه کوه په سهارکی بدبختی به راسی ستامخ ته قسمونه مه اخله روزی به دی تنگه سی زیاته.

**۱. در نفقه هم تنگی مکن فرزند واهل خویشتن**

تنگی په روزی کښی کی مه کوه دزوی اوکور خپل

**دستی نشوئی وخوری برود زتو اموال وزر**

چی لاس نه مینځی اوخوری ولاړ به سی له تانه مال وزر

**۲. کاسه وصحنک زود شو چون تو خوری طعمی درو**

لوښی اوکاسه ژر مینځه چی کله ته پکښی وخوری ډوډی

**شیطان بلیسد اندرو باشد چون برهنه سر**

شیطان ښتی مینځ ددی هرکله چی وی لوڅ

**۳. جنگ وجدل درخانه خود میکنی چون روزشب**

جنگ او شور په خپل کورکی چی کله ته همیشه کوی

**ازتو گریزد رزق تو هرگز نیاید پیش در**

له تانه به ولاړسی رزق اوتاته به رانه سی هیڅ شی

**۴. هرچل که گفتم مرترا بنویس اندر جان ودل**

دا څلویښت خبری چی می تاته وویلی ویې لیکه په روح اوپه زړه

**محتاج گردی نی گهی هرروز یابې صد گهر**

محتاج به نه سی چیری هره ورځ پیداکی سل ملغلری

**باب چهل ودوهم دربیان تونگری واهل سخاوت وغنا گوید**

دوڅلویښتم باب په بیان کی دی دمالداری او دسخا او دغنا

**۵. اسباب دولت مال وزر سه چیز دانی بیشکی**

اسباب ددولت مال اوزر دری سوه شیان وپیژنه بی شکه

**گرتو کنی آن چیزها گنجی بیابی بیشتر**

که چیری ته هغه شیان ورکی خزانی به پیداکی ډیری

**۶. دائم گزاری خاشت راترک نگیری هیچ گه**

همیش کوه لمونځ دڅاښت پرېږده یې مه هیڅکله

**روزی بداری بیض را باشی بخانه یاسفر**

روژه ولره په ورځو دبیض کی که پرکور یې اوکه په سفر

**۷. پیوسته خیزی صبحدم هرگز نخسپی آنزمان**

همیشه پورته کیږه سهار هیڅکله بیده نه سی په هغه وخت کی

**تسبیح گوئی روز وشب غفران نخواهی سحر**

تسبیح وایه په شپه اوورځ کی بخشش غواړه هرسهار

توضیح او مطلب :

۱. په خپل اولاد تنگی درزق مه کوه اوچی له ډوډی نه وروسته لاس نه پریولی ژربه لتانه مال او زر ولاړسی.

۲. لوښی اوکاسه ژر مینځه کم وخت چی وخوری ډوډی شیطان بیا څټی دننه په لوښی کی چی سر پرپروت نه وی .

۳. جنگ اوشور مه کوه اوچی کوی بي مال به ستا څخه ولاړسی اونه به راځی تالره مال.

۴. هر څلوېښت چی می تاته وویل ولیکه په روح او په زړه محتاج به نه سی هیڅکله.

۵. اسباب ددنیا وپیژنه که هغه وپیژنی شیان به پیداکی اوخزانی دمال ډیری او زیاتی.

۶. همیشه دڅاښت لمونځ کوه، اوپه سپینو ورځو کی روژي نیسه.

۷. سهار وختی پورته کیږه او دلمانځه څخه وروسته مه بیدیږه.

**۱. شکر خداگو بیشتر مصحف بخر ازمال خود**

شکر دخدای وایه زیات قران مجید واخله له خپله مال څخه

**میخوان قرآن ازبهر حق خدمت بکن مادر پدر**

وایه قرآن دپاره دخدای ﷻ خدمت کوه دمور اوپلار

**۲. سورة جمعه بخوان سورة مزمل روز وشب**

سورة جمعه وایه او سورة مزمل په ورځ اوشپه کی

**دائم بخوانی واقعه ازبعد مغرب ای پسر**

همیشه ووایه سورة واقعه وروسته دماښام څخه ای هلکه

**۳. ناخن چو خواهی تابری در روز پنجشنبه ببر**

نوکان چې غواړی پرې یې کړی په ورځ دپنج شنبې یې پرېکړه

**موزه که پوشی کفش هم باید که پوشی زودتر**

موزه چې اغونده اوبوټونه هم شاید چې واغوندی یې ژر

**۴. چی تو پوشی خاتمی پوش ازعقیق ایجانمن**

کله چې ته ګوتمۍ کوی په ګوته یې کړه دعقیقو ای روح ځما

**محبوب خواهد دست چون دستی بده مقصد ببر**

عاجزه سړی چې غواړی مدد نومدد ورسره وکړه مقصد یوسه

**۵. عهدیکه بکنی باکسی نقصان مکن درعهد خود**

چې وعده وکې دچاسره نقصان مه کوه په وعده خپله کې

**جاروب چون مسجد زنی مالی بیابی بیشتر**

مسجدچې جارو کوی مال به پیداکې ډیر

**۶. حجی بکن ازبهر حق میکن زیارت مصطفٰی**

حج وکړه دپاره دخدای زیارت دمصطفٰی ﷺ کوه

**اندر تجارت صدق راکن پیشوا هم راهبر**

په تجارت کې رشتیا کړه پیشوا هم لاربنوود

دمشکلو الفاظو معنٰی :

مصحف قرآن شریف، میخوان وایه، ناخن نوکان، خاتم ګوتمۍ، محبوب پټ په عاجزی کې، جاروب جارو.

توضیح او مطلب :

۱. شکر دخدای ﷻ وایه زیات قرآن شریف واخله لپاره دځان خپل .

۲. سورة جمعه دشپی وایه سورة مزمل دورځی او دشپی. همیشه قرآن وایه سورة واقعه وایه.

۳. نوکان چی پریکوی په ورځ دپنجشنبی موزه چی په پښوکوی باید ژړ رنګ وی.

۴. ګوتمی چی په ګوته کوی دعقیق والا په ګوته کوه.

۵. دچاسره دی وعده وکړه په خپله وعده باندی نقصان مه کوه دمسجد جاروکول مال زیاتوی.

۶. حج وکړه دپاره دخدای زیارت دمصطفیٰ کوه په تجارت کی رښتیا وایه لاړښوونکی به سی.

**۱. درخانه داری سرکه خانه مکن خالی ازان**

په کورکی ساته سرکه خالی مه کوه کور دهغه څخه

**برکت چو خواهی مال خود رو ګوسپند زود خر**

برکت چی غواړی په مال کی خپله پسی ځه اوپسونه واخله

**۲. غسل جمعه دائم بکن خاصه که غسل اربعا**

غسل دجمعی همیشه کوه خاص غسل دچهارشنبی

**در روز عاشوره بپز اضعاف ایام دګر**

په ورځ دعاشورا پرش کوه دوچنده دنورو ورځو

**۳. آمیز جو ګندم بهم آنګه آزان نانی بپز**

ګډ چی کی غنم اوربشی پس له هغه ډوډی پخه

**غله که داری کیل کن ازوزن کن کلی حذر**

غله چې لرې پيمانه يې کړه دتول نه اوکړه پرهيز

**۴. دستی بشوی طعمی بخور گردی تونگر بیشکی**

لاس پريوله ورو ستهٔ دهغه څخه خوراك كوه سرمايه دار به سى

**تنها چو باشی زن بکن بسید یابی مال وزر**

تنها چې يې نو ښځه اوکړه ډيربه کړې مال اوزر

**۵. هرسی که گفتم پیش تو هشد از جمله کن عمل**

هرديرش چې وويل تاته عقل ولره اوعمل وربانډې وکړه

**تخلیل دندان هم مکن بنویس اندر دل جگر**

خلالول دغاښو هم مه کوه اوولیکه په زړه

**باب چهل وسوم در بیان اسباب جنت گوید!**

درو څلويښتم باب دی په بيان کې داسبابو دجنت

**۶. جنت مقام صالحان آنگه بیابی جانمن**

جنت ځای دنيکانو دی هغه وخت به يې پيداکې ای روح ځما

**بکنی عمل زبهر آن هر روز کاری خوبتر**

کوه عمل لپاره دهغه، دورځې کار ښه

دمشکلو الفاظو معنٰی :

گوسپند پسه، اربعاء ورځ دچهارشنبی، عاشورا ورځ لسمه دمحرم، حذر پرهيز، آميز گډيدل، جو اوربشی، گندم غنم، تخليل خلالول،

دندان غابنونه .

توضيح اومطلب:

١. سركه خامخا په كوركی ساته بركت چی غواړی نوپسونه وه ساته.

٢. غسل دجمعی كوه خاص بيا دچهارشنبی په ورځ دلسمی دمحرم اغونده دوچنده دنورو ورځو.

٣. غنم او اوربشی ګډوه او دهغه څخه ډوډی پخوه.

۴. لاس پريوله مخكی دډوډی څخه چی سرمايه دی ډيره سی تنها هيڅكله خوراك مه كوه.

۵. دغه ديرش چی وويل سوه عمل كوه ورباندی. خلالول دغابنوهم كوه وی ليكه په زړه باندی.

٦. جنت دنيكانو ځای دی كله چی نيك سی نوبه يې پيداكی.

* * *

**١. اعمال جنت دان بسی حدی ندارد هم عدد**

كارونه دجنت وبوله ډير حدنه لری اونه شمار

**زان جمله گويم پيش توآن بست وهفت ای پسر**

دهغه ټول وايمه مخ ته ستا هغه دی اوه ويشت ای ځوانه

**٢. اول بگويی كلمه را ازصدق دل خالصاً**

اول وايه كلمه دزړه داخلاصه څخه

**باشی بران ثابت شده مدت حياتی درعمر**

اوسی به په هغه محكم ښه موده دژوندپه عمركی

**٣. شای درسان مرخلق راطعمی بده ازبهر حق**

خوشحالی رسوه خلګو ته ډوډی ورکوه لپاره دخدای

**پوشی لباس مغفرت ائی بجنت هشت در**

وابه غوندی جامه دبخښنی راځی په اتو دروازو جنت ته

**۴. اضیاف را اکرام کن غزوه بکن بامشرکان**

میلمنو ته عزت ورکوه غزاکوه سره دمشرکانو

**سری بګوید چون کسی آن راز مکشا بربشر**

راز ووایی چی درته څوك هغه رازمه وایه سړی ته

**۵. زحمت چوآید پیش تو هرګز نیاری برزبان**

مرض چی راسی مخ ته ستا هیڅکله په ژبه مه وایه

**جمله مصائب همچنین پنهان بداری درجګر**

ټول غمونه دارنګه پټ ولره په ځیګر کی

**۶. صالح چوکنی کارها باحور شینی درجنان**

نیك چی کله کوی کارونه سره له حورو به کښینی په جنت کی

**احسان کنی با آن کسی کو باتو کرده بدبتر**

نیکی کوه دهغه سړی سره چی ده کړی وی له تا سره بدزیات

دمشکلو الفاظو معنٰی :

اعمال کارونه، بست وهفت اوه ویشت، صدق رشتیا، مدت وخت، حیات ژوند، طمع امید له مخلوق ساتل، غزوه جنګ سره له کافرانو.

توضيح او مطلب :

١. کارونه دجنت دومره ډيردی شمار نه لری دغه ټول درته وايم.
٢. اول په صداقت سره کلمه وايه عمر به دی خدای ﷻ ډيرکی.
٣. په خوشحالی ورکوه خلگو ته ډوډی هم دغه شيان ټول لپاره دخدای ﷻ کوه.
۴. ميلمنوته عزت ورکوه غزا کوه سره له مشرکانوسره.
۵. هروخت چی مرض راسی تالره هيڅکله يې چاته مه وايه ټول غمونه پټ ساته.
٦. نيك کارونه چی کوی سره له حورو به کښينی ته په جنتوکی نيکی کوه له هغه سره چی له تاسره بدکوی.

**۱. اندر سرائی وجان ودل درويش مسکين جای ده**

په کور دروح اودزړه کی فقير مسکين ته ځای ورکړه

**فرمای کاری نفس را از کارهای سخت تر**

فرمايه کار نفس لره چی په کارونو کی ډير سخت وی

**۲. داری نگه فرج ازنان فحشی نگوی از زبان**

وساته ځان دزنا څه بدی خبری مه وايه په ژبه

**محظور شبهی طعم رايابی ازان ميکن حذر**

منع ده حرام اودشبی له هغه څخه مه کوه بيره

**۳. همسايه پرسی دائما باشد بشادی بانعم**

دهمسايه څخه پوښتنه کوه هميشه وی په ښادی کی اوکه غم

**بیمار راپرسی بسی یابی بجنت کشک زر**

دناجوړی پوښتنه ډیره کوه چی پیدا کړی مانۍ په جنت کی

**۴. خشمی فرو خور جانمن عفوی بکن بامردمان**

قهر کښته کړه ای روح ځما عفوه کوه خلګو لره

**باصالحان دائم نشین ذکر بگو شام وسحر**

سره دنیکانو همیشه کښینه ذکر کوه ماښام اوسهار

**۵. از ظالمان مظلوم راداری بده انصاف هم**

له ظالمانو څخه مظلوم لره ورکوه انصاف هم

**کلمه شهادت دروضو میگو همی جان پدر**

کلمه دشهادت په اوداسه کی وایه ای روح دپلاره

**۶. دائم بکن سنت آدا چونتو گذاری عصر را**

همیشه کوه سنت نفل چی ته کوی لمونځ دمازیګر

**چیزی نخواهی ازکسی تحمید گوشام وسحر**

څه شی مه غواړه له چانه حمد وایه ماښام اوسهار

دمشکلو الفاظو معنٰی :

محظور منع سوی کارته وایی. حذر پرهیز، فحش وبدو خبرو ته، کشك بنګله، خشمی قهر اوغصه کول، عصر مازیګر.

توضیح اومطلب :

۱. نیکی کوه اوفقیرلره په زړه کی ځای ورکړه دنفس خبره مه منه کم څه

هم داکار دډېرو ښخه سخت دی.
۲. اوخپل ځان وساته دزناکولو څه اوبدی خبری هیڅاته مه کوه.
۳. اودهمسایه پوښتنه کوه که په خوشحالی کی وی اوکه په غم کی دناجوړی پوښتنه کوه.
۴. قهر مه کوه عفوه کوه خلگو لره اودنیکانو خلگو سره همیشه کښینه اوذکر دخدای ﷻ کوه.
۵. همیشه له ظالمه حق اخله مظلوم ته ورکوه په انصاف کلمه دشهادت په اوداسه کی وایه.
۶. ځلور کعاته نفل دمازیگر دلمانځه ښخه دمخه کوه له چا ښخه شی مه غواړه.

**۱. ازبعد هرفرض بخوان کرسی بصدق جان ودل**
له هرفرضی لمانځه ښخه وروسته وایه اٰیة کرسی په رشتیا سره
**طبلی زنان جنت برو آمد چینین اندر خبر**
طبل ږغوونکی ښځی له جنت ښخه وځی راغلی دی په حدیث کی

**باب چهل وچهارم در اسباب دوزخ میگوید**
ځلور ځلویښتم باب دی په بیان کی داسبابو

**۲. دوزخ برایی کافران هم مفسدان ملحدان**
دوږخ دپاره دکافرانو اوهم دفساد کونکو هم لپاره دبیدینو دی
**باشند ساکن اندر ان عورت زمردان بیشتر**
دی اوسیدونکی په ده کی ښځی ترنارینه زیاتی

**۳. از مرد نه صد نه نود ازهر هزاری درجنان**

له نارینو وو څخه نه سوه نه نوی له زرو په جنتو کی دی

**نه صد نود نه از زنان ازهر هزاری درسقر**

نه سوه نه نوی دزنانو له زرو څخه په دوږخ کی دی

**۴. مردم که در دوزخ رود آنجا بسوزد سالها**

سړی چی دوږخ ته ځی هلته به سوځی کلونه

**موجب بگویم پیش تو بشنو زمخلص مختصر**

سبب دسوځیدو وایم په مخ ستاکی واوره له مخلصه کوتاه

**۵. اسباب دوزخ عشرین بدان باچا رهم**

سببونه ددوږخ ټول شل وبوله سره دڅلورو

**اندیشه کن در هریکی ازهریکی میکن حذر**

فکر وکړه په هریوه کی له هریوه کوه پرهیز

**۶. شرکی چو آرد کس بدو دائم بسوزد اندران**

شریك چی څوك پیداکوی له ده سره همیشه به په اورسوځی

**حقبة بسوزد اندران از فوت وقتی ای پسر**

یوه حقبه به سوځی دقضا کیدو په سبب ای هلکه

توضیح او مطلب :

۱. وروسته له هرو فروض څه اٰیة الکرسی په رښتیا او په یقین سره وایه رباب وهونکی به جنت له ځی راغلی دی په حدیث کی.

۲. دوږخ جوړسوی دی لپاره دخرابونکی نه منونکی دخدای ﷻ چی ورته ملحدان وایی.
۳. جنت له به نارینه له زرو څه نه سوه نه نوی ځی. اوله زنانو څه به له زرو څه نه سوه نه نوی دوږخ لره ځی .
۴. کم څوك چی دوږخ لره ځی هلته به سوځی کلونه سبب دسوځیدلو هم ډیر دی چی بیان یې کوم تا لره.
۵. اسباب ددوږخ ټوله شل وبوله چی بیان یې درته راځی.
۶. اول شریك جوړول له خدای ﷻ سره یوحقبه په شان داویا کال ده چی دونه مقدار به سوځی په قضاء کیدلو دیوه لمانځه.

**۱. بخلی کند باهر کسی باشد متابع شهوتی**

بخیل والی کوی سره دهرسړی اوتابع دشهوت وی

**عجبی کند بامردمان خود را بداند خوبتر**

تکبر کوی سره دخلګو سره ځان ښه بولی

**۲. امر خدا نارد بجا باشد مصاحب فاسقان**

حکم دخدای ﷻ هغه راوړی په ځای اوملګری دفاسقانو

**تحقیر بکند بزرگان بر سائلان بکند قهر**

سپك والی کوی دبزرګانو په سوال کونکی قهر

**۳. ترک جماعت عمدا بگیرد جانمن**

پریښول دجماعت قصداً دی ای روح ځما

**بی رد سلامی اوکند تمام باشد بیخبر**

اونه جواب دسلام کوی اوخبره زغلونکی بی عمله وی

**۴. وامی ستاند ازکسی هرگز نخواهد تادید**

قرض مه اخله له چا څخه هیچری چی نه یې سی ورکولای

**بکند تنابز درلقب کس را چو بیند ازبشر**

کوی سپك والی په صفت کی چالره چی وینی له انسانه

**۵. اندر مناهی جملگی بکند دلبریها بسی**

په ګناهونو ټولو کی کوی دلاوری ډیر

**دشمن بداند میهمان آید همی چون پیش در**

دښمن یې بولی چی میلمه ورلره راسی په دروازه

**۶. نوحه کند برمردگان سینه خراشد خدهم**

نوحه کوی پرمړو باندی ګریبان څیری بارخوهم څیری کوی

**پاره کندهم جامه را یاخود تراشد موی سیر**

جامه هم یاپه خپله پری کوی دسرو وریښتان

دمشکلو الفاظو معنٰی :

عجبی ځان ورته ښه معلومیدل، لقب هغه نامه ته وایی چی صفتی معنٰی پکښی وی، نوحه ژړا.

توضیح اومطلب :

۱. بخیل والی چی سړی کوی اوتابع دشهوت وی تکبر کوی په خلګو ځان ښه بولی.

۲. حکم دخدای ﷻ نه راوړی په ځای او ملګری دفاسقانو کوی او

دبزرگانو سپك والي كوي اوپه سوال كونكي قهر.
۳. پريښوول دجماعت هم گناه كبيره اوسخت جرم دی.
۴. قرض چي اخلي او وركولي يې نسي دا هم گناه ده.
۵. اوداهم گناه ده چي گناه په دلاوري سره كوی. اوداگناه ده چي ميلمه ورله راسي دا دښمن بولي چي په دروازه كي وی.
۶. دغم ژړا كول په مړو گريوان څيرل داهم په گناه كي شامل دی .

**۱. بخورد ربا او دائماً درپس بدی گويد ترا**

خوری سود هميشه اوپسي دشا بد وايي تالره

**بكند حسد برجملگی ازكبر نارد كس نظر**

كوی حسد دټولو خلگو سره، دكبر څخه څوك نه راوړی په نظركي

**۲. اسباب دوزخ بيحد است گفتن شمردن کی توان**

سببونه ددوزخ ډير دی ويل او شمير يې كيږي كله

**گردد هزاران از ورق وقتيكه گردد مختصر**

شي به زر ورقي كه يې مختصر وليكو

**۳. موجز بگويم يک سخن تاتو در آئی درجنان بسی**

كوتاه به وايم يوخبر لپاره ددی چي ورسي جنت

**امری خدا آر بجا كلی زشهوت كن حذر**

حكم دخدای راوړه په ځای له شهوت څخه كوه پرهيز

**۴. می باش خامش روز وشب سخنی مگو بيفائده**

اوسه پټ خوله دورځي اودشپي خبری مه وايه بی فائدی

**نرمی بکن بامردمان خدمت بکن مادر پدر**
نرمي کوه سره دخلګو خدمت کوه دمور اوپلار

**(باب چهل وپنجم در بیان ده سنت ابراهیم)**
پنځه څلويښتم باب دی په بيان کی دلسو سنتو دابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ

**۵. ده چیز دانی ازسنن خلیل پیشوا**
لس شيان وبوله له سنت څخه دابراهيم خليل الله چي رهنمادی
**واجب شده اتباع آن برمومنان جمله بشر**
واجب سو تابع داری دهغه په مومنانو

**۶. دان فرق کرد موی سراز ناصیه تا درقفا**
وبوله جلا کول ويښتان دسره له تندی څخه بيا ترپايه
**مردم مخیر شد درین فرق کند یاحلق سر**
خلګ اختيار داره سوه که يې جلا کوی که سر خريي

توضيح او مطلب :
١. سړی چی له شاپه چاپسی خبری کوی دغه داسی وبوله لکه سود چی خوری او ګناه ده.
٢. سببونه ددوږخ ډيردی شمار يې نه کيږی که ورقی اوکاغذان په ډکی سی نو ترزرو پوری رسيږی.
٣. که جنت اودخدای ﷻ رضاکول غواړی نوله خواهشاتو نفسانيوو څخه پرهيز وکړه.

۴. اوسه پټ خوله دشپې اودورځې خبرې مه کوه بې فائدې نرمې کوه په خبروکې اوخدمت کوه دمور اوپلار.
۵. لس شيان دې له سنت دابراهيم خليل الله چې پيشوا دې واجب ده تابعداري کول دهغه په ټولو مومنانو باندې.
۶. دوينښتانو دوې طريقې يوه طريقه يې داده چې څونکې جوړې کړې اولار پکښې وباسې دوهم خريل دټول سر.

**۱. کعبه رسيدی حلق کن باشی مخير بعد ازان**

کعبې ته چې ورسيدې خريل کوه شې به اختيار من

**درغير کعبه حلق نی الا بداری خوبتر**

بې دکعبې خريل نسته مگرکه يې وساتې ښکاره

**۲. سبلت ببر چون ابرو ان يا پست کن ايجانمن**

بريت وخريه په مثال دورځې يائې لنډ کړه اې روح ځما

**حلقی دور جائز بدان نزديک علماء معتبر**

خريل په ده کې روا وبوله په نز دعلماء معتبر

**۳. مسواک کن هر وضوء می چين همی موی بغل**

مسواك وهل په هر اوداسه کې اوليرې کوه وريښتان دتخر

**گر حلق بکنی هم روا چيدن بود زان خوبتر**

دبغلو که خريل کوې هم روا دې دييخه کښل له خريلو ښه دې

**۴. ختنه بکن فرزند را چون هفت ساله اوشد**

سنت کول دزوې دې خپل په اووکالو چې سې

**یابی ثوابی از خدا هرگز نیاید در حصر**
پیدابه کړی ثواب دومره چې نه راځي په شمار

**۵. حلقی بکن در شرمگه باید نداری تاچهل**
خریل کوه دشرمگاه چې ونه رسیږی ترڅلویښتو
**فارغ چواز حاجت شوی سنگ بگردان یامدر**
خلاص چې سی له حاجته ډبره وګرزوه یالوټه

**۶. آبی بکن اندر دهان هم آب بینی دروضوء**
اوبه اچوه په خوله کې هم اوبه دپزې په اوداسه کې
**هرده که گفتم پیش تو یادش بکن ای نامور**
دغه لس مې وویل په مخ ستاکې یادیې کړه ای نوم والا

توضیح اومطلب :
۱. کم وخت چې کعبی ته ورسیدلی سرخریل کوه وروسته له هغه ستا اختیار دی که حلق کوی اوکه څوښکی مکر چوښکی ښه عمل دی.
۲. بریت کوچنی کول لکه ورځې یاکښته کول دهغه څه خریل هم جائز دی په نزد دعلماء معتبرو که چیری بدنه معلومیدل.
۳. مسواك کول په هر اوداسه کې ای روحه ځما اوبل وریښتان دبغلو، په دغه دبغلو په وریښتان کې دوی خبری دی یوخریل یوکښل دبیخه دغه اخیری خبره دکښلو ښه ده.
۴. دبچې ختنه سنت کول چې داوو کلو سی پیدابه کړی ثواب دومره چې نه شمیرل کیږی.

۵. خريل دنامه لاندى خوچى دځلويښتو ورځو څخه تيرنه سى.
٦. بل په خوله اوبه گرزول اوپه پزه، دغه لس اوس پوره سوه ياديږ که، تلك عشره كاملة

**۱. قصد لواطت چون کند کس باکینزک یاحرم**
قصد دلواطت چي وکي سړى دمينزى سره
**باشد روا اورا كشد رفع كند ازخود ضرر**
روا دى چي هغه مړکي او ليرى کى دځانه څخه ضرر

**۲. باشد روا منكوحه راهم شوى كشتن درشرع**
دى روا ښځى لره قتل کول دخاوند
**درحيض چون قصد كند خوفى ندارد اين قدر**
چي په حيض كى ددى سره جماع كوى بيره نه لرى

**۳. هم اینچنین باشد روا اگر قصد کشتن کس کند**
همدارنگه دى رواكه چيرى قصد دقتل وكى
**اورا كشد اوپس اذان واجب نه چيزى بل هدر**
دنيت كونكى هغه وژنى اول دمرگ بل باطل

**۴. پنجى بدان از موزيان بايد كشى حل وحرم**
پنځه وبوله له ضررمنو بايد مړه يې کى که په احرام کى يې که په حل
**هرپنج را موذى بدان موزى بكش حكم خبر**
پنځه سره ضررمن وبوله ضرر رسونکى مړه کړه په حکم دحديث

**۵. زاغ وحدات کلب هم مردم گزد هرساعتی**
کارغه اوتپوس سپی چی خلگ چیچی هرساعت
**کژدم چهارم موش هم اندر مشارق کن نظر**
لړم څلورم مږه هم په مشارق نوم کتاب کی وګوره

**۶. هرجا که باشد موذی مردم بود یاجانور**
هرځای کی چی وی ضرر رسونکی سړی یاحیوان
**درحال کش اندر زمان هرگه برو یابی ظفر**
فی الحال یې مړکوه په هغه ساعت پیدا به کړی کامیابی

دمشکلو الفاظو معنٰی :
کینزك مینځه، منکوحه کم زنانه چی نکاح ورسره سوی وی، هدر باطل.
زاغ کارګه، وجدات پوښتنه.

توضیح او مطلب :
۱. دمینځی سره مالك ته جماع کول روادی لپاره ددی چی خپل شهوت دفع کړی.
۲. ښځی لره روا دی قتل دمیړه چی په حیض کی یې جماع تی رابولی.
۳. همدارنګه روا دی وژل دیوچا کله چی هغه اراده وکړی ستا دوژلو.
۴. پنځه حیوانات دی چی ضرر رسوی قتل کول یې روادی اوداپنځه سره ضرر رسونکی دی .
۵. هغه حیوانات دادی لکه کارګه تپوس دی سپی دی چی هروخت حمله کوی په سړی لړم دی مږه ده په المشارق کی چی دکتاب نوم دی

وکړه نظر.
۲. هرځای چې ضرر رسونکی حیوان وی هروخت چې پر کامیابه سوی وژنه یې.

**۱. گربه کبوتر کشد قیمت نصابش ده درم**
پشي چې کبوتره ووژني اندازه یې وکی دقیمت
**یا خود زیانی او کند اکثر چو آید درجحر**
یاپه خپله یې تاوان ورکړه چې راسی له طرفه

**۲. جائز بدان هم کشتش میران حلقش کاردی**
روا وبوله وژل یې چې پر حلق یې چاړه راکش کړه
**اما اگر کس بگذرد یابی ثوابی بیشتر**
مگرکه څوك عفوه کړی پیدابه کړی ثواب

**۳. اسقاط کردن حمل راجانی نباشد اندرو**
غور زول حمل لره چې نه وی په دی کی روح
**گردند بعضی رخصتی گرتو بداری خوبتر**
کړیدی بعضی رخصتی که چیری وساتی نوډیر ښه

**۴. در حره خواهی تا جهی از فرج بیرون آب را**
په اصلی ښځی کی غواړی چې لیری کړی اوبه دفرج څخه
**رخصت طلب از جاریه اذنش زمولٰی معتبر**
اجازه ددي څخه غواړه اوپه مینځه کی اجازه دمولٰی څخه غواړه

**۵. میخوان نجومی آنقدر تا تو شناسی وقت را**
وایه علم نجوم دومره قدر چی ته وپیژنی وقت
**تزویج کردن قبله هم دیگر برفتن در سفر**
دپاره دنکاح کولو هم دقبلې پیژندل بل دپاره دتللو په سفر

**۶. بستان هدایه چون کسی بدهد ترا بهر خدا**
اخله تحفه چی څوك یې درته کوی دپاره دخدای
**قاضی چو باشی یا ملک از هدیه ها میکن حذر**
چی قاضی سی یا باچا سی وکړه دتحفو څخه پرهیز

**۷. سلطان فتوحی چون دهد فی الحال بستان خرچ کن**
باچا چی تحفه درکړی وایی خله او خرڅ یې کړه
**ردی فتوحی کرده اند بعضی مشآئخ نامور**
رد دتحفو کړیدی بعضو مشهورو علماوو

**اول خبر کن سوی شان انگه بیابی صحن در**
**۸. چونتو بیایې ازسفر یکره بخانه مرو**
چی ته راسی له سفره یوساعت کور مه خبروه
اول خبر وکړه وطرفته ددوی ته بیا راځه میان ته

**۹. مصحف مبر در لشکری وان زن که باشد حره هم**
کلام الله مه وړه لښکرته او هغه ښځه چی وی اصیله

**لشکر که دارد قوتی این هر دو را آنجا مبر**

لښکر دکفارو چې وی غالبه نودا دواړه هلته مه وړه

**١٠. مصحف چو بینی کهنه هم سوده وهم ریخته**

قرآن چې ووینې زوړ هم سولیدلی اوهم توی سوی

**درجامه پیچ ودفن کن چون مردگان اندر قبر**

په جامه کې یې وپیچه لکه مړی په قبرکې ښخ کړه

**١١. آبی خورانی نیم شب فرزند تشنه یا زنی**

اوبه چې چښې په نیمه شپه زوی تږی یاښځه

**جمله گناهان عمر تو مغفور گردد هم هدر**

ټول گناهونه دعمر ستابه بخشش گرزی هم بالکل

دمشکلو الفاظو معنٰی :

گربه پیشو، نصاب حصه دهغه، حجر ډبره، کارد چاړه، اسقاط غورزول، صحن میدان، مصحف قرآن شریف، موی ورینبته .

توضیح اومطلب :

١. پشی چې وژنی کوتره قیمت یې ورکړه ځکه چې په تحقیق سره تاوان یې کړیدی.

٢. رواده وژل چې په چاړی یې پریکړی غاړی که عفوه ورته وکی ثواب به پیدا کی.

٣. کمه زنانه چې واچوی حمل چې ژوندی نه وی بعضی رخصت بللی دی که چیری وساتی نو ښه دی.

۴. په آزاده ښځه کی اجازه دهغې ځخه غواړه اوپه مینځه کی دبادار ځخه دهغې.
۵. علمِ نجوم دومره قدر وایه څومره چی تاته ضرور وی.
٦. که څوك تحفه درکړی ورځخه اخله یې، اوچی قاضی سی بیا تحفې مه اخله.
٧. پاچا چی تحفه درکړی ورځخه قبلوه یې او خیراتوه یې، مګر بعضی علماء یې تحفه ردوی.
٨. کم وخت چی له سفره راسی کور مه خبروه وروسته بیاراځه کورته.
٩. قران شریف او ښځی دجنګ په وخت کی چی دکفارو غلبه وی نو لښکر ته یې مه وړه.
١٠. قرآن شریف چی زوړ وی نو یې ته په کپړه کی وپیچه په قبرکی یې ښخ کړه.
١١. زوی چی دی دشپی تږی وی اوبه یې کړه نوستا ګناهونه به ټوله معاف سی.

**١. رنجی که بینی ساعتی بهر عیال ونفس خود**
سختی چی وینی یوساعت لپاره دعیال اونفس خپل
**هم صدقه باشد نزد حق یا جزای بیشتر**
هم ثواب دی په نزد دخدای ﷻ پیدابه کی ډېر ثواب

**٢. ازخمر دنیا چو خوری دیبا چو پوشی یا حریر**
شراب ددنیا چی وچښی او چی آغوندی وریښم
**جامه نیابی درجنان آنجا شامی خمر**
کپړه به نه کړی پیدا په جنتو کی اوهلته به ونه چښی شراب

**۳. پرکاله چوبابی جامها افتاده اندر کوچها**

ټوکړی ټوکړی چی پیدا کی چی پرتی وی په کوڅو کی

**چینی بسی یکجا کنی یا خسته باشد از ثمر**

ټولی یې کړه او یو ځای یې کړه اوکه میوه وی خرابه

**۴. اندر زرع چین خوشه بعد از درون خصم او**

په فصل کی ټوله وه وږی وروسته تر قهر دده

**پوست آنار وخربوزه جمعی کنی از دربدر**

پوست دآنار اودخټکو ټول کړی له درو اوله دروازو څخه

**۵. چیننده گیرد نفع زان باشد مباح وهم روا**

ټولونکی چی اخلی فائده دهغه ده مباح

**برداشت چون شد ملک او درملتقط میکن نظر**

چی لوږ سو ترملك دخاوند دفصل په ملتقط کی وګوره

**۶. خصمش بخواهد جمع آن بخلی کند برمردمان**

که خاوند وغواړی جمع کول دهغه او بخیلی کوی پر سړو

**جائز نباشد غیر را اندک بود یابیشتر**

روانه دی نور چالره لږ یاډیر زیات

**۷. اندر زمینی چون کسی گاوان نشاند یاغنم**

په یو مزکه چی څوك غوایی راولی یا پسونه

**سرگین شود بیحد جمع پاچک هم آنجا هم بعر**

خوشایې کیږی ډیر جمعه گوبر هم پوچی

**۸. بادام خرما گر کسی بدهد کسی را بهران**
بادام او خرماوی که څوك ورکړی چاته دپاره دهغه
**بکند شاری بر شهی یا بر عروسی مه چهر**
چی خیرات یې کړی پرباچا یا پرناوی ترمیاشت دمخه.

دمشکلو الفاظو معنٰی :
رنجی سختی، عیال خپل بچیان، خمر شراب، زرع کښت، خوشه وږی، مباح روا، ملتقط نوم دکتاب دی، بعر پوچی، سرگین گوبر، پاچك دغوا مرداری.

توضیح او مطلب :
۱. کم وخت چی سختی تیروی لپاره دعیال اودنفس خپل دغه ټول ثواب وبوله.
۲. ظالم چی درڅخه اخلی یوه روپی په زور او په ظلم ثواب به یې پیدا کړی په آخرت کی.
۳. کم څوك چی په ددی دنیا شراب خوری او دوریښمو کپړی اغوندی په جنت کی یې بیانه کړی پیدا.
۴. په کوڅو کی ټوټی کپړې ټولوله بیاپه ښه درسی.
۵. فصل چی ختم سی دهغه څخه وژی ټولول دڅه فائدی څخه نه دی خالی، جمع کول دمال روانه دی بلاضرورته.
۶. ټولونکی چی ورڅخه اخلی فائده نو هغه ته هم روا دی.
۷. په خپله مځکه کی چی څوك غریبان ډیر گډ کړی نودا ډیره زیاته گټه او ثواب لری.

۸. بادام او خرماوی که څوك ورکړی دپاره دتصدق پرناوی یا باچا نو روا دی.

**۱. خوردن نباشد داشتن چیزی ازان اورا**
خوراك نه دی مناسب دشی له هغه څخه ده لره
**چیدن نباشد هم روا بادام باشد یاشکر**
ټولول هم روا ورته نه دی بادام وی که شکری

**۲. مالی سپارد چون کس برمردمان زبهر آن**
مال چی څوك حواله کړی پرچا باندی چی دی
**تا او دهد صدقه بسی هرجا که بیند مفتقر**
ورکړی صدقه ډیر هرځای چی وینی فقیران

**۳. اورا حرمت بیشکی زان مال خوردن یکدرم**
هغه لره حرام دی بیشکه دهغه مال څخه خوراك دیوې روپۍ
**دوریش باشد گرچه او این حکم درخانی نگر**
که څه هم چی فقیر وی داحکم په فتاوی خانیه کی وګوره

**۴. خلقی بچنید هم خورد انگور وجور وچلغوزه**
خلګ که ټولوی او هم خوری انګور او جوز او چلغوزی
**باشد حلال وهم روا از من شنو جان پدر**
دوی لره حلال دی او هم روا دا زما څخه واوره ای روحه دپلار

**۵. خواهد معلم اجر چون یاخود موذن براذان**
چی غواړی معلم مزدوری یا غواړی یې موذن پر اذان

**جائز نباشد درشرع مشروط باشد چون اجر**

روا نه دی په شرع کې شرط سوی اجرت

**۶. برداشتن از مائده زله حرام است بیشکی**

پورته کول له سترخوانه څکه حرامه ده بیشکه

**گر خصم گوید ارفعوا بردار خوش خرم بخور**

که خاوند ووایي چې پورته یې کړې نو په خوښی یې خوری

**۷. چون تو شوی مهمان کس درطعم اوبخشش بکن**

چې ته سې میلمه دیوچا ډوډی دهغه چا په خوراك کې بخشش کوه

**جز استخوان کس رامده جانان من چیزی دیگر**

بې له هډوکو یې چاته مهورکوه ای روحه ځما

**۸. مردار باشد پوستی پیش از دباغت بیع او**

مردار وی پوستکی مخکې له پخیدلو اوخرڅولو

**جائز نباشد درشرع هم بیع اشعاری ای پسر**

روا نه دی په شریعت کې هم بیعه دوریښتو ای هلکه

دمشکلو الفاظو معنٰی :

چیدن ټولول، مفتقر محتاج، مائده دستر خوان، استخوان هډوکی، اشعار وریښتان .

توضیح او مطلب :

۱. خوراك کول له مال مشترك څخه مناسب نه دی که څه هم بادام یا

شکر وی.
٢. مال چی څوك حواله کړی په چا باندی لپاره دیو چاچی بیایې هغه صدقه کړی چی ووینی فقیران.
٣. ده لره حرام دی ددغه مال څخه یوڅه خوړل، که څه هم چی دی مسکین وی.
٤. خلګ چی یو میوه ټولوی نو هغو ته ورڅخه خوراك هم روا دی.
٥. په موذنی یاپه امامت یاپه قرآن ویلو سره اجرت غوښتل روانه دی.
٦. پورته کول دسترخان څخه دپاته ډوډی نه دی روا، کله چی مالك ووایی چی پورته یې کړی، نو بیا روا دی.
٧. چی ته دچامیلمه سی نو دهغه ډوډی والا لره هم بخشش غواړه.
٨. دمردار حیوان پوستکی خرڅول هم روانه دی چالره یې مه ورکوه او خرڅول دوریښتانو هم روانه دی.

* * *

**١. چونتو به بینی مردمی گل میخود منعش بکن**

کله چی ته ووینی سړی چی خوری خټی نو منع یې که

**فرعون وهامان یکدگر خوردند گلها بیشتر**

فرعون او هامان به خټی خوړلی ډیری

**٢. برده خری چون گل خورد باریک بینی موی او**

چی مریې اخلی اوخټی خوری یا نری ووینی وریښته دهغه

**یا خود نشان چوب ولت اندام او ابد نظر**

یاپه تحقیق سره نښه دلرگی او دلت وی په اندام په نظر کی

**۳. دیگر کنیزک طعم را از دیگران بحید خورد**
بل مینځه چې خوراك خوری زیات تر نورو
**روی بکن آنرا مخر اندر خلاصه کن نظر**
واپس کړه هغه اومه یې اخله په خلاصه کې همداسی راغلی دی

**۴. مسجدبه بینی تنگ چون باشد زمین چپ راست او**
جماعت چې وینی تنگ دی مزکی کنی وراسته طرف ته
**بستان زخصمان زود کن قیمت بده هم سم وزر**
وایې خله دخاوند څخه ژر قیمت یې ورکړه سپین اوزر

**۵. اصحاب احمد مصطفیٰ ازبهر کعبه همچنین**
یارانو دپیغمبر ﷺ لپاره دکعبې دارنګه
**داند قیمت خصم را کردند قدری هم جبر**
ورکوی قیمت مالك لره اوکوی په څه قدر ظلم سره

**۶. ناقص قیامی چون کنی ازبهر مومن مسلمی**
ناقص پورته کیده چې وکړی لپاره دمومن مسلمان
**تنها شوی مغفور تو خواندم تو چنین اندر خبر**
یوازی به سی بخښلی تاته وایم دارکم په حدیث کې

**۷. کامل قیامی چون کنی ازجان ودل ایجانمن**
پوره پورته کیده چې وکړی داخلاصه ای روحه زما

**بوشی لباس مغفرت هم مادر هم پدر**

وابه غوندی جامه دبخښي هم په خپله هم به دی مور او پلار

**۸. تا میتوانی جانمن برمومنان تعظیم کن**

ترڅو چی توانیږی ای روحه زما دمومنانو ادب کوه

**فاسق چوبینی مبتدع میکن اهانت بیشتر**

بدعمله چی ووینی بدعتی کوه یې سپك زیات

**۹. چون مدح فاسق کن کند عرش خدا لرزد جنان**

چی صفت دفاسق څوك کوی عرش دخدای ﷻ لړزیږی داسی

**گوئی که افتد بر زمین گردد زمین زیر وزبر**

چی ته به وایی راوبه لویږی پرمځکه اوآسمان او دا دنیا به توته توته سی

**۱۰. بینی چو فاسق مبتدع از جان ودشمن بدان**

چی ووینی بې دینه بدعت کوونکی داخلاصه څخه یې دښمن وګڼه

**یابی جزا نزدیک حق ایمانت گردد معتبر**

پیدابه کی ثواب په نزد دخدای ﷻ او ایمان به دی وګرزی صحیح

**۱۱. توفیق گر باشد ترا کاری بکن تعجیل تر**

طاقت که وی تالره اعمال نیك کوه

**این وقت رادان نعمتی هرساعتی دارد ثمر**

داوقت وبوله نعمت هرساعت لری ثمره فائده

**۱۲. امروز گرطاعت کنی فردا جزا باشد**

نن ورځ عبادت کوه چی صبا ورځ بدله پیدا کی

**چونتو گنه عصیان کنی یابی سزا اندر سقر**
چې ته گناه کوې پیدا به یې کړې جزاپه دوږخ

**۱۳. گر طالبی ازصدق دل خواهد که یابد راه حق**
که یو طالب په اخلاص وغوارۍ چې پیدا کړه زه لاره حقه
**چون صبر بکنی بیشکی باشد چو سنگی سیم وزر**
صبر کوه داسې سه بیشکه لکه دډبرو سپین او سره زر

**۱۴. گر راه خواهی بهر حق از صدق پیوند درو**
که لار غوارۍ لپاره دخدای په رښتیا سره
**باید دروزن خویش راخالی کنی ازکسی دگر**
باید دی چې زړه خپل خالي کړې له بل سړي څخه

* * *

## باب چهل وششم در ختم کتاب ومناجات باری عز اسمه

شپږ څلویښتم باب دی په بیان کې دختم کیدو دکتاب او ددعا په دربار کې دالله ﷻ

**یارب مرا گردان چنان از راه لطف ورحمت**
ای خدایه ما وگرزوې له مهربانۍ اورحمت څخه خپل
**چون سگ شمارم اغنیا شاهان نیارم درنظر**
داسې چې لکه سپې غنیان او باچاهان راوړم په نظر کې

**باشم توانگر دل چنان ازکس نخواهم حاجتی**
سم به اباد په زړه چې له سړی څخه نه غواړم حاجت
**فارغ نشینم شاد خوش بیرون نیایم پیش در**
خلاص کښېنم خوشحاله دباندی نه راځم چاته

**راضی بفقر وفاقه هم باشم بکنجی اندرون**
راضی په فقیری اوپه لوږه هم یم اوسم په کنج کی
**ممنون منت سفلگان مارا مگردان تاحشر**
منت بار داحسان درزیلانو مامکړی ترقیامته

**ازبهر روزی ورزق هم وقتی پریشان دل مکن**
لپاره دروزی او رزق هیڅ وخت هم مه پریشانه کوه زړه زما
**یارب بده صبرم چنان جز تو نخواهم کس دگر**
ای خدایه صبر راکی چې ماسوا له تا څخه دبل چا څخه یې نه غواړمه

**یارب بحق مصطفٰی هم انبیاء هم اولیا**
ای خدایه په برکت دنبی ﷺ او دنبیانو اواولیاوو
**گردان چنان این تحفه را مقبول گردد بحر وبر**
وگرزوه دارکم داتحفه قبوله دبحر او دوچې

**عاشق برو جمله جهان از اندرون جان خود**
چې عاشق په دې ټول جهان سی دننه په روح کی خپل
**بکنندپاکان جای او دارند بالا چشم وسر**
او کړی نیکان جای ددې لری پرخپل سترگو اوسر

**الفت چنان ده خلق را جز این نخواهد هیچکس**

محبت داسی ورکی خلگو لره ته چی بې ددی څخه نه غواړی هیڅ سړی

**هرجا که بیند مردمی تعویذ او این مختصر**

هرځای چی وینی څوك یوسړی تعویذ دهغه مختصر

**رنجی کشیدم مدتی هم دردها چون درد زه**

سختی می تیره کړه ډیره موده لکه دردونه داولاد پیدا کیدو

**تامن بزادم اینچنین بکر معانی نامور**

چی زه وزیږوم دارکم ښائسته معنٰی والا او نوم لرونکی

**نظری چون بکنی اندرو بینی سلوک وپندها**

چی نظر وکی په دې کی هرڅوك وبه وینی پکښی بیان دتصوف اوپند

**هرجنس دروی حکمتی فقه کلام وهم خبر**

هرقسم خبری په دې کی سته فقه، عقاید ، هم حدیث

**تالیف چون بکند کسی یاخود نوسید داستان**

تصنیف چی وکی څوك یا ولیکی انسان یوه قصه

**جز مثنوی ناید نکو تحفه نوشتم یک شعر**

ماسواله مثنوی څخه راغله نیکه تحفه دلیکلو یوشعر

**اصحاب علم ومعرفت هرکه که بیند سوی او**

خاوندان دعلم او دمعرفت چی کله وګوری دیته

**علیم بگیرد بهر حق هم راست بکند زود تر**

عیب زما ددې څخه نیسی دپاره درب دی هم صحیح کړی ژر

**خود عیب دارم جملگی جز عیب درمن هیچ نی**
پہ خپلہ عیب لرم ټول ماسوا لہ عیبہ بل هیڅ نہ یم
**صد عیب یابی هرسخن هرگز نیابی یک هنر**
سل عیبونہ بہ پیداکې پہ هرہ خبرہ کې هیڅکلہ بہ پیدانہ کړې هوښیاری

**کردم هوس چون زاغکان رفتار کبکان تاکنم**
ومې کړ شوق پہ شان دکارغہ چې تلل دزرکو وکړم
**ازیاد شد رفتار من کشتم خجل هم منکسر**
هیرسو تگ خپل زہ وگرزیدم شرمندہ اومات

**گریک سخن زین جملگی یابد قبولی نزد حق**
کہ یوہ خبرہ لہ دې ټولو څخہ قبولہ سې پہ نزد دخدای
**نازم چوشاهان درجهان گردم چوسحبان نامور**
فخربہ کوم لکہ بادشاهاپہ دنیاکې وبہ گرزم لکہ سحبان نومې شخص

**دارم امیدی ازخدا خواند اگر صاحبدلی**
لرمہ طمعہ لہ خدای ﷻ څخہ کہ یې ووایې یو څوك محترم
**بکند زدل مارا دعا یابم نجاتی درقبر**
نو ودې کې لہ زړہ څخہ مالرہ دعا پیدا بہ کړم نجات پہ قبرکې

**ابیات گفتم جملگی هفصد بدان هشتاد وشش**
بیتونہ مې وویل ټول اوہ سوہ وبولہ او شپږ اتیا ۷۸۶
**ابواب او شد چهل وشش اندر حساب وهم حصر**
بابونہ سوہ شپږ څلوېښت ۴۶ پہ حساب او هم شمار

**هفصد نود هم پنج دان هجرت محمد مصطفٰی**

اوسوه اوپنځه نوی ۷۹۵ وبوله له هجرته څخه دپیغمبرﷺ

**عاشر ربیع الاخرین وقت ضحٰی روز قمر**

په لسمه دربیع الاخیر وقت دڅاښت ددوشنبې ورځ

ربّنا تقبل منا انك انت السميع العليم، وتب علينا انك انت التواب الرحيم، اللهم اغفر لي واغفر لمصنف الكتاب وشارحيه وكاتبه وناشره، ولوالديهم ولاساتذتهم ، وادخلهم الجنة الماوٰى، وارحمهم واحفظهم، وانزلهم المقعد المقرب عندك يوم القيامة. آمين ثم آمين

تمّت

الثلاثاء، ١١ ذو القعدة، ١٤٢٨

روز چهار شنبه
٢٠٠٧\٩\٢٦
بنده سراج احمد سعد
ومحمد احمد الحقانی
عفی عندالاحد